بسم الله الرحمٰن الرحيم

هٰذا بلاغٌ للناس ولينذروا به

# شرعي دوره او

# اصلاحي بيانونه

## دريمه حصه

**تاليف**

**شيخ ګل محمد باجوړی**

# اجمالی فهرست

الاخلاص ۲ تقوی ۳ د شهرت نه ځان ساتل ۴ خوف الهی ۵ مرګ ډیر ډیر یادول ۶ عاجزی کول ۷ توکل علی الله ۸ د ایمان فائدے ۹ د جهنم بیان ۱۰ د تزهید من الدنیا او تر غیب الی الآخرة په باره کښ مثالونه ۱۱ ایمان او نیک اعمالو ته ترغیب ۱۲ د ثوابونو او عذابونو مرتبی او درجی ۱۳ د توبی او استغفار بیان ۱۴ الجزاء من جنس العمل ۱۵ په آخرت ایمان او عقیده ۱۶ زنانو ته بیان ۱۷ د پردی بیان ۱۸ نوجوانان د امت مسلمه ۱۹ کامیابی او نیک بختی ۲۰ آسان عملونه او ډیر ثوابونه ۲۱ د مسکینانو او عاجزانو سره مینه محبت ساتل ۲۲ د راز اهمیت او حفاظت ۲۳ د اسلامی مشرانو صفات او اخلاق ۲۴ د دشمن سره صلح او مذاکرات کول ۲۵ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قتل د پاره منصوبے ۲۶ د ادب اهمیت ۲۷ خطبه عیدالاضحی ۲۸ خطبه عید الفطر ۲۹ د جُمعی فضیلتونه ۳۰ د نشه کونکو څیزونو ضررونه

| نمبر | تفصیلی فهرست | صفحه |
|---|---|---|
| | **الاخلاص** | 17 |
| | خطبه او تمهید | |
| | اوله خبره د اخلاص معنی | 17 |
| | دویمه خبره په قرآن کریم کښې د اخلاص بیان | 18 |
| | دریمه خبره په حدیثو کښې د اخلاص بیان | 19 |
| | څلورمه خبره د اخلاص په باره کښې د سلفو صالحینو اقوال | 20 |
| | خپل نیت صحیح کول پکار دی. | 21 |
| | پینځمه خبره اخلاص ډیر گران کار دے | 22 |
| | د شهرت نه ځان ساتل او گمنامی خوښول شپږمه خبره | 23 |
| | اوومه خبره د اخلاص فائدی او د عدم اخلاص نقصانونه | 23 |
| | اتمه خبره د اخلاص په باره کښې د سلفو صالحینو واقعات | 24 |
| | **تقوی او پرهیزگاری** | 26 |
| | **د تقوی تعریف د سلفو اقوال** | 26 |
| | **د تقوی فائدے** | 27 |
| | **د تقوی مرتبې د تقوی اسباب** | 29 |
| | **د شهرت نه ځان ساتل** | 30 |
| | د شهرت په بدی کښې د سلفو اقوال | 30 |
| | د شهرت او د خلقو د صفتونو نه د سلفو صالحینو پرهیز | 31 |
| | **خوف الهی یعنی د الله تعالی نه ویره** | 33 |
| | ویره د مؤمنانو صفت دے ویره دوه قسمه ده | |
| | د خوف الهی په باره کښې یو څو خبری اوله خبره د | |
| | خوف الهی حکم دویمه خبره د خوف الهی فائدے | |

| | | |
|---|---|---|
| 34 | دریمه خبره د الله تعالی نه ویره د انبیاء او ملائکو | |
| | صفت دے او د صحابو او مؤمنانو صفت دے او | |
| 35 | دغرونو او ګټو صفت دے | |
| | د انبیاؤ حالت | |
| 36 | د جبریل او میکائیل علیهما السلام ویره | |
| 36 | د صحابو ویره د غرونو ویره | |
| 36 | د ګټو ویره دنیکانوویره | |
| 37 | حسن بصری مالک بن دینار سفیان ثوری سهل بن | |
| 38 | عبدالله عبدالله بن مبارک سرِّی سقطی عطا | |
| 38 | السلیمی رحمهم الله تعالی | |
| | څلورمه خبره د خوف الهی اسباب اول سبب د الله | |
| 38 | تعالی په لوی کښ فکرکول دویم د الله تعالی او د | |
| | رسول الله صلی الله علیه وسلم په خبرو کښ فکر | |
| | کول | |
| | دریم مرګ ته فکرکول څلورم قبر ته | |
| 39 | پینځم قیامت ته شپږم جهنم ته | |
| | اوم خپل ګناهونو ته فکرکول | |
| | اتم دا فکرکول چه کیدیشی الله تعالی د توبے توفیق | |
| 40 | رانکړی نهم خاتمی ته سوچ کول لسم د نیکانو | |
| 41 | صحبت | |
| 41 | یوولسم وعظ او نصیحت دولسم علم | |
| 41 | مرګ ډیر ډیر یادول | |
| | د مرګ په باره کښ آیاتونه | |
| | د مرګ په باره کښ حدیثونه | |
| 42 | د مرګ سختی | |
| 43 | واقعات | |
| 44 | د مرګ د یادولو فائدے | |
| 45 | د مرګ د یادولو اسباب | |

| | | |
|---|---|---|
| | **عاجزی کول** | 46 |
| | د عاجزی په باره کښ آیاتونه | 46 |
| | د عاجزی په باره کښ حدیثونه | 46 |
| | د عاجزی په باره کښ د سلفو صالحینو اقوال | 46 |
| | د عاجزی کونکو صفات او علامات | 47 |
| | دویمه علامه د بل چا ملاقات له ورتلل | 48 |
| | دریمه علامه خپل ځان پیژاندل | 48 |
| | ځلورمه علامه | 49 |
| | پینځمه علامه په خپله خدمت کول | 50 |
| | شپږمه علامه ګډې خرول | 50 |
| | اوومه علامه غورزیدلی نونړی خوړل او ګوتی ښتل | |
| | **توکل علی الله (په الله تعالی اعتماد)** | 51 |
| | **د توکل په باره کښ یو څو خبری** | |
| | **اوله خبره امر په توکل** په جنګونو او معاهده کښ او | |
| | په تبلیغ کښ او په مخالفت د قومونو کښ | |
| | دویمه خبره توکل د انبیاء صفت دے | 52 |
| | او د صحابو کرامو او د اولیاء کرامو | |
| | دریمه خبره د توکل په معنی کښ د بزرګانو او علماء | 52 |
| | کرامو وینا ګانی | |
| | ځلورمه خبره د توکل او اسبابو منافات نشته پینځمه | 53 |
| | خبره د توکل په باره کښ حدیثونه | 53 |
| | شپږمه خبره د توکل په باره کښ د علماء کرامو او | 54 |
| | بزرګانو وینا ګانی | |
| | اوومه خبره د توکل فائدے | 55 |
| | اتمه خبره د توکل په باره کښ واقعات | 55 |
| | د هاجری بی بی توکل د موسی علیه السلام د مور | 56 |
| | توکل | |
| | د موسی علیه السلام توکل | 56 |

| | | |
|---|---|---|
| 57 | د رسول الله صلی الله علیه وسلم توکل | |
| 59 | **د ایمان فائدے** | |
| | یوولس فائدے د ایمان | |
| 61 | **د جهنم بیان** | |
| 61 | د جهنم پراخی او غټوالی | |
| 62 | په جهنم کښ قسما قسم عذابونه دی | |
| 63 | د جهنمیانو خوراک څکاک | |
| 64 | د جهنم ماران او لړمان | |
| 65 | د جهنمیانو جراگانی | |
| 65 | د کافرانو د بدن غټوالی | |
| 66 | بل عذاب د دوی اسویلی او افسوسونه دی | |
| | د جهنم سختی به د انسان نه د دنیا ټولے مزے او | |
| 66 | خوشحالی هیرکړی. | |
| 67 | واقعات. خلاصه بیان | |
| 68 | **د تزهید من الدنیا او ترغیب الی الاخرة په باره** | |
| | **کښ مثالونه** | |
| 69 | تمهید | |
| 69 | اول مثال تریویشتم مثال پوری | |
| | د تزهید من الدنیا او ترغیب الی الاخرة په باره کښ د | |
| 73 | حافظ الپوری رحمه الله تعالی شعرونه | |
| | او حافظ رحمه الله تعالی وای | |
| | او حافظ رحمه الله تعالی وای | |
| 75 | خلاصه بیان | |
| 76 | **ایمان او نیک اعمالو ته ترغیب** | |
| | تمهید | |
| | د ترغیب طریقی | |
| 78 | د ثوابونو او عذابونو مرتبی او درجی | |
| | تمهید | |

| | | |
|---|---|---|
| | د ثوابونو درجې | |
| | د عذابونو درجې | 82 |
| | د بیان خلاصه | 82 |
| | **د توبې او استغفار بیان** | 83 |
| | تمهید | |
| | اوله خبره د استغفار او توبې فرق او معنی | 84 |
| | دویمه خبره د استغفار او توبې فائدے | |
| | دریمه خبره د توبې او د استغفار په باره کښ | 85 |
| | حدیثونه | 86 |
| | څلورمه خبره د ګناهونو د معاف کیدو یوولس | |
| | اسباب | 86 |
| | پینځمه خبره د توبې او استغفار وختونه | 87 |
| | شپږمه خبره د توبې او استغفار الفاظ | |
| | خلاصه دبیان | |
| | **الجزاء من جنس العمل** | 88 |
| | تمهید | |
| | اول د قرآن آیاتونه | 89 |
| | د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیثونه | 90 |
| | مثالونه ، اول مثال د ابراهیم علیه السلام حالات ، | 92 |
| | دویم مثال د یوسف علیه السلام حالات | |
| | دریم مثال د ایوب علیه السلام حالات | 94 |
| | څلورم مثال چغه د ثمودیانو | 94 |
| | پینځم مثال اولته کیدل د قوم لوط | |
| | شپږم مثال شادوګان کیدل د خیالی والا | |
| | اوم مثال هلاکت د ابرهه | 95 |
| | اتم مثال حالت د سامری | |
| | واقعات اوله واقعه دویمه واقعه دریمه واقعه او | |
| | خلاصه د بیان | 96 |
| | | 97 |

| | | |
|---|---|---|
| 98 | **په آخرت ایمان او عقیده** | |
| | **خطبه او تمهید** | |
| | **د قیامت د مسئلی طریقی او طرزونه** | |
| 100 | **د قیامت بعض حالات** | |
| | **ابن قیم رحمه الله د قیامت بعض حالات ذکر کوی** | |
| | **د اسمانونو او زمکو حالات** | |
| | **د زمکی حالات** | |
| 101 | **د غرونو حالات** | |
| 102 | **د دریابونو حالات** | |
| 102 | **د اسمانونو حالات** | |
| 103 | **د نمر او سپوږمی حالات** | |
| | **د ستورو حالات** | |
| 103 | **د مرگ نه روستو د راپورته کیدو طریقه** | |
| | **د صحیح اثارو مطابق** | |
| 105 | **زنانو ته بیان** | |
| | خطبه او تمهید | |
| 106 | د زنانو ښائسته صفات | |
| | زنانو ته د الله تعالی حکمونه | |
| 107 | په قرآن کښ د پخوانو نیکانو زنانو ذکر | |
| | د ناکاره زنانو ذکر | |
| 107 | د زنانو په نوم سورتونه | |
| 109 | د زنانو قربانیانی | |
| 110 | د زنانو ایمانداری | |
| 111 | د زنانو د پاره علم حاصلول | |
| 112 | مقصد د علم نه عمل کول دی. | |
| 112 | د زنانو عاجزی او د خپلی کوتاهی احساس | |
| | د زنانو د پاره د خپل کور او خاوند خدمت | |
| | د خاوند تابعداری | |
| 113 | | |

| | | |
|---|---|---|
| 114 | واقعه د ام سلیم او ابو طلحه | |
| 115 | د اولاد تربیت | |
| 116 | د زنانو عبادت او جړا | |
| | د زنانو صدقې او خیراتونه | |
| 117 | دزنانودخپلوښنونه معافي غوښتل | |
| 117 | د زنانو ستر او پرده | |
| | تمت | |
| 119 | **د پردې بیان** | |
| | څلور احکام او لس آداب | |
| 120 | د پردې د فرضیت په باره کښې څلور آیاتونه | |
| 121 | د پردې په باره کښې حدیثونه | |
| 122 | په کاسیات عاریات وغیره کښې توجیهات | |
| 123 | د پردې په باره کښې د ننګ او غیرت واقعات | |
| 123 | اوله واقعه د موسی علیه السلام | |
| | دویمه د داود علیه السلام | |
| 124 | دریمه د فاطمه رضی الله تعالی عنها | |
| 124 | څلورمه واقعه د ابن عمررضی الله تعالی عنه | |
| | پینځمه د معاذ بن جبل رضی الله تعالی عنه . | |
| | شپږمه د ری د قاضي | |
| 125 | اومه د فاطمه رضی الله تعالی عنها | |
| 125 | اتمه د ام سودة رضی الله تعالی عنها | |
| | نهمه د ام خلاد رضی الله تعالی عنها | |
| 126 | لسمه د بلخ د زنانه | |
| | یوولسمه واقعه او د صحابیاتو عمل په آیاتونو د پردی | |
| 127 | د چا نه پرده شته او د چا نه پرده نشته | |
| | د پردی متعلق یو څو اعتراضونه او د هغې جوابونه | |
| 130 | د بې پردګۍ وختونه | |
| 130 | د پردی شرطونه | |
| 131 | د پردی فائدې | |

| | | |
|---|---|---|
| | د حرام نظر نقصانونه او واقعات | 132 |
| | د حرام نظر اسباب | 134 |
| | د حرام نظر علاج | |
| | تمت الموضوع | |
| | **نوجوانان د امت مسلمه** | 135 |
| | تمهید | |
| | د نوجوانانو ښائسته صفات | 136 |
| | د سلفو صالحینو ځوانان | |
| | زمونږ ځوانان | 138 |
| | زمونږ د ځوانانو مرضونه او مشکلات | 138 |
| | یو دا چه د مانځه او د جمع اهتمام نه کوی. | |
| | دویم وخت بربادول | |
| | دریم مرض ناکاره ملګری | 139 |
| | څلورم د شرعی علم اهتمام نه کوی. | |
| | د پینځم نه ترلسم پوری | |
| | د ځوانانو د مرضونو علاج اول واپسی الله تعالی ته. | |
| | دویم صحیح تربیت دریم علم نافعه | 140 |
| | څلورم د وخت قدر پینځم خپل اولاد د غلطو ملګرو نه ساتل | 140 |
| | شپږم د منکراتو د بندولو کوشش | |
| | مطالبه | 141 |
| | **کامیابی او نیک بختی** | 142 |
| | ایمان او عمل | |
| | د دنیادارو حال | 142 |
| | د دیندارو حال | 143 |
| | واقعه د معتصم بادشاه | 144 |
| | واقعه د عبدالملک ابن مروان | |
| | د سعید بن المسیب رحمه الله تعالی وینا | |

| | | |
|---|---|---|
| 145 | **آسان عملونه او ډیر ثوابونه** | |
| | یو د بازار دعاء ده | |
| 146 | دویم د مؤمنانو د پاره استغفار دے | |
| 146 | دریم د اودس دعاء ده. | |
| | ځلورم سبحان الله و بحمده سل ۱۰۰ ځله صبا او بیګا | |
| 148 | پینځم سبحان الله الحمد لله لا اله الا الله . الله اکبر سل ځله صبا او بیګا | |
| | د دے ځلور کلمو دویم فضیلت | |
| 148 | د د ے ځلور کلمو دریم فضیلت | |
| 149 | ځلورم فضیلت | |
| | شپږم په سبحان الله الحمدلله الله اکبر کښ دوه نیم زره نیکی دی. | |
| 149 | اووم الحمدلله سبحان الله | |
| 149 | اتم په سل ځله سبحان الله کښ زر نیکی دی. | |
| 150 | نهم په الم کښ دیرش نیکی دی. | |
| 150 | لسم لا اله الا الله وحده لا شریک له | |
| 150 | یوولسم د خاښت مونځ د دری سوه شپیته نیکو برابر دے. | |
| 151 | دولسم د جنازی ثواب | |
| 152 | دیارلسم د کجوری هومره صدقه | |
| | د دوه جوړو ثواب | |
| 152 | **د مسکینانو او عاجزانو سره مینه محبت ساتل** | |
| 153 | ایمان داره او نیک عمله اکثر مسکینان وی | |
| 153 | د مسکینانو مقام | |
| 154 | د مسکینانو لحاظ په الله تعالی باندی واقعه | |
| 155 | د مسکینانو لحاظ په رسول الله صلی الله علیه وسلّم | |

| | | |
|---|---|---|
| | **د راز اهمیت او حفاظت** | 156 |
| | خطبه او تمهید | |
| | د راز معنی | |
| | د راز په اهمیت او حفاظت دلائل | |
| | د راز حفاظت په انسان کښې لوی کمال دے | 158 |
| | د راز د خورولو سزا | 159 |
| | دویمه واقعه | 159 |
| | د راز حفاظت ډیر ګران کار دے | |
| | د راز خورول د درې وجو نه کیږی. | 160 |
| | د راز طلبګار ته به راز نه ښودلی شی. | |
| | ډیر کسانو ته راز ښودل نه دی پکار | 160 |
| | خلاصه د بحث | |
| | **د اسلامی مشرانو صفات او اخلاق** | 161 |
| | خطبه او تمهید | |
| | اول صفت اخلاص دے | 162 |
| | دویم صفت تقوی او د شریعت مکمل پابندی ده. | |
| | دریم صفت امیر به د خپلو مامورینو د پاره بهترینه نمونه وی. | 162 |
| | د حاکم مثال د بازار دے | 163 |
| | د امام موصلی رحمه الله تعالی وینا | |
| | څلورم صفت په مینه محبت او اهتمام سره کار کول. | 164 |
| | پینځم صفت د نرمی په موقع نرمی کول. | |
| | د معاویه رضی الله تعالی عنه وینا | 164 |
| | د علامه شیزری رحمه الله تعالی تحقیق | |
| | د بے ځایه تشدد نقصانات | 165 |
| | شپږم صفت ځانله امتیازی حیثیت نه ثابتول | |
| | اووم صفت د خلقو مرتبی پیژاندل | 165 |
| | اتم صفت د ذمه داریانو تقسیم او تعین کول | |
| | | 166 |

| | | |
|---|---|---|
| | نهم صفت خپل کار په خپل مقرر وخت کول. | 167 |
| | لسم صفت مستقل مزاج کیدل | 168 |
| | یوولسم صفت د رعیت د حالاتو نه ځان خبرول | |
| | دولسم صفت د رعیت او مامورینو مسائل معلومول او هغه حل کول | 169 |
| | دیارلسم صفت مشوره کول | |
| | د مشورې اهل څوک دي. | |
| | د هغه چا نه مشوره اخستل نه دي پکار چه د هغه اطمینان نه وي. | 171 |
| | د شورې مناسب وخت | |
| | مشوره کول پکار دي. | 171 |
| | څوارلسم صفت د مجاهدینو د کورونو خیال ساتل. | |
| | پینځلسم صفت سیاست او رعب | 172 |
| | شپاړسم صفت خپل اخلاق خوی او عادت نه بدلول | |
| | د اخلاقو د خرابیدو اسباب | |
| | اولسم صفت د هر چا نه مخکښ خپل اهل و عیال د | 173 |
| | اوامرو او نواهیو پابند کول. | 173 |
| | اتلسم صفت. چه هوښیاروی په چا نه دوکه کیږی. | |
| | د هوښیارتوب او فراست اسباب | 173 |
| | نولسم صفت د خپل مسئولیت او ذمه داری احساس | 174 |
| | د مسئولیت د احساس فائدے | 175 |
| | شلم صفت سادګی او تکلف نه کول. | 175 |
| | یویشتم صفت د صحت حفاظت | 176 |
| | د ویشتم صفت د خیر خواه خلقو خیر خواهی قبلول تمت | 177 |
| | **د دشمن سره صلح او مذاکرات کول** | 178 |
| | دمعاهدے قسمونه | 184 |
| | کافر په څلورقسمه دے | 185 |

| | | |
|---|---|---|
| 186 | د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قتل د پاره منصوبې او سازشونه | |
| 188 | تمهید | |
| 189 | دریمه منصوبه دویمه منصوبه اولنی منصوبه | |
| 190 | څلورمه منصوبه | |
| 191 | پینځمه منصوبه | |
| 191 | شپږمه منصوبه اومه منصوبه | |
| 192 | اتمه منصوبه نهمه منصوبه | |
| 193 | لسمه منصوبه یولسمه منصوبه | |
| 194 | دولسمه منصوبه دیارلسمه منصوبه | |
| 195 | خلاصه دبحث | |
| | د ادب اهمیت | |
| 196 | د ادب په باره کښې آیاتونه | |
| 197 | د ادب قسمونه | |
| | یو ادب د الله تعالی دے | |
| 197 | دویم ادب د نبی صلی الله تعالی علیه وسلم دے | |
| 198 | دریم ادب د علماء کرامو دے | |
| 199 | څلورم ادب د مشرانو دے | |
| 200 | پینځم ادب د مور او پلار دے | |
| 201 | شپږم ادب د نومونو دے | |
| | اووم ادب د کتابونو دے | |
| 202 | خطبه عید الاضحی | |
| 203 | اهم واقعات د ذوالحجې | |
| 204 | د ذوالحجې اول لس ورځې | |
| | د دے لسو ورځو د فضیلت وجه | |
| 205 | د دے ورځو نیک عملونه | |
| 206 | یوم العید او وجه د تسمی | |
| 206 | د مسلمانانو د پاره دوه د خوشحالی ورځې دی. | |

| | | |
|---|---|---|
| | **په اسلام کښ نور اخترونه جشنونه عرسونه ميلې وغيره نشته** | 207 |
| | **دنوروز او مهرجان بنياد** | 210 |
| | **د لوی اختروړځ او پدی ورځ دوه عملونه** | 211 |
| | **د قرباني مقصد** | 212 |
| | **د ابراهيم عليه السلام مختصر قصه** | 212 |
| | **اصلي قرباني** | 215 |
| | **د خالد القسری قرباني** | 217 |
| | **د عضدالدوله قرباني** | 217 |
| | **زمونږ کمی** | 217 |
| | **واقعه د خالد رضی الله تعالی عنه واقعه د يو خليفه** | |
| | **د لوی اختر او قرباني درسونه او حکمتونه** | 218 |
| | **د قرباني فائدی** | 219 |
| | **په اختر کښ غلطی او گناهونه** | 219 |
| | د مانځه طريقه | 220 |
| | **خطبه عيدالفطر** | 221 |
| | د شوال د مياشتی تاريخی جنگونه او واقعات | 212 |
| | د يوم العيد او وجه د تسمي | 222 |
| | يوم الجوائز او ليلة الجائزه | |
| | د واره اختر د ورځی درسونه او حکمتونه | 223 |
| | د رمضان نه روستو د مسلمانانو دوه حالات وی. | 224 |
| | د امت مسلمه حالات او مشکلات | 225 |
| | د طارق بن زياد شعرونه وصيتونه | 226 |
| | په اختر کښ غلطيانی او گناهونه | 227 |
| | زنانوو ته وعظ او نصيحت | 227 |
| | اختتام او د مانځه طريقه | 227 |
| | **د جمعې فضيلتونه او خصوصيتونه** | 228 |
| | **د جمعې وجه تسمي** | |

| | | |
|---|---|---|
| 229 | د جمعې د مانځه شرعي حیثیت | |
| | د جمعې د مانځه د فرضیت حکمت | |
| 230 | د جمعې د ورځې فضیلتونه او خصوصیتونه | |
| | اول دا چه دا د ټول ورځو نه غوره ده | |
| 233 | د جمعې سنتونه | |
| 234 | د جمعې په پرېښودلو وعیدونه | |
| 235 | هغه عذرونه چه د هغې د وجې نه د جمعې د مانځه پرېښودل جائز وی. | |
| 236 | د نشه کونکو څیزونو ضررونه | |
| | د شرابو شرعي نقصانونه | |
| | اووم عقلی نقصان | |
| | اتم اقتصادی نقصان | |
| | نهم عسکری نقصان | |
| | لسم دا د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم نافرمانی ده | |
| | یوولسم جسمانی نقصان | |
| | دولسم نوجوانان بربادوی | |
| | د شرابو شرعي حکم | |
| | د مواد مخدره وو شرعي حکم | |

## الاخلاص

الحمد لله و الصلوة والسلام علی رسول الله واشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمدا عبده و رسوله . اما بعد فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم و ما امروا الا لیعبدوالله مخلصین له الدین - و قال تعالی الا لله الدین الخالص - و قال فاعبدالله مخلصا له الدین و قال رسول الله صلی الله علیه وسلم انما الاعمال باالنیات.

پدی بیان کښ د اخلاص موضوع بیانیږی او دا ډیره اهمه موضوع ده ځکه چه اخلاص د ټولو اعمالو بنیاد دے. - ځکه د اخلاص په وجه عملونه قبلیږی. او د اخلاص په وجه په اعمالو ثوابونه میلاویږی. او د اخلاص په وجه د عملونو ثوابونه ډیریږی.

او چه اخلاص نه وی نو ثواب نه ملاویږی. او په څومره مقدار چه اخلاص کمیږی نو په هغه مقدار ثواب هم کمیږی.

او بیا په ځان کښ اخلاص پیدا کول او خپل نیت صحیح کول ډیر مشکل کار هم دے. ځکه نیت او اخلاص وخت په وخت بدلیږی. بهرحال دا موضوع ډیره اهمه ده او پدی موضوع مخکښ مونږ یوه تفصیلی رساله لیکلی وه. دا دویمه مختصره رساله او بیان دے او دا بیان پدے امید لیکم چه کیدیشی چه الله تعالی ﷻ مونږ ته څه نه څه د عمل کولوتوفیق راکړی.

## د اخلاص معنی

او پدے بیان کښ یو څو خبری بیانو - اول د اخلاص معنی . د اخلاص بعض معنی ګانی په مخکښ رساله کښ هم بیان شوی. او بعض نورے معنی ګانی دا دی. دعیسی علیه السلام نه حواریون تپوس وکړو. چه اخلاص څه ته وای هغه ویل الذی یعمل العمل لا یحب ان یحمده علیه احد من الناس. د اخلاص والا هغه دے چه هغه کارکوی او دا نه خوښوی چه خلق ځما صفتونه وکړی.

سهل رحمه الله تعالی وای الاخلاص ان یکون سکون العبد و حرکاته لله تعالی خاصة. اخلاص دیته وای چه د بنده ودریدل او حرکتونه صرف د الله تعالی د پاره وی.

## دويمه خبره په قرآن کښ د اخلاص بيان

د اخلاص په باره کښ آياتونه مونږ په مخکښې رساله کښ ليکلي هغه وګورئ. د هغې نه علاوه نور بيان دا دے چه اخلاص په قرآن کښ په مختلفو طريقو ذکر شوی. کله وای چه عبادتونو د قبليدو د پاره اخلاص شرط دے . لکه و ما امروا الا ليعبدوالله مخلصين له الدين ( سورة البينه آيت ۵) دويته حکم نه دے شوی مګر چه بندګی وکړی د الله تعالی او خالص کونکی شی الله تعالی لره ددين. کله وای چه د توبے د قبليدو د پاره اخلاص شرط دے. لکه الا الذين تابوا واصلحوا و اعتصموا باالله و اخلصوا دينهم لله(النساء آيت ۱۴۶، )

مګر هغه کسان چه توبه ئے ويسته او نيک عمل ئے کولو او مضبوط ئے و نيو دين د الله تعالی او اخلاص ئے وکړو. د دين خپل الله تعالی لره .

**فائده** :- پدے آيت کښ د منافق د توبے څلور شرطونه دی. يو پکښ اخلاص دے. ځکه په منافق کښ اخلاص نه وی.

کله وای چه د دعاء د پاره هم اخلاص شرط دے. لکه فادعوالله مخلصين له الدين ( مؤمن آيت ۱۴) پس حاجتونه غواړی د الله تعالی نه خالص کونکی شی د هغه د پاره د بلنی.

او کله وای چه اخلاص د مؤمن صفت دے. لکه و نحن له مخلصون ( البقره آيت ۱۳۹)

او مونږ الله تعالی ته اخلاص کونکی يو. ( الموسوعة القرآنيه للشيخ عبدالسلام ص ۳۶۵ ج ۱) او د اخلاص او صحيح نيت نه په قرآن او حديث کښ کله کله تعبير په ارادے سره کيږی. لکه په سورة الانعام او سورة الکهف کښ راځی يريدون وجهه . دوی اراده لری د الله تعالی د رضا. يعنی دوی الله تعالی په اخلاص سره رابلی.

او کله کله ترينه په ابتغاء سره تعبير کيږی. لکه په سورة النساء کښ وای. و من يفعل ذالک ابتغاء مرضات الله . يعنی څوک چه دا کارونه په اخلاص او صحيح نيت سره کوی.

او په حديثونو کښ زيات تعبير په نيت سره کيږی. او د دے په مثال کښ ابن رجب حنبلی رحمه الله تعالی په جامع العلوم والحکم کښ ډير حديثونه نقل کړی.

## دریمه خبره په احادیثو کښې د اخلاص بیان

د اخلاص په باره کښې ډیر حدیثونه دی. بعض د هغی نه دا مشهور حدیث دے. رسول الله صلی الله علیه وسلم وای انما الاعمال باالنیات. - د دے حدیث اهمیت - عبدالرحمن بن مهدی رحمه الله تعالی وای چه څوک کتاب لیکی نو اول شروع د د دے حدیث نه کوی. او کچری ما بابونه لیکلی نو د هر باب په اول کښې به م دا حدیث لیکلی.

امام ابو داؤد رحمه الله تعالی وای چه ما پینځه لاکه حدیثونه لیکلی او په ابوداؤد شریف کښې م ترینه څلور زره اته سوه حدیثونه غوره کړی. او د انسان د دین د پاره د دغه حدیثونو نه څلور حدیثونه پوره دی. یو پکښې دا حدیث دے.چه انما الاعمال باالنیات.

امام شافعی رحمه الله تعالی وای چه دا حدیث دریمه حصه د علم ده.( انظرجامع العلوم والحکم لابن رجب)

۲ حدیث ثوبان رضی الله تعالی عنه دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای طوبی للمخلصین اولئک مصابیح الهدی تنجلی عنهم کل فتنة ظلماء.( الترغیب للمنذری ص ۵۴ ج ۱) مخلصینو لره خوشحالی ده دوی ده هدایت ډیوی دی روښانه کیږی به د دوی نه هره فتنه د تیاری والا.

۳ انس رضی الله تعالی وای چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی دی. یجاء یوم القیامة بصحف مختومة فتنصب بین یدی الله عزّ و جل فیقول الله للملائکة القو هذا و اقبلو هذا فتقول الملائکة و عزّتک ما رأینا الا خیرا فیقول و هو اعلم ان هذا لغیری و لا اقبل الیوم من العمل الا ما کان ابتغی به وجهی. ( رواه ابن عساکر و الدارقطنی کما فی الکنز ص ۴۷۷ ج ۳ و له شواهد)

د قیامت په ورځ به مهر والی شوی عملنامی رویستلی شی. او الله تعالی مخی ته به ودرولی شی. الله تعالی به ملائکو ته او وای چه دا اوغورزوی. او دا قبول کړی. ملائک به او وای چه ستا په عزت دی زمونږ قسم وی. مونږ نه دی لیدلی دی لره مګر خیر . الله تعالی به ورته او وای . په داسی حال چه الله تعالی ښه عالم دے په دوی. چه دا عملونه د بل چا د پاره دی. او زه نن نه قبلوم مګر هغه عملونه چه په هغه زما رضا لټول شوی وی.

۴ رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه بنده نیک اعمال وکړی نو ملائک ئی په مهر شوی صحیفو کښ وخیجی. او د الله تعالی مخی ته اوغورزولی شی نو الله تعالی او وای. القو هذه الصحیفة . چه دا صحیفه اوغورزوی. ځکه دا عملونه زما د رضا د پاره نه دی شوی. بیا ملائکو ته آوازوکړی. چه اکتبوا له کذا و کذا. د ده پاره دا او دا عمل ولیکی. د ده پاره دا او دا عمل ولیکی نو ملائک او وای چه اے زمونږ ربه د خو دا یو عمل هم نه دے کړی. نو الله تعالی ورته او وای. چه انه نواه . یقینا ده د دی عملونو نیت کړیو. (رواه دارقطنی من طریق انس باسناد حسن بحواله الفوائد ص ۳۷۲ ج ۲)

## ځلورمه د اخلاص په باره کښ  د سلفو صالحینو اقوال

۱ ابن عباس رضی الله تعالی عنه وای ایاکم ان تخلطوا طاعة الله بحب ثناء العباد فتحبط اعمالکم ( کذا فی الکنزص ۱۱ ج ۳)

ځان وساتی د دی نه چه تاسو ګډ کړی. تابعداری د الله تعالی د محبت د صفتونو د خلقو سره . پس برباد به شی عملونه ستاسو .

سفیان ثوری رحمه الله تعالی وای چه مخکنی خلقو به د عمل د پاره نیت داسی زده کولو لکه څه رنګی چه تاسو عمل زده کوی. بعض سلف وای چه د عمل نه مخکی د عمل نیت طلب کړی. او تر څو چه ستاسو نیت د خیروی نو ته په خیرئی.

حسن بصری رحمه الله تعالی وای . د جنتیانو او جهنمیانو همیشوالی د نیتونو په وجه دے .کله چه والی د سعید بن مسیب رحمه الله تعالی د قتل اراده وکړه نو چا ورته او ویل چه عمری ته لاړشه. هغه او ویل زما په زړه کښ لا نیت نه دے راغلی.

طاوس رحمه الله تعالی به په غیر د نیت نه حدیث نه بیانول چا ورته او ویل چه دعاء راته وکړه. هغه او ویل حتی اجد له نیة. یعنی صبر اوکړی چه زه نیت وکړم.

بعض نیکان وای چه د یوی میاشتی نه زه د یو سړی د بیمارپرسی د نیت په طلب کښ یم. لکن تر وسه پوری ما نیت نه دے موندلی.

یحیي بن کثیر رحمه الله وای چه زه د میمون بن مهران رحمه الله تعالی سره د کور د دروازی پوری لاړم. بیا ترینه واپس شوم. نو ځوی ورته اویل چه تا به ورته د ډوډی وینا کړیوی. هغه اویل ما نیت نه وو کړی.

داؤد بن محبر رحمه الله تعالی په فضائل کښ کتاب اولیکو نو امام احمد بن حنبل رحمه الله تعالی ته ئی پیش کړو. هغه او ویل په دیکښ کمزوری سندونه دی. هغه او ویل د عمل په نیت ئی وګوره . هر کله چه دویم ځل امام احمد هغه کتاب اولوستو نو ویویل چه الله تعالی د ښه بدله درکړی. ما ته ئی فائده را ورسوله ( هذا کله من الفوائد ص ۳۷۳ ج۲ الی ص ۳۸۷ ج۲)

ابوبکر واسطی رحمه الله تعالی وای چه عمل په شان د شیشی دے. چه ډیره زر ماتیږی او پټی نه قبلوی. دغه رنګی عمل په ریاکاری ماتیګی او په خود پسندی ماتیګی. ( التنبیه ص ۲۳ ج ۱) د بعض نیکانو قول دے چه عمل کونکی لره پکار دی. چه د شپونکی نه ادب زده کړی. ځکه شپونکی چه د ګډو خوا ته مونځ کوی. نو دا ده ګډو نه خپل صفتونه نه غواړی. نو دغه رنګی عمل کونکی لره پکار دی. چه د خلقو د کتلو هیڅ پرواه نه ساتی او د خلقو نه خپل صفتونه نه غواړی. ابن قیم رحمه الله تعالی وای. چه عمل په غیر د اخلاص نه او په غیر د طریقی د پیغمبر نه دا په شان د هغه مسافر دے چه خپل توشه دان ئی د شګو نه ډک کړیوی. ده ځان سره ئی نقل کوی او فائده ورته نه رسوی. ( الفوائد ص ۶۷ بحواله الفوائد لشیخ الامین ص ۳۲۷ ج۲)

## خپل نیت صحیح کول پکار دی.

داؤد الطائی رحمه الله تعالی وای ټول خیر په صحیح نیت کښ راجمع شوی. زبید الیامی رحمه الله تعالی وای. چه ځه دا خوښوم چه په هر شی کښ ځما نیت وی. تر دی چه په خوراک څکاک کښ - او هغه وای. چه په هر شی کښ د خیر نیت کوه. حتی خروجک الی الکناسة . تر دی چه د سری د ګزارولو د پاره اوزی.

نافع بن جبیر رحمه الله تعالی تا چا اویل چه آیا ته جنازی ته نه ځی. هغه اویل کما انت حتی انوی. لګ صبر وکړه چه زه نیت وکړه. لګ وخت فکر ئی وکړو. بیا ئی اوویل ځه چه ځو. ابن مبارک رحمه

الله تعالی وای. چه ډیرکرتی وړوکی عمل وی د نیت د وجهی نه غټ شی. او ډیرکرتی لوی عمل وی د نیت د وجهی نه وړوکی شی.

فضیل بن عیاض رحمه الله تعالی وای انما یرید الله منک نیتک و ارادتک . الله تعالی ستا نه نیت او اراده غواړی،د بعض عارفینو قول دے چه انما تفاضلوا باالارادات و لم یتفاضلوا باالصوم والصلوة د خلقو غوره والی په یو بل د نیتونو په وجه دی. نه د روژو او مونځونو په وجه . - سلیمان بن داؤد هاشمی رحمه الله تعالی وای چه ډیرکرتی ځه یو حدیث بیانوم . ځما نیت صحیح وی. کله چه ځه څه حصه بیان کړم. ځما نیت بدل شی. پس یو حدیث ډیر نیتونو ته محتاج وی.

مطرف بن عبدالله رحمه الله تعالی به په دعاء کښ ویل چه الله ځه ستا نه بښنه غواړم د دی خبری چه ځما گمان وی. چه ما دا کارستا د رضا د پاره وکړو. پس ځما په زړه کښ هغه څه گډ شی . چه ته په پوهیږی. (جامع العلوم و الحکم)

## پینځمه خبره . اخلاص ډیرگران کار دے.

یوسف بن حسین رحمه الله تعالی وای چه ډیرگران شی په دنیا کښ اخلاص دے. ډیر کرتی ځه د خپل زړه نه د ریا د ختمولو کوشش کوم. فکانه ینبت علی لون آخر. گویه که ریا په بل رنگ کښ را ټکیږی.( مدارج السالکین ص ۹۶ ج۲)د بعض نیکانو قول دے چه د یوی گهنتی په اخلاص سره سړی ته ابدی نجات ملاویږی. و لکن الاخلاص عزیز. لکن اخلاص گران کاردے. سهل رحمه الله تعالی ته چا اویل چه نفس ته کوم شی ډیرگران دے. هغه اویل اخلاص. ځکه په اخلاص کښ د نفس څه برخه نه وی.

سفیان ثوری رحمه الله تعالی وای. چه ما ته گران شی ځما نیت دے. لانہا تتقلب علی. ځکه دا په ما بدلیږی را بدلیږی. ( جامع العلوم)

نعیم بن حماد رحمه الله تعالی وای. ضرب السیاط اهون علینا من النیة الصالحة . د چابکونو وهل مونږ ته ډیرآسان دی د صحیح نیت نه .

## شپږمه خبره. د شهرت نه ځان ساتل او ګمنامی خوښول

د شهرت نه ځان ساتلو په باره کښې مخکښې بیان تیر شوی. د هغې نه علاوه یو څو خبری ذکر کوو.

ابن محیریز رحمه الله تعالی به د ګمنامی سوال کولو. ( سیراعلام النبلاء ص ۴۹۶ ج ۴)

د امام احمد بن حنبل رحمه الله تعالی نه ئے تره تپوس وکړو چه ولی دومره غمژن ئی . هغه اویل ای تره هغه چا لره ډیره خوشحالی ده چه الله تعالی د هغه یاد ګمنامه کړی. ( سیر ص ۲۰۷ ج ۱۱)

عبدالرحمن بن مهدی رحمه الله تعالی وای چه څه به د جمعی په ورځی کیناستم چه خلق به ډیر وو. څه په خوشحاله ووم او چه خلق به کم وو نو زه به غمژن ووم ما د بشر بن منصور رحمه الله تعالی نه تپوس وکړو. هغه اویل دا ناکاره مجلس دے بیا ورته مه راګرځه . نو څه بیا هغه مجلس ته نه یم راغلی. (سیر ص ۱۹۶ ج ۲)

ایوب السختیانی رحمه الله تعالی به ویل چه خلق ما یادوی او څه دا نه خوښوم چه خلق ما یاد کړی. ( سیر ص ۲۲ ج۶ بحواله الفوائد لشیخ الامین ص ۳۵۸ ج ۲)

## اومه خبره د اخلاص فائدے او د عدم اخلاص نقصانونه .

۱ ربیع بن خیثم رحمه الله تعالی وای چه <u>کل ما لا یراد به وجه الله یضمحل</u>( سیرة اعلام النبلاء ص ۲۵۹ ج ۴)هرهغه شی چه به هغه کښې د الله تعالی رضا نه وی نو هغه ختمیږی.

۲ د حمدون القصاررحمه الله تعالی نه چا تپوس وکړو چه دا څه وجه ده چه د سلفو په خبرو کښې ډیره فائده ده زمونږ د خبرو نه . هغه اویل چه د سلفو خبری د اسلام د عزت او د خپل ځان د نجات او د الله تعالی د رضا پاره وی. او زمونږ خبری د خپل ځان د عزت او د دنیا د طلب او د مخلوق د رضا د پاره دی. ( صفة الصفوة ص ۱۲۲ ج ۴)

لکه بخاری شریف لره الله تعالی ډیرزیات مقبولیت ورکړی. ځکه چه امام بخاری د دی تالیف ډیرپه اخلاص سره کړی وو. د هرحدیث د لیکلو د پاره بئے اودس او دوه رکعاته نفل او استخاره کوله.

ابن مبارک رحمه الله تعالی وای چه ډیر کرتی وړوکی عمل د نیت د وجهی نه ډیریږی. او ډیر کرتی لوی عمل د نیت د وجهی نه وړوکی کیږی.

د اخلاص د وجهی نه د الله تعالی مدد راځی. رسول الله صلی الله علیه وسلم وای انما ینصر الله هذه الامة بضعیفها بدعوتهم و صلاتهم و اخلاصهم ( رواه النسائی وغیره) یقینا الله تعالی د دی امت امداد کوی. د کمزورو خلقو په دعاګانو او مونځونو او اخلاص سره.

د اخلاص سره وسوسی او وهمونه ختمیږی. لکه شیطان الله تعالی ته ویلی وو. و لاغوینهم اجمعین الا عبادک منهم المخلصین. خامخا به ځه دوی ټول ګمراه کړم مګر ستا د اخلاص والا بندګان.

ابو سلیمان درانی رحمه الله تعالی وای چه کله په بنده کښ اخلاص راشی نو د هغه نه ډیری وسوسی او ریا کاری ختمیږی.

## اتمه خبره د اخلاص په باره کښ د سلفو صالحینو واقعات

د اخلاص به باره کښ مونږ په مخکښ رساله کښ یو څو واقعات نقل کړی وو. د هغه نه علاوه نور واقعات دا دی.

۱ ابراهیم بن ادهم رحمه الله تعالی لره چا میلمستیا اواکرام کړیو سلیمان الخواص رحمه الله تعالی پی تیر شو نو هغه اویل چه نعم الشئ هذا یا ابا ابراهیم ان لم یکن تکرمة دین . دا میلمستیا ښه کار دے خو کچری دا اکرام د دین په وجه نه وی. لکه کله چا لره د دین یا علم په وجه اکرام او دعوت کولی شی.

۲ د حسن بصری رحمه الله تعالی خوا ته یو سړی و ژړل هغه اویل چه مخکنی خلقو به د ملګرو خوا کښ ژړل لکن ملګری بئے نه پوهیدل.

۳ محمد بن واسع رحمه الله تعالی وای. چه مونږ داسی خلق لیدلی وو چه د خپلی ښځی سره بئے سر په یو بالښت ایښی وو. د اننګو لاندی ځایونه بئے په اوښکو لامده کړی وو. او بی بی بئے پی نه پوهیده. دغه رنګی په صف کښ به ولاړوو په اننګو بئے اوښکی بهیدی. او خوا ته ملګری بئے نه پوهیدل.

۴ ابو تیاح رحمه الله تعالی وای چه یو سړی به شل کاله عبادت وکړو. او ګاونډی بئے نه پوهیدو.

۵ ابراهیم بن ادهم رحمه الله تعالی وای چه مخکنی نیکانو به دا بده ګڼړله چه کله به په مجلس کښې راجمع شو چه یو سړی خپل ښه کارونه ښکاره کوی. لکه دا اکثر عادت دے چه کله په مجلس کښې خلق کینی نو بعض کسان دا کوشش کوی. چه خپل ښه کارونه او واقعات بیان کړی.

۶ یو ځل سفیان ثوری او فضیل بن عیاض رحمهما الله تعالی یو ځای شو. دوی په خپل مینځ کښې مذاکره شروع کړه. دواړو وژړل . سفیان ثوری رحمه الله تعالی اویل خما امید دے چه دا ډیر برکتی مجلس وو. فضیل بن عیاض رحمه الله تعالی ورته اویل چه ځه خو یریږم چه ډیر سپیره مجلس وو. ځکه چه ستا کوم ښه کارونه وو تا په هغه ما ته ځان ښائسته کړو، او ما تا ته په خپل ښه حالت او کارونو ځان ښائسته کړو، نو تا ځما بندګی وکړه او ما ستا بندګی وکړه. سفیان ثوری رحمه الله تعالی وژړل تردی چی آوازئی په زوره شو. اوویل الله تعالی دی تا ژوندی کړی لکه تا چه زه ژوندی کړم.

الله تعالی دی مونږ ته اخلاص او د سلفو صالحینو اقتداء نصیب کړی. او الله تعالی دی مونږ د ریاکاری ، خود عرضی د دنیا د طمع او لالچ نه وساتی.

و صلی الله علی سیدنا و نبینا محمد .

د دے بیان په لیکلو کښې د دے کتابونو نه نقل وشو. جامع العلوم و الحکم د ابن رجب او الاخلاص و النیة د ابن ابی الدنیا او الموسوعة القرآنیة د شیخ عبدالسلام او الفوائد د شیخ امین او الاخلاص د حسین العوایشه. او الاخلاص و اثره فی قبول الاعمال او الاخلاص و الشرک الاصغر او الاخلاص والمخلصین او هذا الاخلاص لمن اراد الخلاص.

# تقوی او پرهیزګاری :-

الحمدلله الذی جعل ملاک الکمال باالصفات العلیا وامر باالتوکل واکرم من اتقی – والصلوة والسلام علی امام الاتقیاء محمد ن المصطفی وعلی اله واصحابه الذین هم نجوم الاهتدا وعلی من اتبعهم و بهدیهم اقتفی اما بعد فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم – ومن یتق الله یجعل له مخرجا ویرزقه من حیث لایحتسب ومن یتوکل علی الله فهو حسبه ان الله بالغ امره قد جعل الله لکل شی قدرا سورة طلاق (۲) (۳) د انسان کمال راځی په ښایسته صفا تو سره او ښایسته صفات حاصلیږی په علم مجاهده او د نیکانو خلقو په صحبت سره – او د نیکانو خلقو د صحبت دپاره دوه طریقی دی یو د هغوی سره یو ځای وخت تیرول دویم د هغوی سیرت او حالات مطالعه کول لکه سیراعلام النبلاء حلیة او صفوة الصفوه مطالعه کول – زمونږ په وخت کښ نیکان خلق ډیر کم دی لکن د نیکانو د سیرت کتابونه ډیر زیات دی پکار داده چه مونږ د هغوی سیرت او حالات مطالعه کړو او بیا د هغوی په نقش قدم روان شو نو په مونږ کښ به د نیکانو صفات راشی او مونږ به د کمال او مرتبی خاوندان شو بیا د نیکانو خلقو صفتونه ډیر زیات دی یو صفت د هغوی تقوی او پرهیزګاری ده پدی وجه مونږ د تقوی په باره کښ یو څو خبری کوو

**اوله خبره** :- د تقوی تعریف یعنی تقوی پیژندل چه تقوی څه ته وای د تقوی په تعریف کښ د علماؤ نه مختلف تعبیرات نقل دی حاصل ېی دادی چه د هغه څه نه ځان ساتل چه هغه د الله تعالی د غضب او عذاب سبب جوړیږی بعضی وای چه تقوی دیته وای چه <u>امتثال الاوامرواجتناب النواهی</u> د الله تعالی حکمونه منل او د حرامو نه ځان ساتل (لکه د لیل الفالحین لطرق ریاض الصالحین باب التقوی) ابو یزید بسطانی رح روای چه متقی دیته وای <u>من اذا قال قال لله ومن اذاعمل عمل لله</u> (قرطبی ۱۶۱) چه خبره ېی هم د الله تعالی دپاره وی او کار ېی هم د الله تعالی د پاره وی .

<u>**د تقوی په باره کښ د سلفو صالحینو اقوال**</u>-- ابودرداء رضی الله عنه وای پوره تقوی داده چه حلال پریږدی د دی ویری د وجی نه چه دابه حرام وی ( فتح الباری ۴۸) حسن بصری رحمة الله هم وای چه متقیانو ډیر حلال پریښی د دی ویری نه چه دابه حرام وی (کتاب التقوی لابن ابی الدینا بحواله الدرالمنشور السیوطی ۱۳۲) بعضی صحابه کرام وای <u>کنا ندع سبعین بابا من الحلال مخافة ان نقع فی باب من الحرام</u> ( مدارج السالکین ص۲۲ ج ۲) مونږ به اویا دروازی د حلالو پریښودی د دی ویری نه چه مونږ به اخته شو په یو دروازه د حرامو کښ د سعید بن المسیب رحمة الله نه تپوس شوی وو چه تقوی به څرنګی وی هغه اویل چه ته په یوه لاره روان وی او په هغه کښ ازغی وی نو ته به څه کوی هغه ملګری اویل چه څه به کورم او د ازغونه به ځان ساتم چه ښپی پری کیږنه دم

سعید رحمة الله اویل چه دغه رنګی تقوی ده چه ته په د ګناهونونه ځان ساتی دغه رنګی ابی بن کعب او ابو هریره رضی الله عنه نه هم نقل دی میمون بن مهران رحمة الله وای چه سړی د هغه پوری متقی نشی جوړیدی ترڅو چه د خپل ځان سره د خپل شریک ملګری نه سخت حساب ونکړی او ترڅو چه دامعلوم کړی چه د ده خوراک څکاک جامه د کوم ځای نه ده د حلالونه ده او که حرامو نه ده (الدرالمنثور ص ۳۳ ج۱)

**دویمه خبره د تقوی فائدی** ډیری زیاتی دی بعضی د هغه نه دادی (۱) هدایت لکه هدی المتقین – قران هدایت کونکښ دی د پرهیزګارانو ته

(۲)وعظ یعنی د عذابونونه عبرت اخستل لکه وموعظة للمتقین او دا نصحت وو دپاره د پرهیزګارانو –

(۳)محبت الهی لکه واعلمو ان الله مع المتقین او پوهه شی چه یقیناً الله تعالی د پرهیز ګارانو ملګری دی (۴)معیت چهری تاسو صبر او پرهیزګاری کوی نو ضرر نشی رسولی تاسو ته تدبیر د دوی هیڅ شی الهی لکه ان الله یحب المتقین یقیناً الله ته مینه کوی د پرهیزګارانو سره (۵)د تقوی په وجه د دشمنانو منصوبی او سازشونه ناکام کیږی لکه وان تصبروا وتتقوی لایضرکم کیدهم شیئا که

(۶)امداد الهی لکه بلی ان تصبروا وتتقوی ویا توکم من فورهم هذا عددکم ربکم بخمسة الاف من الملائکة مسومین بلکه که تاسو صبر او تقوی وکړی او راشی دوی تاسوته په جوش خپل دغه دی نزدی امداد به وکړی ستاسو سره رب ستاسو په پنځه زره د ملائکو نه چه نښی به یی لګولی وی د جنګ (۷)تقوی سبب د ی د قبلیدو د عملونو لکه انما یتقبل الله من المتقین یقیناً قبلوی الله تعالی (عملونه ) د پرهیزګارانو -

**واقعه** - عامر رحمة الله د وفات په وخت کښ ژړل چاورته اویل ولی ژاړی ویل ځکه چه الله تعالی وای چه انما یتقبل الله من المتقین الله تعالی صرف د متقیانو عملونه قبلوی

(۹)تقوی سبب د برکتونو دی لکه ولو ان اهل القرای امنو واتقوی لفتحنا علیهم برکات من السماء والارض اعراف (۹۶۱) که چهری د کلو والا ایمان راوړی وی او پرهیزګاری کړی وی خامخا پرانستی به وی مونږ په دوی برکتونه د اسمان او ځمکښ نه

(۱۰)تقوی سبب د جنت الهی دی یعنی د جنتونو دی لکه تلک الجنة التی نورث من عبادنامن کان تقیا مریم (۶۲) داهغه جنت دی چه په میراث سره یی ورکوو د خپلو بنده ګانو نه هغه چاته چه هغه وی پرهیزګاره –

(۱۱)تقوی سبب د نجات الهی دی د جهنم نه لکه ثم ننجی الذین اتقوی و نذر الظالمین فیها جثیا - مریم (۷۲) بیا بچ کوو مونږ هغه کسان چه تقوی کوی او پریږدو مونږ ظالمان په جهنم کښ نسکور په زنګونانو –

(۱۲)تقوی سبب د ولایت الهی دی یعنی د الله تعالی دوستان صرف متقیان دی لکه ان اولیائه الا المتقین (انفال۲۴) نه دی دوستان د الله تعالی مګر متقیان او الا ان اولیاء الله لاخوف علیهم ولاهم یحزنون الذین امنو وکانو یتقون)(یونس(۶۳-۶۲) خبردار یقیناً دوستان د الله تعالی نه به وی هیڅ ویره په دوی او نه به دوی غمژن کیږی (په ورځ د قیامت )

(۱۳)تقوی سبب دی د تعظیم د شعائرالله لکه ومن یعظم شعایر الله فانها من تقوی القلوب(سورة حج۳۲)او چاچه تعظیم وکړو د خاص نښو چه الله تعالی مقرر کړی نو یقیناً دا تعظیم د تقوی د زړونو نه دی

(۱۴)تقوی غوره توښه ده لکه فان خیر الزاد التقوی (بقره ۱۹۷) یقیناً غوره توښه ځان ساتل دی د ګناه نه

(۱۵)تقوی سبب د کرامت الهی دی لکه ان اکرمکم عندالله اتقاکم حجرات (۱۳)یقیناً ډیر عزتمند ستاسو نه په نیز د الله تعالی ډیر تقوی دار دی

(۱۶)تقوی سبب د تجات دی د هری سختی نه لکه ومن یتق الله یجعل له مخرجا طلاق (۲) او څوک چه ویره کوی دالله تعالی نه جوړه به کړی دی لره لاری د وتلو د هری سختی نه

(۱۷)او سبب د رزق دی لکه ویرزقه من حیث لایحتسب طلاق(۳) او روزی به ورکوی دی ته د داسی ځای نه چه دابه ګمان نه کوی

(۱۸)او سبب د اسانی دی یعنی ټول کارونه به ورته اسان کړی لکه ومن یتق الله یجعل له من امره یسرا ( طلاق۴ ) او څوک چه ویره کوی د الله تعالی نه جوړه به کړی دی لره د کار د ده نه اسانتیا

(۱۹) او سبب د معافی دی (۲۰)او سبب د زیاتیدو د اجر دی لکه ومن یتق الله یکفر عنه سیئاته ویعظم له اجرا طلاق(۷) او چا چه ویره اوکړه د الله تعالی نه لری به کړی د دی نه بدی د ده او غټ به کړی د لره ثواب . نو څوک چه نجات عزت کرامت برکت قبولیت محبت هدایت وغیره غواړی نو هغه له پکاردی چه تقوی اختیار کړی.

## دريمه خبره د تقوی مرتبې

د تقوی پينځه مرتبې دی. اوله د کفر او شرک نه ځان ساتل او دا د اسلام او توحيد مقام دے۔ ۲ د ګناهونو نه ځان ساتل او دا د توبې مقام دے- ۳ د شبهاتو نه ځان ساتل او دا د ورع او خواصو مقام دے- ۴ د کثرت د مباحاتو نه ځان ساتل او دا د زهد مقام دے-- ۵ په عام وختونو کښې خپل زړه د غيرالله د حضور نه ساتل او دا مشاهدې او احسان مقام دے. او دا ډيرګران مقام دے ديته صرف همتی او پاکيزه خلق رسيدلی شی.

## څلورمه خبره د تقوی اسباب

يعنی تقوی په انسان کښې څرنګې پيدا کيږي.د تقوی د پيدا کولو د پاره ډير اسباب دی. بعضې د هغه نه دا دی. ۱ د دنياوی ثواب اميد کول ۲ د اخروی ثواب اميد کول . حاصل دا دے چه د تقوی فائدو ته کتل تقوی په دنيا او آخرت کښې ډيری فائدی لری. لکه مخکښې مونږ شل فائدی بيان کړې. ۳ د دنيا د عذاب نه ويره کول ۴ د آخرت د عذاب نه ويره کول- ۵ د حساب کتاب نه ويره کول- ۶- د دی نه حياء کول چه الله تعالی ما ته ګوری او ما وينی او دا قسم حياء کول ډير عجيبه اثر لری- ۷- د الله تعالی نعمتونه او احساناتو ته کتل – ۸- شرعی علم يعنی د قرآن او سنت علم انسان تقوی طرف ته راکاګی.

د بعضې سلفو نه نقل دی چه مونږ علم د غيرالله د پاره طلب کړيو. خو علم مونګ د الله تعالی طرف ته راښکلو. (آداب الراوی والسامع للخطيب)

۹ د الله تعالی د عظمت تعظيم او احترام کول ځکه چه د الله تعالی جلال او تعظيم د چا په زړه کښې وی نو دا په د لره د ګناهونو نه طاعت طرف ته راکاګی.

۱۰ رشتينې محبت ځکه رشتينې محبت کونکی ضرور د خپل محبوب طاعت کوی. (التسهيل ص ۳۶ ج ۱ بحواله الفوائد ص ۱۸۲ ج ۱)

دا لس خبری چه عملی کړی نو د الله تعالی په فضل او توفيق سره به دی د تقوی طرف ته راکاګی.

اللهم صل علي محمدواله

# د شهرت نه ځان ساتل

الحمد لله والصلوة و السلام على رسول الله اما بعد بسم الله الرحمن الرحيم

قال النبی صلی الله علیه وسلم بحسب امرئ من الشر ان یشار الیه با الاصابع فی دین او دنیا الا من عصمه الله .

د نیکانو بندګانو یو صفت دا دے چه هغوی د شهرت نه ځان ساتی او ګمنامی خوښوی او دا د عاجزی علامه هم ده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وای پوره ده سړی لره د شر نه دا خبره چه اشاره کیږی ده ته په ګوتو سره په دین کښ مګر هغه څوک چه الله تعالی ئے بچ کړی. (راوه البیهقی مشکوة ص ۴۵۵ ج ۲)

حاصل دا دے چه شهرت په دین یا دنیا کښ لوی شر او فتنه ده. د شهرت د وجهے نه د انسان اخلاص هم خرابیږی او دا فتنه هم ده. او د فتنو په علاجونو کښ یو علاج ګمنامی ده. او په بل حدیث کښ راځی چه یقینًا الله پاک مینه کوی. د هغه نیکانو پرهیزګارانو سره چه هغه پټ وی. یعنی غیر مشهور وی. هغه کسان چه کله غائب شی نو د هغوی تالاشی نه کیږی. او که حاضر وی نو څوک ئے نه رابلی او نه نزدی کولی شی . د دوی زړونه د هدایت ډیوے دی. دوی به د هرے تیارے نه راوځی. ( رواه ابن ماجه والبیهقی مشکوة ص ۴۵۵ ج ۲) او په بل حدیث کښ راځی رسول الله صلی الله علیه وسلم وای ډیر پراګنده ویښتو والا چه په دروازو هغه له دیکي ورکولے کیږی. کچری دا په الله تعالی قسم وکړی نو خا مخا به ورله قسم پوره کوی. ( رواه احمد و مسلم ) یعنی ګمنام وی لکن الله تعالی ته ډیر ګران وی. ابن حجر رحمه الله تعالی وای چه ددینه معلومه شوه چه ریاست او شهرت پریښودل پکار دی. ( فتح الباری ص ۸۳ ج ۶)

## د شهرت په بدی کښ د سلفو اقوال

ابراهیم بن ادهم رحمه الله تعالی وای چه څوک شهرت خوښوی به هغه کښ صداقت او اخلاص نشته. - بشر بن الحارث رحمه الله تعالی وای. چه څوک شهرت خوښوی هغه د الله تعالی نه نه یریږی.( سیر اعلام النبلاء ص ۴۷۶ ج ۱) عبدالله بن مبارک رحمه الله تعالی وای. چه ما ته سفیان ثوری رحمه الله تعالی اویل چه ایاک والشهرة ځان د شهرت نه وساته ځکه څه چه چا ته ورغلے یم

نو هغه د شهرت نه منع کړی ده. ( سیرص۲۶۰ ج ۷)

فضاله بن عبید رضی الله تعالی عنه ابن محیریز رحمه الله تعالی ته په خپل نصیحت کښ وای که ستا وس وی چه ته خلق اوپیژنی او ته او نه پیژاندے شی نو دا کاروکړه او که دا طاقت د وی چه ته واوری او خبری او نه کړی نو دا کاروکړه او که دا طاقت د وی چه ته دچا سره کینی او خلق تا ته راغونډ نشی نو دا کاروکړه (سیر ص ۵۳۹ ج ۴)

سفیان ثوری رحمه الله تعالی عباد بن عباد رحمه الله ته لیکلی وو چه ددینه ځان وساته چه ته د هغه خلقو نه شی چه هغوی دا خوښوی چه زمونږ په خبره دی عمل وکړی شی. او یا د زمونږ خبره خوره شی او یا د زمونږ خبری ته ځوک غوګ کیدی. او د مشری نه ځان وساته ځکه مشری سړی ته د سرو اوسپینو زرو نه زیاته خوښه وی او پدی صرف هوښیاران او دلالان علماء پوهیږی نو د خپل زړه حال اخله او په نیت سره عمل کوه.( الرسائل المنبریه ص ۱۳ ج ۲)

ابن قیم رحمه الله تعالی وای چه کله د بنده قدم د اخبات (یعنی د ډیری عاجزی) په مرتبه کښ مضبوط شی نو بیا د خلقو په مدح نه خوشحالیږی او نه د خلقو په بدی خفه کیږی. او د خلقو مدح او ذم له اعتبار ورکول ددے علامه ده چه د ده زړه د الله تعالی نه خالی او منقطع دے (مدارج السالکین ص ۶ ج ۲

## د شهرت او د خلقو د صفتونو نه د سلفو صالحینو پرهیز

ابو وازع رحمه الله تعالی فرمائی چه ما ابن عمر رضی الله تعالی عنه ته اویل چه خلق به همیشه د پاره په خیر وی تر څو پوری چه الله تعالی تا لره د دوی د پاره ژوندی ساتی نو هغه غصه شو او ویویل زما په خیال ته عراق ئے او تاته څه پته ده چه ستا د مور ځوی د دروازے شاته څه کوی. ( سیر ص ۲۲۰ ج ۳)

یو سړی ابن عمر رضی الله تعالی عنه ته اویل ای په خلقو کښ غوره سړیه او د هغه چا ځویه چه هغه په خلقو کښ غوره سړے وو هغه اویل نه ځه په خلقو کښ غوره یم او نه د غوره سړی ځوی یم . ځه د الله تعالی یو بنده یم د الله تعالی نه امید ساتم او د هغه نه یریږم خو قسم په الله تعالی چه تاسو ځوک تباه کړے نه وی د هغه پوری پسی نښتی ئیوی ( سیر ص ۲۳۶ ج ۳)

د اويس قرنی رحمه الله تعالی خبرچه کله خور شو او خلقو ته پته ولګيده چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د ده صفت کړی نو دے پټ شو او په عامو خلقو کښ داخل شو. تر دے چه دا پته او نه لګيده چه چرته لاړ.( سير ص ۲۰ ج ۴ )

د ابو العاليه رحمه الله تعالی سره به چه کله د څلورو کسانو نه زيات کيناستل نوهغه به اودريد (سيرص ۲۱۰ ج ۴ مختصر منهاج القاصدين ص ۱۰۹) دخالدبن معدان رحمه الله حلقه به چه غټه شوه نو هغه به اودريده او واپس به شو. څکه شهرت يې بد ګڼړلو (مختصر منهاج القاصدين ص ۲۰۹ )

د حارث بن قيس جعفی رحمه الله تعالی سره به يو سړے دوه سړی کيناستل او خبری يې ورسره کولی او کله به چه خلق ډير شو نو پابه سيده او هغوی يې پريښودل. ( سنن الدارمی ص ۱۳۲ ج ۱ )

عبد الرحمن بن يزيد رحمه الله تعالی وای مونږ علقمه ته عرض وکړو کچری ته په جماعت کښ مونځ وکړے او مونږ ستا سره کينو او تپوسونه درنه کوو نو دا به ښه وی. هغه ويل څه دا خبره بده ګڼړم چه خلق اووای چه دا علقمه دے (سير ۵۸ ج ۴)

ثابت رحمه الله تعالی وای چه ماته محمد بن سيرين رحمه الله تعالی اويل چه ای ابو محمد ما ستاسو د مجلسونو نه صرف دا خبره منع کوی چه څه د شهرت نه يريږم

ابراهيم نخغی رحمه الله تعالی وای څه خبرے کوم خو که ما د خبرو نه خلاصے مونډلے نو ما به خبرے نه وے کړے او هغه زمانه چه به هغے کښ څه فقيه يم دا ناکاره زمانه ده ( سير ص ۵۲۶ ج ۴)

حافظ احمد بن الحسين بغدادی ته خلقو يو ځل الحافظ وليکلو هغه غصه شو او پدے ئے وهل وکړل او ويويل چه مونږ د دے د پاره لوستل کړی چه خلق مونږ ته حافظ وليکی.

( سير اعلام النبلاء ص ۱۰۷ ج ۱۹)

سعيد المؤدب رحمه الله تعالی وای چه کله څه د ابوبکر خطيب رحمه الله تعالی خوا ته راغلم ما ويل آيا ته حافظ ابو بکر ئے هغه ويل د حديثو حفظ خو په دارقطنی پوره شو. (سير ص ۲۸۱ ج ۱۸)

اعمش رحمه الله تعالی وای چه مونږ په ابراهیم رحمه الله تعالی ډیر کوشش وکړو چه یوے ستنے ته ئے کینوو خو هغه انکار وکړو. ( سنن الدرامی ص ۱۳۲ ج ۱)

حماد بن زید رحمه الله تعالی وای چه څه د ایوب سختیانی رحمه الله تعالی سره روان ووم هغه به په ګنړو لارو تللو ما به تعجب کولو چه څنګه ورته معلومے دی. دا کار به هغه ددے د پاره کولو چه خلق دا او نه وای چه دا ایوب دے. ( سیر ص ۲۲ ج ۶) اللهم اغفرلنا بحبهم و احشرنا فی زمرتهم و صلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد و آله و اصحابه اجمعین .------ دا بیان د صلاح الامه او الفوائد نه نقل شو

## خوف الهی (یعنی د الله تعالی نه ویره )

الحمدلله نحمده ونستعینه ونستغفره ونؤمن به ونتوکل علیه ونعوذ باالله من شرورانفسنا ومن سیئات اعمالنا من یهده الله فلامضل له ومن یضلل فلاهادی له – و نشهد ان لااله الاالله وحده لاشریک له و نشهد ان محمدا عبده ورسوله امابعد فان خیر الحدیث کتاب الله وخیر الهدی هدی محمد صلی الله علیه وسلم و شر الامور محدثاتها وکل محدثة بدعة وکل بدعة ضلالة وکل ضلالةفی النار

اعوذ باالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم قال الله تعالی وایای فاتقون وقالی تعالی وایای فرهبون وقال تعالی واخشونی وقال تعالی و لمن خاف مقام ربه جنتان

وقال النبی صلی الله علیه وسلم فوالله انی اعلمهم باالله و اشدهم له خشیة

په قران او حدیث کښ د مومنانو ډیر صفتونه بیان شوی یو صفت د هغوی خوف الهی او خشیت الهی دی یعنی مومن به دالله تعالی نه ویره کوی او همیشه به دالله د عذاب نه ویریږی او څومره چه یو بنده الله تعالی ته ډیر نزدی وی نو هغه هومره د الله تعالی نه ډیره ویره کوی لکن ویره دوه قسمه ده یوه هغه ویره چه هغه الله تعالی ته خوښه ده او غوره ده (خوف محمود) چه د هغی په ذریعه سړی د حرامونه منع شی دویمه هغه ده چه د دی اندازی نه تجاوز وکړی نا امیدی ته ورسی نو دغه ویره صحیح نه ده (مدراج السالکین ص ۵۱۴ ج ۱ ) پس هر کله چه د الله تعالی نه ویره اعلی صفت

دے او دا د نیکانو خصوصی صفت دے نو په دی وجه مونږ د خوف الهی یعنی د الله تعالی نه د ویری په باره کښی یو څو خبری کوو.

## اوله خبره د خوف الهی حکم

اوله خبره دا ده چه الله تعالی امرکوی چه ځما نه ویره وکړی. لکه الله تعالی وای. چه وایای فرهبون وایای فاتقون خاص ځما نه ویریږی او الله تعالی امرکوی چه واخشونی ځما نه ویریږی. ددی وجهی نه ابن قیم رحمه الله تعالی وای چه وهی فرض علی کل احد د الله تعالی نه ویره په هرچا فرض ده ( مدراج السالکین ص ۵۱۴ ج ۱ بحواله الخوف من الله )

## دویمه خبره د خوف الهی فائدی

د الله تعالی نه د ویری ډیری فائدی دی. بعض د هغو نه دا دی. چه دا سبب د کامیابی دے یعنی چه څوک د الله تعالی نه یریږی نو الله تعالی یئے کامیاب کړی. ( لکه سورة النور ۵۲ )

او دا سبب د جنتونو دے یعنی څوک چه د الله تعالی نه یریږی نو الله تعالی به جنتونه ورکړی. (لکه سورة الرحمن ۴۶ النزعات ۴۱،۴۰) او دا سبب د مغفرت او د لوی اجر دے (سورة الملک ۱۲) او دا سبب د نصیحت اخستلو دے یعنی څوک چه د الله تعالی نه یریږی نو قران او نصیحت کول هغه ته فائده ورکوی. ( لکه طه۸۳ او الاعلی ۱۰) او دا سبب د رضاء الهی دے یعنی څوک چه د الله تعالی نه یریږی نو الله تعالی به ترینه راضی وی ( لکه البینه ۸) او دا سبب د رجولیت دے. یعنی څوک چه د الله تعالی نه یریږی نو هغه د الله تعالی په نزد نارینه دے ( لکه النور ۳۶) او دا صفت د ایمان دارو دے ( لکه الانفال ۲ المؤمنون ، السجده ۱۶ ) بل د سبب د امن دے په آخرت کښی یعنی څوک چه د الله تعالی نه په دنیا کښی یریږی نو په آخرت کښی به پي یره نه راځی. لکه په حدیث قدسی کښی راځی الله تعالی فرمائی وعزّتی لا اجمع علی عبدی خوفین او امنین اذا خافنی فی الدنیا امنته یوم القیامة او اذا امننی فی الدنیا اخفته فی الآخرة ( صحیح ابن حبان ص ۶۴۰ ) ځما دی په خپل عزت قسم وی چه څه په خپل بنده دوه ویری او دوه امنونه نه را جمع کوم. کله چه ځما نه په دنیا کښی یریږی نو په آخرت کښی امن ورکوم. او کله چه په دنیا کښی په امن ( یعنی بے ویری ) وی نو په آخرت کښی

ویروم . بل دا سبب ده سوری د الله تعالی دے لکه په حدیث ده سبعة یظلهم الله فی ظله کښ راځی (بخاری کتاب الآذان ۶۶۰)

**دویمه خبره** دالله تعالی نه ویره صفت د انبیاؤ او ملائکو دے دغه رنګی دا صفت د صحابه کرامو او نورو مؤمنانو دے او دا صفت د غرونو او ګټو دے یعنی دا ټول د الله تعالی نه یریږی. د ټولو انبیاو او ملائکو او نیکانو بندګانوپه باره کښ الله تعالی وای. و یخافون عذابه ( سورة بنی اسرائیل ۵۷

دوی ویریږی د الله تعالی د عذاب نه نوح علیه الصلوة والسلام ته نوح ځکه وای. چه هغه به (نوحه) جړا ډیره کوله. یحیی علیه الصلوة والسلام به جړل جړل بے هوشه به شو. داؤد علیه الصلوة والسلام به د څلویښت ورځو پوری په سجده کښ جړا او سوال کولو. ( بحواله خطبات جمعه لمولانا عبدالسلام بستوی ص ۵۸۱ )

د ټولو انبیاءکرامو په باره کښ الله تعالی وای. و یدعوننا رغبا و رهبا ( سورة الانبیاء ۹۰) دوی به مونږ رابللو په ویری او مینی سره. یعنی ټول د الله تعالی نه ویریدل . رسول الله صلی الله علیه وسلم وای فوالله انّی اعلمهم باالله او اشد هم له خشیة (رواه البخاری والمسلم و احمد ) ځما د په الله تعالی قسم وی چه څه د دوی نه ښه پوهه یم په الله تعالی او دوی نه ډیرزیات یریدونکے یم د الله تعالی نه.

عبدالله بن الشخیر رضی الله تعالی عنه وای چه څه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا ته راغلم هغه مونځ کولو. و لجوفه ازیز کازیز المرجل من البکاء ( رواه احمد و النسائی و ابو داؤد)

او د هغه د ګیډی د پاره خوټکیدل وو پشان د خوټکیدلو د کټی د وجهے د جړا نه .

دغه رنګی رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه څه سورة هود واقعه مرسلات او عم یتساءلون او اذالشمس کوّرت بوډا کړم

ملائک هم د الله تعالی نه ډیر یریږی. لکه الله تعالی وای. یخافون ربهم من فوقهم ( النحل ۵۰

ملائک یریږی د خپل رب نه چه د پاسه د دوی نه دے. او الله تعالی وای. چه و هم من خشیة مشفقون (الانبیاء ۲۸) او دوی د هیبت د الله تعالی نه یریدونکی دی.

**دجبريل امين ویره د الله تعالى نه** . رسول الله صلى الله عليه وسلم وای د معراج په شپه څه په ملاء الاعلى ( په برنی مجلس) تیر شوم و جبریل کاالحلس البالی من خشية الله (حسن رواه الطبرانی) جبریل په شان د زوړ ټاټ وو د ویرې د الله تعالی نه

**د میکائیل علیه السلام ویره** . انس رضی الله تعالی عنه وای چه رسول الله صلى الله عليه وسلم جبريل علیه السلام ته اویل چه مالی لا اری میکائیل یضحک یعنی څه وجه ده چه میکائیل علیه السلام نه خاندی. جیریل ورته اویل چه ما ضحک میکائیل منذ خلقت النار د کوم وخت نه چه جهنم پیدا شوی میکائیل نه دی خاندلی.

**د صحابه کرامو ویره**. و في وجه عمر خطّان اسودان من البكاء ( تاریخ الخلفاء للسيوطی و صلاح الامة فی علو الهمة ) د عمر رضی الله تعالی عنه په مخ کښې د جړا د وجهې دوه توری کرښې جوړې شوی وی.

عثمان رضی الله تعالی عنه به چه د قبر خوا ته ودرید نو دومره یې وجړل چه ګیره یې لمده شوه.

**د غرونو ویره** . غرونه هم د الله تعالی نه یریږی. لکه الله تعالی وای. لو انزلنا هذا القرآن على جبل لرأيته خاشعا متصدعا من خشية الله ( سورة الحشر ۲۱) که چرې راالیګلی وی مونږ دا قرآن په غره باندی خا مخا لیدلی به وے تا هغه لره عاجزی کوونکے توټې توټې کیدونکے د ویرې د الله تعالی نه .

**ده ګټو ویره** :- ګټی هم د الله تعالی نه یریږی لکه الله تعالی وای وان منها لما يهبط من خشية الله ( البقره ۷۴) - یقینا بعض د دی نه هغه دی چه راورغړی د ویرې د الله تعالی نه

**د نیکانو خلقو ویره** :- نیکان خلق هم د الله تعالی نه یریږی.

## حسن بصری رحمه الله

د حسن بصری رحمه الله په باره کښې راځی چه اذا بکی فکان النارلم تخلق الا له -حسن بصری به چه کله جړل نو داسی یې ژړل چه ګویه کښې اور نه دے پیداشوی مګر د ده پاره او حسن بصری

رحمه الله به ویل چه ماخافه الا مومن و لا امنه الا منافق نه ویریږی د الله تعالی نه مګر مومن او نه بی ویری کیږی الله تعالی نه مکر منافق ،

**مالک بن دینار** رحمه الله به ویل لو استطعت ان لا انام لم انم مخافة ان ینزل العذاب وانا نائم

یعنی که ځما د بی خوابی وس کیدے نو ما به خوب نه کولی هسی نه چه عذاب راشی او ځه اوده یم او مالک بن رینار رحمه الله وای که چری ځما معاونین وی نوما به په ټوله دینا کښ کسان خواره کړی وی چه دا اعلانونه او آوازونه یی کولی ایهاالناس النار النار ای خلقو ځان د اور نه بچ کړی ځان د اورنه بچ کړی او مالک بن دینار رحمه الله به ویل چه ځما دا اراده ده چه خلقو ته امروکړم چه کله ځه مړشم چه ماوتړی او طوقونه راپکښ واچوی ثم ینطلقوا بی الی ربی کما ینطلق باالعبد الآ بق الی سیده (صلاح الامة فی علو الهمة) ما خپل رب ته بوځی لکه ځرنګی چه تښتیدونکی مری خپل مالک ته بیولی شی . **سفیان ثوری** رح به چه هرکله مرګ یاد کړو یعنی د مرګ تذکره به یی وکړه نو څو ورځی به ترینه چا څه فائده نشوه حاصلولی کله به چه ترینه چا د یوشی تپوس وکړو نو دی به ویل چه لادری لا ادری ځه نه پوهیږم ځه نه پوهیږم – او چابه چه سفیان ثوری رح ولیده نو داسی به معلومیده چه کانه فی سفینة یخاف الغرق ګویه دا په کشتی کښ ناست دی چه د ډوبیدو نه یریږی اکثر به یی داویل چه یارب سلم سلم ای ربه ما بچ کړی ما بچ کړی کله به یی چه د اخرت تذکره (یاداشت ) وکړو نو په تشو متیازو کښ به ترینه وینه تله - سفیان ثوری رح به ویل چه بکینا علی الذنوب زمانا فاالآن نبکی علی الاسلام مونږ څه وخت په ګناهونو ژړل وس په اسلام ژاړو سفیان ثوری رحمه الله چه کله وفات کیده ژړل یی او ویل یی چه په ګناهونو نه ژاړم که چری ځه په دی پوهیدی چه په توحید مرم نو ما ددی خبری هیڅ پرواه نه ساتله چه د الله تعالی سره ځه میلاؤ شم او د غرونو پشان غټ غټ ګناهونه می کړی وی ،

**سهل بن عبدالله** رحمة الله به هم ویل چه المرید یخاف ان یبتلی باالمعاصی والعارف یخاف ان یبتلی باالکفر – یعنی مرید (زده کونکي ) د ګناهونه نه یریږی او عارف (عالم) د کفر نه یریږی - سهل بن عبدالله رحمه الله وای چه د صدقینو خلقو ویره د خرابیدو د خاتمی نه وی د هر خطری او د هر حرکت په وخت کښ لکه الله تعالی وای چه وقلوبهم وجلة د نیکانو خلقو زړونه یریږی .

**عبدالله بن مبارک رحمه الله :**

عبدالله بن مبارک رحمه الله یو ځل د ملګرو خواته را اووتلو او ویویل چه انی اجترأت البارحة علی الله سئلته الجنة مانن شپه په الله تعالی ډیر جرات وکړو چه د الله تعالی نه م د جنت سوال وکړو ،

**سری سقطی** رحمه الله به ویل څه خپلی پوزی ته هره ورځ بار بار ګورم مخافة ان یکون و جهی قد اسود د دی ویری نه چه مخ به می تور شوی وی – اوسری سقطی رحمه الله به ویل ما احب ان اموت حیث اعرف څه دا نه غواړم چه په هغه ځای کښ مړ شم چه په کوم ځای کښ ماخلق پیژنی چا ورته وویل چه دا ولی هغه ویل اخاف ان لا یقبلنی قبری فافتضح څه ویریږم چه قبر به می قبول نکړی نو شرمنده به شم ،

**عطاء السلیمی** رحمه الله عطاء السلیمی رحمه الله به لاس په خپل اندامونو راښکلو کتل به ئی مخافة ان تکون قد غیرت خلقته د دی ویری نه چه شکل یې بدل شوی وی

## څلورمه خبره د خوف الهی اسباب

یعنی د الله تعالی ویره په انسان کښ څنګه راځی او د دی پاره څه اسباب دی په انسان کښ چه د الله تعالی ویره راځی نو د دی د پاره ډیر اسباب دی بعضی د هغی نه دادی :

**اول سبب** د الله تعالی په لوی کښ فکر کول لکه الله تعالی وای وما قدرو الله حق قدره (سورة الزمر ٦٧) او تعظیم ونکړو دوی د الله تعالی پوره تعظیم – **دویم سبب** د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خبرو کښ فکر کول لکه الله تعالی وای چه د قیامت په ورځ به ظالم سړی په خپلو لاسونو چکونه لګوی او وای به چه ارمان دی چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداری کړی وی ارمان دی چه د فلانی سره می دوستی نوی کړی (سورة الفرقان ٢٧ ٢٨) نو دا سوچ پکاردی چه د قیامت په ورځ به په لاسونو چک لګوم او ارمانونه به کوم خو وخت به رانه تلی وی .

---

دغه رنګی الله تعالی وای چه آیا بچ به شی خاوندان د کلو چه راشی دویته عذاب زمونږه د شپې او دوی او ده وی – او آیا بچ به شی دوی که راشی دویته عذاب زمونږ په وخت د څاښت کښ او دوی لوبی کوی (سورة الاعراف ٩٧ ٩٨)

نو دا سوچ پکار دی چه که په ما د الله تعالی عذاب راځی د شپې یا دورځی نوځه ترینه نشم بچ کیدی دغه رنگی الله تعالی وای چه دوی به افسوسونه کوی ،

**دریم سبب** مرگ او د مرگ سختوته فکرکول لکه الله تعالی وای وجاءت سکرة الموت بالحق ذالک ماکنت منه تحید (سورة ق ۱۹) اوراغلی سختی د مرگ په حق سره (دی ته به او ویلی شی ) دا هغه شی دی چه وی ته چه د دینه تا تیښته کوله

**څلورم سبب** قبر او د قبر عذابونو او مصیبتونو او هیبتونو ته فکرکول د قبر د عذابونو تفصیل په مشکوة شریف باب اثبات عذاب القبر کښ اوګوره

**پینځم سبب** د قیامت ته او د قیامت هیبتونو ته فکر کول –د قیامت د هیبتونو تفصیل د قران کریم په آخری سورتونو کښ وګوره (د مثال په طور سورة الحج ۱ ۲ سورة عبس ۳۳)

**شپږم سبب** جهنم ته او د جهنم د اور تیزی ته فکر کول د دی تفصیل هم د قران په آخری سورتونو کښ موجود دی(مثال په طور سورة ابراهیم د ۱۵ نه تر۱۷ پوری او ۵۰ او دخان ۴۳ نه تر ۴۹ پوری او مزمل ۱۲ ۱۳ ۱۴ )

او حدیث کښ راځی چه ابو طالب به رنګی اور ته او غور زولی شی چه هغه به پرکو نه رسی او دماغ به یی خوټکیږی او حدیث کښ راځی چه یو سړی به په دنیا کښ د هرچانه د مزو ژوند تیر کړی وی د قیامت په ورځ به په جهنم کښ یوه غوپه ورکړی شی بیا به ترینه تپوس وشی چه تاچرته خوشحالی لیدلی وه دابه قسم وکړی چه ما خوشحالی نه ده لیدلی ،

**اوم سبب** خپل ګناهونو ته فکرکول چه څما سره به حساب کیږی او تپوس به رانه کیږی او تول به کیږی (سورة الانبیاء ۴۷)

**اتم سبب** دا سوچ کول چه کیدی شی چه الله تعالی د توبی توفیق رانکړی بیا به سوالونه کوم خو قبلیږی به نه (سورة مؤمن ۹۹ ۱۰۰)

**نہم سبب** د خاتمی سوچ کول چه هسی نه چه اخره خاتمه می خرابه نشی لکه په مشکوة شریف باب القدرکښ حدیثونه راځی ،

**لسم سببب** د نیکانو صحبت کول رسول الله صلی الله علیه وسلم وای اولیاء الله تعالی الذین اذا رؤا ذکر الله (حسنه الا لبانی فی الصحیحه) د الله تعالی دوستان هغه څوک دی چه کله ولیدلی شی نو الله یاد ولی شی ،

**یولسم سبب** : وعظ او نصحت اوریدل الله تعالی وای فان الذکری تنفع المومنین (سورة ذاریات ۵۵) یقیناً نصیحت کول فائده ورکوی مومنانو ته ،

**دولسم سبب:** علم دی (او دا ددی مخکښ اسبابو خلاصه ده او دا مخکۍ اسباب دیته راګرځی) لکه الله تعالی وای انما یخشی الله من عباده العلماء (سورة فاطر ۲۸ وانظر بنی اسرائیل ۱۰۷ ۱۰۸ ۱۰۹) یقیناً ویریږی د الله تعالی نه د بنده ګانو د هغه نه عالمان او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای فو الله انی اعلمهم باالله واشدهم له خشیة – حاصل یی دای چه څما علم زیات دی او څما ویره د الله تعالی نه هم زیاته ده .

---

پکار ده چه مونږ او تاسی په ځان کښ دا اسباب راولو او د الله تعالی ویره وکړو او د الله تعالی د ویرې د وجی نه د ګناهونو نه منع شو د الله تعالی د مخالفت دشمنی او بغاوت نه منع شو ، زمونږ او ستاسو به دینا او اخرت ښایسته شی کامیاب به شو الله تعالی به راضی شی جنتیان به شو د جهنم نه به بچ شو ،ــــ

اقول قولی هذا استغفرالله لی و لکم ولسائرالمسلمین وصلی الله علی خیر خلقه محمد واله واصحابه اجمعین

،پدی مضمون کښ مونږ د دری کتابونه نقل وکړو صلاح الامة فی علو الهمة او الخوف من الله او خطبات جمعه لمولانا عبدالسلام بستوی

## مرګ ډیر ډیر یادول

الحمد لله  والصلوة والسلام علی رسول الله- اما بعد – فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم

کل نفس ذائقة الموت و قال تعالی و جاءت سکرة الموت بالحق ذالک ما کنت منه تحید. و قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اکثروا ذکر هاذم اللذات.

د دے بیان موضوع ده مرګ ډیر ډیر یادول . د مرګ د یادولو مقصد دا دے چه د مرګ شکل او صورت او هیبت او د مرګ نه روستو حالت په زړه کښ حاضرول او د هغے اثر به اندامونو په عملی شکل کښ کیدل.( حاصل موسوعة نضرة النعیم)

## د مرګ په باره کښ آیاتونه

او قرآن مونږ ته بار بار مرګ یادوی لکه په سورة آل عمران آیت ۱۸۵ کښ وای چه هر نفس څکونکی د مرګ دے. او په سورة النساء آیت ۷۸ کښ وای چه هر چرته ئیوی نو مرګ به درته رسیږی او په سورة ق آیت ۱۹ کښ وای چه د مرګ سختی راغلی دا هغه شی دے چه تا ترینه تیښته کوله او په سورة جمعه آیت ۸ کښ وای د کوم مرګ نه چه تاسو تیښته کوی هغه به درسره مخامخ کیږی. ۰دغه رنګی قرآن کریم د مرګ د سختی بیان هم کوی لکه سورة انعام آیت ۹۳ سورة ق آیت ۱۹ سورة الواقعه آیت ۸۳، ۸۴ ، ۸۵ سورة القیامه آیت -۲۶- ۲۷- ۲۸. ۲۹ ، ۳۰

## د مرګ په باره کښ حدیثونه

په احادیثو کښ هم بار بار د مرګ تذکره کولی شی. عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه وای چه یو انصاری د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړو. چه من اکیس الناس و احزم الناس. څوک ډیر هوښیار دے هغه اویل اکثرهم ذکرًا للموت و اکثرهم استعدادا للموت اولئک الاکیاس ذهبوا بشرف الدنیا و کرامة الآخرة هغه څوک چه مرګ ډیر یادوی او د مرګ د پاره تیاری ډیر کوی. دا هوښیار خلق دے. دوی د دنیاشرافت او د آخرت عزت حاصل کړی. ( رواه المنذری فی الترغیب و ابن ابی الدنیا فی کتاب الموت و الطبرانی فی الصغیر باسناد حسن و البیهقی فی الزهد والهیثمی بحواله موسوعة نضرة النعیم] .

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای اکثروا من ذکر هاذم اللذات الموت هغه شی ډیر یادوی چه هغه خوندنه ختموی چه هغه مرګ دے. (رواه الترمذی والنسائی و ابن ماجه و هو حدیث حسن لشواهده الکثیرة)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای ما حق امرئ مسلم له شئ یوصی فیه یبیت لیلتین الا و وصیته مکتوبة عنده ( رواه البخاری ومسلم )

حاصل دا دے چه مسلمان لره دا مناسب نه دی چه د هغه سره داسی یو شی وی. چه په هغه کښ وصیت کول پکار وی. او دا دوه شپې تیری کړی مګر پکار ده چه دده وصیت ده سره لیکلی شوی وی.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای کفی بالموت واعظًا مرګ پوره نصیحت کونکی دی.

## د مرګ سختی

څرنګی چه قرآن د مرګ سختی بیان کړی. نو دغه رنګی په احادیثو کښ هم د مرګ د سختی بیان شوی. ابراهیم بن هدبه وای چه مونږ ته انس بن مالک د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه حدیث بیان کړی چه په بنده د مرګ سختی شروع وی. او بندونه ئی په یو بل سلام کوی . او وای چه علیک السلام تفارقنی و افارقک الی یوم القیامة په تا د سلام وی ته ځما نه جدا کیږی او ځه ستا نه جدا کیږم د قیامت د ورځی پوری.

او قرطبی رحمه الله تعالی په التذکره کښ نقل کړی چه ابراهیم علیه السلام ته الله تعالی اویل چه یا خلیلی کیف وجدت الموت ځما خلیله مرګ د څرنګی اومند هغه ویل لکه ګرم سیخ چه په لمده وړی کښ کیښودی شی او بیا راښکلی شی. الله تعالی ورته اویل چه مونږ خو په تا اسانی وکړه.

دغه رنګی د موسی علیه السلام نه الله تعالی تپوس وکړو چه مرګ د څرنګی اومند هغه اویل لکه جوندی چینچړه چه وریته کولی شی. نه مری چه دمه شی او نه خلاصیږی چه والوزی.

او په بل روایت کښ راځی موسی علیه السلام وای ما خپل نفس دا رنګی اومنده لکه د جوندی ګډ نه چه قصاب پوستکی اوباسی.

بل روایت ئے ذکر کړی رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه څما د په هغه ذات قسم وی چه څما روح د هغه په لاس کښې ده چه خامخا د ملک الموت لیدل د توری د زر ګذارونو نه هم ډیر زیات سخت دی.

**واقعات** = عمر بن عبدالعزیز رحمه الله تعالی یو ملګری ته اویل چه بیګا م شوګیر کړیو د قبر او د مړی په باره کښې م سوچ کولو چه کله د مړی په قبر کښې دری ورځې وشی ، نو انسان د هغه نزدیکت بد ګنړی. اګر چه ډیره زمانه به ئی ورسره شوی وی. چینجی پکښې وشی. بدبوئی پیدا کړی. کفن ئے زوړ شی. سره د دینه چه مخکښې ښائسته شکل وو ښائسته خوشبوی ئے وه صفا جامی ئے وی. بیا ئے یوه چغه وکړه او بے هوشه شو. شعر

اتیت القبور فساءلتها این المعظم والمحتقر

واین المدل بسلطانه واین القوی اذا ما قدر

فقالوا جمیعا فما مخبر وماتوا جمیعا و مات الخبر

عمر بن عبدالعزیز رحمه الله تعالی به علماء راجمع کړل د مرګ او قیامت او آخرت بحث بئے شروع کړو نو داسے جړا بئے کړه لکه مخی ته ئے چه جنازه پرته وی.

عمر بن عبدالعزیز رحمه الله تعالی د دوستانو قبرونو ته ورغلی . ژړا او دعاء ئے شروع کړه. د خاورو نه ورته آوازوشو چه ستا د دوستانو کفنونه ما وشلول غوښې م ورته اوخوړی زیزمی م ورله وشلولی اننګی م ورله اوخوړل لاسونه م ورله د متو نه جدا کړل او متی د لیچو نه او لیچی د اوکو نه او اوګی د ملا نه .او ښپې د پنډو نه او پنډی د ورنونو نه او ورنونه د کناتو نه او کناتی د ملا نه . عمر بن عبدالعزیز جړل .چه کله روانیده نو ورته ویویل چه آیا څه تاته داسی کفنونه نه ښایم چه هغه نه زړیږی چه هغه تقوی او نیک عمل دے. ( البدایه و النهایه ص ۳۴۳ ج ۶)

علی رضی الله تعالی مقبرے ته ورغلی ویویل ای قبرونو والا ستاسو مالونه تقسیم شو. ستاسو زنانوو نکاحونه وکړل ستاسو په کورونو کښې بل څوک اوسیږی. بیا علی رضی الله تعالی عنه اویل که دوی جواب کولی شوی. نو دوی به ویلی وی. چه <u>لم نرا ذادا خیرا من التقوی</u>. مونږ د پرهیزګاری نه ښه توښه نه ده لیدلی.- د انسان هغه ښپې چه د به بے مزلونه کول هغه خاوری شی هغه سترګی چه د

به ـِ پے کتل هغه اوبه هیږی . هغه فصیحه او بلیعه ژبه چینجی اوخوری هغه ښائسته غاښ چه د به پے خاندل هغه په خاورو کښ زاړه شی.

یزید الرقاشی رحمه الله تعالی به خپل ځان ته اویل چه ای یزیده د مرګ نه روستو به ستا د پاره مونځونه څوک وکړی. ستا د پاره به روژی څوک اونیسی. ستا نه به ستا رب څوک راضی کړی.

## د مرګ د یادولو فائدے

رسول الله صلی الله علیه وسلم وای مرګ ډیر یادوی ۱ ځکه دا ګناهونه معاف کوی.

۲ د دنیا سره مینه ختموی.

۳ د زړه صفائی راولی او زنګ ترینه لرې کوی. (فضائل قرآن ص ۴۰ لمولانا ذکریا)

۴ رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه څوک په شپه او ورځ کښ شل کرته مرګ یادوی نو د شهیدانو سره به راپورته کیږی.

۵ مصیبت اسانه وی. ځکه چه څوک مرګ یادوی نو هغه پوهیږی. چه دا مصیبت همیشه نه وی.

۶ که څوک په نعمت او فراخی کښ وی نو هغه پدے نه دوکه کیږی.

۷ څوک چه مرګ یادوی هغه په توبه کښ تلوار کوی.

۸ په زړه کښ قناعت وی. په لګه روزی به صبر کوی.

۹ عبادت په شوق کوی.

۱۰ هغه غوره انسان دے چه مرګ یادوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکښ چا د یو سړی صفت وکړو. رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل مرګ یادوی هغوی ویل نه. رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل دا ښه سړی نه دے.

## د مرگ د یادولو اسباب

اوس هغه اسباب بیانوو چه په هغه سره انسان ته مرگ او آخرت یادیږی او د دنیا مینه ورسره ختمیږی.

۱ د علم او د وعظ مجلسونو ته حاضریدل

۲ مرگ یادول . عائشه رضی الله تعالی عنها ته یو زنانه شکایت وکړو. چه ځما په زړه کښې سختوالی دی. هغې ویل مرگ یاده وه نو زړه به د نرم شی. هغه زنانه مرگ یادولو زړه ئے نرم شو. بیا راغله او د عائشه رضی الله تعالی عنها شکریه ئے ادا کوله.

۳ د زنکدن والا ته حاضریدل . حسن بصری رحمه الله تعالی د یو سړی بیمار پرسی ته ورغلی. د هغه زنکدن وو. حسن بصری رحمه الله تعالی د هغه سختو ته کتل. چه کور ته واپس شو رنگ ئی بدل شویو. کور والا ویل روټی وخوره . هغه ویل تاسو خوراک څکاک کوی. ما یو داسی منظر ولید . چه همیشه به د هغه د پاره عمل کووم. تر دی چه ورسره یو ځای شم.

۴ قبرونو ته تلل رسول الله صلی الله علیه وسلم وای قبرونو ته ځی ځکه دا مرگ او آخرت یادوی او د دنیا مینه کموی.

پکار ده چه مونږ او تاسو همیشه مرگ یاد ساتو او د مرگ د پاره تیاری وکړو. د مرگ وخت معلوم نه دے. کال میاشت هفته ورځ ئے معلوم نه ده چه کله مرو په کوم ځای کښې مرو د څه سبب په وجه مرو. نو د مرگ نه غفلت نه دے پکار. الله تعالی د مونږ ته د مرگ د پاره د تیاری توفیق راکړی.

اقول قولی هذا و استغفرالله لی و لکم و لسائر المسلمین. اللهم صل علی نبینا و سلم .

د دے بیان زیاته حصه د امام قرطبی د کتاب التذکره نه نقل شوه. او لګ نقل پکښې د موسوعة نضرة النعیم نه وشو.

# عاجزی کول

الحمد لله والصلوة و السلام علی رسول الله واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له و اشهد ان محمدا عبده ورسوله - امابعد فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم

و عباد الرحمن الذین یمشون علی الارض هونا و اذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلاما.

د الله تعالی د خصوصی بندګانو په صفتونو کښ یو صفت د عاجزی دے. چه په دوی کښ به عاجزی وی. د عاجزی په باره کښ آیاتونه لکه دا آیت د سورة فرقان او په سورة المائده کښ وای. اذلة علی المؤمنین او په سورة قصص کښ وای چه تلک الدار الآخرة نجعلها للذین لا یریدون علوًا فی الارض و لا فسادا. جنت الله تعالی هغه چا ته نصیب کوی چه به هغه کښ لوی نه وی او فسادی نه وی. او فبما رحمة من الله لنت لهم په سبب د رحمت د الله تعالی ته نرم شوی دویته .

## د عاجزی په باره کښ حدیثونه

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای. ما تواضع احدا لله الا رفعه الله. (رواه مسلم عن ابی هریره )

نووی رحمه الله وای چه الله تعالی یۓ په دنیا کښ اوچت کړی او یا دا چه په آخرت کښ به ثواب ورکړی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه ما ته الله تعالی وحی وکړه چه تاسو عاجزی کوی. تر دی چه یو په بل فخر نه کوی او یو په بل زیاتی نه کوی.(مسلم)

## د عاجزی په باره کښ د سلفو صالحینو اقوال

فضیل بن عیاض رحمه الله وای عاجزی دیته وای چه سړی حق ته غاړه کیدی او حق قبول کړی د هر چا سره چه وی او فضیل رحمه الله وای چه که څه د ماشوم نه حق واورم نه قبلووم ۓ او که د جاهل نه ۓ واورم نو قبلوم ۓ

ابو یزید رحمه الله تعالی وای چه کله یو بنده دا ګمان کوی چه په مخلوق کښ څما نه ناکاره انسان شته نو دا متکبره دے. یعنی عاجزی دا ده چه د هر چا نه به څان زیات ګنهګار ګنړی.

حسن بصری رحمه الله تعالی وای تواضع دیته وای چه ان تخرج من منزلک ولا تلقی مسلما الا رأیت

له علیک فضلا چه ته د کور نه اوزی او نه میلاویږی د یو مسلمان سره مګر ته وینی هغه لره فضیلت په خپل ځان

## د عاجزی کوونکو صفات او علامات

د عاجزی کوونکو ډیر علامات دی یو دا چه کله په د پسی روستو خلق روان وی نو دا ئے بد ګڼړی.لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صفت کښ راځی و لا یطأ عقبه رجلان . په د پسی به شاته روستو دوه کسان هم نه تلل.

ابو درداء رضی الله تعالی وای چه همیشه به انسان د الله تعالی نه جدا کیږی ترڅو چه په د پسی شاته خلق روان وی.

په علی رضی الله تعالی عنه پسی روستو خلق تلل نو هغه اویل چه د څپلو کشارے ځما نه بند کړی ځکه چه دا د بیوقوفه خلقو زړونه خرابوی ( سیر اعلام النبلاء ص ۲۰۷ ج ۹)

عمران رضی الله تعالی عنه وای چه په کم عقل سړی پسی روستو په څپلو کشولو سره د هغه دین ډیر کم پاتی کیږی.

عبدالرحمن بن بندار چه کله کرمان ته داخل شو نو خلقو رخصتولو نو د هغوی له واپس کړل او په لاره یوائځی روان شو. او د شعر ئے ویلو

اذا نحن ادلجنا وانت امامنا کفی لمطایانا بذاکراک حادیا

کله چه مونږ د شپې مزل کوو او ته زمونږ مخی ته ئے نو زمونږ د سورلو د پاره ستا ذکر پوره حُدی خوانی کونکی وی. ( سیر ص ۱۳۷ ج ۱۸)

امام احمد رحمه الله تعالی به چه کله په لاره روان وو. نو دا په ئے بده ګڼړله چه څوک پسی روان شی . او ویل بېئے چه څه داسے ځای غواړم چه هلته هیڅوک نه وی. ( سیر ص ۲۲۶ ج ۱۱)

## دویمه علامه د بل چا ملاقات له ورتلل

انس رضی الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صفت کښ وای چه کان یزور الانصار و یسلم علی صبیانهم و یمسح رؤوسهم . د انصارو ملاقات له به ورتلو او د هغوی په ماشو مانو یۓ سلام کولو او په سرونو یۓ ورله لاس راښکلو

سفیان ثوری رحمه الله تعالی رمله ته راغلو نو ابراهیم بن ادهم رحمه الله تعالی پسی جواب ولیګو چه راشه مونږ ته حدیث بیان کړه. نو سفیان ثوری رحمه الله تعالی راغلی نو چا ابراهیم بن ادهم رحمه الله تعالی ته اویل چه ته سفیان ثوری رحمه الله تعالی ته داسی جواب لیګی نو هغه اویل اردت ان انظر کیف تواضعه ما دده عاجزی معلوموله .

فائده :- متکبره انسان د چا خوا ته نه ورځی او وای چه دا ولی ځما خوا ته نه راځی .

## دریمه علامه خپل ځان پیجاندل

یعنی خپل ځان د هر چا نه بیکاره ګڼړی خصوصا د ربانی علماء نه ځان ډیر بیکاره ګڼړی دا به نه وای چه هم رجال و نحن رجال هغه هم سړی وو او مونږ هم سړی ئیو - ځکه زمونږ او د هغوی د زمکی اود اسمان فرق دے. لکه یو کس وای چه العلماء نسور فی السحاب ونحن اغلیمة نحبو علی التراب - علماء بازونه دی چه په وریځو کښ پرواز کوی. او مونږ د وړو ماشومانو په شان په خاورو کښ خړپوڅی کوو. یعنی د هغوی پرواز ډیر بالا وو.

**مالک بن دینار** رحمه الله وای که د جمات په دروازه کښ اوازوشی چه په تاسو کښ ناکاره سړی د را اوزی نو ځما دی په الله تعالی قسم وی چه ځما نه به هیڅوک دروازی ته مخکښ نشی.

عبدالله بن مبارک رحمه الله ته چه کله دا خبره ورسیده نو هغه اویل بهذا صار مالک مالکاً ددے عاجزی په وجه مالک رحمه الله تعالی - دی درجی ته رسیدلی . معلومه شوه چه د عاجزی په وجه انسان لوی مرتبو ته رسی.

په عام الرماده کښ عمر رضی الله تعالی عنه په منبر کیناست زړی جامی اغوستی وی جړل ۓ او ویل ۓ چه الله تعالی امت محمدی ته ځما د ګناهونو په وجه عذاب مه ورکوه.

موسی بن القاسم رحمه الله تعالی وای چه په مونږ زلزله او سره سیلی راغله نو څه محمد بن مقاتل رحمه الله تعالی خوا ته لاړم چه ته زمونږ امام ئے مونږ له دعاء اوغواړه. هغه وجړل او ویویل چه ليتنى لم اكن سببَ هلاككم . ارمان دے چه چرې څه ستاسو د هلاکت سبب نه یم . یعنی هسی نه چه دا عذاب څما د وجهې نه وی. بیا ما رسول الله صلی الله علیه وسلم به خوب کښې ولید. راته ویویل چه الله تعالی ستاسو نه عذاب د محمد بن مقاتل د دعاء په وجه پورته کړو.

**فائده**:- نیکان خلق د هر چا نه ځان زیات ګنهګار ګڼړی. او د هغوی سره دا ویره وی. چه هسی نه چه دا عذابونه څما د ګناهونو د وجهې نه وی.

محمد بن واسع رحمه الله تعالی به ویل کچرې د ګناهونو بوی وے نو د ډیرے بدبوئ د وجهے نه به ما ته څوک نزدی کیدے نه شوی. د شیخ احمد الرفاعی رحمه الله تعالی مخې ته د کجورو پلیټ کیښودے شو. ردی او وچې کجوری یئے خوړلی او ویل ئے چه انا احق باالدُّون فانی مثله دون . څه د ردی کجورو قابل یم ځکه څه ددے په شان ردی یم.

اسماعیل بن اسحاق رحمه الله تعالی وای چه کله په اول ځل ما امام احمد بن حنبل رحمه الله تعالی ولید نو ما ورته اویل چه ماته اجازه وکړه ستا سر ښکلوم هغه اویل څه لا دیته نه یم رسیدلی.

یو خراسانی امام احمد رحمه الله تعالی ته اویل چه الحمد لله چه ته م ولیدلی هغه ویل کینه دا څه دی څه څوک یم.

دا خبره یئے ډیره کوله چه څه څوک یم چه تاسو څما خواته راځی لاړ شی د بل چا نه حدیث زده کړی.

ابو بکر مروزی رحمه الله تعالی وای چه ما امام احمد رحمه الله تعالی نه اویل چه ډیر خلق تا ته دعاګانی کوی. د هغه په سترګو کښې اوښکی راغلی ویل څه ویریږم چه دا به استدراج وی.

## څلورمه علامه د عاجزی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وای ما استکبر من اکل معه خادمه و رکب الحمار باالاسواق واعتقل الشاة فحلبها ( رواه البخاری فی الادب المفرد) په هغه چا کښې تکبر نشته چه د هغه سره خادم یو

ځای خوراک کوی په بازارونو کښې په خر سورلی کوی. ګډه و تړی او را لوشی . یعنی دا دری کارونه هم د عاجزی علامه ده.

## پینځمه علامه په خپله خدمت کول

براء بن عازب رضی الله تعالی عنه وای کان النبی صلی الله علیه وسلم ینقل التراب یوم الخندق حتی اغبر بطنه . نبی صلی الله علیه وسلم د خندق په ورځ خاوری چلولی تردی چه ګیډه مبارکه ئے په ګردونو پټه شوی وه . مسجد قبا چه جوړیدلو رسول الله صلی الله علیه وسلم خښتے چلولی.

## شپږمه علامه ګډی څرول

رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه هر پیغمبر ګډی څرولی او ما هم د مکی والا د پاره ګډی څرولی په څه قیراطونو.

عمر رضی الله تعالی عنه هم د خپلو ماماګانو بنی مخزوم د پاره ګډی څرولی او وای چه ما ته بڼے یو موټی کجوری او وسکی راکولی.

## اوومه علامه غورزیدلی نونړی خوړل او ګوتی څټل.

او دا د هغه حدیث نه معلومیږی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای کله چه د یو ستاسو نه نونړی پریوزی هغه د پاکه کړی او بیا د اوخوری او شیطان ته د نه پریګدی. او چه کله د خوراک نه فارغه شی نو ګوتی د وسټی.

ددینه علاوه نور علامات هم شته الله تعالی د په مونږ کښې عاجزی پیدا کړی. ددے بیان انتخاب د ددے کتابونو نه وشو. صلاح الا مه فی علو الهمة . موسوعة نضرة النعیم او الفوائد للشیخ الامین

## توکل على الله (په الله تعالی اعتماد ):

الحمد الله نحمده و نستعینه ونستغفره و نؤمن به و نتوکل علیه و نعوذ باالله من شرور انفسنا ومن سیئات اعمالنا من یهده الله فلامضل له ومن یضلله فلا هادی له و نشهد ان لااله الله وحده لاشریک له ونشهد ان محمدا عبده ورسوله امابعد فان خیرالحدیث کتاب الله و خیر الهدی هدی محمد صلی الله علیه وسلم و شرالامور محدثاتها و کل محدثة بدعة وکل بدعة ضلاله وکل ضلالة فی النار اغوذ باالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم وما لنا ان لانتوکل علی الله وقد هدانا سبلنا و لنصبرن علی ماذ یتمونا وعلی الله فلیتوکل المتوکلون – وقال تعالی وتوکل علی الحی الذی لایموت وقال تعالی ومن یتوکل علی الله فهو حسبه  وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم لوانکم توکلتم علی الله عزوجل حق توکله لرزقکم کما یرزق الطیر تغدو خماصا و تروح بطانا

د مومنانو ډیر صفتونه دی یو صفت یې توکل دی چه مومنان به په هره خبره او هرکارکښ صرف په الله تعالی اعتماد او بهروسه کوی – د خپلو کوششونو نتیجې او د خپلو واقعاتو فیصلې به الله تعالی ته سپاری – خفګان او پریشانی به نکوی بلکه خپل حالات به الله تعالی ته سپاری هرکله چه توکل د مومنانو لپاره ډیر خصوصی او ضروری صفت دی او ډیره لویه درجه او مرتبه ده نو پدی وجه مونږ د توکل په باره کښ یو څو خبری کوو

**اوله خبره امر په توکل** : اوله خبره داده چه الله تعالی ځای په ځای خپل پیغمبر او مومنانو د توکل امر کړی لکه الله تعالی وای چه کله جنګی یا نور ضروری او مشکل کارونه وی نو اول مشوره وکړه او بیا توکل او اعتماد په الله تعالی وکړه – الله تعالی وای <u>وشاورهم فی الامر فاذا عزمت فتوکل علی الله ان الله یحب المتوکلین</u> (سورة آل عمران ۱۶۹) او مشوره وکړه د دوی سره په کار (جنګ یا نور کارونو )کښ پس کله چه کلکه اراده وکړی نو توکل وکړه په الله تعالی یقیناً الله تعالی مینه کوی د توکل کونکو سره – دغه رنګی الله تعالی وای چه کله د دشمن سره صلح یا معاهده کوی نو هم توکل په الله تعالی وکړه الله تعالی وای <u>وان جنحوا للسلم فاجنح لها وتوکل علی الله انه هوالسمیع العلیم</u> (سورة الانفال ۱۶۱) او که چرې دوی مائله شو صلح ته نوته هم مائله شه صلح ته او توکل وکړه په الله تعالی یقیناً الله تعالی اوریدونکښ او پوهه دی ، دغه رنګی الله تعالی وای چه کله دعوت او تبلغ کوی نو هم په الله تعالی توکل وکړه الله تعالی وای <u>ومارسلناک الا مبشرا ونذیرا قل ما اسئلکم علیه</u>

من اجر الا من شاء ان یتخذ الی ربه سبیلا و توکل علی الحی الذی لایموت (سورة فرقان ۵۶ ۵۷) او مونږ نه دی لیګلی تالره مګر زیری ورکونکی او یرونکی او وایه څه نه غواړم ستاسو نه پدی تبلیغ څه مذدوری لکن د چاپه خوښه شی چه ونیسی خپل رب ته لار او توکل وکړه په هغه ژوندی ذات چه نه مری دغه رنګی کله چه انبیاء دعوت او تبلیغ چلولی او دقوم طرف نه مخالفتونه او مصیبتونه شروع شوی نو هغوی اظهار د توکل او اعتماد کړی په الله تعالی باندی لکه نوح علیه السلام وای فعلی الله توکلت (سورة یونس ۷۱)خاص په الله تعالی ما ځان سپارلی او هود علیه السلام وای انی توکت علی الله (سورة هود ۵۵)یقیناً ما ځان سپارلی په الله تعالی باندی،

## دویمه خبره توکل د انبیاؤ صفت دی :

د مخکښ بیان نه معلومه شوه چه توکل د انبیاء صفت دی دغه رنګی الله تعالی وای چه انبیاؤ به داخبره کوله چه ومالنا ان لا نتوکل علی الله وقد هدانا سبلنا (سورة ابراهیم ۱۲) او څه دی مونږ لره چه مونږ توکل نه کوو په الله تعالی او په تحقیق سره هدایت کړی مونږ ته الله تعالی او داصفت د صحابه کرامو دی لکه الله تعالی وای چه وقالو ا حسبناالله ونعم الوکیل (سورةآل عمران ۱۷۳) او یل صحابه کرامو پوره دی مونږ لره الله تعالی او ډیر ښه زموږ دی الله تعالی او دا صفت د اولیاء کرامو دی لکه الله تعالی وای چه مخکښ مومنانو به دا دعا کوله چه ربنا علیک توکلنا (سورة ممتحنه ۴) ای ربه زمونږ خاص په تامونږ ځان سپارلی .

**دریمه خبره د توکل معنی :** = د توکل په باره کښ د بزرګانو او علماء کرامو نه ډیری وینا ګانی نقل دی بعضی د هغی نه دادی (۱)شفیق بلخی رح وای طمانیة القلب بموعود الله عزوجل – توکل دیته وای چه ستا زړه د الله تعالی په وعدو مطمئن وی دغه رنګی معنی د جنید بغدادی رحمه الله نه هم نقل ده

(۲)امام احمد بن حنبل رحمه الله وای تفویض الامر الی الله جل ثنائه والثقة به توکل دیته وای چه کارونه الله تعالی ته وسپاری او په الله تعالی اعتماد وکړی (۳) بعضی علماء او بزرګان (لکه بشر حافی او یحی بن معاذ رحمهما الله) وای چه هو الرضا باالمقدور دا راضی کیدل دی دالله تعالی په فیصلو (۴)بعضی وای چه هو التعلق باالله فی کل حال په هر حالت کښ د الله تعالی سره تعلق ساتل

(۵) بعضی وای چه قطع علائق القلب بغیرالله د غیرالله سره د زړه تعلقات ختمول

**څلورمه خبره** د توکل د اسبابو سره منافات نشته پدی د ټولو علماؤ اتفاق دی چه توکل منافی نه دی د استعمال د اسبابو سره – صحیح توکل دا دی چه اسباب استعمال کړی خو اعتماد به په الله تعالی وی او چه اسباب ورسره نه استعمالوی نو دا فاسد توکل دی سهل بن عبدالله التستری رحمه ا لله وای څوک چه په اسباب اعتراض کوی نو دا رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو اعتراض کوی

**واقعه** عمررضی الله عنه د یمن د څه خلقو سره میلاؤ شو عمررضی ویل تاسو څوک یی وی هغوی ویل نحن متوکلون مونږ متوکلین یو عمررضی الله عنه ویل تاسو متا کلین (خوړونکی )ئیوی انما المتوکل من یلقی حبه فی الارض ویتوکل علی الله عزوجل (التوکل لابن ابی الدنیا ص ۴۸ و اسناده صحیح) متوکل هغه څوک دی چه هغه تخم زمکی ته اوغورزوی او بیا په الله تعالی توکل کوی یعنی اول خپل محنت دی بیا توکل دی او عمررضی الله عنه وای یا معشر القراء ارفعو رؤوسکم ما اوضح الطریق فاستبقوا الخیرات ولا تکونوا کلا علی المسلمین (اسناده حسن الجامع لشعب الایمان ص ۱۳۶ ج۲ ) ای علماؤ سرونه پورته کړی لارواضحه ده په مسلمانانو ځان مه بوج کوی یعنی د خپل لاس محنت کوی د دینه معلومه شوه چه توکل دیته نه وای چه سړی به محنت نه کوی ،

**پنځمه خبره د توکل په باره کښ حدیثونه** رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی لوانکم توکلتم علی الله عزوجل حق توکله لرزقکم کما یرزق الطیر تغدو خماصاً و تروح بطاناً (ترمذی کتاب الزهد و ابن المبارک فی الزهد و احمد و الحاکم و صححه و وافقه الذهبی) که چری تاسو توکل وکړی په الله تعالی ځرنګی چه دتوکل حق دے نو الله تعالی به تاسو لره داسی روزی درکوی څرنګی روزی چه مرغانو ته ورکوی چه سحر وږی ځی او ماښام ماړه راځی

**فائده** د دی حدیث مقصد دانه دی چه محنت او تدبیر مکوی ځکه چه مرغو لره جالی ته روزی نه راځی بلکه هغه الوزی په پټو او باغونو کښ خپل زرق تالاش کوی – بلکښ د حدیث مقصد دادی چه څوک په الله تعالی توکل او اعتماد وکړی نو هغه به د روزی لپاره پریشانه نه وی او هغه به په صحیح طریقه کوشش کوی او روزی به ورته میلاویږی لکه الله تعالی وای چه ومن یتق الله یجعل له مخرجا ویرزقه من

حیث لایحتسب ومن یتوکل علی الله فهو حسبه(الطلاق ۲)او څوک چه یریږی د الله تعالی نه نو وبه ګرځی الله تعالی دلره لار دوتلو د مشکلاتو نه او رزق به ورکړی د هغه ځای نه چه دده به ﭘﮯ ګمان نه وی او چا چه ځان وسپارلو په الله تعالی نو الله تعالی پوره دی ده لره – او څوک چه په الله تعالی توکل نه کوی نوهغه دروزی د پاره پریشانه وی د حلالو او حرامو فرق نه کوی غلا دوکه بی ایمانی او خیانت کوی او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای ، لو ان ابن ادم هرب من رزقه کما یهرب من الموت لا درکه رزقه کما یدرکه الموت (رواه ابو نعیم فی الحلیة و حسنه الالبانی فی السلسلة الصحیحة رقم ۹۵۰) که چری بنی ادم تیښته کوی د خپل رزق لکه څرنګی چه تیښته کوی د مرګ نه نو خامخا راګیروی به دی لره رزق د ده لکه څرنګی چه راګیروی دی لره مرګ ،

---

## شپږمه خبره توکل په باره کښ د علماء او بزرګانو وینا ګانی :

(۱)ابوحازم رحمه الله وای چه دنیا دوه څیزونه دی یو څیز څما دپاره دی او بل څیز د بل چا دپاره دی کوم څیز او رزق چه څما دی بل څوک یی نشی خوړلی او د بل رزق ځه نشم خوړلی نو وخت پی څله خرابوم .

(۲)حسن بصری رحمه الله (د ده دخبرو حاصل دا دی) چه د کال غم یوی ورځی ته مه راجمع کوه که عمر درپسی وو الله تعالی به رزق درکوی او که عمر درپسی نه وو نو د بل دپاره ځان څله ستړی کوی .

(۳)ابراهیم بن ادهم رحمه الله = یو سړی ابراهیم بن ادهم رحمه الله ته شکایت وکړو چه څما اولاد ډیر دی ابراهیم رح ورته اویل که چری ستا په کور کښ داسی څوک وی چه د هغوی رزق په الله تعالی نه وی نو هغه څما کورته ئے راوله

(۴)فضیل بن عیاض رح ،ـ الله تعالی وای چه ستاسو رزق په اسمان کښ دی وفی السماء رزقکم وما توعدون (الذاریات ۲۲)

او بیا پدی خبره الله تعالی قسم کړی چه فورب السماء والارض انه لحق مثل ما انکم تنطقون نو فضیل رح وای چه سبحان الله دا څوک دی چه هغه لوی ذات یی غصه کړو تر دی چه قسم یی ورته وکړو ایا دوی د الله تعالی خبره رشتینی نه ګڼړی تر دی چه الله تعالی یی قسم ته محتاج کړو .

(۵)حاتم الاصم رحمه الله ته چا اویل من این تا کل ته د کوم ځای نه خوراک کوی هغه ویل ولله خزائن السموات والارض ولکن المنافقین لایفقهون (منا فقون ۷) یعنی د الله تعالی د خزانو نه خوارک کوم

(۶) عبدالله بن ادریس بن یزید رحمه الله وای عجبت ممن ینقطع الی رجل ولا ینقطع الی من له السموت والارض یعنی ځما هغه چاته تعجب دی چه په یو سړی اعتماد کوی او په هغه ذات اعتماد نه کوی چه د هغه دپاره اسمانونه او زمکی دی

(۷)شقیق بلخی رح وای چه د هرچا یو مقام وی د چا توکل په خپل مال وی او دچا په نفس او د چاپه خپله ژبه او دچا په توره او د چاپه بادشاهی او د چاپه الله تعالی د چا توکل چه په الله تعالی وی نو دی ارام او راحت اومنده الله تعالی وای و توکل علی الحی الذی لایموت (فرقان ۵۷) اعتماد په هغه ذات وکړه چه هغه همیشه ژوندی دی او مرګ ېے نه راځی او څوک چه په بل چا ارام او راحت حاصلوی (او اعتماد پی کوی) نو نزدی ده چه هغه ختم شی یعنی د الله تعالی نه علاوه په بل هرشی فنا او زوال راځی نو چه هغه ختم شی نو بیابه په چا اعتماد کوی نو ښه داده چه په هغه ذات اعتماد وکړه چه هغه همیشه دی او فنا او زوال ېے نه راځی :-

---

## اوومه خبره د توکل فائدی :-

د توکل ډیری فائدی دی **یو** داچه توکل سبب د محبت الهی دی لکه ان الله یحب المتوکلین یعنی الله تعالی به درسره محبت کوی **دویم** داچه توکل سبب د کفایت الهی دی لکه الله تعالی وای ومن یتوکل علی الله فهو حسبه (سورة طلاق ۵)چاچه ځان وسپارلو په الله تعالی نو الله تعالی ورله پوره دی یعنی الله تعالی به پی بل چا ته نه محتاج کوی او نه به یی چاته ضرورت پیداکوی ،**دریمه** فائدهٔے داده چه روزی به ورته په اسانه میلاویږی دروزی دپاره به فریشانه نه وی لکه د مخکښ حدیثونونه معلومه شوه چه د مرغانو په شان روزی به ورکوی ، .**څلورم** داچه څوک په الله تعالی توکل وکړی نو ارام او راحت به ورته میلاو شی لکه د مخکښ اقوالو خلاصه هم داوه چه دی ته به ارام میلاویږی

## اتم خبره د توکل په باره کښ واقعات :

(۱)اسماعیل علیه السلام د مور د هاجری بی بی توکل په بخاری شریف کښ په روایت د عبدالله بن عباس رضی الله عنه راځی چه ابراهیم علیه الصلاة والسلام هاجره بی بی او اسماعیل علیه الصلاة

والسلام د بیت الله شریف خواته راوستل او د دوی سره یې څه کجوری او اوبه پریښودی او ابراهیم علیه السلام ترینه روان شو د اسماعیل علیه السلام مور ورپسی شوه او ورته وای چه یاابراهیم این تذهب وتترکنا بهذا الوادی الذی لیس فیه انس ولاشئ – ای ابراهیمه چرته ځې او مونږ پدی میدان کښ پریږدی چه نه پکښ انسان شته اونه بل څه شی الله امرک بهذا ایا الله تعالی درته امر کړی هغه ویل او – نو هاجری بی بی اویل چه اذن لایضیعنا مونږ به الله تعالی نه بربادوی جبریل علیه السلام ورته اویل چاته یې سپارلی وی هغه ویل الله تعالی ته جبریل ویل هغه ذات ته یې پریښی وی چه هغه پوره دی ،- **فائده** - د هاجری بی بی داسی عجیبه توکل او اعتماد وو په الله تعالی چه هرکله ابراهیم علیه السلام مونږ د الله په امر پریښی وو نو الله تعالی به زمونږ حفاظت کوی .

## (۲)د موسی علیه السلام د مور توکل

د موسی علیه السلام مورته الله تعالی وحی وکړه چه کله په موسی علیه السلام اویریږی نو دا دریاب ته اوغورزوه ولاتخافي ولا تحزنی او مه ویریږه اومه غمژنه کیږه یقیناً مونږ دا واپس کوو تاته اوګرځوه دی لره د پیغمبرانو نه( سورة القصص ) = مور چه کله په بچی یریږی نو د سینی سره یې جوخت کړی لکن د موسی علیه السلام مور موسی علیه السلام دریاب ته غورزوی ځکه چه د دی په الله تعالی مکمل توکل اعتماد او بهروسه وه – هرکله چه د دی په الله تعالی پوره اعتماد وو نو الله تعالی ورسره ډیره ښه معامله وکړه ځکه هغه موسی علیه السلام چه د هغه د وجی نه فرعون په زرګونو هلکان حلال کړی وو هغه الله تعالی د فرعون بنګړی ته داخل کړو - په صلاح الامه کښ وای چه لتکون المعرکة علی ارضه– معرکه یې د هغه کور ته داخله کړه – اود فرعون په کور او غیګ کښ یې لوی کړو – او د موسی علیه السلام مور به خپل بچی ته شوده هم ورکول او مذدوری به یې هم اخستله –فلا دافع لقضاء الله- بهرحال د دی واقعی نه معلومه شوه چه د موسی علیه السلام د مور په الله تعالی ډیر غټ اعتماد وو ،

## (۳)د موسی علیه السلام توکل –

د موسی علیه السلام مخی ته لوی دریاب دے او شاته یې د فرعون لوی لښکر دے بنی اسرائیلو ته وای -کلا ان معی ربی سیهدین (سورة الشعراء ۶۲) هیچری داسی نه ده (یعنی مونږ نشی راګیرولی ) یقیناً ځما سره رب ځما دی زرده چه لاربه وښایی ماته -**فائده** - دا ډیر سخت او خطرناک وخت وو

لکن د موسی علیه السلام داسی عجیبه توکل وو چه هیڅ پرواه یی نه وه او الله تعالی ورسره داسی عجیبه کومک وکړو چه الله تعالی ورله په دریاب کښې لارې ورکړې ،

**فائده** پدې واقعاتو کښې دا سوچ هم پکار دی چه توکل والا سره الله تعالی څنګه عجیبه امدادونه کړې

## (۴) د رسول الله صلی الله علیه وسلم توکل –

دغه رنګې په هغه سخت وخت کښې چه کله نبی صلی الله علیه وسلم او ابوبکر رضی الله تعالی عنه په غار کښې دی او کفار د غار خولې ته راورسیدل نو نبی صلی الله علیه السلام ابوبکر رضی الله عنه ته وای لاتحزن ان الله معنا (سورة توبه ۴۰) مه غمژن کیږه - یقیناً الله تعالی زمونږ ملګری دے،

**فائده** داهم ډیر سخت او خطرناک وخت وو – ابوبکر رضی الله عنه نبی صلی الله علیه السلام ته وای که چرې دوی ښپوته اوګوری نومونږ به وینی نبی صلی الله علیه السلام ورته وای یا ابابکر ما ظنک باثنین الله ثالثهما –(ابن کثیر ص ۵۵۹ ج ۲) ستاخه ګمان (اوغم ) دی په باره د هغه دوه وو کښې چه الله تعالی ورسره دریم وی ،

## (۵)د رسول الله صلی الله علیه السلام د توکل دویمه واقعه –

کله چه رسول الله صلی الله علیه السلام د مکی معظمی نه مدینی طیبی ته هجرت کولو نو قریشو اعلان کړیو چه چا په نبی صلی الله علیه السلام او ابوبکر رضی الله تعالی عنه کښې هریو مونږ ته مړ یا ژوندی راووړ نو مونږ به سل اوښان په انعام کښې ورکوو د دی اعلان نه روستو سراقه ابن مالک بن جعشم د دوی د ګرفتارولو دپاره راووتلو دومره دویته نزدی شو چه دوی یی ګرفتاره ولی شو – رسول الله صلی الله علیه السلام قران لوستو په بخاری شریف کښې راځی چه وهو لایلتفت وابوبکر یکثر الا لتفات رسول الله صلی الله علیه وسلم شاته نه کتل او ابوبکر رضی الله عنه به ډیر کتل (بخاری کتاب مناقب الانصار باب هجرة النبی صلی الله علیه وسلم و اصحابه الی المدینة)

**فائده-** دا د رسول الله صلی الله علیه السلام ډیر لوی توکل وو چه دا ډیر حساس وخت وو او د سراقه طرف ته یی هیڅ توجه نه کوله یو ځل یی هم مخ نه دی راګرځولی چه سراقه څه کوی زړه یی ښه مطمئن وو – په شونډو مبارکو یی د قران کریم تلاوت جاری وو

**(۶)د رسول الله صلی الله علیه السلام د توکل علی الله او د استقلال یو معجزانه مثال دادی** - چه کله په احد او خنین کښ د لړ وخت دپاره د جان نثار صحابه کرامونه میدان خالی شو – نو رسول الله صلی الله علیه وسلم میدان نه وو پریښی ،

**فائده** دا د رسول الله صلی الله علیه السلام اعتماد وو په الله تعالی چه په داسی مشکل ترین حالاتو کښ ئے جنګ جاری ساتو ځکه په حنین کښ په دولس زره ملګرو کښ صرف لس کسان پاتی شو او په احد کښ په اوه سوه کسانو کښ صرف نهه کسان پاتی شو بیا اوه شهیدان شو نو صرف دوه کسان پاتی شو- بهر حال توکل د مومنانو صفت دے پکار داده چه هروخت زمونږ او ستاسو توکل او اعتماد صرف په الله تعالی وی د انسان په زندګی کښ کله د مجبوری حالات راځی او اکثره دوه قسمه مجبوری راځی یا مالی مجبوری وی یا د دشمن د طرف نه مجبوری او مشکلات پیداکیږی نو پکار داده چه مونږ بی ځایه خفګان او پریشانی ونکړو بلکه خپل حالات او معاملات الله تعالی ته وسپارو د الله تعالی په فیصلو راضی شو الله تعالی خپل وکیل او کارساز وګرځو ځکه هغه هرڅه وینی هرڅه اوری –

حسبناالله ونعم الوکیل نعم المولی ونعم النصیر

(۱۰)محرم الحرام (۱۴۳۵)تیراه سپین درند دا مضمون د دوه کتابونو نه خلاصه کړی شو یو صلاح الامه فی علوالهمه دویم خطبات جمع

## د ایمان فائدے

الحمد لله والصلوة والسلام على رسول الله و اشهد ان لا اله الا الله و حده لا شريک له و اشهد ان محمدا عبده و رسوله . اما بعد فاعوذ باالله من الشيطان الرجيم .. و لو آمن اهل الكتاب لكان خيرًا لهم .

کله چه د بنده ایمان کامل شی او د ایمان ترو تازګی د ده زړه ته ننوزی او د ایمان خوږ والی محسوس کړی. نو په دغه وخت کښ د ده ایمان څه عجیبه او ناشنا فائدے لری. چه دغه فائدو ته په قرآن او حدیث کښ ځای په ځای اشاره شوی. بعض د هغه فائدونه دا دی.

۱ چه ایمان سبب د خیر الهی دے. لکه الله تعالی وای. ولو امن اهل الکتاب لکان خیرا لهم . کچری اهل کتابو ایمان راوړی وی نو دا به ډیر خیروے دوی لره.

۲ ایمان سبب د هدایت الهی دے لکه يهديهم ربهم بايمانهم . هدایت به وکړی دویته رب د دوی په سبب د ایمان د دوی.

۳ ایمان سبب د نصرت الهی دے لکه و كان حقًّا علينا نصر المؤمنين . او لازم دے په مونږ مدد کول د مؤمنانو .

۴ د ایمان والا د پاره دعاګانی غوښتلی کیږی. لکه عام مؤمنان دا دعاء غواړی چه ربّنا اغفرلنا و لاخواننا الذين سبقونا باالايمان . ای ربه بښنه وکړی مونږ ته او زمونږ هغه رونړو ته چه مخکښ والی کړی زمونږ نه ایمان ته.

او ملائک ورله هم بښنه غواړی. لکه و يستغفرون للّذين آمنو او بښنه غواړی د پاره د مؤمنانو .

او پیغمبران ورله هم بښنه غواړی. لکه نوح علیه السلام وای ربّ اغفرلی و لوالدیّ و لمن دخل بیتی مؤمنا و للمؤمنين و المؤمنات. ای ربه بښنه وکړی. ماته او مور پلار ځما ته او هغه چا ته چه داخل شوی کور ځما ته ایمان راوړنکی او مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو لره.

او ابراهیم علیه السلام وای ربنا اغفرلی و لوالدیّ و للمؤمنين يوم يقوم الحساب. ای ربه زمونږ بښنه وکړی ماته او مور پلار زما ته او مؤمنانو ته په هغه ورځ چه ودریږی به حساب.

او زمونږ پیغمبرته هم حکم شوی چه مؤمنانو له ښنه غواړی. لکه و استغفر لذنبک و للمؤمنین و المؤمنات. او ښنه غواړه د پاره د بوج خپل او ایماندارو سړو او ایمان داره ښځو لره.

۵ د ایمان په برکت به اولاد د خپلو پلرونو سره ملګری کیږی. لکه والذین امنوا و اتبعتهم ذریتهم بایمانٍ الحقنابهم ذریتهم . او هغه کسان چه ایمان ئے راوړی او تابعداری کړی د دوی اولاد د دوی په ایمان سره پیوسته به کړو. د دوی سره اولاد د دوی.

**فائده** :- معلومه شوه چه د پلارانو او ځامنو ایمان یو بل لره فائده ورکوی.او په حدیث شریف کښ هم راځی چه د قیامت په ورځ به الله تعالی یو پلار لره لویه درجه ورکړی او ورته به اویلی شی چه دا درجه تالره پدے وجه ده چه ستا ځوی تا لره استغفار غوښتلو . دغه رنګی موسی او خضر علیهما السلام د یتیمانو هلکانو د پاره دیوال جوړ کړیو. پدے وجه چه پلار ئے نیک سړی تیر شویو.

(۶) امن په ایمان سره راځی لکه الذین آمنوا و لم یلبسوا ایمانهم بظلم اولئک لهم الامن و هم مهتدون. هغه کسان چه ایمان ئے راوړی او نه ئے دے ګډ وډ کړی ایمان خپل د شرک سره دغه کسان دوی لره امن دے او دوی لاره موندونکی دی.

**فائده** - هرڅوک د امن او قتصاد کوشش کوی لکن امن او اقتصاد په ایمان سره حاصلیږی.

۷ د ایمان والا الله تعالی مظبوطوی لکه یثبت الله الذین آمنو. مظبوطوی الله تعالی مؤمنانو لره. یعنی د ایمان خاوند په خپله عقیده نظریه او موقف کلک وی.

۸ د ایمان والا نه الله تعالی دفاع کوی. لکه ان الله یدافع عن الذین آمنوا یقینا الله تعالی اړوی د مؤمنانونه ضرر د کفارو.

۹ د ایمان والا سره د خلقو محبت وی. ان الذین آمنوا و عملوا الصالحات سیجعل لهم الرحمن ودّا یقینا هغه کسان چه ایمان ئے راوړی او عملونه کوی نیک زر ده چه او به ګرځوی دوی لره مهربان ذات مینه په زړونو د خلقو کښ.

۱۰ اوچتوالے د مؤمنانو په برخه دے. و انتم الاعلون ان کنتم مؤمنین . او تاسو اوچت ئیوی کچری تاسو کامل مؤمنان ئیوی.

۱۱ عزت هم د مؤمنانو د پاره دے ولله العزة ولرسوله وللمؤمنين . او خاص الله تعالی لره عزت دے او پیغمبر لره او مؤمنانو لره.

د دینه علاوه نور هم ډیرے فائدے ځای په ځای بیان شوی. الله تعالی د زمونږ ښائسته قوی او کامل ایمانونه نصیب کړی. او الله تعالی زمونږ خاتمه په کامل ایمان کړی.

## د جهنم بیان

الحمد لله رب العالمين والصلوة و السلام على النبى الا مين و على آله و صحبه اجمعين

اما بعد فاعوذ باالله من الشيطان الرجيم والذين يقولون ربنا اصرف عنا عذاب جهنم ان عذابها كان غراما (فرقان ۶۵) وقال تعالى ربنا انک من تدخل النارفقد اخزيته و ما للظالمين من انصار (آل عمران۱۹۲)

زمونږ اراده ده چه پدی بیان کښ د جهنم حالات بیان کړو ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای لا تنسوا العظيمتين دوه غټ ځیزونه مه هیروی چه هغه جنت او اور د جهنم دے په بل روایت کښ راځی چه کله یو قوم په یو مجلس کښ کینی او د جنت او د اور تذکره ونکړی نو ملائک وای اغفلوا العظيمتين د دوه غټ ځیزونو نه ئے غفلت وکړو په بل روایت کښ راځی چه ځوک د اور نه تیښته کوی او د جنت طلب کوی نو هغه نه اوده کیږی

ددے روایاتو نه معلومه شوه چه جنت او جهنم ډیرلوی لوی ځیزونه دی ځکه د جنت نعمتونه د تصور نه بهر دی او د جهنم عذابونه د تصور نه بهر دی

## د جهنم فراخی او غتوالی

رسول الله صلی الله علیه وسلم وای کچری یوه گټه جهنم ته او غورزول شی نو دویخ د رسیدلو نه مخکښ به اویا ۷۰ کاله مزل وکړی او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه د جهنم نه ځلور دیوالونه چاپیره دی چه د هر دیوال پلنوالی په اندازه د ځلویښت کالو دے (رواه الترمذی)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه د قیامت په ورځ به جهنم راوستلی شی اویازره واګی به پکښ وی د هرے واګی سره به اویازره ملائک وی راکاګی یئے (رواه مسلم)

قرطبی رحمه الله وای چه دا به هغه ځائی نه راوستلی شی په کوم ځائی کښ چه الله تعالی جهنم پیدا کړی او د محشر د زمکی نه به چاپیره شی جنت ته به بله لارنه وی ما سوا د پل صراط نه او دا واګی به پکښ ددے د پاره وی چه د محشر په زمکه را اونه اوزی د جهنم نه به میدان حشر ته صرف ښتونه را اوزی بعض خلق به نیسی

## په جهنم کښ قسما قسم عذابونه دی

په جهنم کښ بے شماره قسم عذابونه دی لکه یو طرف ته ګرم ووردے نارٌ حامیه ګرم وور دے چه د دنیا د وورنه ئے اویا چنده ګرموالی زیات دے ابو طالب به په رنګی وورکښ وی چه هغه به صرف پړکوته رسیږی لکن دماغ یئے خوټکیږی - دغه رنګی اویازره پوستکی به ئی روزانه سوزی-او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه د جهنم اور زرکاله بل کړی شو تر دے چه سور شو بیا زر کاله بل کړے شو تر دی چه سپین شو بیا زر کاله بل کړی شو تر دے چه تور شو نو د جهنم اور تور دے او د تیاری والا دے (رواه الترمذی)

دغه رنګی په جهنم کښ غرونه هم شته لکه په جهنم کښ صعود د اور غر دے چه کافر به پکښ اویا کاله خیجی بیا پکښ دغه رنګی ښکته راکوزیږی- دغه رنګی په جهنم کښ کندی هم شته لکه ویل یوه کنده ده که چرے غرونه پکښ روان کړی شی نو د ګرمی د وجے نه به ولی شی

دغه رنګی لملم کنده ده چه د جهنم نوری کندی د هغے د ګرمی نه پناه غواړی

دغه رنګی په جهنم کښ کویان هم شته لکه جب الحزن په جهنم کښ کوهی دے د تکبر والا به د اور په تابوتونو کښ بند کړی شی بیا به دغه کوهی ته وغورزولی شی

دغه رنګی قرطبی رحمه الله په التذکره کښ وای چه په جهنم کښ خندقونه دی دریابونه او حوضونه دی پټ ځایونه دی تنورونه دی جیلونه دی کورونه او بنګړی دی پولونه دی او جرندی دی وغیره وغیره دغه شان د دریاب د ساحل په شان ساحل دے چه په هغه کښ به ماران لړمان او ذهریله ښیزونه وی

دغه رنگې په جهنم کښې گرزونه دي ولهم مقامع من حديد دوی له به گرزونه وي د وسپنې نه رسول الله صلى الله عليه وسلم وای چه دا داسې گرزونه دي چه که د ټولې زمکې والا راجمع شي نو پورته يئے نه کړي او که غر پے اووهلې شي نو ذره ذره يئے کړي

دغه رنگې په جهنم کښې اتکړې دي لکه الله تعالى وای ان لدينا انكالا و جحيما زمونږ سره اتکړې او جهنم دے ابو عمران الجونى رحمه الله تعالى وای چه قيودا لا تحل و الله ابداً داسې اتکړې دي چه هيچرې به نه کولاويږی هيچرې به اوده نشي هيچرې به يخ اوبه ونه څکې لايذوقون فيهابرداًولاشراباً اوبه نڅکې پدې کښې يخې اوبه اونه دسکلوشي

هميشه به تږې وی په زنکدن کښې تږې په قبر کښې تږې په ميدان د حشر کښې تږې جهنم ته به تږې ورځی هميشه به وږې وی هيچرې يئے تنده ماته نه شي هيچرې يئے لوگه ختمه نه شي آرام خوب مرگ يئےنه وی گرځيدل به ئےپه اور کښې وی ناسته يئے په اور وی بړستن يئے د اور نه وی تولايانی يئےاور وی قميصونه يئے د اور نه وی

ابو هاشم رحمه الله د وان يوما عند ربک کالف سنة مما تعدون - په تفسير کښې وای چه د دوی د پاره به په جهنم کښې ميخونه (موگی) وی هغوی ته به زنځيرونه وی دغه زنځيرونه د دوی په ختونو کښې وی د جهنم لمبې به دوی د پينځه سوه کاله په مزل جدا وسې بيا به په پينځه سوه کاله کښې دوی بيرته واپس کولې شي -- بل عذاب د دوی بد شکلی ده - الله تعالى وائی وهم فيها کا لحون دوی به په هغے کښې بد شکله وی رسول الله صلى الله عليه وسلم وای اوربه ئی مخونه وسيزی بره شونډه به ئی راټوله شي دسرمينځ ته به ورسی اولاندی شونډه به ئی خکته اويزانه شي نوم به ئی وهی ( رواه الترمذی)

## د جهنميانو خوراک څکاک

دغه رنگې د جهنميانو خوراک څکاک ځانله ډيرلوی عذاب دے الله تعالى وای و يسقى من ماء صديد يتجرعه و لا يكاد يسيغه ويأتيه الموت من كل مكان و ما هو بميت او څکولې کيږی به په دوی د اوبو نه چه وينې زوی دی چه گوټ گوټ يئے څکی او نه به ئے شي په آسانه تيرولے او راځی به په ده اسباب د مرگ د هر ځای نه خو نه به مړ کيږی

او الله تعالی وای وسقوا ماء حمیما فقطع امعاءهم او څکولی کیږی به په دوی خوټکیدلےاوبه نو توټے توټے به کړی کولمی د دوی او الله تعالی وای وان یستغیثوا یغاثوا بماء کا المهل یشوی الوجوه بئس الشراب او که دوی د اوبو فریاد وکړی نو فریاد به ئے قبول شی په داسی اوبو سره چه په شان دویلے کړے شوے گرمے تامبے وی وریته وی به مخونه ډیر بد شکل دی

رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه مخ ته ئے نزدی کړی نو مخ بئے وریت شی او د سر پوستکے بئے پریوځی کله ئے چه وڅکی نو کولمی بئے ټوتی ټوتی شی تردی چه په شا به ترینه اوزی

او الله تعالی وای فاالذین کفروا قطعت لهم ثیاب من نار یصب من فوق رؤوسهم الحمیم یصهر به ما فی بطونهم والجلود ولهم مقامع من حدید کلما ارادوا ان یخرجوا منها من غم اعیدوا فیها پس هغه کسان چه کفر ئے کړی جوړولی به شی دوی لره جامی د وُور نه اړولی به شی د پاسه د سرونو د دوینه ایشیدلی اوبه ویلے به کړی شی په هغے سره هغه څه چه د دوی په خیټو کښ دی او څرمنے او دوی لره گرزونه دی د اوسپنی نه هر کله چه اوغواړی چه اوزی د اور نه د غم د وجے نه واپس به گرځولی شی په هغے کښ

رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه گرمی اوبه به ئے په سر واړولی شی د کوپړی نه بئے اوزی گیډی ته بئے ورسی په گیډه کښ چه څه دی هغه به لاندی اوبهیږی او الله تعالی وای چه دوی لره غساق وینی زوی دی به حدیث د ترمذی کښ راځی که چری یوه بوکه د غساق نه په دنیا کښ تویه کړی شی نو ټول دنیا والا به بدبویه شی

او الله تعالی وای وطعاماً ذا غصة او خوراک چه په مری کښ به نښلی

## د جهنم ماران او لړمان

د جهنم په عذابونو کښ ماران او لړمان هم شته :- رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه په جهنم کښ د بُختی اوښانو د څټونو په شان ماران دی چه څوک وه چی چی نو دڅلویښت کاله پوری به ورته ددرد احساس کیږی. دغه رنگی په جهنم کښ لړمان دی د هغه قچرو په شان چه کته پے پرته وی چه څوک وه چی چی نو د څلویښت کاله پوری به ورته د درد احساس کیږی.

## د جهنميانو خارخ

بل عذاب به په دوی د خارخ وی مجاهد رحمه الله وای چه په جهنميانو به پم (خارخ) ولگی. دوی به ځانونه گروی تر دی چه هډوکښ يۓ ښکاره شی دوی به تپوس وکړی ربنا بما اصابنا هذا ای ربه دا خارخ مونږ ته په څه ورسيد الله تعالی به ورته اووای باذاكم المؤمنين پدی وجه چه تاسو مؤمنانو ته تكليف رسولو

الله تعالی وای ويأتيه الموت من كل مكان د هر ځای نه به ورته مرگ راځی. ابراهيم التيمی رحمه الله وای حتی من مواضع الشعر تر دی چه د ويښتو د ځايونو نه به ورته مرگ راځی.

## بل عذاب به تنگ ځايونه وی

الله تعالی وای واذا اُلقوا منها مكاناً ضيقاً مقرنين دعوا هنالک ثبورا او كله چه اوغورزولی شی دوی د هغۓ نه په تنگ ځايكښ ترلے شوی غواړی به په دغه وخت كښ هلاكت لره. د ابن كثير په روايت كښ راځی چه پداسۓ تنگ ځای كښ به واچولے شی لكه چه ميخ په يو ديوال كښ په زور اوټومبلے شی.

## د جهنميانو جړاگانی

رسول الله صلی الله عليه وسلم وای چه جهنميان به دومره وجاړی چه په اوښكو كښ يۓ كشتی چليدے شی.

## د كافرانو د بدن غټوالی

رسول الله صلی الله عليه وسلم وای د كافر د اوگو په مينځ كښ به د تيزرفتاره سور د پاره دری ورځی مزل كيږی. په بل روايت كښ راځی غاښ يۓ د احد د غر هومره وی د خرمنی پيړوالی يۓ په مزل د دری ورځو وی (راوه مسلم)

او رسول الله صلی الله عليه وسلم وای چه كافر به د يو فرسخ او دوه فرسخونو پوری خپله ژبه را كاگی خلق به پے ښپی گدی. (رواه احمد و الترمذی وقال هذا حديث غريب)

او بدن يۓ پدے وجه غټيږی چه دته د عذاب او درد احساس ډير وشی.

**بل عذاب د دوی اسویلی او افسوسونه دی** دوی به مالک ته چغې وکړی. لیقض علینا ربک. په مونږد الله تعالی فیصله وکړی نو زر کاله روستو به دویته جواب میلاؤ شی انکم ماکثون تاسو به وخت تیروی بیا به د الله تعالی نه سوالونه وکړی نو الله تعالی به ورته اوواې اخسئوا فیها و لا تکلمون کورے شی پدے جهنم کښ او څما سره خبری مکوه نو دوی به د هر خیر نه نا امیده شی. په اسویلو او افسوسونو او د هلاکت په چغو به شروع وکړی.

بل عذاب دادے چه په مخونو به راښکلی شی. اذ الاغلال فی اعناقهم و السلال یسحبون فی الحمیم ثم فی النار یسجرون (سورة مؤمن ۷۰) په هغه وخت چه طوقونه به په ختونو د دوی کښ وی او زنځیرونه (به په ښپو کښ وی) راښکلی کیږی به په گرمو اوبو کښ بیا به په اور کښ وریت کړی شی.

بل عذاب د مخونو توریدل دی لکه آل عمران ۱۰۶ یونس ۲۷

بل عذاب دادے چه هر طرف نه به ترینه اور چاپیره وی څکه جزا من جنس العمل وی دده نه هم گناهونه چا پیره وو.

بل عذاب دا دے چه اور بۀ زړه ته رسیږی. یعنی اور بۀ بدن ته داخلیږی تر دی چه زړه ته به ورسیږی او حال دادی چه دوی به ژوندی وی. التی تطلع علی الافئدہ هغه اور چه ورخیژی په زړونو . ثابت البنانی رحمه الله ددے آیت سره ژړل.

## د جهنم سختی به د انسان نه د دنیا ټولے مزے او خوشحالی هیرکړی

رسول الله صلی الله علیه وسلم وای یؤتی بانعم اهل الدنیا من اهل النار یوم القیامة د قیامت په ورځ به هغه جهنمی حاضرکړی شی چه هغه په دنیا کښ د هرچا نه زیات په نعمتونو او مزو کښ وخت تیرکړیو. فیصبغ فی النار صبغة په جهنم کښ به یوه ِغوپه ورکړی. بیا به ترینه تپوس وشی هل رأیت خیرا قط هل مرّبک نعیم قط. آیا تا څه خیر یا نعمت لیدلی فیقول لا والله یا رب دا به اوای چه څما د په الله قسم وی چه ما چری څه خیر او نعمت نه دے لیدلی.

د جهنم اور ژوندی اور دے لیدل به کوی خبری به کوی اوریدل هم کوی غصه او غرمبار هم کوی. خلق به هم فیجنی. هرڅوک به د خپلےگناه په اندازه نیسی. او دا به هم پیجنی چه دا د څومره

عذاب مستحق دے. خلق به ډیر پیجنی په نسبت د مور خپل بچی لره. ځنی څوک به د پړکو پوری نیسی ځنی د زنگنانو پوری ځنی د نامه پوری ځنی د سینی پوری ځنی د مری د قوتی پوری. ابن جریر رحمه الله د ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه نقل کوی چه یو سړی به جهنم ته راښکلی شی اور به ورته داسی هنړیری لکه قچره چه اوربشو ته هنړیږی.

په جهنم کښ بعض ځایونه داسی دی چه باقی جهنم ترینه پناه غواړی لکه په حدیث کښ راځی رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه جب الحزن په جهنم کښ یوه کنده ده چه جهنم د هغے نه روزانه اویا کرتے پناه غواړی په بل روایت کښ سل کرتے راځی په بل کښ پینځه سوه کرتی راځی اودیته به هغه قاریان داخلیږی چه هغه ریاءکاروی.

## واقعات

۱ میمون بن مهران رحمه الله وای چه کله الله تعالی جهنم پیدا کړو اسویلی ئے وکړو نو د اوه اسمانونو ملائک ټول په مخ نسکور پریوتل (التذکره)

۲ داؤد علیه السلام په ډیره جړا خلقو ملامته کولو هغه به ویل ذرونی ابک قبل یوم البکاء ما پریږدی څه جاړم مخکښ د ورځی د جړا مخکښ د سوزیدلو د هډوکو نه او د لمبی د گیری نه مخکښ د هغه نه چه په ما داسی ملائک مقرر شی چه هغه د سخت زړه والا وی او مظبوطی وی او د الله تعالی د حکم نافرمانی نه کوی او هغه څه کوی چه د هغه امر ورته کولی شی.

۳ داؤد علیه السلام به ویل الهی لا صبرلی علی حر شمسک فکیف صبری علی حر نارک الله تعالی څه د نمر په گرمی صبر نشم کولی نو د اور په گرمی به څه صبر وکړم.

۴ خالد بن عبدالله د یو بزرگ د پاره د یو لاکه روپو حکم وکړو هغه قبول نه کړی او ویویل چه اذهب ذکر جهنم حلاوة الدنیا من قلبی د جهنم یاداشت ځما د زړه نه د دنیا خوند ختم کړی. چه خلق به اوده شو دابه راپورته شو او چغی بئے وهلی چه النار النار النار اور دے اوردے

**خلاصه د بیان** دابیان پدے خاطروشو چه مونږ او تاسو جهنم هیر نه کړو د جهنم نه غفلت ونکړو جهنم معمولی شی ونه ګڼړو. بلکښ مونږ او تاسو ځان ته جهنم اودجهنم حالات مخی ته کړو. او د جهنم بے شماره قسم عذابونو ته سوچ وکړو.

الله تعالی د مونږ د جهنم نه بچ وساتی الله تعالی د مونږ ته د جهنم د شرمندګی نه امن او پناه راکړی. الله تعالی په خپل رحم او کرم سره زمونږ په ګناهونو د عفو قلم راکاګی.

بضاعت نیا وردم الا امید خدایا زعفوم مکن نا امید

طاعت م نشته عصیان م ډیر دے څه با عصیانه د رحمن دربارته ځمه

د دے بیان د لیکلو په وخت کښ د څلور کتابونو نه استفاده وشو. (۱)مشکوة شریف (۲) التذ کره د امام قرطبی (۳)صفة النار د ابن ابی الدنیا (۴)الجنة والنار د عمر بن سلیمان الاشقر

.

## د تزهید من الدنیا او ترغیب الی الآخرة په باره کښ مثالونه

الحمد لله و الصلوة و السلام علی رسول الله واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له واشهد ان محمدا عبده و رسوله

اما بعد فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم انما مثل الدنیا کماء انزلناه من السماء فاختلط به نبات الارض مما یأکل الناس والانعام حتی اذا اخذت الارض زخرفها وازینت وظن اهلها انهم قادرون علیها اتاها امرنا لیلا او نهارا فجعلناها حصیدا کان لم تغن با الامس کذالک نفصل الآیات لقوم یتفکرون. (یونس ۲۴) وقال تعالی واضرب لهم مثل الحیاة الدنیا کماء انزلنا من السماء الآیة (سورة الکهف ۴۵) وقال تعالی کمثل غیث اعجب الکفار نباته ثم یهیج فتراه مصفرا ثم یکون حطاما.
(سورة الحدید۲۰ )

## تمهيد

په قرآن او حديث کښې بار بار د دنيا نه بے رغبتی او د آخرت سره مينه کول بيانيږی. ځکه چه د يو چاد دنيا سره مينه وی او د آخرت سره ئے مينه نه وی نو دغه انسان د الله تعالی نه جدا کيږی او د عذاب مستحق گرځی. بيا د دنيا نه بے رغبتی اود آخرت سره مينه کول په مختلفو طريقو بيانيږی کله کله ددے دپاره مثالونه هم بيانيږی نو مونږ يو څو مثالونه بيانوو ځکه په دغه مثالونو کښې چه کله صحيح فکر وکړی شی نو ددنيا نه بے رغبتی او دنيا حقيقت او حقارت او زړ ختميدل واضحه کيږی او د آخرت سره مينه او د آخرت هميشوالی او زر راتلل واضحه کيږی.

**اول مثال** = رسول الله صلی الله عليه وسلم وای مالی و للدنيا انما مثلی و مثل الدنيا کراکب استظل تحت شجرة ثم راح و ترکها (متفق عليه) زما د دنيا سره څه کار دے زما او ددنيا مثال خو د هغه سور سړی دے چه د يوے ونے د لاندی ارام وکړی بيا روان شی او هغه پريدی. نو مسافر چه په يو ځای کښې ارام کوی او دمه کوی نو هلته آبادی وغيره نه کوی.

**دويم مثال** = رسول الله صلی الله عليه وسلم وای ماالدنيا فی الآخرة الا کما يجعل احدکم اصبعه فی اليم فلينظر بم يرجع (رواه مسلم) د آخرت په مقابله کښې ددنيا مثال داسے د ے لکه په تاسو کښې يو کس خپله گوته په سمندر کښې غوپه کړی نو بيا دِ اوگوری چه څومره اوبه ئے وړپورے راواخستے.

نو هر کله چه ټوله دنيا د آخرت په مقابله کښې دومره شوه لکه څومره اوبه چه په گوته پورے نښتی دی. نو بيا يواځی ستا عمر خو د آخرت په مقابله کښې هيڅ شی نه دے.

**دريم مثال** = عيسی عليه الصلوة والسلام فرمائی الدنيا قنطرة فاعبروها و لا تعمروها. دنيا پل دے په دے تيريږی آبادی پکښې مه کوی. يعنی دنيا په شان د پل ده د آخرت طرفته. چا نيم پل وهلی چا دوه حصے چا ته صرف يو قدم پاتی دے. اوس پدے حالت کښې چه يو سړی د پل د پاسه ودريږی کورونه او آباديانی جوړی. ددے د ښائست کوشش کوی. نو دا کس ډير جاهل او کم عقل دے. او دا قسم خلق ډير زيات دی،

**څلورم مثال** = رسول الله صلی الله علیه وسلم ضحاک بن سفیان رضی الله عنه ته اویل. الست تؤتی بطعامک و قد ملح و قرح آیا تاته ستا خوراک په داسې حال کښې نه راوړے کیږی چه په هغه کښې مالګه او مساله اچولے شویوی. ثم تشرب علیه الماء واللبن. بیا ته په هغه پسې اوبه او پئ څکے هغه اویل بلې ولې نه رسول الله صلی الله علیه وسلم اویل فالی ما تصیر نو بیا ددینه څه جوړیږی. هغه ویل هغه شی چه تاته معلوم دے. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اویل فان الله عز و جل ضرب مثل الدنیالمایصیرالیه طعام بن ادم نو بیشکه الله عزوجل ددنیامثال د بنیادم هغه خوراک بیان کړے.چه د هغې نه دغه شی جوړیږی. (مسند احمد)

بعض سلفو به خپلو ملګرو ته ویل راځی چه تاسو ته دنیا وښیم نو هغوی بۀ ډیران ته بوتلل. نو فرمائل بۀ. انظروا الی ثمارهم و دجاجهم و عسلهم و سمنهم - او ګوری د دوی میوو چرګانو ګبینونو او غوړو ته(مسند احمد)

نو د خپلې دنیا حقیقت ته د اوګوره چه څه شی دے

**پینځم مثال** = مستورد بن شداد رضی الله تعالی عنه وای چه ځه د هغه جماعت سره ووم چه هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په مړه ګډه بیزه ودریدل رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل اترون هذه هانت علی اهلها حتی القوها تاسو ته پته ده چه دا بیزه په خپلو مالکانو باندے سپکه شوه تر دے چه دوی اوغورزوله. خلقو اویل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم د سپکوالی د وجې نه خو دوی غور زولی ده. وے فرمایل. فوالذی نفس محمد بیده لل نیا اهون علی الله من هذه علی اهلها. په هغه الله تعالی م د قسم وی چه د محمد صلی الله علیه وسلم ساه د هغه په لاس کښې ده. دا چه خومره په خپلو مالکانو سپکه ده. دنیا د الله تعالی په نیز د دینه زیاته سپکه ده.(ترمذی)

د دے مثال نه دا هم معلومیږی چه په دنیا مستی او تکبر نه دے پکار ځکه چا له چه دنیا ورکړی شوی نو ګویه ده لره یوه مړه بیزه ورکړی شوی.

## شپږم مثال

عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه وای. کل احد فی هذه الدنیا ضیف و ماله عاریة فاالضیف مرتحل والعاریة مؤداة. هر څوک په دے دنیا کښ میلمه دے مال ئے په سوال غوښتلے شوی شی دے. میلمه به کوچ کوی او په سوال غوښتلے شوی شی به واپس کولی شی.

## اوم مثال

عیسی علیه السلام وای مثل طالب الدنیا کمثل شارب ماء البحر کلما ازداد شربا ازداد عطشا حتی یقتله. (البدایه و النهایه) ددینا د طلبگار مثال لکه د سمندر د تروو اوبو څکونکی دے چه څومره ئے څکی هغه هومره ئے تنده زیاتیږی تر دے چه مړ شی.

## اتم مثال

په حدیث کښ راځی. مثل هذه الدنیا مثل ثوب شق اوله الی آخره فبقی معلقا بخیط فی آخره فیوشک ذالک الخیط ان ینقطع. (مشکوة ابن ابی الدنیا) .

ددے دنیا مثال د هغه جامے دے چه هغه د اول نه آخره پورے اوشلیږی او د یو تار د وجے نه په آخر کښ زوړنده وی او دغه یو تار هم نزدے دے چه وشلیږی.

## نهم مثال

ابن عمر رضی الله تعالی عنه وای رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته په داسے وخت کښ را اووتلو چه والشمس علی اطراف السعف . نمر د کجورو په څانګو و لاړ وو. ویویل ما بقی من الدنیا الا مثل ما بقی من یومنا هذا فیما مضی منه (مسند احمد) دنیا د تیرشوی عمر د اندازی په نسبت دومره پاتے ده لکه څنګه چه څمونږه دننه نی ورځی نه څومره حصه پاتی ده. نو دنیا ټوله یوه ورځ ده. او رسول الله صلی الله علیه وسلم د دے. په آخر کښ د نمر ډوبیدو نه لګ مخکښ رالیږلے شوے.

**لسم مثال** = ابن مسعود رضی الله تعالی عنه وای و مثل ما بقی منها کا الثغب شرب صفوه و بقی کدره (رواه البخاری فی کتاب الجهاد) او مثال د هغه حصے د دنیا چه پاتی ده لکه د غره په سوری کښ یو حوض وی چه صفا اوبه ئے اوڅکلی شی او خیرنے اوبه پاتے شی.

## یوولسم مثال

د دنیا مثال د هغه خوب دے چه په هغه کښ انسان په عیش عشرت کښ وی او مرگ په شان د ویښیدلو دے. الناس نیام اذا ماتوا انتبهوا. خلق اوده دے چه کله مړه شی نو ویښ به شی.

**دولسم مثال** = د دنیا مثال د پېړدے او عمل پکښ تخم دے او ریبل ئے قیامت دے

**دیارلسم مثال** = د دنیا مثال د هغه کور دے چه د هغه دوه دروازی وی په یوه دروازه خلق داخلیږی او په بله دروازه اوځی.

**څوارلسم مثال** = د دنیا مثال د یو کشتی دے چه په یوه کناره ډکیږی او په بله کناره تشیږی.

**پینځلسم مثال** = د دنیا مثال د ختمیدونکښ سوری دے>

**شپاړسم مثال** = د دنیا مثال د خیالی صورت دے چه پوره زیارت او ملاقات ئے هم نه کیږی.
لکه ابن قیم رحمه الله تعالی وای

کخیال طیف ما استتم زیارة　　　الا وصبح رحیله بأذان

**اولسم مثال**= د دنیا مثال د اوړی د وریځی دے چه لگ وخت روستو ختمه شی لکه ابن قیم رحمه الله تعالی وای.

وسحابة طلعت بیوم صائف　　　فا الظل منسوخ بقرب زمان

**اتلسم مثال** = د د نیا مثال د سپرلی د گل دے چه ښائسته وی او پرقیږی لکه ابن قیم رحمه الله تعالی وای

وکزهرة وافی الربیع بحسنها　　　او لامعا فکلا هما اخوان

**شلم مثال**= د دنیا مثال د هغه شگو گل دے چه په غرمه کښ په میدان کښ تگی ته پرقیږی.

اوکا السراب یلوح للظمأن فی　　　وسط الهجیر بمستوی القیعان

**یویشتم مثال** د دنیا مثال د یو ساه اخستلو دے لکه ابن القیم رحمه الله تعالی وای

نفس من الا نفاس هذا العیش ان قسناه باالعیش الطویل الثانی

## دتزهید من الدنیا او ترغیب الی الآخرة په باره کښ د حافظ الپوری شعرونه

حافظ الپوری رحمه الله تعالی په خپل دیوان کښ وای

دا دنیا لکه لولئ یاران ئے ډیردی د بروا په څیربند شوی په قحبه(ډمه) ئے

غلولی دے بوډی ډیرشو هران دی ته پے ښوښ لکه په ښه ناوی شابه (ځوانه) ئے

چلوے ژبه په بے هوده خبرو جغ راکاگی د شیطان سره قلبه ئے

ویره کړم صبا تابع د دجال نشی ته چه نن د مفسدانو په جنبه ئے

پدے شعرونو کښ د دنیا مثال د زړی بد شکله بوډی سره ورکړی شوی

## او حافظ الپوری رحمه الله تعالی وای

خړه ډنډه دا دنیا تاته کوثر شوه پکښ آوړے لکه میش (سانډه) ډډے په ډډے

پدے شعرونو کښ د دنیا مثال د خړډنډ سره ورکړی شوی.

او حافظ رحمه الله تعالی وای

د کوچمال نغاره آوړے په غوږونو تکل نکوے د تلو غره غافله

و مرگی ته به د هیڅ تدبیر جوړ نشی د تقدیر په تِیر به وړے سینه گائله (زخمی)

په زمین به خالی ننوځی کونکته پلیت غوند ډِبے فا ئدی رغړوی څله

له طوطیانو سره گشت په میوو نکړے رِزاله زاغه مردارے ته مائله

په دریاب گډیده شته ځان دِ سنبال که چه ډوب نشی او رَسیږے تر ساحله

د سحر د بازار سود بیدارو ویوړو د خفته خواب وړو څه سود له حاصله

په شهسوار پسے که سم برابر نه ځے | په ویجاړه کښې به پاتے شے راجله
ته د بربالا مقام آزاد مارغه ئے | چه دانے ته شوے راکوز په دام کښې نخله
هیڅ مروت وفا ئے نشته بے فریبه | له دنیا اشنائی وشلوه عاقله
غم د رزق مکړه مطلق رازق باری دے | کلک امید لره په خدای متوکله

او حافظ رحمه الله وای

سپین چانبیل سور کے لالا به جلوه کاندے | لذیذ بوی به د ریحان وی مونږ به نه یو
پلواړے به خوشبوی په خپل موسم کا | پے به ښتی بوراګان وی مونږ به نه یو
لور په لور به وی سبزے مرغزارونه | سپین رودونه به روان وی مونږ به نه یو
بلبلان به پے هوس نارے چغارکه | د چمن ګل به خندان وی مونږ به نه یو
شنه طوطیان به پے طرب تنعّم کاندی | ښے میوی به په بوستان وی مونږ به نه یو
د رختان به سبز پوش په نو بهار شی | خوش آوازه به مرغان وی مونږ به نه یو
مجلسونه به جوړیږی د نیازمنو | مهربانه به یاران وی مونږ به نه یو
په مکتب(مدرسه) کښې به د علم بحث کیږی | طالبان به نکته دان وی مونږ به نه یو
عالمان به نصیحت بیان د دین کا | مستفید به حاضران وی مونږ به نه یو
بیت الله ته به حاجیان په همت درومی | د رحمت به پے باران وی مونږ به نه یو
په طواف کښې تلبیه مسح به کیږی | په موقف به دعا خوان وی مونږ به نه یو
مړنی به په غزا ځی ملا تړلی | لوی همت لوی بے توان وی مونږ به نه یو

پیل دمان(هاتی پهلوان) شیرژیان (تکړه زمری) به تے لړزیږی
هسی جنګ به د غازیان وی مونږ به نه یو

گناهونه به سیزی د روژه دارو ښه به میاشت د رمضان وی مونږ به نه یو

دست بوسی مبارکی به عالم کاندے په اخترو به شادان وی مونږ به نه یو

په لوستن یۓ زنگ زړونه صیقل کیږی خوانندہ به د قرآن وی مونږ به نه یو

عبد الرحمن جامی صاحب په یوسف زلیخا کښ وای

د لا تاکی درین کاخ مجازی کنی مانند طفلان خاک بازی.

ای زړه ترڅو به په دے مجازی مانړی کښ (چه دنیا ده) د وړو ماشومانو په شان په خاورو کښ لوبې کوی.

**خلاصه دبیان** دا بیان ددے د پاره وشو. چه دنیا د الله تعالی به نیز ډیر ذلیله او سپک شی دے. د الله تعالی په نیز ۓ هیڅ حیثیت او اعتبار نشته او دنیا فانی او زائله کیدونکی شی دے او دنیا هسی ښکه او دوکه ده.

اود آخرت ژوند حقیقی ژوند دی او هغه همیشه او باقی ژوند دی او آخرت ډیر نندی راتلونکښ دے،

نو پکار داده چه مونږ په دنیا دوکه نشو او د آخرت نه غا فله نشو. الله تعالی د زمونږ د زړونو نه د دنیا مینه او محبت او باسی. او الله تعالی د مونږ ته د آخرت غم درد فکر نصیب کړی.

و صلی الله تعالی علی خیر خلقه محمدا و آله و اصحابه اجمعین.

د حافظ نور شعرونه زمونږ په تحریرات السجن ص ۱۰۱ کښ اوگوره

# ایمان او نیک اعمالو ته ترغیب

الحمد لله والصلوة و السلام علی رسول الله و اشهد ان لا اله الاالله وحده لا شریک و اشهد ان محمدا عبده و رسوله - اما بعد فا عوذ با الله من الشیطان الرجیم. یا ایها الذین امنوااتقوالله ولتنظر نفس ما قدمت لغد. واتقوالله ان الله خبیر بما تعملون (سورة الحشر ۱۸ )

وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم بادروا باالاعمال فتنا کقطع اللیل المظلم

## تمهید

الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته بار بار د ایمان او نیک اعمالو طرف ته ترغیب راکوی. ځکه زمونږ پیدائش د ایمان او نیک عمل د پاره شوی. او مونږ ته چه وخت مهلت صحت فراغت راکړی شوی. نو هغه هم صرف دایمان او نیک عمل د پاره زمونږ نجات او فائده هم صرف په ایمان او نیک عمل کښې ده. زمونږ د آخرت توښه او د جنت لار هم صرف ایمان او نیک عمل دے.

## د ترغیب طریقې

بیا دغه ترغیب مونږ ته په مختلفو طریقو راکوی. کله راسره د ایمان اونیک عمل په وجه د غټو غټو ثوابونو وعدې کوی. لکه په سورة بقره پینځیشتم ۲۵ نمبر آیات کښې وای چه تاسو ته به د ایمان او نیک عمل په وجه جنتونه او نهرونه او پاکې بیبیانې او په جنت کښې همیشوالې ملاویږی.

او کله وای چه نجات صرف په ایمان او نیک عمل کښې دے. د ایمان او نیک عمل نه علاوه چه په دنیا کښې د نجات کوم څلور طریقې دی په هغه طریقو به انسان نه خلاصیږی لکه سورة البقره ۴۸.

او کله وای چه الله تعالی به مو د منعم علیهم یعنی د انبیاء او صدیقینو او شهیدانو او نورو نیکانو ملګرتیا نصیب کړی لکه سورة نساء ۶۹

او کله وای چه د لاندی او باندی نه به خوراکونه وکړی لکه مائده ۶۶.

او کله وای چه د مرگ په وخت کښ به ډیر ارمان کوی او سوالونه به کوی چه الله تعالی ما واپس کړی چه نیک عمل وکړم لکه سورة المؤمنون ۱۰۰ او چه په چا کښ ایمان او نیک عمل وو هغه به دا ارمانونه نه کوی.

او کله وای چه مرگ او ژوند م ددے د پاره پیدا کړی چه کوم یو ستاسو نه د ښائسته عمل والا دے لکه سورة الملک ۲.

او کله وای چه ستاسو عمل شمارل کیږی او لیکل کیږی لکه سورة ق ۱۷.

او کله وای چه عملنامه به تقسیمیږی

که د چا عمل ښائسته وی نو په ښی لاس به عملنامه ورکولی شی او که د چا عمل ناکاره وی نو په چپ لاس به عملنامه ورکولی شی لکه سورة حاقه د ۱۹ نه تر ۳۲ پوری

او کله وای چه ستاسو عملونه به تللی شی. د چا تلل به درنیږی او د چا دابه سپکیږی.

لکه سورة القارعه.

او کله وای چه چا نیک عملونه کړیوی او ځان ئے کړولی وی نو هغه ته به ویلی شی.

کلوا واشربوا هنیئا بما اسلفتم فی الایام الخالیه. خوری او ځکی مبارک په سبب د هغه عملونو چه تاسو کړی په تیر شوو ورځو کښ .

او کلوا واشربوا هنیئا بما کنتم تعملون. خوری او ځکی په خوشحالی سره په سبب د عملونو ستاسو او ونودوا ان تلکم الجنة اورثتموها بما کنتم تعلمون او آواز به وکړی شی دویته چه دا جنت دے درکړے شویدے تاسو ته په وجه د هغه عمل چه تاسو کوو.

الله تعالی د مونږ ته د صحیح ایمان او نیک عمل توفیق راکړی. او الله تعالی د زمونږ خاتمه په ایمان او په نیک عمل کړی.

و صلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد و آله و اصحابه اجمعین

## د ثوابونو او عذابونو مرتبې او درجې

الحمد لله والصلوة والسلام علی رسول الله اما بعد فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم و لکل درجات مما عملوا و ما ربک بغافل عما یعملون (سورة الانعام ۱۳۲

و قال تعالی و لکل درجات مما عملوا و لیوفیهم اعمالهم وهم لا یظلمون (سورة الاحقاف ۱۹

و قال تعالی ان سعیکم لشتی.

### تمهید

د ثوابونو او عذابونو بے شماره درجې او مرتبې دی.

د ثوابونو درجې. یعنی د الله تعالی د طرف نه ثوابونه عوضونه او بدلې په اندازه د ایمان او مجاهدے میلاویږی. څومره چه په یو سړی کښې اخلاص تقوی قربانی مجاهده وی او څومره چه محنت کوی. او کړاوونه تیروی نو دومره به هغه ته ثوابونه او ښائسته بدلې میلاویږی. فان العطایا علی متن البلایا. ځکه د الله تعالی د طرف نه ورکول په ملا (شاه) د امتحانونو وی.

لکه الله تعالی وای چه مجاهدین په ناستو خلقو په ډیرو درجو غوره دی (سورة نساء ۹۵

دغه رنګې علماء په امیانو په ډیرو درجو غوره دی (سورة المجادله ۱۱) بیا د مجاهدینو او علماء مرتبې هم یو شان نه دی د دوی به مرتبو کښې هم د یو بل سره ډیر فرق دے.

دغه رنګې یو سړی په هر حالت کښې د الله تعالی نه راضی دے د الله تعالی فیصلو ته ئے غاړه ایښې وی هغه ډیر غوره دے د هغه چا نه چه هغه دغه رنګې نه وی.

دغه رنګې د اخلاص او تقوی د کمیدو او زیاتیدو په وجه هم په ثوابونو کښې کمی زیاتی راځی.

دغه رنګې نیک عمل ته د مخکښې کیدو او روستو کیدو په وجه هم فرق راځی لکه والسابقون السابقون او مخکښې کیدونکی په دنیا کښې نیک اعمالو ته مخکښې داخلیدونکی به وی جنت ته په آخرت کښې او لقد علمنا المستقدمین منکم و لقد علمنا المستأخرین او یقینا پیژنو مخکښې (نیکی ته جهاد ته مانځه ته وغیره) ستاسو نه او یقینا پیژنو روستنی خلق (دنیکی جهاد مانځه وغیره نه ) لکه د

جمعے مانځه ته چه څوک مخکښ راځی د هغوثواب ډیر دے دهغه چانه چه هغه روستوراځی دمانځه په صفونوکی دمخکنو ثواب ډیردی د روستنو صفونو نه

دغه رنګی چه چا په ابتدائی حالتونو کی قربانی ورکړی وی د هغوثواب ډیر دے د هغه چا نه چه هغه روستو قربانی ورکوی.

لکه لا یستوی منکم من انفق قبل الفتح و قاتل اولئک اعظم درجة من الذین انفقوا من بعد و قاتلوا برابرنه دی ستاسو نه هغه څوک چه خرچ ئے کړی دے مخکښ د فتح نه او جنګ ئے کړیدے دغه کسان ډیرلوی درجے والا دی د هغه کسانو نه چه خرچ ئے کړیدی. روستو او جنګ ئے کړی.

دغه رنګی د ایمان د وجے نه چه په زړه کښ کوم نور پیدا کیږی نو د هغه هم بے شماره درجی دی لکه په شرح العقیده الطحاویه کښ وای ۳۱۹ فمن الناس من نور لا اله الا الله فی قلبه کاالشمس څنی خلق دے چه د لا اله الا الله نور د هغه په زړه کښ د نمر په شان وی. و منهم من نورها فی قلبه کا الکوکب الدری د څنی چا په زړه کښ د لا اله الا الله نور د پرقیدونکښ ستوری په شان وی. و آخر کا المشعل العظیم د بل په زړه کښ به د غټ لاتین به شان وی. وآخر کاالسراج المضیئ او د بل په زړه کښ به د هغه ډیوی په شان وی. چه هغه ډیره رڼا کوی. وآخر کاالسراج الضعیف او د بل په زړه کښ به د کمزوری ډیوی په شان وی.

بیا وای په څومره اندازه چه د کلمے نور قوی او غټ وی نو به هغه اندازه شبهات او شهوات سوزی. کله دغه رڼا یو داسی حال ته هم ورسیږی چه شهوت یا شبهه یا ګناه ورسره ټکراؤ شی نو سوزی. و هذا حال الصادق فی توحیده. او دا حال دهغه چادی چه هغه په توحید کښ رشتینی وی. (د دی نه معلومه شوه چه د توحید والا په درجو کښ هم ډیر فرق دے]. او دا ترینه هم معلومه شوه چه د دے په مقابله کښ د زړه توروالی یا خړوالی یا د زړه زنګ هغه هم دګناهونو په اندازه وی بیا وای چه د قیامت په ورځ د ښی طرف او د مخی طرف نه کومی رڼاګانی ښکاره کیږی. نو هغه به هم په دے مقدار وی..

لکه په تفسیر ابن کثیر کښ ص ۴۸۰ ج ۴ د عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه نه نقل کوی چه خلق به د اعمالو په اندازه په پل صراط پوری وزی. (ددینه معلومه شوه چه په پل صراط باندی په پوری وتلو کښ هم د اعمالو د وجه نه ډیری درجی او مرتبی دی) بیا وای منهم من نوره مثل الجبل په پل صراط به د چا سره د غر په شان غټه رڼرا وی. و منهم من نوره مثل النخله دچارڼرابه دکجوری په اندازه وی ومنهم من نوره مثل الرجل القائم. د چا رڼرا به د ولاړ سړی په اندازه وی وادناهم نورا من نوره فی ابهامه یتقد مرة و یطفأ مرة. ډیره کمه رڼرا به د هغه چا وی چه د هغه رڼرا په غټه ګوته کښ وی کله به ـ ئے رڼرا لګی او کله بئے رڼرا مره کیږی.(د دینه معلومه شوه چه د پل صراط د پاسه چه د دوی سره کوم رڼراګانی دی نو په هغه کښ هم ډیری درجی او مرتبی دی د اعمالو د وجے نه ) دغه رنګی په پل صراط چه خلق پوری وزی نو څنی به د سترګی د رپ په شان او څنی د بریښنا په شان څنی سیلی په شان څنی د مارغه په شان څنی د کره اس په شان او د اوښانو په شان. (بخاری ومسلم بحواله مشکوة باب الحوض والشفاعة]. په بل حدیث د ترمذی او دارمی کښ راځی چه څنی به د سړی د منډی په شان او څنی لکه پیاده چه څوک روان وی. په بل حدیث د مسلم کښ راځی چه څنی به په خړپوځو روان وی. دا ټول د اعمالو په اندازه باندی. دغه رنګی سفارشونه به هم په اندازه د اعمالو وی. رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه څما په امت کښ به څنی داسی خلق وی چه لوی لوی ډلو لره به سفارش کوی - څنی به د یو قبیلی د پاره - څنی د یو وړی ډلی د پاره - څنی به د یو سړی د پاره سفارش کوی تر دے چه جنت ته بئے داخل کړی [ رواه الترمذی بحواله مشکوة باب الحوض والشفاعه ۴۹۴].

دغه رنګی د قیامت په ورځ چه د الله تعالی د طرف نه په جنتونو کښ کوم بدلی او ثوابونه میلاویږی نو په هغه کښ هم بے شماره درجے او مرتبے دی.

لکه جنتیان چه جنت ته په کومو دروازو ننوزی نو په هغه دروازو کښ هم ډیر فرق دے. د هر نیک عمل والا د پاره به خپله خپله دروازه وی چه په هغه دروازه به جنت ته داخلیږی. د ټولو نه اوچته دروازه د مجاهدینو د پاره ده چه هغے ته باب الجهاد ویلی کیږی.

دغه رنګ جنت ته چه کوم ډلې ننوزي هغه هم یو شان نه دي. په هغو کښ هم ډیر فرق دے د اولنۍ ډلې مخونه به د څوارلسمې سپوږمې په شان پړقیږي د دویمې ډلې مخونه به د روښانه ستورو په شان پړقیږي.

دغه رنګې د جنت په کورونو کښ هم د اعمالو د وجهے نه ډیر فرق دے د ټولو نه د لاندې درجې والا ته به الله تعالی دومره کور ورکړی چه دوه زره کاله مزل به پکښ کیږي. او د ټولو نه چه په آخر کښ جنت ته ننوزي هغه ته به الله تعالی د دنیا لس چنده غټ کور ورکړي.

دغه رنګې د الله تعالی په دیدار او ملاقات کښ به هم د اعمالو د وجهے نه ډیر فرق وي. د چا ملاقات به صرف د جمعې په ورځ کیږي. او د چا ملاقات به روزانه دوه کرته کیږي.

دغه رنګې د جنت د ننوتلو په وخت کښ په مخکښ کیدو. او روستو کیدو کښ هم د مالدارۍ او غریبۍ د وجهے نه ډیر فرق دے.

ځنې غریبان به د مالدارانو نه څلویښت کاله مخکښ ننوزي او ځنې به پینځه سوه کاله مخکښ ننوزي. ځکه غریب دنیا له وخت کم ورکړیو او دین لره ډیر او مالداره دنیا له وخت ډیر ورکړی وو او دین لره کم. نو د مالداره سره به د مالدارۍ په وجه په حساب کتاب کښ وخت ډیر لګی.

دغه رنګې د جماع (کور والی) په قوت کښ به ئے هم فرق وي. چه چا په دنیا کښ د پردو زنانوو نه څومره ځان پاک ساتلی وي. هغه هومره بئے د کور والي طاقت زیات وي.

دغه رنګې په څکلو کښ بئے هم ډیر فرق وي ځنې جنتیان به خالص د تسنیم او سلسبیل چینو نه څکل کوي ځکه عمل ئے خالص د الله تعالی د رضا د پاره وو او ځنې جنتیانو لره به د دے د چینو نه ګډون وي. ځکه د دوی په عمل کښ د ریاء کاری خو د غرضي وغیره ګډون وو.

د دینه علاوه په درجو کښ ډیر فرق دے په حورو بیبیانو خادمانو کښ د اعمالو د وجهے نه ډیر فرق دے.

الغرض په څومره اندازه چه ایمان اعمال اخلاص تقوی هدایت توکل انابت صبر استقامت جدوجهد او محنت وي. په هغه اندازه به ثوابونه او اجرونه وي.

## د عذابونو درجې

څرنګې چه په ثوابونو کښې بے شماره درجې دی نو دغه رنګې په عذابونو کښې هم بے شماره درجې دی. ځکه په ګناهونو کښې بے شماره درجې او قسمونه دی. نو په عذابونو کښې هم بے شماره درجې او قسمونه دی.

لکه په مشکوة شریف کښې په باب الحشر کښې د مسلم شریف حدیث نقل کړی چه په میدان حشر کښې به دیو میل په اندازه نمر نزدی شی. خلق به د خپلو خپلو عملونو په اندازه په خولو کښې ډوب وی د چا خوله به د پړکو پورې وی د چا د زنګنانو پورې اودچادبډې پورې اودچادخولې پورې دغه رنګې دجهنم اور به هم دخپلوخپلوګناهونوپه اندازه وی دچااوربه دپړکوپورې دچاذزنګنانوپورې د چا د نامه پورې د چا د سینې پورې او د چا د مرې د قوتی پورې.

دغه رنګې د بعض ګناهونو به خاص خاص قسم عذاب وی لکه په بخاری شریف کښې د سمره بن جندب رضی الله تعالی عنه په نقل تفصیلی روایت ذکر شوی.

## د بیان خلاصه

خلاصه داده چه زمونږ د قربانی او نیک اعمالو نه ثوابونه او نعمتونه جوړیږی او زمونږ د بے همتی سستی غفلت او ګناهونو او بد عملی نه عذابونه جوړیږی. او په څومره اندازه چه زمونږ په قربانی محنت جدوجهد او کړاوونو کښې ترقی راځی نو په هغه اندازه به زمونږ درجې او مرتبې اوچتیږی او په هغه اندازه به زمونږ تقرب او نزدیکت الله تعالی ته راځی .

او په څومره اندازه چه زمونږ نه بے همتی غفلت او بدعملی او ګناهونه کیږی په هغه اندازه به زمونږ په عذابونو کښې ترقی او زیادت راځی او په هغه اندازه به د الله تعالی نه جدائی او د جنت نه جدائی راځی.

زمونږ خپل عملونه دی. چه یا به ترینه ثوابونه او نعمتونه جوړیږی او یا به ترینه عذابونه او زحمتونه جوړیږی.

الله تعالی د مونږ ته د غټو غټو قربانو او د نیک اعمالو او د صحیح توبې توفیق راکړی. او الله تعالی د مونږ د بې همتی سستی او گناهونو نه وساتی.

سبحانک اللهم و بحمدک اشهد ان لا اله الا انت استغفرک و اتوب الیک. اللهم صل علی سیدنا محمد

## د توبې او استغفار بیان

الحمد لله والصلوة والسلام علی رسول الله - اما بعد - فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم.

فقلت استغفروا ربکم انه کان غفارا یرسل السماء علیکم مدرارا و یمددکم باموال و بنین ویجعل لکم جنات و یجعل لکم انهار. سورة نوح ۱۰، ۱۱,۱۲

### تمهید

الله تعالی مونږ ته په قرآن کریم کښې ځای په ځای د توبې او استغفار حکم کوی او الله تعالی په خپل صفتونو کښې غفور او غفار او غافرالذنب ذکر کوی. چه الله تعالی گناهونه ښښی او معافی کوی.

او الله تعالی په قرآن کښې د پیغمبرانو په قصو او واقعاتو کښې دا ذکر کوی. چه هغوی به الله تعالی ته توبه ایستله او استغفار به ئې غوښتلو لکه په سورة اعراف ۲۳ کښې د آدم او حواء علیهما السلام نه نقل کوی چه هغوی په خپله خطائی توبه ویستله او استغفار ئې اوغوښتلو. او په سورة نوح ۲۸ کښې د نوح علیه السلام نه نقل کوی. چه هغه وای الله تعالی ماته او زما مور پلار ته او ټولو مؤمنانو ته ښښنه وکړې.

او دغه رنگې په سورة ابراهیم ۴۱ کښې دابراهیم علیه السلام نه نقل کوی اوپه سورة محمد ۱۹ کښې زمونږ پیغمبر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته حکم کوی چه استغفار غواړه. دغه رنگې د نورو انبیاء په حالاتو کښې هم استغفار نقل کوی.

هر کله چه توبه او استغفار د الله تعالی حکم دے او توبه او استغفار ډیر اهم او ضروری دی. نو مونږ د توبې او استغفار په باره کښې یو څو ضروری خبری بیا نوو

## اوله خبره د استغفار او توبے فرق او معنی

علماء کرام وای چه بعض الفاظ داسی دی چه اذا اجتمعا افترقا واذافترقا اجتمعا یعنی کله چه یو ځای ذکر شی نو فرق به کولی شی او چه بیلا بیل ذکر شی نو بیا ئے فرق نه وی. د هغه الفاظو نه توبه او استغفار هم دی. چه کله دا دواړه په قرآن او حدیث کښ بیلا بیل ذکر شی یعنی یواځی د توبے لفظ راشی یا یواځی د استغفار لفظ راشی نو بیا ئے فرق نه وی.

او چه کله دواړه یو ځای ذکر شی یعنی د توبے لفظ هم ذکر شی او د استغفار لفظ هم ذکر شی نو بیا ئے فرق وی. او هغه فرق علماء کرام په مختلفو طریقو کوی. یو آسان فرق دادے چه استغفار په ژبے سره وی او توبه په زړه سره وی.(احسن الکلام تفسیر سورة هود ۳ او اسباب المغفرة ۳ د ابن رجب حنبلی رحمه الله تعالی.

**توبه چا ته وای او د توبے تعریف څه دے.** په یو حدیث کښ راځی چه توبه پښیمانتیا ته وای ابن مسعود رضی الله تعالی عنه وای چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی وو الندم توبة پښیمانتیا توبه ده. (شعب الایمان للبیهقی و ابن حبان وقال شعیب الارنا ووط ضعیف)

په بل حدیث کښ داسی الفاظ راځی ابن مسعود رضی الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی. چه من اخطأ خطیئة اواذنب ذنبا ثم ندم فهو کفارته . چا چه خطا یا گناه وکړه او بیا پښیمانه شو نو دا دده کفاره ده. (شعب الایمان)

بله معنی ئے داسی کوی چه التوبة ندم علی ما مضی من المعاصی والذنوب والعزم علی ترکها دائما لله عز وجل یعنی توبه دیته وای چه سړی په تیر شوو گناهونو پښیمانه شی او د آئنده د پاره کلکه اراده وکړی چه څه به دا گناهونه همیشه د الله تعالی د پاره پریږدم . (الاداب الشرعیه لابن مفلح المقدسی الحنبلی ۱۱۴) او سری سقطی رحمه الله تعالی وای چه د توبے خلور ستنی دی. په ژبه استغفار په زړه پښیمانه کیدل په اندامونو گناهونه پریښودل او پته دا اراده کول چه آئنده به دا گناه نه کوم. (شعب الایمان ص ۳۶۴ ج ۹)

## دویمه خبره د استغفار او توبے فائدے

د استغفار او توبے ډیرے فائدے دی یوه فائده ئے مغفرت دے. یعنی الله تعالی ئے گناهونه معاف

کړی. لکه سورة نساء ۱۱۰ دویمه فائده ئے داده چه څوک استغفاروای نوالله تعالی عذاب نه ورکوی یعنی داستغفارسره دالله تعالی عذاب واپس کیږی دریمه فائده ئ ښائسته ژوند دی.

څلورمه فائده زیاته جزا چه هغه جنت دے لکه سورة هود ۳ پینځمه فائده بارانونه ډیریدل .شپږمه فائده طاقت زیاتیدل لکه سورة هود ۵۲ اومه فائده مال زیاتیدل اتمه فائده ځامن زیاتیدل

نهمه فائده باغونه لسمه فائده نهرونه لکه سورة نوح ۱۰، ۱۱. یولسمه فائده د الله تعالی خوشحالی ده یعنی الله تعالی په توبه ډیر زیات خوشالیږی. رسول الله صلی الله علیه وسلم وای والله لله افرح بتوبة عبده من احدکم یجد ضالته باالفلاة (راوه مسلم) قسم په الله تعالی چه خامخا الله تعالی ډیر زیات خوشحالیږی په توبه د خپل بنده دیوستاسونه چه بیاموزی ورک شوی خپل په دشته کښ په بل حدیث کښ راځی رسول الله صلی الله علیه وسلم وای لله افرح بتوبة عبده من العقیم الوالد ومن الضال الواجد ومن الضمأن الوارد (التوبه لابن عساکر۲۹] خامخاالله تعالی ډیرزیات خوشحالیږی په توبه دخپل بنده د هغه شنډ نه چه بچی وشی او د هغه چا نه چه څه ترینه ورک وی او بیائے موزی او د تګی نه چه اوبوته ورشی.

## دریمه خبره د توبے او استغفار په باره کښ حدیثونه

رسول الله صلی الله علیه وسلم وای والله انی لاستغفرالله و اتوب الیه فی الیوم اکثر من سبعین مرة (رواه البخاری) قسم په الله تعالی یقینا ځه خامخا بښنه غواړم د الله تعالی نه او توبه اوباسم الله تعالی ته روزانه زیات د اویا کرتی نه .

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای یا ایهاالناس توبوا الی الله فانی اتوب الیه فی الیوم مائة مرة [رواه مسلم] ای خلقو الله تعالی ته توبه او باسی یقینا ځه توبه اوباسم الله تعالی ته روزانه سل کرتی.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای کل بنی آدم خطآ و خیر الخاطئین التوابون (الترغیب والترهیب) د ټولو بنی آدمو نه خطا کیږی او دټولو نه غوره خطاکار توبه ایستونکے دی.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه په بنی اسرائیلو کښ یو سړی وو یو کم سل کسان ئے وژلی وو. د یو راهب نه ئے تپوس وکړو. چه آیا ځما توبه قبلیږی هغه ویل نه هغه ئے هم مړ کړو. بیا ئے تپوس کولو یو سړی ورته اویل چه فلانی او فلانی کلی ته لاړ شه . په لاره کښ ورله مرګ راغلی دغه

سړی خپله سینه د دغه کلی طرف ته مائله (کګه ) کړه. د ده په باره کښې د رحمت د ملائکو او د عذاب د ملائکو جګړه شوه (دکوم کلی ته چه روان شویو) هغه ته الله تعالی حکم وکړو چه نزدی شه (اود کوم کلی نه چه روان شویو) هغه ته الله تعالی حکم وکړو چه جدا شه. الله تعالی اویل چه ددے دواړو کلو په مینځ کښې اندازه واخلی نو کوم کلی ته چه روان شو یو هغه ته یوه لویشت نزدی وو . نو الله تعالی ورته بښنه وکړه( متفق علیه مشکوة باب التوبة و الاستغفار).

فائده:- دی سړی سل مړی کړی بیا د توبے په اراده روان شوی په لاره کښې ورله مرګ راغې او الله تعالی ورته بښنه وکړه .

## څلورمه خبره د ګناهونو د معاف کیدو یوولس اسباب

مخکښې دا بحث وشو چه د توبے او استغفار یوه فائده دا ده. چه په دی سره ګناهونه معاف کیږی. نو اوس دا بحث کوو چه د مسلمانانو ګناهونه په یوولس طریقو معاف کیږی. (۱) توبه (۲) استغفار (۳) نیک عملونه (۴) د دنیا تکلیفونه دی.(۵) د مؤمنانو دعاګانی او استغفار (۶) د قبر عذابونه (۷) د مړی د ایصال ثواب د پاره خیرات حج وغیره کول (۸) د قیامت سختی (۹) په بخاری او مسلم شریف کښې راځی چه کله مؤمنان په پل صراط پوری وځی نو د پل صراط د پاسه د جنت او جهنم په مینځ کښې به ودرولی شی. د بعض نه به د بعض نورو د پاره قصاص واخستلی شی. کله چه د ګناهونو نه پاک شی نو د جنت د ننوتلو اجازت به ورته وشی. (۱۰) د سفارش کوونکو سفارش. (۱۱) د سفارش نه بغیر د ارحم الرحمین ذات معافی کول دی. ( شرح العقیدة الطحاویة ص ۳۱۳ مع الاختصار)

## پینځمه خبره د توبے او استغفاروختونه

د توبے او استغفار اهتمام هروخت پکار دے. او هر څوک توبی او استغفار ته ضرورت لری. څکه دا یو عبادت دے او په دی سره ګناهونه معاف کیږی. او درجی ورسره اوچتیږی. لیکن بعض خصوصی وختونه دی چه په هغی کښې د توبی او استغفار اهتمام ډیر پکار دے. یو د هغه نه حالت ده بوډا والی دے . چه کله انسان بوډا شی. نو پکار ده چه توبه او استغفار ډیر ډیر وای. لکه په سورة اذا جاء نصرالله کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وای چه ستا د وفات وخت نزدی دے نو استغفار وایه. دویم د هر عبادت نه روستو که چرې په عبادت کښې کمی او کوتاهی شوی وی. نو دا به ورله

کفاره وګرځی. لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د هر فرض مانځه وروستو دری کرتی استغفرالله ویلو. دغه رنګی د شپی د مونځونو په آخرکښ لکه سورة عمران ۱۷ کښ وای . والمستغفرین بالاسحار او بښنه غوښتونکښ په چربانګ کښ او سورة ذاریات ۱۷،۱۸ کښ وای کانوا قلیلا من اللیل ما یهجعون و با لاسحارهم یستغفرون . وو ډیرکم د شپی نه چه اوده کیدل به او په وخت د چربانګ کښ دوی بښنه غوښتله .

سعدی با با وای

همه شب پشت از عبادت دوتا سحرچشم از شرم برپشت پا

ټوله شپه ئی په عبادت ملا ماته شی او چه سحرشی نو د شرم د وجی نه خپلو خپو ته ګوری.

دریم د هرمجلس په آخرکښ د توبې او استغفار اهتمام پکاردے. لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه د مجلس په آخرکښ د ا ویل پکاردی. سبحانک اللهم و بحمدک اشهد ان لا اله الا انت استغفرک و اتوب الیک . که چری مجلس د خیروی نو دا به ورله مهرشی. او که چری د خیر مجلس نه وی نو دا به ورله کفاره شی.

## شپږمه خبره د توبې او استغفار الفاظ

د توبې او استغفارد پاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ډیرالفاظ نقل دی. او بعض د هغی نه دا دی. (۱) رب اغفرلی (۲) اللهم اغفرلی (۳) استغفرالله (۴) استغفرالله الذی لا اله الا هو الحی القیوم و اتوب الیه (۵) رب اغفرلی و تب علی انک انت التواب الرحیم (۶) او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه د استغفارسردار دا الفاظ دی. اللهم انت ربی لا اله الا انت خلقتنی و انا عبدک وانا علی عهدک و وعدک ما استطعت اعوذ بک من شرما صنعت ابوء لک بنعمتک علی و ابوء بذنبی فاغفرلی فانه لا یغفرالذنوب الا انت .

دی نه علاوه هرهغه لفظ چه د هغه مقصد دا وی چه الله تعالی ما ته بښنه وکړی.

خلاصه د بیان :- پکاردا ده چه مونږ او تاسو د توبې او استغفار فائدو ته فکروکړو او د توبې او استغفار ډیر اهتمام وکړو. الله تعالی د مونږ ته د صحیح توبې او استغفار توفیق راکړی.

سبحانک اللهم و بحمدک اشهد ان لا اله الا انت استغفرک و اتوب الیک . اللهم صل علی محمد و علی آل محمد

## الجزاء من جنس العمل (جزا د جنس د عمل نه وی )

الحمد لله والصلوٰۃ والسلام علی رسول الله ۔ واشهد ان لااله الا الله وحده لاشریک له واشهد ان محمدا عبده ورسوله ۔

اما بعد فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم قال الله تعالٰی ولا یحیق المکر السیئ الا باهله (سورة فاطر ۴۳) وقال تعالٰی فلیضحکوا قلیلا ولیبکوا کثیرا جزاء بما کانوا یکسبون (سورة توبه ۸۲ )۔ وقال رسول الله ﷺ الراحمون یرحمهم الرحمٰن ارحموا من فی الارض یرحمکم من فی السماء ۔ رواه ابواؤد والترمذی۔

### تمهید

دا بیان پدی خبره دےچه څرنګی مونږ او تاسو عملونه کوو نو هم دغه رنګی معامله به زمونږ سره د الله تعالٰی د طرف نه کیږی ۔ او د هرے سزا او جزا د خپل عمل سره خاص قسم مناسبت وی خلق وائی چه څه کری هغه به ریبی ۔

ګندم از ګندم بروید جوزجو　　ازمکافات عمل غافل مشو

غنم د غنمو نه کیږی وربشی د وربشونه د بدلی د خپل عمل نه مه غافله کیږی ۔

حافظ الپوری رحمه الله وائی ۔

هرچے اوکری یو تخم بل تے غواړی　　هغه کس چا په هوښیار شمیرلے نه دے
هرچے اوکری جوار جوار به کیږی　　له جوارو چاګنے رودلے نه دے

غرض دا چه بدی کړی بدی به مومی　　د بدی په ځای ثواب راغلی نه دے

او قرآن او حدیث او تاریخی واقعات پدی خبره گواه دی چه څرنگی عملونه وی او په کومه اندازه او طریقه عملونه وی ۔ نو هم په هغه رنگی به بدله وی او و په هغه اندازه او طریقه به سزااو جزا وی ۔ ددے مضمون متعلق مونږ یو څو خبری کوو ۔

## اول د قرآن آیاتونه

الله تعلٰی وائی واذاخلوا الی شیاطینهم قالوا انا معکم انما نحن مستهزؤون الله یستهزئ بهم (سورة البقرة ۱۴) او کله چه لاړشی شیطانانو خپلو ته نو وائی یقینًا مونږ ستاسو ملگری یو یقینًا مونږ ټوقے کوو په مؤمنانو پوری ۔ الله تعالٰی به ټوقے وکړی په دوی پوری ۔

فائده ، دوی په مؤمنانو پوری ټوقے کولی نو الله تعالٰی به په دوی پوری ټوقے وکړی ځکه جزا د جنس د عمل نه وی ۔

او الله تعالٰی وائی ان المنافقین یخادعون الله وهو خادعهم (سورة نساء ۱۴۲) یقینا منافقان دهوکه کوی د الله تعالٰی سره او الله تعالٰی دهوکه کوی د دوی سره ۔ او الله تعالٰی وائی ویمکرون ویمکرالله ، (سورة الانفال ۳۰) او چل ول کولو دوی او چل وکړو الله تعالٰی (ستا د بچ کولو)

او الله تعالٰی وائی نسوا الله فنسیهم (سورة توبه ٦٧) هیر کړی دوی الله لره نو الله هم هیر کړل دوی لره او الله تعالٰی وائی فیسخرون منهم سخرالله منهم (سورة توبه ٧٩) پس دوی مسخرے کوی په مغوی پوری الله به مسخرے وکړی په دوی پوری ۔

او الله تعالٰی وائی فلیضحکوا قلیلا ولیبکوا کثیرا جزاء بما کانوا یکسبون (سورة توبه ۸۲) پس وخاندی دوی لږه زمانه او وبه ژاړی ډیره زمانه دا بدله ده په سبب د هغه عملونو چه دوی ئے کوی او الله تعالٰی وائی فا ماالذین اٰمنوا فزادتهم ایمانا وهم یستبشرون واماالذین فی قلوبهم مرض فزادتهم رجسا الی رجسهم (سورة توبه ۱۲۵ ) پس هر چه مؤمنان دی پس زیات ئے کړو دوی لره ایمان او دوی خوشحالی کوی او هر چه هغه کسان دی چه په زړونو کښ مرض د نفاق دے پس زیاتوی دوی لره پلیتی سره د پلیتی د مغوی نه ۔

او الله تعالٰی وائی للذین احسنوا الحسنی (سورة یونس ۲٦ ) دپاره د هغه کسانو چه ښائسته عمل ئے کړی ښائسته بدله ده ۔

او الله تعالیٰ وائی ومکروا مکرا ومکرنا مکرا (سورة نمل ۵۰) او چلونه جوړ کړل دوی چلونه او تدبیر وکړو مونږ تدبیر ۔

او الله تعالیٰ وائی ثم کان عاقبة الذین اسآؤوا السوأی (سورة روم ۱۰ ) بیا شو انجام د هغه چا چه بدی ئے کړیوی ناکاره ۔

او الله تعالیٰ وائی ولایحیق المکر السیئ الا باهله (سورة فاطر۴۳) او نه راګیروی ناکاره چل ول مګر خاوندان د هغے ۔

او الله تعالیٰ وائی انهم یکیدون کیدا واکید کیدا (سورة طارق ۱۵) یقینا دوی تدبیرونه کوی تدبیرونه او څه هم تدبیر کوم تدبیر ۔

فائده :۔ پدے ټولو ایاتونو کښ اشاره ده چه څرنګی د انسان عمل دے هغه رنګی ورسره د الله د طرف نه معامله کیږی ۔

## دویمه خبره د رسول الله ﷺ حدیثونه :۔

د رسول الله ﷺ په احادیثو کښ هم باربار دا خبره بیانیږی چه بنده څرنګی عمل کوی نو هغه رنګی معامله ورسره د الله تعالیٰ د طرف نه کیږی ۔ ۱۔ لکه رسول الله ﷺ وائی الراحمون یرحمهم الرحمٰن ارحموا من فی الارض یرحمکم من فی السماء ۔ ( راوه ابوؤداود والترمیذی) رحم کونکی رحم کوی په دوی مهربان ذات أ رحم وکړی په هغه چا چه په زمکه کښ دی رحم به وکړی په تاسو هغه ذات چه په اسمان کښ دے ۔

۲۔ او رسول الله ﷺ وائی لایرحم الله من لایرحم الناس (متفق علیه ) رحم نه کوی الله تعالیٰ په هغه چا چه رحم نه کوی په خلقو ۔

۳۔ او رسول الله ﷺ من ضآرَّ ضآرّ الله به ومن شآقّ شآقّ الله علیه ، چا چه ضرر ورسولو ضرر به ورسوی الله تعالیٰ د ته او چا چه مشقت او غورزولو مشقت به وغورزوی الله تعالیٰ په ده ۔ ( رواه ابن ماجه والترمذی وقال هٰذا حدیث غریب مشکوٰة ۴۲۸) ۔

۴۔ او رسول الله ﷺ وائی من یتبع عورة اخیه المسلم یتبع الله عورته ومن یتبع الله عورته یفضحه ولو فی جوف رحله ( رواه الترمذی مشکوٰة )

مغه څوک چه ورپسی شی په عورت د خپل مسلمان رور پسی الله تعالیٰ به دده په عورت پسی ورپسی شی او الله تعالیٰ چه د چا په عورت پسی ورپسی شو نو شرموی به د لره اگر چه د کور په مینځ کښ وی ۔

۵۔ او نبی ﷺ وائی من اکل برجل مسلم اُکلةً فان الله یُطعمه مثلها من جهنم ومن کسی برجل مسلم فان الله یکسوه مثله من جهنم (رواه ابوداؤد مشکوٰة ۴۲۹ ) چا چه د مسلمان په سر یوه نونړۍ ډوډی اوخوړه نو یقینًا الله تعالیٰ به ئے دغه رنگی د جهنم نه خوراک وکړی او چا چه د مسلمان په سر جامه واغوسته الله تعالیٰ به ورته د جهنم جامی واغوندی ۔

٦۔ او رسول الله ﷺ وائی من حمٰی مؤمنا من منافق بعث الله ملکًا یحمی لحمه یوم القیامة من نار جهنم (رواه ابوداؤد مشکوٰة ۴۲۴) چا چه یو مؤمن د یو منافق نه وساتلو الله تعالیٰ به د لره فرشته مقرر کړی چه د قیامت په ورځ به دده غوښه د جهنم نه ساتی ۔

۷۔ او نبی ﷺ وائی د چا خواته چه د یو مسلمان رور غیبت کیږی او دائے امداد کولی شی او امداد ئے ورله وکړو نو نصره الله فی الدنیا والآخرة الله تعالیٰ به ئے په دنیا او آخرت کښ امداد وکړی او که امداد ئے ورله ونکړو نو الله تعالیٰ بئے په دنیا او آخرت کښ راونیسی ( رواه فی شرح السنة مشکوٰة ۴۲۳ جلد ۲ ) ۔

۸۔ او نبی ﷺ وائی من قطع رجاء من ارتجاه قطع الله رجائه منه یوم القیامة فلم یلج الجنة چا چه د مغه چا امید پریکړو چه دده نه امید ساتی الله تعالیٰ به دده امید پریکړی په ورځ د قیامت نو جنت ته به داخل نشی ۔ ( ایقاظ اولی الهمم العالیه ص ۱۹۴ ) ۔

ددینه علاوه په نور وډیر حدیثونو کښ دا مضمون ذکر کیږی لکه ابن قیم رحمه الله په اعلام الموقعین ص ۱۹٦ جلد ۱ کښ اجمالًا ذکر کوی ۔

چا چه په مسلمان پرده وارچله الله تعالیٰ به پے پرده وارچوی او چا چه په یو تنگدسته اسانی راوسته الله تعالیٰ به پے په دنیا او آخرت کښ اسانی راولی ۔ او چا چه د یو مؤمن نه د دنیا یو

غم لری کړو الله به ترینه د قیامت غم لری کړی او چا چه د یو پښیمانه سره اقاله وکړه ( یعنی سودا ئے ورسره واپس کړه ) الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ دده ګناهونه معاف کړی او چا چه خرچ کولو الله تعالیٰ به ېے خرچ کوی او چا چه مال خزانه کولو الله به ترینه مال خزانه کړی او چا چه د خپل حق نه معافی وکړه الله تعالیٰ به دَ ته معافی وکړی۔

## مثالونه

په قرآن او سنت او اسلامی تاریخ کښ ددے ډیر مثالونه دی چه بنده ځرنګی عمل کوی نو هغه رنګی معامله ورسره د الله تعالیٰ د طرف نه کیږی ۔ یو مثال ددے دپاره د ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام حالات دی د ابراهیم علیه السلام په حالاتو کښ یو څو خصوصی خبری دی ۱۔ د الله تعالیٰ د رضا دپاره ئے قوم پریښود نو الله تعالیٰ ورته د اسماعیل اسحاق یعقوب علیهم السلام په شان قیمتی اولاد ورکړو۔

۲۔ د الله تعالیٰ دپاره ئے پلار پریښود نو الله تعالیٰ ورته نوم کیښود د ملسلمانانو پلار لکه الله تعالیٰ وائی ملة ابیکم ابراهیم (سورة حج ۷۸) تابعداری وکړی د دین د خپل پلار چه ابراهیم علیه السلام دے ۔

۳۔ د الله تعالیٰ د رضا د پاره ئے اور قبول کړو نو الله تعالیٰ ېے اور یخ او د سلامتیا والا کړو لکه الله تعالیٰ وائی قلنا یانار کونی برداوسلاما علی ابراهیم (سورة الانبیاء ۶۹ )۔ اویل مونږ ای اوره یخ شه او د سلامتیا والا په ابراهیم علیه السلام ۔

۴۔ د الله تعالیٰ د رضا د پاره د ځوی قربانی ته تیار شو نو الله تعالیٰ ورته په بدله کښ ګډ راولیږو لکه الله تعالیٰ وائی وفدیناه بذبح عظیم (سورة صافات ۱۰۷) او بدله ورکړه مونږ هغه ته یو حلال شوی لوے ۔

۵۔ د الله تعالیٰ د رضا دپاره ئے د ټولو خلقو دشمنی وکړه لکه وائی چه فانهم عدولی الا رب العالمین (سورة شعراء ۷۷) پس دوی به دشمنان شی زما ( که چرے ځه د دوی بندګی اوکړم ) ماسوا د رب د عالمینو نه نو الله تعالیٰ خپل خلیل وګرځولو واتخذالله ابراهیم خلیلا (سورة نساء ۱۲۵) اونیولی دے الله تعالیٰ ابراهیم لره دوست ۔

٦- په امت محمدی شفقت کړی او دعاء ئے ورته کړی چه ربنا وابعث فیهم رسولا منهم (سورة بقره ١٢٩ )، اے ربه زمونږ راولیږی په دوی کښ رسول د جنس د دوینه نو الله تعالیٰ په دعاءګانو درودونو او مونځونو کښ شریک کړو لکه اللهم صل علی محمد وعلی اٰل محمد کماصلیت علی ابراهیم وعلی آل ابرهیم -

٧- د الله تعالیٰ حکمونه ئے پوره کړیو لکه الله تعالیٰ ئے صفت کوی وابرهیم الذی وفی (سورة النجم ٣٧) او د ابراهیم علیه السلام کښ مغه چه پوره ئے ادا کړے دے حق - نو الله تعالیٰ د مغه د قدمونو په ځای کښ برکت وغورزولو او حکم ئے وکړو چه واتخذوا من مقام ابراهیم مصلی (سورة بقره ١٢٥) اونیسئے د مقام ابراهیمؑ (سره ) ځائے د مانځه ( تفسیر مراغی فی تفسیر سورة مریم )

٨- دغه رنګی الله تعالیٰ پے امتحان کړیو نو د الله تعالیٰ حکمونه ئے پوره کړل نو الله تعالیٰ ورته دینی مشری ورکړه واذابتلی ابراهیم ربه بکلمات فاتمهن قال انی جاعلک للناس اماما (سورة بقره ١٢٤) او هر کله چه ازمیښت اوکړو په ابراهیمؑ رب د مغه په یو څو کارو نو سره نوپوره ئ کړه اویل الله یقیناګرځوم تادخلقودپاره پیشوا-

٩- د الله تعالیٰ د رضا دپاره ئے وطن پریښی وو نو الله تعالیٰ د مغه نه غوره وطن ورکړو چه مغه برکتی زمکه د شام ده -

١٠- رسول الله ﷺ وائی اول من یکسٰی من الخلائق ابراهیم (رواه البزار و ابن عساکر وصححه الالبانی ) د قیامت په ورځ به اول جامی ابراهیم علیه السلام ته اغوستلی شی حافظ ابن حجر رحمه الله وائی ددے وجه داده چه ابراهیم علیه السلام اورته بربنډ غورزولی شویو ( فتح الباری ص ٣٤٩ ج ٦)
-

ابن عباسؓ وائی په ټول دین عمل صرف ابراهیم علیه السلام کړیو قدّم بدنه للنیران وطعامه للضیفان وولده للقُربان ، خپل بدن ئے اورته وړاندی کړو او خپل خوراک میلمنو ته او خپل بچی قربانی او ذبح ته - ( بحواله الجزاء من جنس العمل ٩٨ ) -

## دویم مثال د یوسف علیه السلام حالات :۔

هر کله چه یوسف علیه السلام د جیل تنگی او سختی برداشت کړه نو الله تعالیٰ ورله د ټول ملک واک او اختیار ورکړو د خپلی مرضی مطابق آبادیانی کولی الله تعالیٰ وائی وكذالك مكنا ليوسف في الارض يتبوأ منها حيث يشاء (سورة يوسف ۵۶) هم دغه رنگی ځای ورکړو مونږ یوسف علیه السلام ته په زمکه کښ جوړولو یئے د مغے نه ۔ کوم ځای یئے چه خوښه شوه ۔

## حافظ الپوری رحمه الله وائی ۔

یوسف خواری د زندان ولیده نو بیا عزیز شو          غوّ اصان درگوهر اوباسی له تارخه دریابه ۔

نو یوسف علیه السلام په تنگ ځای صبر وکړو نو الله تعالیٰ ورله فراخه ملک ورکړو ۔

## دریم مثال د ایوب علیه السلام حالات

ایوب علیه السلام صبر وکړو الله ورله صحت ورکړو او خوارلس اولاد ئے مړوو هغه هم الله تعالیٰ راژوندی کړل او خوارلس اولاد ورسره الله تعالیٰ نور هم ورکړو ۔ لکه سورة صٓ ۴۳ ۔

## څلورم مثال چغه د ثمودیانو

په ثمودیانو غذاب د چغے ( صیحے ) راغلیو ځکه دوی خپل ملگری ته چغه (آواز) کړیو هغه اوښه زخمی کړه ، فنادوا صاحبهم فتعاطى فعقر (سورة قمر ۲۹) ۔ نو دوی آواز ورکړو خپل مشر ته نو راواخستله ئے توره نو قتل ئے کړه (اوښه)۔

نو هر کله چه د دوی چغه سبب د زخمی کیدو د اوښی وو نو د دوی ملاکت هم په چغے سره وشو۔ (اضواء البیان ص ۲۴۲ جلد ۸ )۔ ځکه جزا د جنس د عمل نه وی ۔

## پینځم مثال او لټه کیدل د قوم لوط

د قوم لوط کلی الټه شویو فجعلنا عاليها سافلها (سورة هود ۸۲) اوگرځو مونږ بره طرف د کلو لاندے د مغے ۔ ځکه دوی اصل فطرت اولټه کړیو چه د زنانو په ځای ئے د هلکانو بدکاری کوله ۔ نو دوی هم الله تعالیٰ الټه کړل ۔ ځکه جزا من جنس العمل وی ۔

## شپږم مثال شادوگان کیدل د خیالی والا (اصحاب السبت)

د خیالی والا نه الله تعالیٰ شادوگان جوړ کړل ځکه د مغوی کارپه ظاهرکښ د شریعت سره برابروو او په حقیقت کښ د شریعت نه خلاف وو نو الله تعالیٰ ترینه شادوگان جوړ کړل ځکه د شادو شکل په ظاهرکښ د انسان دے او په حقیقت کښ انسان نه دے ۔ ولقد علمتم الذین اعتدوا منکم فی السبت فقلنا لهم کونوا قردة خاسئین ۔ (سورة بقره ۶۵) او په تحقیق سره پوهه ئے تاسو په حال د هغه چا چه زیاتے ئے کړے وو ( د حد شرعی نه ) ستاسو نه په ورځ د خالی کښ پس اویل مونږ دوی ته چه شئ شادوگان ذلیلان ۔

## اووم مثال هلاکت د ابرهه دے په توتکرکو سره

ابرهه د ځان سره هاتیان راروان کړیو نو الله تعالیٰ په توتکرکو هلاک کړو ۔ الم ترکیف فعل ربک باصحاب الفیل ۔ ځکه هاتیان په ټولو حیواناتو کښ ډیرقوی دی اوتوتکرکی په ټول مخلوق او مرغوکښ ډیرکمزوری دی ۔ نو په هغه ډیرقوی الله تعالیٰ ډیرکمزوری مسلط کړل ځکه ددوی د غرور او تکبر سره دا قسم عذاب مناسب وو۔

## اتم مثال حالت د سامری دے

سامری بنی اسرائیلو له سخی جوړ کړو چه خلق په ما راجمع شی او موسیٰؑ پریدی نو الله دا سزا ورکړه چه خلقو ته ئے ویل لَا مِسَاس ، لاس مه راوړی ۔ دَ خلق ځان ته راجمع کول لکن الله ترینه جدا کړل ځکه جزا د جنس د عمل نه وی ۔

## واقعات

مخکښ هم مثالونه او واقعات وو او دا هم واقعات او مثالونه دی لکن د زیات وضاحت او عبرت دپاره اوس یو څو نور واقعات ذکرکوو چه چا څرنګی عمل کړی نو هغه رنګی معامله ورسره د الله د طرف نه شوی ۔ او دغه معامله دده د شان او حال سره ډیره مناسب وی ۔

**اوله واقعه** :۔ یو سړی د کعبې نه طواف کولو چاپیره ترینه پولیس وو خلق ئے دده دوجے نه د طواف نه منع کول څه مده روستو د بغداد په پل ناست وو سوال ئے کولو کوم سړی چه مخکښ دده حال لیدلی وو ډیر تعجب ئ وکړو۔

نو دَ اویل چه تکبرت فی موضع یتواضع الناس فیه ، ما په هغه ځای کښ تکبر وکړو چه خلق پکښ عاجزی کوی ، فاذلنی فی موضع یترفع الناس فیه ، څه الله تعالیٰ په هغه ځای کښ ذلیله کړم چه خلق پکښ پورته کیږی ۔ (ایقاظ اولی الهمم العالیه)

فائده :۔ د الله تعالیٰ کور د عاجزی ځای دے دَ پکښ تکبر وکړو نو الله تعالیٰ دا سزا ورکړه چه د بغداد په پل چه هلته د انسان په زړه کښ لوی راځی ۔ هلته دا ناست وو او سوال ئے کولو۔

**دویمه واقعه** : په کوفه کښ یو ډیر مالداره سړی وو دنیا ئے پریښوده او عبارت ئے شروع کړو ۔ فضیل بن عیاض رحمه الله عبد الله بن مبارک رحمه الله ته اویل چه دلته یوه عابد دے ډیره پراخه دنیائے پریښی دواړه څو ، ننظر عقله ، د هغه عقل او سوچ گورو ۔ دوی چه کله راغلل هغه بیمار پروت وو شړی پے پرته وه د سر دلاندی د خختی ټکړه وه ۔ عبد الله بن مبارک رحمه الله پے سلام وکړو بیا ئے ورته اویل چه روره مونږ ته دا روایت رسیدلی دے چه ماترک عبد شیئا لِلّه الا عوّضه الله ما هو اکثر منه کوم بنده چه یو شی د الله تعالیٰ دپاره پریږدی نو الله تعالیٰ ورله د هغه نه ډیر عوض ورکوی ۔ نو تالره الله تعالیٰ څه عوض درکړی هغه اویل الرضا بما انا فیه ۔ راضی کیدل د الله تعالیٰ نه پدے خپل حالت ۔ عبد الله بن مبارک رحمه الله ورته اویل حسبک دا پوره خبره ده ۔ او پدی خبره هغه دواړه پورته شو او روان شو ۔ ( ایقاظ اول الهم العالیه ص ۱۸۰ ) ۔

فائده :۔ دے سړی ته الله تعالیٰ د ډیری مالداری په ځای د فقر او غریبی او بیماری په ژوند رضا او قناعت ورکړیو چه کټ بستره ئے هم نه وه په خاورو پروت دے د بالښ په ځای سرته نیمه خخته پرته وه خو بیا هم پدے ژوند د مخکښ ژوندپه نسبت دالله نه ډیر راضی او خوشحاله دے ۔ جزا د جنس د عمل نه وی د مخکښ ژوند په نسبت پدی ژوند کښ زیات خوشحاله دے ۔

**دریمه واقعه** :۔ د یو سړی پلار بوډا شویو دا سړیددے پلار نه تنگ شویو پلار ئے په اوښ سور کړو او صحراء ته ئے روان کړو کله چه د صحراء مینځ ته ورسیدل نو پلار د څوی نه تپوس وکړو

ویل یا بنی این ترید الذهاب بی، بچیه ما چرته بوزی ۔ هغه ویل ، یا ابی لقد مللتک ولقد سئمتک ،پلاره ډیر دِ ستړی کړم ۔ پلاروپل نو څه راباندی کوی هغه ویل ارید ان اذبحک ، ذبح کوم دِ ۔ هغه ویل بچیه دا څه وائی هغه ویل ذبح کوم دِ ډیر دِ ستړی کړم پلار ئے ویل۔ ان کنت ولا بد فاعلا فاذبحنی عند تلک الصخرة ، که خامخا دا کارکوی نو ددے گټی خواته مِ حلال کړه ۔ هغه ویل پلاره ولی ۔ هغه ویل ځکه چه ددے گټی خواته ما هم خپل پلاروژلی وو نو ته هم ما ددے خواته مړکړه وسوف تری من یقتلک من ابنائک عند هٰذه الصخرة ، او زر ده چه ستا په اولاد کښ به داسی څوک وی چه هغه به هم تا ددے گټی خواته وژنی [ارشیف ملتقی اهل الحدیث ص ۴ جلد ۱۱ خطب و محاضرات للشیخ نبیل ص ۱۰ جلد ۴۰ دائره معارف الاسرة المسلمة ص ۲۶۳ جلد ٦٤] ۔

فائده :۔ ددینه هم معلومه شوه چه څرنگی کارته د خپلو مشرانو او مور او پلارسره کوی نو هم دغسی به ستا سره کیږی ۔ الله تعالیٰ وائی من یعمل سوءً یجز به (سورة نساء ۱۲۳) چا چه بد عمل وکړو په هغے سره به دَ ته سزا ورکولی شی۔

## خلاصه د بیان

ددے ایاتونو حدیثونو واقعاتو او مثالونو نه واضحه شوه چه انسان څرنگی عمل کوی نو د هغه رنگی بدلی سره به مخامخ کیږی او چه څه کری هغه به ریبی د دینا او د آخرت هر تکلیف او راحت د خپل عمل او محنت اثر او گټه ده نو چه هر عمل مونږ او تاسو کوو نو پکارده چه د عمل سره سره زمونږ سزا او جزا ته فکر وی ۔

اللهم اعزالاسلام والمسلمین واذل الشرک والمشرکین وارفع رایة الموحدین اللهم فرج عن اخواننا فی جمیع بقاع الدنیا ۔ اللهم علیک بالیهود والنصارٰی فانهم لایعجزونک اللهم ارنا فیهم عجائب قدرتک ۔ امین - و صلی الله تعالیٰ علی خیرخلقه محمد وآله واصحابه اجمعین ۔

# په آخرت ایمان او عقیده

الحمد لِلّه والصلوٰة والسلام علی رسول الله ﷺ اما بعد فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم واتقوا یوما لاتجزی نفس عن شیئا ولایقبل منها شفاعة ولایؤخذ منها عدل ولا هم ینصرون ۔ بقره ۴۸۔

## تمهید

په قرآن کښ شپږ خبری بار بار بیانیږی توحید رسالت صداقت د قرآن ایمان په آخرت جهاد او انفاق فی سبیل الله ۔

پدی شپږ خبرو کښ یوه خبره ایمان او عقیده ده په آخرت ۔ یعنی په مونږ دا عقیده ساتل فرض دی چه مونږ به یو ځل د رب العالمین مخی ته ودریږو او زمونږ سره به د زری زری حساب کتاب کیږی او د دغه حساب نه روستو به زمونږ تشکیل یا د همیشه دپاره جنت ته کیږی او یا جهنم ته ۔

او دا هغه ضروری عقیده ده چه هر پیغمبر خپل قوم ته دا دعوت ورکړی چه قیامت اومنی په قیامت ایمان او عقیده ولری ۔

## د قیامت د مسئلی طریقی او طرزونه

او قرآن کریم هم دا مسئله په مختلفو طریقو بیانوی ۔ ۱۔ کله وائی چه د مؤمن به دا عقیده او نظریه وی چه په آخرت به یقین لری لکه سورة بقره ۴ کښ وائی <u>، وبالآخرة هم یوقنون</u> او په آخرت  دوی یقین لری ۔

۲۔ کله وائی چه هغه خلق تباه او تاوانیان دی چه د آخرت نه انکار کوی لکه سورة انعام ۳۱ کښ وائی ، <u>قد خسر الذین کذبوا بلقاء الله</u> ، یقینًا تاوانیان دی هغه کسان چه دروغجن گنڑی ملاقات د الله ۔

۳۔ کله الله تعالیٰ قسم کوی چه قیامت حق دے لکه سورة یونس ۵۳ مریم ٦٨ سبا ۳ تغابن ۷۔

۴۔ کله وائی چه په دنیا کښ انسان پیدا کولی شم نو په قیامت کښ دوباره هم پیدا کولی شم لکه سورة مریم ٦٨۔

۵۔ کله وائی چه اسمانونه او زمکی پیدا کولی شم نو دوی هم د قیامت په ورځ دوباره پیدا کولی شم لکه سورة یٰسٓ ۸۱۔

٦۔ کله وائی چه په باران سره په زمکه کښې بوټی پیدا کولی شم نو دغه رنګی مړی به هم د قبرونو نه دوباره رااوباسم لکه سورة اعراف ۵۷ ۔

۷۔ کله وائی چه په دنیا کښې هم کله داسی واقعات شوی چه الله تعالیٰ مړی ژوندی کړی نو دغه رنګی په قیامت کښې به ئے هم ژوندی کوی لکه بقره ۷۳
- ۸۔ کله وائی چه اصحاب کهف مِ نهه دبره دری سوه کاله روستو د خوب نه رابیدار کړل نو دغه رنګی به مړی هم د قبرونو نه راپورته کوم لکه سورة کهف ۲۱۔

## د قیامت بعض نومونه

۹۔ کله د قیامت د ورځې ناشنا او هیبتی نومونه ذکرکوی کله ورته یوم الدین وای د بدلی ورځ کله ورته یوم عظیم او یوم کبیر وائی یعنی لویه او غټه ورځ کله ورته یوم الحسرة وائی یعنی د افسوسونو ورځ کله ورته یوم التلاق وائی د ملاقاتونو ورځ کله ورته یوم التناد وائی د آوازونو او د چغو ورځ کله ورته قارعه ټنګونکی وائی کله ورته یوم عسیر وائی یعنی سخته ورځ کله ورته یوم ثقیل درنه ورځ وائی کله ورته الطامة الکبریٰ لویه هنګامه او لوی آفت ۔ کله ورته الصاخه کنړونکی ورځ وائی کله ورته الغاشیه یعن خلق بۓ په مصبتونو کښې پټ کړیوی ۔

### د قیامت بعض حالات

۱۰ ۔ کله د قیامت حالات او هیبتونه او مصیبتونه ذکرکوی ۔بیا دغه هیبتونه اومصیبتونه په مختلفو طریقو ذکرکوی ۔ کله وائی چه دوی د قیامت سختی وینی نو د دنیا عمر به دویته یوه ګهنټه ښکاره شی لکه سورة یونس ۴۵ کله وائی چه دوی به خبری نشی کولی لکه سورة مود ۱۰۵۔ کله وائی چه ټول آوازونه به ذلیله وی لکه سورة طٰهٰ ۱۰۸، ۱۰۹ ۔ کله وائی چه ظالمان به په خپلو لاسونو چکونه لګوی لکه سورة فرقان ۲۵ ۔ کله وائی چه په ټول مخلوق به بے هوشی راشی لکه سورة زمر ٦۸ کله وائی چه د ډیری سختی د وجے نه به واړه زاړه شی لکه سورة مزمل ۱۷۔ کله وائی چه سړی به د خپل رورمور او پلار او ښځی او اولاد نه تیښته کوی لکه سورة عبس ۳۴

## ابن قیم رحمه الله د قیامت بعض حالات ذکرکوی

د دینه علاوه د قیامت حالات او نقشه په قرآن او حدیث کښ تفصیلا بیان شوی مونږ ئے اجمالا په مغه طریقه ذکرکوو کومه چه شیخ الاسلام ابن قیم رحمه الله په قصیده نونیه کښ ذکرکړی ۔

ابن قیم صاحب د اسمانونو او زمکو په باره کښ وائی ۔

فیبدل الله السموٰت العلٰی　　　والارض ایضا ذان تبدیلان

وهما کتبدیل الجلود لساکن النیران عندالنضج من نیران

الله تعالٰی به اسمانونه او زمکی بدل کړی او دا په شان د بدلولو د خرمنو دی دپاره د اوسیدنکو د اورنو ( یعنی د جهنمیانو ) په وخت د سیزلو کښ د اورونو نه دغه رنګی په سورة ابراهیم ۴۸ کښ هم راځی چه یوم تبدل الارض غیر الارض والسماوٰت په کومه ورځ چه بدل به شی زمکه د دینه په بله سره او هم اسمانونه ۔

**نکته** ، زمکه ئے په اسمان مخکښ کړه ځکه مونږ ته نذدی ده بل دا چه زمونږ په نسبت د زمکی د بدلولو اثر ډیر دے ۔

بعض علماء وایٔ چه دا بدلول د ذات دی لکن اکثروائی چه دا بدلول د صفت دی لکه ابن قیمؒ هم دیته اشاره کړی ۔

په مسلم شریف کښ راځی عائشه رضی الله عنها وائی چه ددے ایت په باره کښ د ټولو نه اول ما د نبی ﷺ نه تپوس کړیو چه په دغه ورځ به خلق چرته وی مغه اویل چه په پل صراط باندے ۔

## د زمکی حالات

وتحدث الارض التی کنا بها　　　اخبارها فی الحشر للرحمٰن

وتظل تشهد وهی عدل باالذی　　　من فوقها قد احدث الثقلان

او بیان به کوی زمکه هغه چه مونږ د هغې د پاسه یو حالات خپل په میدان حشر کښ مهربان ذات ته دا به وګرځی چه ګواهی به کوی ( حال دا دے چه دا عادله ده ) په هغه څه چه ددے دپاسه انسانانو او پیریانو کړیوی ۔

رسول الله ﷺ وائی په هرچا به ګواهی کوی چه دے انسان فلانی فلانی عمل کړی ۔

لکن تُسوّی ثم تبسط ثم تشهد ثم تبدل وهی ذات کیان

یعنی زمکه به اول همواره کړی شی بیا به او غوړولی شی بیا به ګواهی کوی بیا به بدل کړی شی او دا حالات به د کیده والا وی ۔

وتمد ایضا مثل مدّ ادیمنا من غیر او دیة ولا کثبان

د څرمنی په شان به راښکلی شی کندی او ډیرکی به ترینه ختمی شی ۔

وتقی یوم العرض من اکبادها کاالاسطوان نفائس الاثمان

ولټی به کړی په ورځ د پیشی د خپل جګرنه په شان د ستنو قیمتی پیسی ۔

کل یراه بعینه وعیانه مالامرئ بالاخذ منه یدان

هرسړی بۀ په سترګو او ښکاره وینی یو سړی لره به ددے د راخستلو هیڅ طاقت نه وی په حدیث د مسلم او ترمیذی کښ راځی رسول الله ﷺ وائی زمکه به د خپل جګرټکړی په ولټو کښ رااوغورزی د ستنو په شان  سره زر او سپین زر قاتل به وائی چه ددے دپاره ما مړی کړی وو صله رحمی کټ کونکی به وائی چه ددے د پاره ما صله رحمی کټ کړیوه غل به وائی چه پدیکښ څما لاس کټ شویو بیا بۀ پریګدی هیڅ به ترینه نه راخلی ۔

## د غرونو حالات

وکذ الجبال تفت فتا محکما فتعود مثل الرمل ذی الکثبان

دغه رنګی غرونه به مات کړی شی په محکم ماتیدو سره نو د شګو د ډیری په شان به بهیږی ۔

وتبس بسا مثل ذاک فتنثنی مثل الهباء لناظر الانسان

دغه رنگی غرونه به مات کړی شی نو د گرد په شان به شی کتونکی انسان ته - مفسرین وائی زمکه به داسی سخته وجړقولی شی لکه څرنگی چه ماشوم په زانگو کښ زنگولی شی ـ ددے دپاسه چه هر څه وی هغه به وران شی او ددے دپاسه چه مرڅه دی غرونه وغیره هغه به مات شی نو دا ټوله زمکه چه د زانگو په شان زنگولی شی دا به څه عجیبه منظر وی ـ او دا لوی لوی غرونه چه په تسکورو بیلچو ټیکټرو وغیرنه ختمیږی او دا د شگو د ډیرو په شان بهیږی نو دا به څه عجیبه منظر وی ـ

## د دریابونو حالات

وکذا البحار فانها مسجورة قد فجرت تفجیر ذی سلطان

دغه رنگی دریابونه به اور واخلی لمبی به وهی او روان کړی شوی به وی په روانیدو د خاوند د قدرت چه الله تعالیٰ دے ـ فراء رحمه الله وائی دواړه دریابونه به یو شی او اوبه بئے ډیری شی نو دا ټول دریابونه چه یوه لمبه شی دا به څه عجیبه منظر وی ـ

## د آسمانونو حالات

وکذا السماء تشق شقا ظاهرا وتمور ایضا ایما موران

دغه رنگی اسمان به په ښکاره شلیدلو سره وشلیږی او حرکت به وکړی څه عجیبه حرکت به وی د اسمان ـ مور په عربی کښ حرکت او گډوډ کیدو ته وائی ضحاک رحمه الله وائی چه په یو بل کښ به چپی وهی - مجاهد رحمه الله وائی گرځی به ـ بغوی رحمه الله وائی دا لفظ دے ټولوته شامل دے ـ

نو دا به هم ډیرعجیبه منظروی چه دا عظیم الشان اسمان وشلیږی او گډوډ حرکت شروع کړی او په یو بل کښ چپی وهی ـ

وتصیربعد الانشقاق کمثل ها ذا المهل او تک وردة کدهان

د شلیدونه روستو به رابهیږی د تیلو په شان او سور به شی په شان د سری څرمنی نو دا به هم ډیر عجیبه منظروی چه د جهنم د ګرمی د وجی نه به اسمان د سری څرمنی په شان سور شی او بیا به د تیلو په شان را اوبهیږی ۔

## د نمر او سپوږمی حالات

وکذا لک القمران یأذن ربنا　　　لهما فیجتمعان یلتقیان

دغه رنګی نمر او سپوږمی ته به الله تعالیٰ حکم وکړی نو دواړه به یو ځای راجمع شی ۔

هٰذی مکورة وهٰذا خاسف　　　وکلا هما فی النار مطروحان

نمر به راتاؤ شی او سپوږمی به توره شی او دواړه به اور ته اوغورزولی شی

## د ستورو حالات

وکواکب الافلاک تنثر کلها　　　کلآ لی نثرت علی میدان

د اسمان ستوری به ټول اوشندلی شی لکه ملغلری چه په میدان اوشندلی شی ۔ کلبی او عطاء رحمهما الله وائی چه د اسمان نه به د ستورو باران وشی په اسمان کښ به یو ستوری هم پاتی نشی مګر ټول به په زمکه راپریوزی ۔

## د مرګ نه روستو د راپورته کیدو طریقه د صحیح اثارو مطابق

واذا اراد الله اخراج الورٰی　　　بعد الممات الی المعاد الثانی

کله چه الله تعالیٰ اراده وکړی د راویستلو د مخلوق د مغه د مرګ نه روستو چه مغه د دوباره ژوند پوری دے ۔

القی علی الارض التی هم تحتها　　　والله مقتدر وذو سلطان

الله تعالیٰ به په مغه زمکه باران وکړی چه دوی د هغے د لاندی دی او الله تعالیٰ قدرت لرونکی دی او خاوند د بادشاهی دے ۔

مطرا غلیظا ابیضا متتابعا عشرا وعشرا بعدها عشران

الله تعالیٰ به ټینګ باران وکړی چه مغه به سپین وی او پی درپی به وی لس ورځې او لس ورځې چه روستو د دینه به دوه لسیزی وی - یعنی څلویښت ورځې پرلپسی به سپین او ټینګ باران وشی

فتظل تنبت منه اجسام الوړی ولحومهم کمنابت الريحان

نو اوبه ګرځی چه زرغونیږی به ددینه بدنونه د خلقو او غوښی د دوی په شان د زرغونیدو د کشمالو

ثعلبی په تفسیر د سورة اعراف کښ او ابن عطیه په خپل تفسیر کښ د ابومریره او ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کوی ـ چه کله ټول خلق د اول شپیلی سره مړ شی نو څلویښت کاله به پے باران وشی ، کمنی الرجال ، په شان د منی د نارینو او دا باران به د مغه اوبو نه وی چه د عرش د لاندی دی ماء الحیوان ورته وائی دوی به په دے باران سره د قبرونو نه داسی زرغون شی لکه څرنګی چه فصل په اوبو سره زرغونیږی چه کله ئے بدنو نه مکمل شی ـ نو روح به پکښ اوغورزولی شی ـ

بیا به پے خوب راشی نو دوی به په قبرونو کښ اوده شی کله چه دویمه شپیلی او وهلی شی دوی به راپورته شی او په سترګو کښ به د خوب خوند مومی لکه څرنګی چه یو سړی د خوب نه رابیدار شی او د خوب خوند مومی ـ نو دوی به اوواې چه یا ویلنا من بعثنا من مرقدنا ـ های ملاکت دے مونږ لره چا راپورته کړو مونږ د ځای د خوب نه - بهر حال ټول انسانان به د قبرونونه راپورته کیږی ـ اوکله چه د قبرونونه راپورته شی نو بیا به د رب العالمین مخی ته ودریږی او حساب کتاب به کیږی او د حساب کتاب نه روستو به یا د همیشه د پاره جنت ته اویا جهنم ته تشکیل کیږی ـ

الله تعالیٰ دِ مونږ د جهنم نه بچ وساتی او الله تعالیٰ دِ مونږ ته جنت الفردوس نصیب کړی ـ امین
وصلی الله تعالیٰ علی خیر خلقه محمد وآله واصحابه اجمعین ـ

# زنانو ته بيان

الحمد لله  و الصلوة والسلام على رسول الله و اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک و اشهد ان محمد عبده و رسوله .

اما بعد  فاعوذ با الله من الشيطان الرجيم  بسم الله الرحمن الرحيم . ان المسلمين والمسلمات والمؤمنين و المؤمنات و القانتين وا لقانتات و الصادقين والصادقات والصابرين والصابرات والخاشعين والخاشعات والمتصديقين والمتصدقات والصائمين الصائمات والحافظين فروجهم والحافظات والذاكرين الله كثيرا والذاكرات اعد الله لهم مغفرة واجرًا عظيما سورة الاحزاب آيت ۳۵

و قال النبى صلى الله عليه وسلم انما النساء شقائق الرجال

## تمهيد

مونږ چه کوم آيت تلاوت کړو. پديکښ الله تعالى د نارينو او زنانو د پاره لس لس صفات بيان کړی. او پدی صفاتو الله تعالى  دويته د ګناهونو د معاف کيدو او د لوی اجر زيری ورکړی.

او قاعده دا ده چه نارينه او زنانه په ټولو احکام شرعيو کښ شريک دی. ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم نارينو اوزنانو ټولو ته ليګلی شوی. او بل دا چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وای انما النساء شقائق الرجال ( ابو داؤد،ترمذی )  زنانه په شان د نارينو دی په پيدائش کښ او په مزاج کښ

علامه خطابی رحمه الله تعالى وای چه د دے حديث نه دا مسئله معلوميږی چه په کوم ځايکښ خطاب په لفظ د مذکروی نو دغه به زنانو ته هم خطاب وی.

مګر په بعض خاص ځايونو کښ چه هلته د تخصيص دليل موجود وی. (معالم السنن ص ۱۶۱ ج ۱) او کله کله په قرآن او حديث کښ د زنانو د پاره جدا جدا بيان هم راځی.

## ښائسته صفات د زنانو

لکه لس ښائسته صفات د زنانو په سورة الا حزاب ۳۵ کښ بيان شوی. پينځه په سورة توبه آيت ۷۱ کښ او دری په سورة نساء آيت ۳۴ کښ .

## زنانو ته د الله تعالی حکمونه

دغه رنګي زنانو ته اوامر او حکمونه هم کیږي. دغه رنګي نواهي او هغه کارونه چه د هغه نه الله تعالی منع کړي هغه هم بیانیږي.

لکه په سورة نساء آیت ۳۴ کښې اشاره کوی چه بد اخلاقي د نه کوی. بلکه د خاوند تابعداری د کوی او کچری بد اخلاقي کوی نو خاوند د په دری طریقو ادب ورکړي.

او په سورة نور آیت ۳۱ کښې وای چه زنانه د نظر ښکته ساتی د عورتونو حفاظت د کوی او سینې د په غټو غټو پړونو پټوی او زینت مه ښکاره کوی. او د زینت د ښکاره کولو د پاره قدم په زمکه په زوره مه ګدی.

او په سورة الاحزاب آیت ۳۲ کښې وای چه نرمی خبری مه کوی چه د مرضی سړی طمع پیدا نشی. او په آیت ۳۳ کښې وای چه په کور کښې اوسیږی او د جاهلیت والا په شان مه اوځی او د مانځه پابندی کوی. زکوة ورکوی . د الله تعالی او رسول تابعداری کوی او په آیت ۳۴ کښې وای چه قرآن او حدیث په خپلو کورونو کښې یاد کړی. او په آیت ۵۹ کښې وای چه پرده کوی او په ځان خپل غټ پړونی آویزان کړی.

او په سورة الممتحنه آیت ۱۲ کښې وای چه شرک به نه کوی. غلا به نه کوی. زناء به نه کوی. اولاد به نه وژنی. دروغ به نه جوړه وی. د پیغمبر نافرمانی به نه کوی. او په سورة الحجرات آیت ۱۱ کښې وای چه مسخری به نه کوی.

## په قرآن کریم کښې د پخوانو نیکانو زنانو ذکر

دارنګې په قران کښې د پخوانو نیکانو زنانو ذکر هم شوی لکه مریم بی بی ، آسیه بی بی ، د ابراهیم علیه السلام بی بی د موسی علیه السلام مور خور او بی بی ، د شعیب علیه السلام لونړه.

## په قرآن کښې د ښځو ناکاره زنانو ذکر

دا رنګې په قرآن کریم کښې د پخوانو ناکاره زنانو ذکر هم شوی. لکه د نوح علیه السلام بی بی د لوط علیه السلام بی بی د ابو لهب ښځه دا رنګې زلیخا او بلقیس . زلیخا د وزیر ښځه وه او بلقیس بادشاهی کړیوه. لکن روستو د ے دواړو ته الله تعالی ایمان نصیب کړیو.

## د زنانو په نوم سورتونه

په قرآن کښې الله تعالی د دوی په نوم سورتونه رالیګلی لکه سورة النساء او سورة مریم.

لطیفه:- البته په قرآن کریم کښې د مریم بی بی نه علاوه د نورو زنانو نومونه نه دی ذکر شوی. ځکه د زنانو خبری په ستر او پرده بنا دی.

## د زنانو قربانیانی

د ټولو نه اول اسلام ښځې قبول کړیو. خدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها . او دے به د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره هر قسم تعاون کولو او ډیره تسلی یې ورکوله . کله چه د شعب ابی طالب محاصره ختمه شوه نو دری ورځې روستو وفات شوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم پے ډیر خفه وو ځکه دغه کال ته عام الحزن وای.

د اسلام د پاره اول شهادت ښځې ورکړیو. سمیه رضی الله تعالی عنها. لویه محدثه او عالمه عائشة رضی الله تعالی عنها وه . ابو موسی اشعری رضی الله تعالی عنه وای چه په مونږ یعنی صحابه کرامو به کومه خبره مشکله شوه او د عا ئشې رضی الله تعالی عنها نه به مونږه دهغې تپوس وکړو نو <u>لا وجدنا عندها منه علما</u> مګر مونږ به موندلو د عائشې رضی الله تعالی عنها سره د دینه علم .

مسروق رحمه الله تعالی وای چه قسم په الله تعالی چه مونږ مشران صحابه کرام لیدلی وو چه د عائشې رضی الله تعالی عنها نه ئے د میراث په مسئلو کښې تپوسونه کول. بلکښې ډیرے زنانه په فتوه او حدیثو مشهورے وے لکه ام سلمه، حفصه، اسماء بنت ابی بکر ،ام سلیم، فاطمه بنت قیس، ام ایمن ،زینب بنت ابی سلمه رضی الله تعالی عنهن. (بحواله حیاة الصحابیات)

په دنیا کښ د حق د پاره زیات تکلیفونه برداشت کونکی ښځه وه آسیه رضی الله تعالی عنها د فرعون بی بی اود دغه تکلیفونو په وجه به د دے نکاح د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره کیږی په قیامت کښ .( د منبر آواز ص ۳۳۷)

بهیه بنت عبدالله رضی الله تعالی عنها د خپل پلار سره د بیعت د پاره راغله رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته دعاء وکړه. شپیته (۶۰) اولاد ئے پیدا شو. څلویښت نارینه او شل زنانه. شل پکښ شهیدان شو. (اسد الغابه ص ۴۱ ج ۶)

**فائده :-** د دے بی بی رضی الله تعالی عنها شل بچی د الله تعالی په لارکښ شهیدان شوی. خنساء رضی الله تعالی عنها د خپلوڅلورو ځامنوسره دقادسیه جنګ ته حاضره شوه دماښام نه ئے خپلوځامنو ته د جنګ ترغیب ورکړو.

سحر له هغه ښه په اخلاص و جنګیدل او شهیدان شو. خنساء رضی الله تعالی عنها چه خبر شوه نو ویویل چه الحمد لله الذی شرفنی بقتلهم و ارجو من ربی ان یجمعنی بهم فی مستقر رحمته . هغه ذات لره صفتونه دی چه ماته ئے عزت راکړو د دوی په شهادت او ځه د الله تعالی نه امید لرم چه ما د دوی سره په خپل رحمت کښ یعنی په جنت کښ یو ځای کړی. عمر رضی الله تعالی عنه به دے لره د څلور واړه بچو خرچه ورکوله د هر یو دوه سوه روپی (اسد الغابه آیت ۹۳ ج ۶)

امیمه بنت قیس رضی الله تعالی عنها وای چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اجازت غزا ته لاړو چه مونږ به د زخمیانو علاج کوو. د مجاهدینو سره به مو تعاون کوو.
( اسد الغابه ص ۳۰ ج ۶)

ام حکیم بنت الحارث اوه کافران د خیمے په لرګی وجلی وو ( اسد الغابه ص ۳۲۹ ج ۶)

رمله بنت ابی سفیان یعنی ام حبیبه رضی الله تعالی عنها دے د خپل خاوند عبید الله بن جحش سره حبشو ته هجرت وکړو . هلته په حبشو کښ خاوند نصرانی شو او بیا وفات شو. او دا په خپل اسلام کلکه وه نصرانیت ئے نه قبلولو. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم په نکاح واخسته او نجاشی بادشاه څلور سوه دیناره مهر د دے د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طرف نه ادا کړو. او شرجیل بن حسنه رضی الله تعالی عنه مدینے ته راوستله ( اسد الغابه ص ۱۱۹ ج ۶)

ابو طلحه رضی الله تعالی عنه ام سلیم رضی الله تعالی عنها ته د نکاح دعوت ورکړو. ام سلیم رضی الله تعالی عنها ورته اویل چه ته کافر ئے او څه مسلمانه یم څما نکاح ستا سره نه کیږی. که ته ایمان راوړی نو دا به څما مهرشی نور څه درنه نه غواړم فاسلم فکان ذالک مهرها ایمان ئے راووړ پس دا ددے مهر شو.

## د زنانو ایمانداری

غامدیه یوه زنانه وه. زناء ترینه شویوه په خپله راغله او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وای چه ای د الله تعالی پیغمبره طهَرنی . ما پاکه کړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل لاړه شه چه بچی د پیدا شونو رابه شی. چه بچی ئے پیدا شو بیا راغله رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل لاړه شه بچی لره تی ورکوه ترڅو چه د تی نه نه وی کټ شوی. کله ئے چه د تی نه پریکړو بیا راغله بچی ورسره وو او په لاس کښ ورسره د ډوډی ټکړه وه او ویویل چه ای د الله تعالی پیغمبره دا بچی ما د تی نه پریکړو. او ډوډی خوړلی شی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ماشوم یو سړی ته ورکړو او بیا ئے امر وکړو د سینی پوری قوتی ورله وکنستلو او خلقو ته ئے د رجم حکم وکړو. رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل څما د په هغه ذات قسم وی چه څما روح د هغه په لاس کښ ده. دے زنانه داسی توبه ویستله کچری دتیکس والا دا توبه اوباسی نو گناهونه ئې معاف شی بیا ئے پی جنازه وکړه او دفن شوه. ( رواه مسلم مشکوة کتاب الحدود ص ۳۱۰ ج ۲)

اسلم رحمه الله تعالی وای چه یوه شپه څه د عمر رضی الله تعالی عنه سره ملگری ووم هغه د شپی په کورونو او بازارونو گرځیدلو ستړی شو- یو دیوال ته ئے ډډه ولګوله او شپه نیمی ته رسیدلی وه. د یوے زنانه آواز ئے واوریدو چه خپلی لور ته وای بچی پاڅه پدی شودو کښ اوبه وارچوه. لور ئے ورته اویل چه مور تاته پته نشته چه عمر رضی الله تعالی عنه نن دا اعلان کړی چه په شودو کښ به اوبه نه ارچوی. مور ئے ویل بچی پاسه په شودو کښ اوبه وارچوه. ته په داسی ځای کښ ئے چه نه دِ عمر رضی الله تعالی عنه وینی او نه دِ د هغه اعلان کونکی وینی.

هغه جینې اویل چه مور داسی نشم کولی چه ښکاره به د عمررضی الله تعالی عنه خبره منم او چه ځانله شم نو نافرمانی ېئے کوم.

عمررضی الله تعالی عنه دا ټولی خبری واوریدے. اسلم رحمه الله تعالی ته ئے اویل چه دا ځای معلوم کړه او پدے دروازه نښه وکړه. بیا په تور تم کښ روان شو. چه کله سحر شو. اسلم رحمه الله تعالی ته ئے اویل چه هغه ځای ته لاړشه معلومات وکړه چه دا جینې څوک ده او دغه زنانه څوک ده. او د دے کور خاوند شته او که نه . اسلم رحمه الله تعالی وای چه څه هغه ځای ته راغلم چه ما معلومات وکړو نو د هغه جینې خاوند نه وو. او دغه زنانه د دے مور وه او سړی پکښ نه وو.

عمررضی الله تعالی عنه ته راغلم هغه ته م بیان وکړو . عمررضی الله تعالی عنه خپل ځامن راجمع کړل او ورته ویویل چه که په تاسو کښ کوم یو د زنانه ضرورت لری نو چه څه ورله نکاح وکړم. او کچری په ما کښ د زنانوو څه حرکت وی نو تاسو به څما نه دے زنانه ته نه وی مخکښ شوی.

عبدالله رضی الله تعالی عنه ویل څما نکاح شته - عبدالرحمن رضی الله تعالی عنه هم ویل څما بی بی شته - عاصم رضی الله تعالی عنه ویل پلاره څما بی بی نشته ماته ئے نکاح کړه. نو عمررضی الله تعالی هغه جینی ته پیغام ولیګو. او عاصم رضی الله تعالی عنه ته ئے په نکاح کړه. د عاصم رضی الله تعالی عنه د هغه جینی نه لور پیدا شوه او د هغه لور نه بیا عمربن عبدالعزیزرحمه الله تعالی پیدا شو. (ایقاظ اولی الهمم العالیه ص ۱۲۶ صفة الصفوه لابن الجوزی ص ۲۰۳ ج ۲ بحواله حیاة الصحابیات)

**د زنانو د پاره علم حاصلول** --- پکاردا ده چه زنانه هم قرآن او حدیث زده کړی. څکه د الله تعالی حکم دے چه <u>واذکرن ما یتلی فی بیوتکن من آیات الله و الحکمة</u>. ستاسو په کورونو کښ چه کوم قرآن او حدیث بیانیږی نو هغه یاد کړی.

او په بخاری شریف کښ باب راځی چه <u>باب تعلیم الرجل امته و اهله</u> باب دے په بیان د تعلیم ورکولو د سړی کښ خپلی وینځی ته او د کور والا ته . او بیا ئے روایت ذکرکړی چه دری کسانو له به الله تعالی دوه اجره ورکوی. یو پکښ هغه سړی دے چه د هغه سره وینځه وی او دا ورله ښه ادب او ښه تعلیم ورکړی.

ابن حجر رحمه الله تعالی وای چه هر کله د وینځو په ادب او تعلیم کښ دا اجر دے نو د آزادو او اصیلو زنانو په تعلیم کښ هم دا اجر دے.ځکه آزادو زنانو ته د الله تعالی حکمونه او د پیغمبر طریقی ښودل ډیر زیات ضروری دی په نسبت د وینځو - ( فتح الباری ص ۲۲۹ ج ۱)

بل باب امام بخاری رحمه الله تعالی دا ذکر کړی. باب عظة الامام النساء و تعلیمهن باب دے په بیان د نصیحت د امام کښ زنانو ته او تعلیم د امام زنانو ته. ابن حجر رحمه الله تعالی وای چه امام یا د هغه نائب لره مستحب ده چه زنانو ته وعظ وکړی. بل باب امام بخاری رحمه الله تعالی دا ذکر کړی چه د زنانو د تعلیم د پاره وخت خاص کول پکار دی. امام بخاری رحمه الله تعالی وای باب هل یجعل للنساء یوم علی حدة فی العلم.

بلکښ زنانو لره پکار دی چه د علم په حاصلولو کښ ډیر حرص وکړی. عائشه رضی الله تعالی عنها وای. نعم النساء نساء الانصار لم یمنعهن الحیاء ان یتفقهن فی الدین. ډیری ښے زنانه دی زنانه د انصارو نه منع کوی دوی لره حیاء د دینه چه ځان پوهه کړی په دین.

( بخاری کتاب العلم مسلم کتاب الحیض)

## مقصد د علم نه عمل کول دی.

لکن دا خبره ضروری ده چه د علم نه مقصود عمل کول دی. عطاء رحمه الله تعالی وای چه د ام المؤمنین عائشه رضی الله تعالی عنها خواته به یو ځوان راتلو تپوسونه بۀ ئے کول او عائشے رضی الله تعالی عنها به ورته حدیث بیانول . یوه ورځ راغلی تپوس ئی کولو عائشه رضی الله تعالی عنها ورته اویل چه یا بنی هل عملت بعد ما سمعت منی . آیا تا عمل کړی روستو د هغی نه چه تا ځما نه حدیث اوریدلی. هغه ویل لا والله یا امَ. نه ځما دی په الله تعالی قسم وی اے موری. عائشه رضی الله تعالی عنها ورته اویل یا بنی فبما تستکثر من حجج الله علینا و علیک. ( اقتضاء العلم والعمل للخطیب البغدادی ص ۶۰) بچیه ولې ډیره وی دلائل د الله تعالی ته په مونږ او په خپل ځان

## د زنانو عاجزی او دخپلی کوتاهی احساس

زنانو له پکاردی چه په ځان کښې عاجزی پیدا کړی.او د خپلی کوتاهی احساس وکړی. ځکه عاجزی او تواضع د مؤمنانو ډیر غوره صفت دے. ( او د عاجزی په موضوع مخکښې مونږ دوه بیانونه لیکلی.)

ابن ابی ملیکه رحمه الله تعالی وای چه د اسماء رضی الله تعالی عنها په سر به درد راغلے نو لاس بۓ په سر کیښود او ویل به ۓ چه یذنبی. دا درد ځما د ګناهونو په وجه دے. و ما یغفر الله اکثر. او هغه ګناهونه چه الله تعالی ئی معاف کوی. هغه ډیرزیات دی. (صلاح الامة فی علو الهمة ص ۱۶۶ ج ۷)

**فائده** :- دا د اسماء رضی الله تعالی عنها عاجزی وه. او د خپلو ګناهونو احساس وو. او معلومه شوه چه په انسان هرتکلیف راشی. نو پکاردی چه خپلو ګناهونو ته نسبت کوی. چه دا تکلیف او پریشانی ځما د ګناهونو په وجه ده.

## د زنانو د پاره د خپل کور او خاوند خدمت

پکاردا ده چه زنانه د خپل کور او خاوند خدمت کوی. او نیت د ثواب د هم کوی. ځکه په خدمت سره په انسان کښې عاجزی هم پیدا کیږی. او ثواب هم کیږی.

ابن اعبد رحمه الله تعالی وای چه ما ته علی رضی الله تعالی عنه اویل چه فاطمه رضی الله تعالی عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور وه او ډیره ورته ګرانه وه. او ځما بی بی وه . میچن بۓ ګرځوله تردی چه میچن د دی په لاس کښې نبنی کړی وی. او په مشک کښې بۓ اوبه راوړی. تردی چه مشک د دی په سینه کښې نښه کړی وه. او کور بۓ جارو کولو. تردی چه په جاموئی ګردونه وو. او د کټوی لاندی بۓ اور بلولو تردی چه جامی ئی خیرنی شوی وی. او د دی نه ورته تکلیف رسیدلے وو. (صفة الصفوة ص ۱۳ ج ۲)

عطاء بن ابی رباح رحمه الله تعالی وای چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور فاطمه رضی الله تعالی عنها به وره اشکل و انَ قصتها لتضرب الارض و الجفنة او د دی د مخی طرف ویښتو به زمکه او ښانک وهلو . یعنی ویښته بۓ زمکی او ښانک ته رسیدل .

اسماء بنت ابی بکر رضی الله تعالی عنها وای چه ما به ( د خپل خاوند) زبیر رضی الله تعالی عنه د اس د ښو وغیره خدمت کولو او د هغه د اوښی د پاره به م بمبتی ټکولی او واښه به می ورکول او اوبه به می راوړی. او بوکه به می ډکوله. او وړه به می اښکل. او د زبیر رضی الله تعالی د زمکی نه به می بمبتی ( د کجورو اډوکی) راوړل دا زمکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ورکړی وه. او دا زمکه دری فرسخه جدا وه. ( بخاری و مسلم)

**فائده:-** فاطمه او اسماء رضی الله تعالی عنهما د غتو غتو پلارانو نونړه وی. ځکه یوه د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور ده او بله د ابو بکر رضی الله تعالی عنه لور ده. او د اوچت خاندان نه دی. او بیا هم د خاوند او د کور دومره ډیر خدمت کوی.

## د خاوند تابعداری

په زنانو چه څرنګی الله تعالی نور حکمونه او حقوق فرض کړی. نو دغه رنګ یو حکم او حق پے الله تعالی دا فرض کړی چه د خاوند تابعداری به کوی. د هغه نافرمانی د نه کوی او بد اخلاق د ورسره نه کوی. رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه کله زنانه پینځه وخته مونځ کوی. د رمضان روژه نیسی د خپل عورت حفاظت کوی. د خاوند تابعداری کوی. نو قیل لها دی ته به اویلی شی چه ادخل الجنة من ای الابواب شئت. جنت ته ننوزه په کومه دروازه چه ستا خوښه شی. ( مسند احمد ص ۱۱۹ ج ۱ مشکوۃ)

د حصین بن محصن رضی الله تعالی عنه ترور ته رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی وو. فانظری این انت منه فانما هو جنتک و نارک. سوچ کوه چه ته د خاوند سره څرنګی وخت تیروی. ځکه خاوند یا ستا جنت دے یا ستا جهنم دے.( مسند احمد ص ۳۴۱ ج ۴)

اسماء بنت یزید الانصاریه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی وو چه په خبره ځان پوهه کړه او نوری زنانه هم پوهه کړه. چه ان حسن تبعل المرءۃ لزوجها و طلبها مرضاته چه یوه زنانه د خاوند سره ښه جوند تیروی او د هغه رضا طلب کوی او د هغه تابعداری او موافقت کوی. یعدل ذالکه کله. د دی ټولو اعمالو سره برابریږی. یعنی کومه زنانه چه د خاوند سره ښه جوند تیروی او د هغه

تابعداری کوی. نو دا د نارینو د حجونو عمرو او جهاد او د جمی او جمعی او د بیمار پرسی او جنازو د دے ټولو اعمالو سره برابریګی.

**فائده:-** دا روایت مونګ مختصر ذکرکړو. د دی په تفصیل کښ دا خبره رازی چه دا زنانه نورو زنانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د وفد په شکل رالیږلی وه. ( یعنی د زنانو په نمائندګی راغلی وه. ) او تپوس ئے وکړو. چه نارینه د جمی او د جمعی مونځونه کوی. بیمار پرسی او جنازی او حجونه او عمری او جهادونه کوی. او مونګ د کور خدمتونه کوو. نو آیا مونګ ستاسو سره په اجر او خیر کښ شریک یو او که نه. رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه مخکښ جواب ورکړو. ( اسد الغابه ص ۱۹ ج ۶ و اخرجه البیهقی فی شعب الایمان)

## واقعه د ام سلیم او ابو طلحه رضی الله تعالی عنهما

انس بن مالک رضی الله تعالی عنه وای چه د ابو طلحه رضی الله تعالی عنه ځوی وو. د ام سلیم رضی الله تعالی عنها نه هغه وفات شو. ام سلیم رضی الله تعالی عنها د کور والا ته اویل چه ابو طلحه رضی الله تعالی عنه تاسو مه خبروی. ترڅو چه ما نه وی خبر کړی. ابو طلحه رضی الله تعالی عنه کور ته راغلے. ام سلیم رضی الله تعالی عنها ورته د ماښامی ډوډی کیښوده. هغه خوراک څکاک وکړو. بیا ئی ورته ځان ښائسته کړو. هغه ورسره کور والے وکړو. هرکله چه هغه خوراک څکاک کور والے وکړو. نو ام سلیم رضی الله تعالی عنها ورته اویل کچری خوک د یو کور والا سره امانت کیدی او بیا د هغه کور والا نه خپل امانت غواړی. نو آیا د کور والا لره دغه امانت منع کول جائز دی نو هغه اویل نه . نو ام سلیم رضی الله تعالی عنها ورته اویل چه د ځوی په باره کښ امید د ثواب ساته (هغه وفات شوی) ابو طلحه رضی الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا ته لاړ او دا قصه ئی ورته بیان کړه. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اویل بارک الله لکما فی غابر لیلتکما . الله تعالی دی تاسو له پدے شپه کښ برکت وارچوی. ( اخرجه مسلم کتاب فضائل الصحابه) .

الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه دعاء قبوله کړه. د ام سلیم رضی الله تعالی عنها د دغی شپی د حمل نه یو بچی پیدا شو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورله عبدالله نوم کیښود . د دغه عبدالله بیا نهه اولاد پیدا شو. کلهم یحملون العلم والقرآن. ټول عالمان د قرآن او قاریان وو.

فائده :- ام سلیم رضی الله تعالی عنها خاوند خوشحاله کړو او د خفګان نه ئے بچ کړو. نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعاء ئی نصیب شوه او الله تعالی ئ په نسل کښې برکت اوغورزولو.

## د اولاد تربیت

زنانو له پکار دی چه د اولاد صحیح تربیت وکړی. ځکه د مور غیګ اوله مدرسه د ماشوم ده. نوپکارده چه ماشوم د مونځونو او روژو سره عادت کړے شی. ښائسته اخلاق او آداب ورته اوښودلے شی. امر بالمعروف او نهی عن المنکر ورته وکړی شی. ربیع بنت معوذ رضی الله تعالی عنها وای. چه مونږ به د عاشورے روژه نیوله او واړه ماشومان به هم مونږه روژه کول . چه کله ئې په ډوډی پسی ژړل نو مونګ به نیزکی ورکولی په هغه به مونږ مشعوله کړل. چه ډوډی ته ئے فکر نه وی. ( بخاری بحواله حیاة الصحابیات ص ۲۸ )

**فائده** - معلومه شوه چه صحابیاتو به ماشومان هم روژه کول دغه رنګی حجونو ته ئې هم بیول.

ابن عباس رضی الله تعالی عنه وای چه یوے زنانه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ماشوم پورته کړو. او ویویل چه الهذا حج. آیا د دےحج کیږی. رسول الله صلی الله علیه وسلم اویل نعم و لک اجر. آو او ستا د پاره ثواب دے. ( مسلم کتاب الحج)

فائده - معلومه شوه چه د ماشوم هم حج صحیح کیږی او چه څوک ئے د ځان سره بوځی نو د هغه هم ثواب کیږی.

ام سلیم رضی الله تعالی عنها چه کله ایمان راوړو نو انس رضی الله تعالی ته ئې ویل چه قل لا اله الا الله قل اشهد ان محمدا رسول الله . لا اله الا الله اوواېه. اشهد ان محمد الرسول الله او وایه ( الطبقات لام ابن سعد

او چه کله انس رضی الله تعالی عنه لس کالو ته ورسید نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئے حواله کړو. چه دا به ستا خدت کوی

## د زنانو عبادت او جړا

قاسم رحمه الله تعالی وای چه یوه ورځ د عائشه رضی الله تعالی عنها خوا ته راغلم هغه ولاړه وه نفل ئے کول. دا آیات ئے باربارلوستو چه فمن الله علینا و وقانا عذاب السموم او دعاء ئے کوله او جړل ئ څه ډیروخت ودریدم تردے چه ستړی شوم بیا بازارته د څه کارد پاره لاړم چه واپس شوم . عائشه رضی الله تعالی هغه رنګی ولاړه وه مونځ ئے کولو او جړل ئے. ( صفة الصفوة ص ۳۱ ج۲)

د حفصی رضی الله تعالی عنهاپه باره کښ راځی چه صوّامة قوّامة. دا د مبالغے الفاظ دی. یعنی ډیری روژی یئے نیولی. او ډیر مونځونه یئے کول.

د حفصه بنت سیرین رحمها الله تعالی په باره کښ راځی . چه دے دسند یوه وینځه واخسته د دغ وینځی نه چا تپوس وکړو. چه ستا مولاګی څرنګی ده هغے اویل چه ډیره نیکه ښځه ده لکن یوه ډیره لویه ګناه ئے کړی. ټوله شپه جاړی او مونځونه کوی. ( صلاح الامه فی علوّ الهمه ص ۱۷۴ ج ۷)
داجړاد‌الله تعالی دویری نه وه لاکن داوینځه پدی خبره نه پوهیده

## د زنانو صدقے او خیراتونه

ام ذره رضی الله تعالی عنها وای چه عبدالله بن زبیر رضی الله تعالی عنه عائشه رضی الله تعالی عنها ته دوه بوجی مال راولیږو. ام ذره وای څما ګمان دا دے چه یو لاک اتیا زره ۱،۸۰،۰۰۰ روپی وی. عائشه رضی الله تعالی عنها په دغه ورځ روژه وه. پلیټ ئے را اوغوښتو دغه روپی ئے د خلقو په مینځ کښ تقسیم کړی. تردے چه یوه روپی ورسره هم پاتی نشوه. چه ماښام شو. وینځی ته ئے آواز وکړو چه څما روژه ماتی راوړه هغے ورله ډوډی او د زیتون تیل راوړل . ام ذره رضی الله تعالی عنها ورته اویل چه آیا ستاسو دومره وس نه کیدو چه په دغه روپو کښ د مونږ له د یوے روپی غوښه اخستی وی. او روژه مو پے ماته کړی وی. عائشه رضی الله تعالی عنها ورته اویل چه ما مه رټه که څما فکر وی نو دغه کار به مِ کړی وی. ( صفة الصفوة ص ۴۹ ج ۲)

عبدا لله بن زبیر رضی الله تعالی وای چه د عائشه او اسماء رضی الله تعالی عنهما په شان سخاوت ما په چا کښ نه وولیدلی او د دوی سخاوت مختلف وو.

عائشی رضی الله تعالی عنها به جمع کوله چه کله به ورسره څه شی جمع شو. نو تقسیم کولو یئے. او اسماء رضی الله تعالی عنها به د صبا د پاره هیڅ شی نه جمع کولو. (صفة الصفوة ص ۸۵ ج ۲)

## د زنانو د خپلو بنو نه معافی غوښتل

عائشه رضی الله تعالی عنها وای چه ام حبیبه رضی الله تعالی عنها چه کله وفات کیده نو څه ئے را اوغوښتلم او راته ویویل <u>قد کان بیننا ما یکون بین الضرائر</u>. زمونږ په مینځ کښې هغه څه وو کوم چه د بنو په مینځ کښې راځی . الله تعالی د ما معاف کړی. او تا ته ځما د طرف نه معافی ده. ما ورته اویل چه الله تعالی دتاته دغه هرڅه معاف کړی ام حبیبی رضی الله عنهااویل تا څه خوشحاله کړم. الله تعالی دِ تا خوشحاله کړی. بیا ئے ام سلمه رضی الله تعالی عنها ته جواب ولیګو. هغې ورته هم دغه خبره وکړه. ( صفة الصفوه ص ۴۶ ج ۲)

## د زنانو ستر او پرده

د ستر او پردے بیان مونږ مخکښې تفصیلا لیکلی لکن بیا هم د پردے او ستر متعلق یو څو خبری کوو.

**یو** دا چه د پردو خلقو سره خلوت او په غیر د محرم نه سفرکول حرام دی. ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای <u>لا یخلونّ رجل بامرأة الا و معها ذو محرم و لا تسافر المرأة الا مع ذی محرم</u>. خلوت د نه کوی یو سړی د یو زنانه سره مګر چه د هغې سره محرم وی. او سفر د نه کوی زنانه مګر د محرم سره. یو سړی پورته شو ویل یا رسول الله ځما ښځه د حج د پاره وتلی او ما ځان په فلانی او فلانی غزا کښې لیکلی. رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل لاړشه د خپلی ښځی سره حج وکړه. ( اخرجه البخاری و مسلم فی الحج )

**دویم** دا چه د زنانو خواته د محرم نه علاوه د بل چا د پاره داخلیدل حرام دی. ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای <u>ایاکم والدخول علی النساء</u> ځان وساتی د داخلیدلو نه په زنانو یو انصاری اویل <u>یا رسول الله افرأیت الحمو</u>. د لیور څه حکم دے. هغه ویل <u>الحمو الموت</u> . لیور مرګ دے. ( اخرجه البخاری فی النکاح و مسلم فی الادب )

قرطبی رحمه الله تعالی وای د لیور داخلیدل ئے د مرګ سره مشابه کړو په قباحت او فساد کښې او دا مبالغه ده په زورنه کښې ځکه خلق پدیکښې چشم پوشی کوی. (المفهم ص ۵۰۱ ج ۵)

**دریم** دا چه زنانو لره د نارینو د اختلاط او ګدون نه ځان ساتل پکار دی. اګر چه د عبادت ځایونه وی. ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه غوره صفونه د نارینو اولنی دی او ناکاره صفونه روستنی دی. او غوره صفونه د زنانو روستنی دی او ناکاره اولنی دی.

قرطبی رحمه الله تعالی وای چه اولنی صف د زنانو ځکه ناکاره دے چه پدیکښ نارینو ته نزدیکت دے. نو دا ویره ده چه دوی به په یو بل مونځ ګډ وډ کړی. ( المفهم ) یعنی زنانو ته نزدیکت عبادت متأثره کوی.

**څلورم** دا چه کله زنانه د کور نه اوځی نو عطر د نه لګوی. ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای ایما امرأة استعطرت فمرت علی قوم لیجدوا من ریحها فهی زانیة. کومه زنانه چه عطر ولګوی او دا په یو قوم تیره شی چه د دے خوشبوی محسوسه کړی. نو دا زناءکاره ده. ( ابو داؤد فی الترجل و الترمذی فی الاستئذان و النسائی فی الزینة)

**پینځم** دا چه د پردو نارینو سره د بے ضرورته خبری نه کوی.

بنت عفیف رضی الله تعالی عنها وا ی چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا ته د بیعت د پاره راغلو فاخذ علینا ان لا نحدّث الرجال الا محرماً رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ نه دا وعده واخسته چه مونږ به خبری نه کوو د نارینو سره مګر چه محرم وی. (اسد الغابه ص ۳۳۶ ج ۶)

یا الله مونږ له د نیک اعمالو او صحیح توبے توفیق راکړی او زمونږ کمی او کوتاهی مونږ ته معاف کړی.

اللهم صل علی سیدنا و نبینا محمد و آله .

تمت

# د پردے بیان

الحمد لِلّه والصلوٰة والسلام علی رسول الله ـ واشهد ان لااله الا الله وحده لاشریک له واشهد ان محمدا عبد ورسوله اما بعد فاعوذ با الله من الشیطان الرجیم ، وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَات يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ وَيَحفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ زِينَتَهُنَّ اِلَّا مَاظَهَرَ مِنْهَاْ الآية

دا د سورة نور یو دیرشم نمبر آیات دے په سورة نور کښ الله تعالیٰ د پاکدامنی او پردی احکام بیانوی چه زنانه پاکه محفوظه او په پرده کښ اوسیږی ـ ددے د پاره چه بے حیائی بے غیرتی فحاشی عریانی دیوثی بنده شی ـ او ددے د پاره په سورة کښ څلور احکام او لس آداب بیانیږی ـ

اول حکم په زانی رحم مکوی - دویم حکم د زناء او زناء کارو نه نفرت اوکړی - دریم حکم حدقذف چه څوک په پاکانو تور ولږی نو مغوی له اتیا دوری ورکړی- څلورم حکم بیان د لعان د دے دپاره چه د ښځے او خاوند په مینځ کښ لفظ د فحشاء او تهمت د زناء بند شی ـ بیا د اویشتم ایات نه تر پینځه دیرشم پوری لس آداب بیانیږی ـ اول ادب دادے چه پردی کور ته بے اجازته او بے سلامه مه داخلیږی - دویم دا چه د خپل نظرونو او عورتونو حفاظت وکړی ـ

دریم ادب زنانووته حکم دے چه خپل نظرونه ښکته کړی لکه څرنگی چه نارینه منع دی د نظر کولونه پردو زنانووته نو دارنگی زنانه هم منع دی د نظر کولو نه پردو نارینوو ته ـ

څلورم ادب حفاظت د فروجو چه زنانه دِمم د خپل عورتونو حفاظت کوی ـ پینځم ادب خپل زینت دِ نه ښکاره کوی زینت خلقی وی لکه مخ بدن او که کسبی وی لکه جامی کالی رانجه وغیره ـ

شپږم ادب خپل پړونی دِ په گریوانونو اچوی یعنی لوپټه یا پړونی دِ په داسی طریقه اچوی چه سر او گریوان ورسره پټ شی ـ

اووم ادب زنانه دِ په داسی طریقه قدم نه گدی چه د کالو آواز ئے اوریدلی شی څکه پدی سره په زړه کښ شهوت پیدا کیږی ـ

اتم ادب ـــے واده کسانو لره ودونه وکړی دا رنگی مریانو او وینځو لره هم ودونه وکړی ځکه په واده نه کولو سره په معاشره کښ بدکاری او بدنامی ډیریږی ۔

نهم ادب چه خپل مریان مکاتب کړی ځکه په کومه معاشره کښ چه مریان او وینځی ډیری وی نو په هغه کښ بدکاری ډیره پیداکیږی ځکه مغوی په خپله د نکاح اختیار نه لری او مولاﺋے د نکاح خیال نه ساتی ۔

لسم ادب خپلی خویندی او لونړه د نکاح نه مه منع کوی او ډیر مهرته ﺋے مه روسته کوی دارنگی وینځی د مال د گټلو دپاره په زنا مه مجبوره کوی ۔ ځکه دا سبب د بدکاری دے ۔

## د پردی د فرضیت په باره کښ آیاتونه

د قرآن کریم د څلور آیاتونو نه د پردی فرضیت معلومیږی ۔

اول دا چه الله تعالیٰ وائی ، وَإِذَا سئلتموهن متاعا فسئلوهن من وراء حجاب ( سورة احزاب ۵۳ ) ۔ ددینه فرضیت د پردی معلومیږی ځکه پدیکښ حکم شوی چه څه شی غواړی نو دپردی نه آخوا ﺋے غواړی اوداترینه هم معلومیږی چه د نارینو او زنانو اختلاط حرام دے ۔

دویم دا آیات دے ، يٰاَيُّهَا النَّبِيُّ قل لازواجک وبناتک ونساء المؤمنين يُدنين عليهن من جلابيبهن ( سورة الاحزاب ۵۹ ) ای نبی علیه السلام اووایه خپلو بیبیانو او نونړو ته او زنانوو د مؤمنانو ته چه رازوړند کړی په ځانونو خپلو ځادرونه (پړونی ) خپل ۔ ابن عباس رضی الله عنه وائی چه الله تعالیٰ امر کړی چه کله د مؤمنانو زنانه د کورونو نه د څه ضرورت دپاره اوزی نو د سرونو دپاسه نه دِ خپل مخونه په غټ ځادر پټوی او یوه سترگه دِ ښکاره کوی ( تفسیر ابن جریر ص ۲۲۴ ج ۲۱ با اسناد حسن ) ابوبکر جصاص رحمه الله وائی چه ځوانه زنانه به د پردو خلقو نه خپل مخ پټوی او خپله پرده او پاکی به ښکاره کوی چه شکیان خلق ورته طمع ونکړی ۔

دریم دا ایات دے وَلَا يبدين زينتهن ( سورة نور ۳۱ ) او نه دِ ښکاره کوی خپل زینت پدی ایت کښ الله تعالیٰ د پردو نارینو په مخکښ زینت ښکاره کول حرام کړی ۔

څلورم دا ایات دے ، والقواعد من النساء التی لایرجون نکاحا فلیس علیهن جناح ان یضعن ثیابهن غیر متبرجات بزینة وان یستعففن خیرلهن والله سمیع علیم ( سورة نور ۶۰ ) دا د پردی په باره کښ څلورم ایات دے لیکن بوډی زنانه ئے مستثنی کړی او د ثیاب نه مراد مغه غټی څادری دی چه ټول بدن ـے پټیږی یعنی که بوډی زنانه غټ څادر یا برقعه نه په ځان کوی نو په دوی څه گناه نشته ـ

د نیکانو زنانو په باره کښ هم پرده او حیاء راځی لکه فاتخذت من دونهم حجابا (سورة مریم ١٧ ) او فجاءته احداهما تمشی علی استحیاء ( سورة قصص ۲۵) ـ

## د پردی په باره کښ حدیثونه

١ـ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله علیه وسلم صنفان من اهل النارلم ارهما قوم معهم سیاط کا ذناب البقر یضربون بهاالناس ونساء کاسیات عاریات ممیلات مائلات رؤوسهن کا سنمة البخت المائلة لایدخلن الجنة ولایجدن ریحها وان ریحها لیوجد من مسیرة کذاوکذا (رواه مسلم )

رسول الله ﷺ وائی چه دوه قسمه جهنمیان دی چه مانه دی لیدلی یو مغه قوم دے چه د مغوی سره به چابکونه وی په شان د لکو دغواگانو چه وهی به په مغے سره خلقو لره دویم مغه زنانه چه جامی ئے اغوستی وی او بربنډی وی ـ مائله کونکښ به وی پردی نارینه خپل ځان ته او مائله کیدونکی به وی پردو نارینوته د مغوی سرونه به په شان د گوپونو د مغه بختی اوښانو وی چه کاگه وی ـ دوی به جنت ته داخلے نه شی او نه به د جنت بوی بیاموئ او یقیناً خوشبوی د جنت خامخا مندلی کیږی د مزل دومره او دومره نه ـ

د چابکونو والا نه مراد ظالمان پولیس دی ( کشف المشکل لابن الجوزی ص ۱۰۱ ج١ والنووی والدیباج وغیره ) په بل حدیث د ابومریره رضی الله عنه کښ راځی رسول الله ﷺ وائی ، یوشک ان طالت بک مدة ان تری قوما فی ایدیهم مثل اذناب البقر یغدون فی غضب الله ویروحون فی سخط الله ( شرح السنة للبغوی مسلم مسند احمد وغیره ) نندی ده کچری ته ژوندی پاتی شی چه ته به داسی

قوم وینی چه د مغوی په لاسونو کښې به د غواګانو د لکو په شان چابکونه وی چه صبا کوی به په غصه د الله کښې او بیګا کوی به په غصه د الله تعالیٰ کښې ـ

په بل روایت کښې داسی راځی ، سیکون فی اٰخر الزمان شرط یغدون فی غضب الله ویروحون فی سخط الله فایاک ان تکون من بطانتهم (التیسیر للمناوی فیض القدیر مسند الشامین ) په آخره زمانه کښې به داسی پولیس وی چه د الله تعلیٰ په غصه کښې به صبا او بیګا کوی نو ځان وساته د دینه چه ته د مغوی رازدار شی ـ

## په کاسیات عاریات وغیره کښې توجیهات

کاسیات عاریات پدیکښې ډیر توجیهات دی ۱ـ کاسیات ظاهرًا بۀ جامی اغوستی وی عاریات حقیقتًا به بربنډی وی ځکه نری جامی به وی لاندی بدن به پکښې ښکاری ـ( ۲) بربنډی به وی ځکه د بدن څه حصه بۀ ښکاری ـ( ۳ )کاسیات یعنی د الله نعمتونه به بے وی عاریات شکر به نه اداء کوی ـ

مائلات ممیلات په دیکښې هم ډیر توجیهات دی( ۱) دا دواړه په یو معنیٰ دی ( ۲)مائلات مائله کیدونکښې به وی شرته ممیلات مائله کونکے به وی نارینوو لره فتنے ته په دوی ـ( ۳)ـ مائلات کږی به وی د الله تعالیٰ د تابعداری نه ممیلات نوری زنانه به مائله کونکے وی د دوی په شان عمل ته ـ

( ۴)مائلات په ناز سره تلونکی به وی ممیلات مائله کونکی به وی خپلو ډډو او اوګو لره ـ

رؤوسهن کاسنمة البخت المائله پدیکښې هم توجیهات دی ، ۱ـ دوی به سرونه غټونکی وی ځکه د سرونو سره به نور ویښته یو ځای کوی په ویښتو او لوپټو به سرونه غټه وی نو د بختی اوښانو د ګوپونو په شان به وی په اوچتوالی کښې ـ

۲ـ پردو نارینوو ته به پورته کتونکی وی نظرونه به نه ښکته کوی سرونه به نه ټیټه وی ( کشف المشکل من حدیث الصحیحین لابن الجوزی ص ۱۰۳۱ ج۱ ) بے حیاء به وی ـ

**فائده** امام نووی رحمه الله وائی چه دا حدیث د رسول الله ﷺ نه یوه معجزه ده ځکه دا دواړه قسمونه موجود شوی ـ

## د پردے په باره کښې د ننګ او غیرت واقعات

١ ـ موسیٰ علیه السلام چه کله د مدین نه مصر ته واپس کیدو نو د شپې ئې سفر کولو ددے د پاره چه د پردی نارینه ځما په زنانه نظر اونه لګی ـ

٢ـ ابوهریره رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ اویل چه په داؤد علیه السلام کښې ډیر سخت غیرت وو کله به چه د کور نه وتلو نو دروازے ئې بندولې د داود علیه السلام د واپسی پوری به دده کورته څوک نشو داخلیدلې داؤد علیه السلام یوه ورځ اووتلو او دروازے بندے کړې ـ یوه زنانه کورته راښکاره شوه د کور په مینځ کښې یو سړی ولاړ وو۔ د کور والا ته ئے اویل چه دا سړی د کوم طرف نه داخل شوی حالانکے دروازے بندے دی ـ والله لنفتضحن بداؤد ځما دِ په الله تعالیٰ قسم وی چه مونږ به داؤد علیه السلام ته شرمنده شو - پدے مینځ کښې داؤد علیه السلام راغلی او دغه سړی د کور په مینځ کښې ولاړ وو ـ

داؤد علیه السلام ویل ته څوک ئے مغه ویل الذی لا یهاب الملوک ولا یمتنع من الحجاب ، څه مغه څوک یم چه د بادشاهانو نه نه ویریږی او په پردو نه حصاریږی ـ داؤد علیه السلام ورته اویل انت اذا والله ملک الموت مرحبا بامر الله ، قسم په الله تعالیٰ ته خو ملک الموت ئے د الله تعالیٰ فیصلے ته دِ هرکلے وی ـ داؤد علیه السلام خپل ځای ته راکوز شو روح ئے واخستلی شوه تردے چه دده کار ختم شو - نمر راوختلو سلیمان علیه السلام مرغانو ته حکم وکړو چه په داؤد علیه السلام سوری وکړی مرغانو ورته سوری وکړو تردے چه زمکه تیاره شوه ، سلیمان علیه السلام مرغانو ته حکم وکړو چه یو یو وزر راټول کړی ( مسند احمد ابن کثیر ٥٤٣ ج ٣ ) ـ

**دریمه واقعه** فاطمه رضی الله عنها مسواک وهلو نو علی رضی الله عنه پدے غیرت وکړو چه ددے د اورونه مسواک لریږی نو دا شعر ئے اولوست

لقد فزت یا عود الاراک بثغرها　　　وما خفت یا عود الاراک اراکا

لوکنت من اهل القتال قتلتک ومالی یا سواک سواکا

په تحقیق سره ته کامیاب شوی په اورو ددے او ته نه یریږی ای لرګیه د پیلو چه څه تا وینم که ته د خاوندانو د جنګ نه وی نو ما به ستا سره جنګ کړی او نشته مالره ای مسواک ماسوا ستانه

( ارشیف ملتقی اهل الحدیث ص ۲۸ ج۱۴ )

**څلورمه واقعه** د عبد الله بن عمررضی الله عنه بی بی د یو سړی سره د دیوال نه آخوا خبرې کولی هغه سړی ددے بی بی رشته دارو و لکن عبد الله بن عمررضی الله عنه ته پته نه وه نو عبدالله بن عمرؓ د کجورو لښتے راجمع کړی او ډیره زیاته ئے اووهله ۔

**پینځمه واقعه** معاذ بن جبل رضی الله عنه منړه خوړله بی بی ورسره وه د معاذ بن جبل رضی الله عنه غلام رانووتلو بی بی هغه غلام ته منړه ورکړه او د هغه منړے نه دے بی بی خوراک کړیو نو معاذ رضی الله عنه ورله دومره وهل ورکړل چه درمنده ئے کړه ۔

**شپږمه واقعه** -د رَیْ قاضی موسٰی بن اسحاق ته یوه زنانه راغله په خپل خاوند ئے د پینځه سوه اشرفو مهر دعوه وکړه خاوند انکاروکړو ۔ زنانه ګواهان پیش کړل ۔ ګواهانو اویل چه دا دِ مخ ښکاره کړی چه مونږ ئے وپیجنو چه آیا دا هغه زنانه ده او که نه ۔ هرکله چه ګواهانو پدے اصرار وکړو نو خاوند ئے اویل ، لاتفعلوا هی صادقة فیما تدعیه ، مخ ئے مه ښکاره کوی دا په خپله دعوه کښ رشتینی ده ۔ خاوندئے دا اقرار په ځان ځکه وکړو چه د زنانه مخ ئے ښکاره نشی زنانه پوهه شوه چه دا اقرار ئے ځکه وکړو چه ځما مخ پردو نارینوته ښکاره نشی نو هغه زنانه اویل چه دیته ځما مهر معاف دے په دنیا او اخرت کښ۔

**اوومه واقعه** فاطمه رضی الله عنها وائی خیرللمرأه ان لاتری الرجال ولایرونها د زنانه دپاره غوره داده چه دا پردی نارینه او نه وینی او پردی نارینه دے لره اونه وینی ۔ عبد الله بن عباس رضی الله عنه وائی د رسول الله ﷺ لور فاطمه الزهراء رضی الله عنها چه کله په مرض موت بیماره وه ۔ نو اسماء بنت عمیس رضی الله عنها ئے بیمارپرسی له راغلی وه ۔ فاطمه رضی الله عنها اویل د زنانوو سره چه د مرګ نه روستو کومه طریقه کولی شی هغه څه ډیره بده ګنړم چه په زنانه کپړه اوغورزولی شی او بدن ئے پکښ معلومیږی څه مرم خو ماته ددینه حیاء راځی چه په کټ کښ ښکاره ځما جنازه

واخستلی شی او خلق څما اوګدوالی او پلنوالی یعنی څما قد معلوم کړی (مخکښ د نعش طریقه نه وه
)

اسماء رضی الله عنها ورته اویل چه په حبشو کښ ما لیدلی وو چه مغوی نعشونه جوړول (یعنی د مړی دپاره خاص قسم کټونه ) او په هغه یئے د زنانوو جنازی وړلی او هغه څه جوړولی شم فاطمه رضی الله عنها ورته اویل چه هغه ماته اوښایه ۔ نو اسماء رضی الله عنها د کجورو شنی لښتی را اوغوښتلی هغه ئے کږی کړی او د پاسه ئے پے کپړه اوغورزوله ۔

فاطمه رضی الله عنها اویل چه دا خو ډیره ښائسته طریقه ده او اسماء رضی الله عنها ته ئے اویل چه کله څه مړه شوم نو ته او علی رضی الله عنه ماته غسل راکړی ۔ په اسلام کښ د ټولونه اول فاطمه رضی الله عنها په نعش کښ (یعنی په دغه خاص کټ کښ) وړی شویوه ( حیاة الصحابیات ص ۷۰ حجابک یا عفیفة ص ۹ ) ۔

**اتمه واقعه** ام المؤمنین سوده رضی الله عنها ته چا اویل چه ته حج او عمرے ته ولی نه ځی لکه خرنګی چه ستا خویندے حج او عمرے ته ځی هغے اویل چه مونږ حجونه او عمرے کړے ۔ او الله تعالیٰ ماته حکم کړی چه کور اوسیږم وقرن فی بیوتکن ۔ راوی وای څما دِ په الله تعالیٰ قسم وی چه دا د خپلے کمرے د دروازے نه نه وه وتلی تردے چه جنازه ئے ویستلی شوه ( حجابک یا عفیفة ۲۰ )
۔

**نهمه واقعه** قیس بن شماس رضی الله عنه وائی چه ام خلاد رضی الله عنها نبی ﷺ ته راغله او نقاب ئے وهلی وو ۔ د ځوی په باره کښ تپوس کولو او ځوی ئے شهید شویو یو صحابی ورته اویل چه ته د ځوی د تپوس دپاره راغلی او حال دادے چه نقاب دِ وهلی نو هغے اویل ، اِنْ اُرْزَأَ ابنی فلن اُرزأ حیائی ، که ځوی ته مِ مصیبت رسیدلی نو حیاء ته مِ مصیبت نه دے رسیدلی ۔

نبی کریم ﷺ ورته اویل چه ستا د ځوی دپاره د دوه شهیدانو اجر دے ځکه ستا ځوی اهل کتابو وجلی ( ابوداؤد کتاب الجهاد باب فضل قتال الروم علی غیرهم من الامم ) ۔

**لسمه واقعه** ابن بطوطه رحمه الله واقعه ذکر کړی چه یو عباسی خلیفه د بلخ والا ته په څه خبره غصه اوناراض شو هغوی ته ئے یو کس ولیګو چه ددوی نه ډیر تاوان او جرمانه واخله د بلخ زنانه او

ماشومان د خپل امیر داود بن علی بی بی ته راغلل چه مونږ دا تاوان نه شو اداء کولی ـ دغه بی بی دغه نمائنده ته یوه جامه ورکړه چه مغه په جواهراتو چړاو شویوه او د دغه جامی قیمت د دغه تاوان نه زیات وو۔ او ورته ویویل چه دا جامه خلیفه ته ورکړه دا د بلخ والا د طرف نه صدقه شوه ځکه د دوی حالت ډیر کمزوری دی ـ هر کله ځے چه دغه جامه بادشاه ته ورسوله او د مغه مخی ته ځے کښښوده او قصه ځے ورته بیان کړه ـ

خلیفه شرمنده شو او ویویل ، اتکون المرأة اکرم منا ، آیا زنانه زمونږ نه ډیر سخاوت کوی ـ خلیفه د بلخ والا ته دغه تاوان معاف کړو او دیو کال خراج ځے ورته هم معاف کړو۔ او مغه جامه ځے مغه زنانه ته واپس کړه ـ کله چه مغه بی بی ته جامه واپس شوه او د بادشاه قصه ځے ورته وکړه نو مغه زنانه تپوس وکړو چه ، اوقع بصر الخلیفة علٰی هٰذا الثوب ـ آیا د بادشاه نظر پدی جامه لګیدلی مغه قاصد ویل آو ـ

مغه زنانه اویل، لا البس ثوبا وقع علیه بصر غیر ذی محرم منی ـ ځه مغه جامه نه اغوندم چه په مغه د مغه چا نظر پریوتی چه مغه ځما محرم نه دے او حکم ځے وکړو چه دا جامه خرڅه کړی ـ او په دغه پیسوځے جمات جوړ کړو اود دغه جامی د قیمت نه دریمه حصه روپی هم پاتی شوی ـ

دغه بی بی امر وکړو چه دا روپی د جمات د یوے ستنی د لاندی دفن کړی کچری ضرورت شی نو دا به را اوباسی ـ

ابن بطوطه وائی چه دا جمات اوس هم آباد دے او وائی چه ، هو من احسن مساجد الدنیا وافسحها ، دا په دنیا کښې ښائسته جمات دے او ډیر فراخه دے ـ

**فائده** دا زنانه دومره غیرتی وه چه مغه جامه ځے هم نه اغوستله چه د غیر محرم نظر پے پریوتی وو۔

**یوولسمه واقعه** او د صحابیاتو عمل په آیاتونو د پردے ـ عائشه رضی الله عنها وائی چه کله د سورة نور دا آیاتونه نازل شو چه ، ولیضربن بخمرهن علی جیوبهن نو دا نصارو نارینه لاړ او زنانوو ته ځے دا آیاتونه ولوستل دغه رنګی سړی خپلی ښځی ته خپلی لور او خور ته او رشته دارو ته دا آیاتونه ولوستل نو د انصارو مریوے زنانه خپل څادر راواخستلو او خپل سرونه او مخونه ځے پے پټ

کډل دوچې د تصدیق او ایمان نه د الله تعالیٰ په کتاب ، سحرله د رسول الله ﷺ شاته (مانځه کښ) ولاړی وی مخونه او سرونه ئے پټ کړیو لکه په سرونو ئے کارغان ناست وی ( بحواله حجابک یا عفیفه )۔

## د چانه پرده شته او د چانه پرده نشته

قرآن کریم ټول دولس کسان ذکرکړی چه د دوی نه پرده نشته :۔ ۱۔ خاوندان ۲۔ پلاران ۳۔ سخر ۴۔ ځامن ۵۔ بنزی ٦ ۔ رونړه ۷۔ وریرونه ۸۔ خوریان ۹۔ زنانه ۱۰۔ وینځے د دوی ۱۱۔ هغه کسان چه د شهوت والا نه وی ۱۲ ۔ واړه ماشومان او غوره داده چه د تره او ماما نه هم پرده نشته ۔

د دوینه علاوه د نور ټولو خلقو نه پرده فرض ده اګرکه هغه رشته داروی مثلًا ۱۔ د تره ځوی ۲۔ د ترور ځوی (د پلار خوری ) ۳۔ د ماما ځوی ۴۔ د ترور ځوی (د مور خوری ) ۵۔ لیور ٦۔ اوښی (د ښځی د خور خاوند ) یعنی د سړی او ښینی په مینځ کښ ستر شته ۷۔ د خاوند اوښی ( د خاوند د خور خاوند ) ۸۔ د ترور خاوند (د پلار د خور خاوند ) ۹۔ د ترور خاوند ( دمور د خور خاوند ) ۱۰ ۔ د خاوند تره ۱۱۔ د خاوند ماما ۱۲۔ د خاوند د ترور خاوند کومه ترور چه د پلار د طرف نه وی ۱۳۔ د خاوند د ترور خاوند کومه ترور چه د مور د طرف نه وی ۱۴۔ د خاوند وراره ۱۵۔ د خاوند خوری

## د پردے متعلق یو څو اعتراضونه او جوابونه

۱ ۔ بعض ښځی وائی چه مونږ خو خپل لیور د ماشوم والی نه د ځان سره لوی کړی دا خو ځما د بچی په ځای دے بعض سړی هم وائی چه فلانی جینی خو ځما د لور په ځای ده ۔بعض جینی هم وائی چه فلانی سړی خو ځما د پلار په ځای دے د ده نه به څه څه پرده وکړم ۔

جواب داسی باطل خیالات د قیامت په ورځ کار نه کوی آیا رسول الله ﷺ د امت د ښځو دپاره د پلار په شان نه دے بیا ورته هم د پردے حکم دے ۔

۲ ۔ کله یو سړی بوډا شی نو بعض خلق وائی چه دده نه د پردے څه ضرورت دے

جواب دا هم سراسر جهالت دے ځکه چه په یو عمر کښ هم داسے قطعی فیصله نشی کولی چه دده قوت باه بلکل ختم دے  که قوت باه یعنی د زنا طاقت پکښ نه وی نو د ښکلولو طاقت پکښ شته مزه خو اخلی بلکښ کله کله ، داسی خطرے د ځوانانو په نسبت په بوډاګانو کښ ډیرے وی ځکه دبوډاګانواعصاب کمزوری وی نودبرداشت قوت  ئے کم وی دغه رنګی د بوډا والی په وجه صرف عملی قوت ختمیږی د زړه شهوت نه ختمیږی بلکه مغه نور هم زیاتیږی ۔

وعلی هٰذالقیاس بوډی ده مغه دِ هم احتیاط کوی ځکه ، لکل ساقطة لاقط د مرلویدلی څیز دپاره په دنیا کښ څوک د اوچتولو والا وی ۔

۳۔ بعض وائی چه د بزرګانونه خاصکر پیر یاملا نه د پردے ضرورت نشته کله وائی دا خوا زمونږ مور او پلار دے شاید چه دا خلق دوی نامرد ګنړی ۔

جواب دا ډیر سخت جهالت دے ځکه په بزګانو کښ د پاک مزاج په وجه شهوت نور هم زیات وی ۔ او د پاکدامنی په وجه قوت باه ډیر تیز وی ۔ البته د دوی په نفس ډیره قابو وی ۔

رسول الله ﷺ ډیره پاکه مستی وه او د مغه نه لوی بزرګ نه وو او صحابیات رضی الله عنهن هم ډیرے پاکے بیبیانی وی خو بیا هم د پردے حکم وو ۔

۴۔ بعض زنانه وائی چه مونږ  د فلانی او فلانی نه تر اوسه پرده نه ده کړی اوس څنګه  پرده وکړو ۔

جواب که یو سړی ډیر کلونه یوه ګناه کوی نو مغه ورله نه حلالیږی بلکه توبه ویستل ضروری دی ۔

۵۔ بعض خلق وائی چه مونږ ډیر رونړه یا ډیر رشته داران په یو ځای په یو کور کښ اوسیږو د بیلا بیل کورونو وس مو نه کیږی پدے وجه پرده مشکله ده ۔ جواب ، د شرعی پردے دپاره بیل کور ضروری نه دے ۔ شریعت ډیر آسان دے په داسی وخت کښ زنانوو لره یو څو کارونه ضروری دی ۔

اول دا چه په داسی حالاتو کښ دِ زنانه لګه موښیاره اوسیږی د  بے پردګی د ځایونو نه دِ حتی الامکان ځان ساتی په لباس کښ دِ احتیاط کوی خاصکر په سر دِ لوپټه په اهتمام سره ګدی ۔

دویم دا چه په داسی حالاتو کښ دِ زنانه ډیر احتیاط کوی ځکه دا ددوی جهاد دے څومره چه پدیکښ مشقت ډیر برداشت کوی دومره بئے ثواب ډیر وی ۔

دريم دا چه د غير محرم په راتلو دِ ښځې خپل مخ بل طرف ته اړوی ۔

څلورم دا چه په غير د سخت ضرورت نه دِ د غير محرم سره خبرې نه کوی ۔ ددے احتياطونو باوجود کچرې ناساپه د يو غير محرم نظر پريوزی نو معاف دے که داسے ناساپي نظر زرکرتی پريوزی نو معاف دے ۔

مفتی رشيد احمد صاحب خپله واقعه بيانوی چه مونږ پينځه رونړه ئيو ډيرکرتی د رمضان المبارک مياشت د خپل مور او پلار سره تيره وو ټول رونړه د بچو او ښځو سره دَ مور او پلار سره يو ځای په يو کور کښ يوه دوه مياشتی تيره وو ۔ خو د الله تعالٰی په فضل سره هيچرې د ښځو او نرو  نظر په يو بل نه دے پريوتے ۔ د ښځو او نرو د احتياط په برکت هيچرې د ناساپي نظر پريوتلو واقعه هم نه ده راغلی ۔ او د شريعت په دے حکم باندی دعمل کولو په برکت مونږټولو هيڅ قسم تکليف او تنگی نه ده محسوس کړې ښه په خوشحالی او مزو جوند تيرَ وو ۔

شپږم سوال بعض وائی چه مونږه د رشته دارو کورونو ته ورځو نو ملته غير محرم زنانه مخے ته راځی
۔

جواب په داسی وقت کښ پدی هداياتو عمل وکړئ ، اول دا چه نظر ښکته کړئ ۲۔ بلاضرورت د غير محرم زنانه سره خبرې مکوی ۳۔ په داسی موقعه د پردی مسئله پکار ده نو د تبليغ ذمواری به ادا شی بل دا چه زنانوؤ ته به پته هم اولگی چه دا په بے پردگی خفه کيږی نو ائنده به ازادی نکوی ډيری زنانه داسے دی چه د فساق فجارو نه پرده نکوی لکن د ديندارو نه پرده کوی ځکه مغوی ته پته وی چه دوی خفه کيږی ۔

اووم سوال بعض خلق وائی چه مونږه په کور کښ پرده  کول  غواړو په دی سلسله کښ ډير کوشش او تبليغ کوو خو څه اثر نه کيږی ښځه پرده نکوی ۔

جواب په داسے حالت کښ شرعی حکمونه دادی ۔ ۱۔ په خپله د شريعت پابندی کول چه په خبره کښ اثر پيدا شی  ۲۔ په دنيوی کارونو کښ د ښځې سره سختی مکوه نو په دينی کارونو کښ ستا خبرې منی ۳۔ د ښځې دپاره د هدايت سوال کوه ۴۔ په مينه محبت په خپل کور کښ دعوت او تبليغ

جاری ساته ۵۔ روزانه د داسے کتاب نه تعلیم کوه چه د هغه سره د الله تعالیٰ مینه او د آخرت فکر پیدا کیږی لکه حکایات صحابه وغیره ۔

او د کتاب نه تعلیم ډیره فائده لری ځکه په هغه کښ د مصنف د اخلاص په وجه اثروی بل دا چه د ملګری د خبری اثرکم وی لکن چه د کتاب نه تعلیم کوی نو په هغه کښ مصنف ته نسبت وی نو اثرډیر کوی ۔ دا سوالونه اوجوابونه مفتی رشید احمد رحمه الله په خپل کتاب شرعی پرده کښ بیان کړی ۔

## د بے پرده ګی وختونه

۱۔ په ودونو کښ ۲۔ په مړو کښ ۳۔ په ګیاګانو او لوونو کښ په ګیډو راوړلو کښ العرض په زمینداره کښ ۴۔ په ګودرونو او اوبو راوړلو کښ ۵ ۔ په جرندو او مشینونو کښ ٦۔ د غرونو په تللو کښ ۷۔ په خوشانو تیلو کښ ۸ ۔ په وړو اشکلو کښ ۹۔ په جامو وینځلو کښ ۱۰ په سکولونو او کالجونو او مسپتالونو کښ۔

## د پردے شرطونه

د پردے یا جامو دپاره یو څو شرطونه دی ۔ اول شرط دادے چه په دغه جامه به په ټول بدن پټیږی دویم دا چه جامه به نری نه وی چه بدن پکښ ښکاری ځکه رسول الله ﷺ وائی چه په آخری زمانه کښ به داسی زنانه وی چه ، کاسیاتٌ عَارِیات جامی بۀ اغوستی وی لکن بربنډے به وی ۔ ددے یو مقصد دادے چه داسی جامی به وی چه ټول بدن به پے نه پټیږی - دویم دا چه نری وی بدن پکښ ښکاری ۔ دریم دا چه دغه جامه به په خپله (فی ذاته) زینت نه وی ځکه الله تعالیٰ وائی چه ، وَلَایُبْدِیْنَ زِیْنَتهُنَّ، دوی به خپل زینت نه ښکاری کوی او زینت لفظ عام دے یعنی فیشنی برقعه او پړونی به نه وی - څلورم شرط دادے چه جامه به تنګه نه وی ځکه تنګه جامه لویه فتنه ده ۔ پینځم دا چه جامه به خوشبوی داره نه وی ځکه رسول الله ﷺ وائی اذا خرجت احدا کن الی المسجد فلا تقربن طیبا (رواه مسلم ) کله چه اوزی یوه ستاسونه جمات ته نو خوشبوی ته دِ نه نذدی کیږی ۔ مرکله چه په جمات کښ اجازت نشته نو د بازار او د لارو په تلو کښ خو په طریقه اولیٰ اجازت نشته او رسول الله ﷺ وائی چه کومه زنانه عطر ولګوی او بهر ته اوزی او په یو قوم تیره شی چه مغوی د دے

خوشبوی محسوسه کړی نو ، فهی کذا وکذا مغه دا او دا رنگی ده یعنی زناکاره ده ( رواه الترمیذی وقال حسن صحیح )

البته په کور کښ خاوند ته خوشبوی لګولی شی او خاوند ته به ځان ښائسته کوی ۔ شپږم شرط دادے چه دغه جامه به د شهرت والا نه وی لکه یوه زنانه ډیره قیمتی جوړه اغوندی چه په خلقو کښ ئِ شهرت وشی چه فلانی دفلانی لور ددومره روپو جوړه اغوندی یا داسی جامه اغوندی چه په مغه علاقه کښ رواج نه وی ۔ رسول الله ﷺ وائی من لبس ثوب شهرة البسه الله ثوب مذلة ثم الهب علیه نارًا ، چاچه د شهرت جامه واغوسته الله تعالیٰ به ورته د ذلت جامه واغوندی بیا به ےِ اور بل کړی شی ۔

اووم دا چه د زنانه جامه به د نارینه د جامی سره مشابه نه وی ځکه رسول الله ﷺ په مغه زنانوو لعنت ویلی چه د نارینو سره ځان مشابه کوی او په مغه نارینوو چه د زنانوو سره ځان مشابه کوی (بخاری ) ۔

اتم دا چه د زنانه جامه به د کافرو زنانو د جامو سره مشابه نه وی ۔ ځکه رسول الله ﷺ وای ، من تشبه بقوم فهومنهم ، چا چه د کوم قوم سره ځان مشابه کړو دا د مغوینه دے ۔

لکه نن صبا جاکټ او پتلون اغوندی ۔ پدیکښ دری نقصانونه دی یو داچه پدیکښ دعورت اندازه معلومیږی - دویم دا د نارینو سره مشابهت دی - دریم دا د کفارو سره مشابهت دے ۔ ( ددے شرطونو نقل مونږ د شیخ محمحد حسان د خطبو نه وکړو مضمون حجاب المرأه )

## د حجاب (پردے ) فائدے

۱۔ پرده کول د الله اور رسول طاعت او تابعداری ده ۲۔ پرده کول د ګناه نه بچ کیدل دی ۳۔ پرده کول د زنانه حفاظت دے د ذلت او رذیله خلقو نه لکه الله تعالیٰ دیته اشاره کوی پدے ایت کښ چه ذالک ادنی ان یعرفن فلا یؤذین ۔ ۴۔ پرده کول عفت دے لکه الله تعالیٰ اشاره کوی پدے ایت کښ وان یستعففن خیرلهن ۔ ۵۔ پرده کول تقوٰی ده لکه الله تعالیٰ دیته اشاره کوی چه ، ولباس التقوٰی ذالک خیر ۔

٦ ۔ پرده کول طهارت او پاکی ده لکه الله تعالیٰ دیته اشاره کوی چه ، ذالک اطهر لقلوبکم وقلوبهن

۷۔ پرده کول غیرت دے او غیرت ښائسته صفت دے لکه حدیث کښې راځی چه ، ان الله یغار وان المؤمن یغار ( متفق علیه )

۸۔ په پرده کښې حیاء ده او حیاء یو لوی شاخ د ایمان دے ۔

۹۔ په پردے سره حفاظت د معاشری راځی د گندگی او مرضونونه ۔

## د حرام نظر آثار او نقصانونه

بے ځایه نظر استعمالول یو روحانی مرض دے او هر مرض خپل نقصانونه اسباب او علاج لری مونږ اول ددےمرض نقصانونه او بیا اسباب او بیا علاج بیانوو د حرام نظر ډیر گنده اثرات او نقصانونه دی یو دا چه دا د ابلیس د غشو نه یو غشی دے ۔

## واقعات

**اوله واقعه** - عبده بن عبد الرحیم رحمه الله وائی چه مونږ په یو تشکښل کښې روم ته روان شو زمونږ سره پدے تشکښل کښې یو ځوان ملگری شو چه هغه د قرآن ډیر ښائسته قاری وو ۔ په فقه او علم میراث ډیر پوهه وو ۔ د ورځی به روژه وو د شپې بۓ مونځونه کول دا د رومیانو د یو قلعه سره ځانله شو زمونږ خیال دا وو چه تش اودس ماتوی ۔ ده د انگریزانو یوے زنانه ته وکتل په هغے عاشق شو ۔ هغه زنانه ته ئے د رومیانو په ژبه کښې اویل چه تاته به څنگه ورسیږم هغے اویل چه کله ته نصرانی شی یعنی زمونږدین قبول کړی نو دروازه به درته کولاؤ شی او څه به ستا شم دغه ملک د مغوی دین قبول کړو او مغوی قلعه ته داخل کړو۔ عبده رحمه الله وائی چه دغه غزا مونږ په ډیر خفگان کښې تیره کړه ۔ او هر مجاهد داسی خفه وو لکه د هغه د ځوی سره چه دا کارشویوی ۔ بیا مونږپه دویم تشکیل کښې په دغه قلعه تیر شو مونږ د مغه ملک نه تپوس وکړو چه مغه ستا قرأت علم مونځونه او روژی څه شوی ۔

مغه اویل چه ټول قرآن رانه هیر شوی صرف دا آیات راته معلوم دے چه ، ربما یود الذین کفروا لوکانوا مسلمین ذرهم یأکلوا ویتمتعوا ویلههم الامل فسوف یعلمون ۔ ( بحواله رساله السهم المسموم ص۸ لعبد الرحمٰن بن فؤاد ) بهر حال دا د غلط نظر اثر او نتیجه وه ۔

**دویمه واقعه** په مصر کښې یو نیک سړی وو په جمات کښې یئے آذان کولو یو ځل د عادت موافق منارے ته د آذان دپاره وختلو د منارے دلاندے د یو نصرانی کور وو ۔ هغه کورته ورښکاره شو د هغه نصرانی لور وه په هغے نظرولګید او عاشق شو آذان ئے پریښود راکوز شو او هغه کورته داخل شو ۔ هغه جینی ورته اویل چه څنګه راغلی هغه ویل نکاح درسره کوم هغه جینی ویل ته مسلمان ئے او څه نصرانیه یم څما پلارما تاته په نکاح نه درکوی ۔ نو دغه سړی نصرانی شو او د مغوی سره په دغه کور کښې پاتی شو ۔ بیا په دغه ورځ د دغه کور چت ته وختلو د هغه نه راپریوتلو او مړ شو ۔ نو د دغه زنانه نه هم محرومه شو او د دین نه هم محروم شو ۔ (السهم المسموم ص ۹) دا هم د حرام نظر اثر وو۔

**دریمه واقعه** یو عابد په عبادت او زهد کښې ډیر مشهور وو چه کله به څوک بیمار شو د ده عبادت خانے لره به راوستلی شو د به دعاء وکړه هغه به جوړ شو خلقو به بیماران او لیونی راوستل ۔ یو ځل د دغه ښار د مشر لور بیماره شوه ډیره ښائسته وه دَلره ئے راوسته او خلق لاړدَ چه ورته وکتل ډیره ئے خوښه شوه د هغے سره ئے جماع وکړه او حامله شوه۔ دغه عابد ته شیطان راغلی او ورته وویل چه دا خو ستا ډیره بدنامی ده او کیدیشی چه خلق دِ مړکړی نو دا جینی مړه کړه او د عبادت خانے یو طرف ته ئے دفن کړه که ورثه راغلل او تپوس ئے کولو نو ته به ورته او وائی چه بیماره وه او مړه شو ۔ او دا خلق ستا په خبره یقین کوی ۔ هغه دا کاروکړو چه ورثه ئے راغلل نو دَ ورته بیان وکړو چه هغه خومړه شوه ورثوو دده په خبره یقین وکړو او لاړ۔ شیطان لاړ او دا قصه ئے د جینی رونړو ته بیان کړه او ورته وویل چه علامه ئے داده چه د عبادت خانی په فلانی ځایکښې جینی دفن کړی ۔ رونړه ئے راغلل او په عبادت خانه کښې هغه ځای وکتلو جینی ئے اومندله ۔ عابد ئے ګرفتارکړو او پهانسی تئے روان کړو چه کله ئے په پهانسی خیجولو نو شیطان ورته راغلی او وویل چه داکار درسره ټول ما وکړو وس څه تاخلاصولی شم هغه ویل خلاص مِ کړه هغه ویل پدے شرط چه ماته سجده وکړی نو شیطان ته ئے سجده وکړه بیا پهانسی شو ۔ ( السهم المسموم ص ۱۰) ۔ دا هم د حرام نظر اثر وو چه کافر د دینا نه لاړی او معلومه شوه چه په خپل عبادت دموکه کیدل نه دی پکار ۔

فضیل بن عیاض رحمه الله وائی چه ابلیس وائی چه نظر څما پخوانی لینده ده او دا څما هغه غشی دے چه انسان پے خطا کوم ۔

د حرام نظر بل اثر دادے چه دا د الله او رسول نافرمانی ده بل دا چه په زړه کښ تور والی پیدا کوی بل دا چه په زړه کښ قسوت یعنی کلکوالی پیدا کوی وغیره ذالک ۔

## د حرام نظر اسباب

۱۔ د نفس او شیطان منل ۲۔ د حرام نظر د ناکاره انجام نه ناخبره کیدل ۳۔ پدے خبره دموکه کیدل چه الله تعالیٰ غفور الرحیم دے او دا خبره هیرول چه الله تعالیٰ د سخت عذاب والا دے ۔ ۴۔ ناکاره ملګری ۵۔ فلمونه او غلط تصویرونه کتل ٦۔ هغه ځایونو ته ورتلل چه په هغه کښ نارینه او زنانه ګډوډ وخت تیروی لکه اکثر بازارونه ۷۔ د الله تعالیٰ نه ویره نه کول ۸۔ په لارو او بازارونو کښ د زنانوو بے پردی ګرځیدل ۔

## د حرام نظر علاج

۱۔ خپل ځان د نظر شکته ساتلو سره عادی ګرځول ۲۔ که نظر په چا ولګی فوری نظر اړول ۳۔ دا عقیده ساتل چه بے ځایه نظر کول د سترګو زناء ده ۴۔ دا عقیده ساتل چه الله تعالیٰ ماوینی ۵۔ دا عقیده ساتل چه د قیامت په ورځ به راباندی دا خپلی سترګی ګواهی کوی ٦۔ دا عقیده ساتل چه دا زمکه به راباندی ګواهی کوی ۔

۷۔ دا عقیده ساتل چه کرامًا کاتبین ځما دا بے ځایه کتل شماری او لیکی ۸۔ د جنت په بیبیانو او حورو کښ سوچ کول ۹ ۔ ځان ته پدی خبره تسلی ورکول چه الله تعالیٰ مالره حلاله نکاح پیدا کړی ۱۰ ۔ د نیکانو خلقو په صحبت کښ وخت تیرول او دناکاره خلقو د صحبت نه ځان ساتل ۱۱۔ د فتنے او بے پردګی د ځایونونه ځان ساتل ۱۲۔ د الله تعالیٰ نه امداد غوښتل چه الله تعالیٰ ما ددے فتنے نه بچ کړی ۱۳۔ چه نظر غلط استعمال شی په هغه پسی فوری نیکی کول ۔

اللهم احفظ لنا ایماننا و اعمالنا واعراضنا وعقولنا ، وصل علی نبیک و سیدنا محمد و آله واصحابه اجمعین

# نوجوانان د امت مسلمه

الحمد لِلّٰه رب العالمین وولیّ الشباب الصالحین ۔ ولا عدوان الا علی الظالمین والصلوٰه والسلام علی سید المرسلین وامام المتقین وقدوة الناس اجمعین وعلی آله وصحبه وشباب الاسلام والمسلین ۔
اما بعد

فاعوذ با الله من الشیطان الرجیم ، اِنَّهُمْ فِتْيَةٌ اٰمَنُوا بربهم و زدنا هم هُدًی

## تمهید

د انسان په ژوند کښې درې دورونه قابل د یاداشت دی د وړوکوالی د ځوانی د بوډاوالی پدی درېواړو کښې د ټولو نه اهم دور د ځوانی دور دے ۔ ځکه د دنیا د هر نظم او تحریک مدار په ځوانانو دے په اولنی قرن کښې ایمان راوړونکی ځوانان وو په ټوله دنیا کښې د اسلام جنډا او چتونکی ځوانان وو ۔ په ټوله دنیا کښې د علم چراغ بلوونکی ځوانان وو۔

د ابراهیم علیه السلام په باره کښې هم راځی چه ، فَتًی یَذْکُرُهُمْ یُقَالُ لَهُ اِبْرَاهِیْمْ ۔ ابراهیم علیه السلام ځوان وو۔ د اصحاب کهف په باره کښې هم راځی چه اِنَّهُمْ فِتْيَةٌ ، یقینًا دوی ځوانان وو د رسول الله ﷺ ملګری هم اکثر ځوانان وو۔

هر کله چه د همیشه دپاره په اسلام کښې د ټولونه ښه کردار ځوانانو اداء کړی نو پدی وجه د اسلام مخالف قوتونو او دشمنانو د نوجوانان اسلام د کردار په خرابولو کښې پوره کوشش کړی خصوصًا د ځوانانو په اخلاقو او د ځوانانو په دینی او ملی غیرت تباه کولو کښې ډیر زیات کوشش کړی ځکه د اسلام دشمنان پدی ښه خبر دی چه د قوم د آ بادی سنبالونکی ستن ځوانان دی کچری ځوانان په عیش عشرت او په شوشا اوپه نشوتماشو کښې اخته شی نو دوی دننه ډډ کولی شی او چه دوی ډډ کړی شی نو باقی آبادی د اسلام او د قوم خود بخود ډډ کیږی ۔ لکن الحمد لِلّٰه په هر دور کښې وخت په وخت الله تعالیٰ حق پرست خلق او حق پرست علماء پیدا کوی چه مغوی خپله ذمداری اداء کوی او د تعلیم او تدریس د دعوت او تبلیغ د تقریر او تحریر د تصنیف او تالیف په ذریعه د امت رهبری راهنمائی او قیادت کوی ۔ په ځوانانو محنت کوی مغوی ته د مغوی د ژوند مقصد ښای د مغوی سره د مغوی د ذمداری احساس پیدا کوی د امت مسلمه د غمونو غمخواران

ځ ګرځوی ـ په ځوانانو کښې د ښائسته صفاتو د ښائسته اعمالو او اخلاقو د پیداکولو کوشش کوی
ـ

## د نوجوانانو ښائسته صفات

د هغه حق پرستو په محنت په نوجوانانو کښې دا ښائسته صفات پیدا کیږی او ځوانانو له هم دا پکار دی چه په ځان کښې دا ښائسته صفات راولی ـ

۱ـ اتباع د سنت ۲ـ د نیکانو صحبت ۳ـ غم او درد د امت ۴ـ اهتمام د پاکی او نظافت ۵ـ د مخلوق خدمت ٦ـ ښائسته اخلاق ۷ـ د خواهشاتو نه پرمیز او اجتناب ۸ـ د توبے التزام ۹ـ په مصیبتونو صبر او برداشت ۱۰ ـ د غصے کنټرولول

## د سلفو صالحینو ځوانان

د سلفو صالحینو ځوانان کتل پکار دی او زمونږ ځوانان هم کتل پکار دی چه په دے دواړو کښې څومره ډیر فرق دے د سلفو صالحینو ځوانان دا وو عبد الله بن رواحة - جعفر بن ابی طالب - اسامه بن زید - مصعب بن عمیر ، عبد الله بن عباس ، عبد الله بن عمر رضی الله عنهم اجمعین ـ دوی ددے شعرونو مصداق وو ـ

عُبَّادُ لَيْلٍ اِذَا جَنَّ الظَّلَامُ بِهِمْ كَمْ عَابِدٍ دَ مْعُهُ فِي الْخَدِّ اَجْرَاهُ

دوی عابدان د شپې وو کله به چه پټ کړل تیاری دوی لره ډیر کرتے یو عابد چه په اننګو یئے اوښکے بهیدے ـ

وَاُسْدُ غَابٍ اِذَا نَادَى الْجِهَادُ بِهِمْ هُبُّوْا اِلَى الْمَوْتِ يَسْتَجِدُّوْنَ رُؤْيَاهُ

او دوی زمری د ځنګل وو کله به چه آواز وکړو جهاد په دوی ځی دوی مرګ ته کوشش کوی د لیدلو ددے حاصل دا چه د شپې عابدان وو او د ورځې د میدان شهسواران وو۔

يَارَبِّ فَابْعَثْ لَنَا مِنْ مِّثْلِهِمْ نَفَرًا يُشَيِّدُوْنَ لَنَا مَجْدًا اَضَعْنَاهُ

ای ربه مونږ له د دوی په شان سړی راولیږی چه مونږ له معه بزرګی او شرافت مضبوط کړی ۔ چه مونږبرباد کړی - حاصل دا چه ای ربه په مونږ کښې دغه رنګی ځوانان پیدا کړی ۔

دغه رنګی عقبه بن نافع رحمه الله د پینځیش کالو ځوان وو د محیط اطلنطی په غاړه ودرید توره ئے ویستلی وه اسمان ته ئے پورته کړی وه او ویویل وَاللّٰهِ لَوْ اَعْلَمُ اَنَّ وَرَاءَ هٰذَا الْمَاءِ اَرْضًا لَخُضْتُهُ بِفَرَسِیْ هٰذَا ، ځما دِ په الله تعالٰی قسم وی کچری ځه پوهیدے چه ددے اوبونه آخوا څه زمکه شته نو ځه ورته پدے اس ورننوتلم د لااله الا الله جنډا ئے پورته کړیوه د اسلام مرسته ئے کوله افریقه ئے فتحه کړه ۔ الله تعالٰی ئے قربانی قبوله کړه د لوی مرتبی خاوند ئے کړو نیک نامی ورکړه ۔

دغه رنګی عبد الله بن رواحه رضی الله عنه د دیرش کالو ځوان وو توره ئے پورته کړه اردن ته د مؤته جنګ ته لاړ۔ کفن ئے واغوست توره ئے پورته کړه شعرونه ئے اویل د اولنی شعرمفهوم ئے دا وو چه ځما دِ قسم وی ای نفسه خامخا به جنګ ته ورځې په خوښه یا په زور۔

دغه رنګی جعفر الطیار یو ځوان وو شپه بئے په سجدو او تسبیحاتو کښې تیروَله اوورځ بئے په جهاداودعوت کښې تیروله ۔ د مؤته په جنګ کښې ښی لاس کټ شو په چپ لاس کښې جنډا اونیوله چپ لاس ئے هم کټ شو نو په لیچوئے جنډا د سینی سره جوخته کړه تردے چه په سینه کښې نیزی ماتے شوی مسکے شو او ویویل

یَاحَبَّذَا الْجَنَّةُ وَاقْتِرَابُهَا　　　　طَیِّبَةٌ وَبَارِدٌ شَرَابُهَا

څه ښه دے جنت او نژدی کددل د جنت پاکے دی او یخی دی اوبه ددے ۔

دغه رنګی انس بن نضررضی الله عنه یو ځوان دے وائی چه ځما نه طرف ته شی وَاللّٰهِ اِنِّیْ لَاَجِدُ رِیْحَ الْجَنَّةِ مِنْ دُوْنِ اُحُدٍ ، ځما دِ په الله تعالٰی قسم وی چه د احد د غرنه په ما د جنت خوشبوی راځی شهید شو او اتیا (۸۰) ګذارونه پے لګیدلی وو۔

اُولٰئِکَ اٰبَائِیْ فَجِئْنِیْ بِمِثْلِهِمْ　　　　اِذَا جَمَعَتْنَا یَاجَرِیْرُ الْمَجَامِعُ

## زمونږ ځوانان

اوس زمونږ د ځوانانو حال اوګوره چه ډیر نااهله ځوانان دی لکه الله تعالیٰ وائی ، فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِ هِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُو الشہواتِ فَسَوْفَ يَلْقونَ غيًّا۔ داسی ناکاره ځوانان راپیدا شو چه دیرش ځلوینښت کالو ته ورسیږی لکن د خپل ژوند مقصد نه فیځنی چه ځه د څه مقصد دپاره پیدا شویم د څه دپاره راغلیم د څه دپاره ژوند تیروم چرته روان یم ۔

د جمات په ځای په دیره او دوکان کښ وخت تیروی د علمی مجلسونو په ځای ګپ شپ کښ وخت تیروی ۔ د تلاوت په ځای سرودونه اوری د قرآن او کتاب په ځای اخبارګوری د تقوٰی په ځای فسق و فجور کوی د تهجدو په ځای جمع او مونځ قضاء کوی ۔ ببین تفاوت راه ازکجاست تابکجا

## زمونږ د ځوانانو مرضونه او مشکلات

د ځوانانو مرضونو او مشکلاتو ته اشاره وشوه د دغه نه علاوه نور مرضونه او مشکلات ئے دادی ۔ یو دا چه ځوانان د مانځه او د جمع اهتمام نه کوی (او د مانځه او د جمع په اهمیت مخکښ بحث تیر شوی ) محله د خلقو نه ډکه وی او په مانځه کښ دوه صفونه نه برابریږی ځوانان جمات نه فیځنی او نه ئے ورته پلار د جمات لار ښودلی وی ۔

وَجَلْجَلَةُ الْاَذَانِ بِكُلِّ حَيٍّ وَلٰكِن اَيْنَ صَوْتٌ مِنْ بِلَال

د آذان انګازی په هره قبیله کښ وی لکن د بلال آواز پکښ نه وی

مَنَائِرُكُمْ عَلَتْ بِكُلِّ سَاحٍ وَمَسْجِدُكُمْ مِنَ الْعُبَّادِ خَالِيْ

منارونه په هر میدان او چت دی او جمات ستاسو د عبادت کونکو نه خالی وی ۔

## دویم مرض وخت بربادول

وخت د انسان د پاره ډیره قیمتی سرمایه ده ۔ (د وخت په اهمیت مخکښ بحث تیر شوی ) لکن ډیر ځوانان د وخت هیڅ خیال نه ساتی خپل وخت په لهو لعب او ګپ شپ کښ تیرَوی ۔ د شپی د

ناوخته پورې گپ شپ وي بیا ځان بسترې ته اوغورزوي ذکر اذکار نه وي تسبیحات نه وي تهجد نه وي وختي پاڅیدل نه وې بې کاره او بې فائدې جوند تیروي۔

## دریم مرض ناکاره ملگري

ځکه د ملگري او مجلس او ماحول په انسان ډیر زیات اثر کیږي ۔

صحبت صالح ترا صالح کند صحبت طالح ترا طالح کند ۔

## څلورم مرض د شرعي علم اهتمام نه کول ۔

نن صبا علمونه ظاهري او سطحي علمونه دي حقيقي او جور علمونه نشته د علم په حاصلولو کښې کوشش محنت او ځان کړول نشته په کتابونو کښې تکرار نشته د متونو یا دول نشته د قرآن فهم او تدبر نشته ځوک علم نه حاصلوي او ځوک علم حاصلوي لکن دنيوي علم د سکول او کالج علم چه هغه په حقیقت کښې علم نه دې هغه په حقیقت کښې یو هنر او کسب دې او که ځوک ديني علم حاصلوي نو هغه هم د یو رواج په شکل وي په حقیقت کښې تنده او طلب نه وي شوق نه وي او نه په استاد کښې دا ماده وي چه په خپل شاگرد کښې تنده طلب او شوق پیدا کړي ځکه استاذ په خپله په هغه فن نه پوهیږي ۔

پنځم د نظر حفاظت نه کول ، شپږم فلمونه او غلط ویډیوگاني او تصویرونه کتل ، اوم گانې سندرې او موسیقي اوریدل ، اتم منشیات چرس نسوار سگریټ کول، نهم د ژبې حفاظت نه کول ، لسم د فیشنونو شوق کول ۔ ددې بعض مرضونو تفصیل به په نورو بیانونو کښې راشي ۔

## د ځوانانو د مرضونو علاج

مخکښې مونږ د ځوانانو مشکلات او مرضونه ذکر کړل د هر مشکل حل شته دې او د هر مرض علاج شته دې نو پدې وجه مونږ یو څو علاجونه ذکر کوو۔

**اول علاج** الله تعالیٰ ته واپسي او د الله تعالیٰ مراقبه ده او خپل رب حاضر ناظر گڼړل ۔

**واقعه** ، یو سړی شراب سکلی وو چا سعید بن المسیب رحمه الله ته اویل چه ددے څه وجه ده دا خو زمونږملګری وو هغه اویل چه د الله تابعداری ئے پریښوده نو د الله تعالیٰ د سترګونه پریووت نو الله تعالیٰ ترینه خپله پرده پورته کړه ۔ ځکه چه د یو چانه د الله تعالیٰ حفاظت پورته شی نو هغه تباه کیږی ۔

**دویم علاج** صحیح تربیت دے ۔ پکار ده چه مونږ د خپلو ځوانانو صحیح روزنه او تربیت وکړو او حقیقی اسلام د مغوی زړونو ته داخل کړو او د مغوی عقیده او نظریه برابره کړو او د مغوی سره د اسلام او مسلمانانو غم او درد پیدا شی ۔

**دریم علاج** علم نافعه او علم شرعی حاصلول دی ۔ پکار ده چه مونږپه ځوانانو کښ علم نافعه خور کړو یعنی علم د قرآن او سنت خور کړو ځوانان د قرآن او سنت سره او د فقهے او سیرت سره عادت کړو د علم او د علماء د مجالسو ترغیب ورکړو ۔ او چه کوم بے فائدے او غیر ضروری علمونه دی او انسان د الله تعالیٰ سره ناشنا کوی د هغه مقابله وکړو ۔ ابن تیمیه رحمه الله وائی کوم علم چه مسلمانانوته راشی نو دغه علم به یا د خیروی یا د شرکه د خیروی نو زمونږ سره دومره خیر شته چه هغه مونږ له پوره دے او که د شروی نو زمونږ شرته ضرورت نشته ۔

**څلورم علاج** د خپل وخت قدر او قیمت پیژاندل دی ۔ پکار ده چه مونږ ددے قیمتی سرمایه قدر او قیمت اوپیژنو او خپل وخت فارغه تیر نکړو ۔ ځکه د مؤمن سره فارغه وخت نه وی ۔

**پینځم علاج** خپل اولاد او ځوانان د غلطو ملګرو نه ساتل دے ۔ ځکه د بعض پلارانو دینداری او فهم د الله تعالیٰ په دین ډیر کم وی هغه پرواه نه ساتی چه ځوی ئے څو ګهنټی یا څو ورځی بهر ګرځی او پلار دا تپوس نه کوی چه دا چرته ځی چرته اوده کیږی ۔ د چا سره وخت تیرَوی ۔

**شپږم علاج** د منکراتو د بندولو کوشش کول دی ۔ چه مونږ دا کوشش وکړو چه څوک په منکراتو جرأت ونکړی او هر څوک چه منکرات خورول غواړی چه هغه د لاس نه ونیسو ځکه الله تعالیٰ وائی وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ۔ او الله تعالیٰ وائی كَانُوْا لَايَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوْهُ ۔

## مطالبه

شَبَابَ الدِّيْنِ لِلْاِسْلَامِ عُوْدُوْا        فَاَنْتُمْ مَجْدُهُ وَبِكُمْ يَسُوْدُ

ای ځوانانو د دین - اسلام ته واپس شی تاسو د اسلام شرافت ئیوی او ستاسو په وجه اسلام مشری کوی (یعنی چه ځوانان ملا وتړی نو اسلام عزتمند کیږی او د اسلام مشری راځی ) ـ

وَاَنْتُمْ سِرُّ نَهْضَتِهِ قَدِيْمًا        وَاَنْتُمْ فَجْرُهُ الْبَاهِي الْجَدَيْدُ

تاسو د پخوانه د اسلام د پورته کیدو راز ئیوی ( یعنی ستاسو په وجه اسلام پورته کیږی ) او تاسو د اسلام فخرکونکے او نوی صبا ئیوی ( یعنی ستاسو په وجه اسلام د صبا په شان روښانه کیږی ) ـ

ای ځوانانو که تاسو د دین خدمت نه کوی نو څوک به د دین خدمت کوی څوک به د دین نه دفاع کوی څوک به د لااله الا الله جنډا پورته کوی ـ خپل دین او اسلام وپیجنی جمات او قرآن له وخت ورکړی د علم او د علماء په مجلسونو کښ کینی الله تعالٰی دِ مونږ او تاسو له پدے خبرو د عمل کولو توفیق راکړی ـ

وصل الله علی خیر خلقه محمد وآله واصحابه اجمعین ـ

# کامیابی او نیک بختی

الحمد لِلَّه حمداکثیرا طیبا مبارکًا فیه واشهد ان لااله الله وحده لاشریک له واشهد ان محمدا عبده ورسوله اللهم صل علیه وسلم تسلیما کثیرا

اما بعد فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم ـبسم الله الرحمٰن الرحیم - ومن یطع الله ورسولهُ فقد فاز فوزًا عظیما وقال تعالٰی فمن زُحزِح عن النار وادخل الجنة فقد فازوماالحیاةُ الدنیا الاّ متاع الغرورِ۔ وقال تعالٰی ومن یُطِعِ الله ورسوله ویخش الله ویتَّقهِ فاُولٰئک هم الفائزون۔

هر انسان کامیابی غواړی او د هرچا دا خواهش وی چه ځه کامیاب شوی او ددے د پاره جدوجهد او کوشش کوی لکن لګ خلق پدی مقصد کښ کامیابیږی او لګ خلق منزل مقصود ته رسیږی ځکه اکثر خلق دارومدار د کامیابی نه پیجنی چه کامیابی په ځه کښ ده او په ځه شی کامیابی حاصلیږی ۔

## ایمان او عمل :

دارومدار د کامیابی ایمان او عمل صالح دے او د الله تعالٰی او د رسول الله ﷺ تابعداری ده او کامیابی داده چه انسان د جهنم نه بچ شی او جنت ته داخل شی او په دنیا دوکه نشی - چه په یو انسان کښ ایمان او عمل صالح نه وو نو مغه ناکام دے ۔ اګرچه ډیر سره زر او سپین زر راجمع کړی اسونه او ښاروی او فصلونه راجمع کړی ډیر ځامن او بیبیانی لری اګرکه یو انسان پدے ښیزونو کښ کامیابی لټوی ۔ دغه رنګی کامیابی په ډیرو خادمانو او نوکرانو کښ هم نشته - کامیابی دا هم نه ده چه یو سړی روغ جوړ وی نه بیماریږی نه ہے لوګه تنده راځی -

## د دنیادارو حال

ډیر خلق د دنیا په ښیزونو کښ کامیابی ګڼړی لکن مغه ښیزونه دده د ملاکت سبب ګرځی ۔ فرعون او نمرود په بادشاهی کښ کامیابی لټوله قارون په مالداری کښ هامان په وزارت کښ قوم شعیب په تجارت کښ قوم سبا په زراعت کښ اوښوک ۓ په مشری او شهرت کښ لکن دا ښیزونو

د دوی د تباهی سبب وګرځید او ډیر زر د فنا او زوال سره مخامخ شو ـ فَاَمَّا الزَّبَدُ فَيَذۡهَبُ جُفَاءً وَاَمَّا مَايَنۡفَعُ النَّاسَ فَيَمۡكُثُ فِي الۡاَرۡضِ۔ او په کوم انسان کښې چه ایمان او عمل صالح وو نو دا کامیاب دے اګر چه دا ډیر فقیر او ګدا وی او اګر چه دا بے دره او بے نوا وی او اګر چه دا د لوګی او تندی په حالت کښې وی ـ او اګر چه بیمار او معذوره وی یا په سترګو ړوند په غوګونو کونړ په لاسو او ښپو شل او مفلوجه وی او اګر چه د رنګه تور په قوم او نسب کمزوری وی ـ

## د دیندارو حال

او اګر چه داد دنیا په مصیبتنو او مشکلاتو کښې وی لکن چه ایمان او عمل صالح پکښې وی نو کامیاب دے ـ ابراهیم علیه السلام په اور کښې کامیاب شو ـ یعقوب علیه السلام په غم کښې - ایوب علیه السلام په مرض کښې - یونس علیه السلام په دری تیارو کښې - موسٰی علیه السلام د دریاب په چپو کښې - یوسف علیه السلام په جیل کښې کامیاب شو ځکه د کامیابی څیزورسره وو چه هغه ایمان او عمل صالح وو۔

سمیه رضی الله عنها په نیزه په عورت اووهلی شوه شهیده شوه لکن دا عزت او کامیابی وه - شیخ فضل حق رحمه الله به ویل چه په ټی کښې دِ مړشم په خولے کښې مِ د غول پراته وی لکن چه د الله تعالٰی د دین دپاره وی ـ امام احمد بن حنبل رحمه الله په جیلونو کښې وخت تیرکړیو ډیر وهلی شویو لکن دا کامیابی وه ـ ابن تیمیه رحمه الله په جیل کښې وائی - مایصنع اعدائی بی انا جنتی وبستانی فی صدری ان سرت فهی معی - ترجمه ـ دشمنان به ځما سره څه کوي ځما باغ ځما په سینه کښې دے که څه ځم هغه ځما سره وی - ځما قتل ځما شهادت دے - ځما شړل ځما سیاحت دے - ځما جیل خلوت دے ـ یعنی د ایمان او عمل صالح سره وجل کیدل جیل ته تلل ملک پریښودل دا ټوله کامیابی ده ـ

ابراهیم بن ادهم رحمه الله وائی چه مونږ په داسی ژوند کښې ئیو کچری بادشاهانو ته معلومه شی نو زمونږ نه بۀ په تورو واخلی ـ هغه ژوند دمزو ژوند دے چه هغه د ایمان او عمل صالح سره وی ـ

**واقعه :-** معتصم بادشاه چه کله وفات کیده بستره ئے پورته کړه مخ ئے د خاورو سره ومږلو او جړل ئے او ویویل ، یَامَنْ لا یَزُوْلُ مُلْکُهُ اِرْحَمْ مَنْ زَالَ مُلْکُهُ ، ای هغه ذاته چه د هغه بادشاهی نه زائله کیږی په هغه چا رحم وکړه چه د هغه بادشاهی ختمه شوه ۔ بیائے اویل کچری ماته معلومه وی چه ځه به په ځوانی کښ مرم نو ما به هغه ګناهونه نه کولی کوم ے چه کړی ۔

**واقعه :-** عبد الملک بن مروان رحمه الله چه کله وفات کیدلو نو د خپل تخت نه راکوز شو - دده د مانړی خواته یو دوبی جامی وینځلی ښه خوشحاله وو ځه مشکل بادشاهی مشغله ئے نه وه او د ځان سره ئے شعرونه ویل ۔ عبد الملک بادشاه اویل - یَالَیْتَنِیْ کُنْتُ غَسَّالًا یَالَیْتَنِیْ مَاعَرِفْتُ الْخِلَافَةَ یَالَیْتَنِیْ مَاتَوَلَّیْتُ الْمُلْکَ ۔ارمان چه ځه دوبی وی ارمان چه ما خلافت نه پیژاندلی ارمان چه ما بادشاهی نه کولی بیا وفات شو ۔ سعید بن المسیب رحمه الله وائی چه الحمد لِلّٰه چه د زنکدن په وخت کښ دوی مونږ ته تیښته کوی او مونږ دویته تیښته نه کوو ۔ بهر حال په بادشاهی کښ کامیابی نشته کامیابی په ایمان او عمل صالح کښ ده ۔

کامیابی په جمات قرآن او سنت کښ ده کامیابی په ذکر او تلاوت کښ ده کامیابی په استقامت او د رسول الله ﷺ په تابعداری کښ ده ۔

اللهم صل علی محمد و علی آل محمد ۔

دا بیان د شیخ عائض القرنی د کتاب المسک والعنبر نه خلاصه کړی شو۔

# اسان عملونه او ډیر ثوابونه

الحمد لِلّٰه الذی یُعْطِی لنا الاجر الجزیل بعمل یسیر قلیل والصلوٰة والسلام علی الهادی النبیل ۔ محمد وآله واصحابه اجمعین ۔

اما بعد فاعوذ با الله من الشیطان الرجیم رِجَالٌ لَاتُلْهِیْهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَیْعٌ عَن ذِکْرِ الله وَاقَامِ الصَّلٰوة وَاِیْتَاءِ الزَّکٰوةِ یَخَافُوْنَ یَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِیْهِ الْقُلُوْبُ وَالْابصَار۔

پدی ایت کښې الله تعالیٰ د مؤمنانو صفتونه بیانوی چه مؤمنان نارینه یعنی همتی او اوچت خلق دی غفلت نه کوی د ذکر مونځ زکوٰة پابندی به کوی د قیامت د هغه سختی ورځی غم به ورسره وی ۔

ددے بیان موضوع ده آسان عملونه او ډیر ثوابونه چه الله تعالیٰ په لګ لګ عمل څومره زیات ثوابونه ورکوی رحم مهربانی ئے څومره فراخه ده بادشاهی ئے څومره غټه ده ۔ د مؤمن د عمل څومره قدر کوی د مؤمن عمل څومره قیمتی دے ۔

پدی وجه مونږ د نمونے په طور یو څو عملونه ذکر کوو او د هغے ثوابونه ذکر کوو۔

**یو دبازار دعاء ده :**

د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائلی چه څوک بازار ته داخل شی او دا دعاء اووای ، لَااَلٰهَ اِلَّا الله وَحْدَهُ لَا شَرِیْکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ یُحْیِ وَیُمَیْتُ وَهُوَحَیٌّ لَایَمُوْتُ بِیَدِهِ الْخَیْرُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْئٍ قَدِیْر۔ نو الله تعالیٰ به ورله لس لاکهه نیکی ولیکی او لس لاکهه ګناهونه به ترے ورجوی او لس لاکهه درجے به ورله اوچتے کړی او په جنت کښې به ورله کور جوړ کړی ( اخرجه الترمیذی والحاکم فی مسنده وفی صحیح الجامع وحسنه الشوکانی فی تحفة الذاکرین والمبارکفوری فی المرعاة ج۸ ص ۱۸۴ چا چه ورته ضعیف ویلی نو دا صحیح نه ده )

محمد بن واسع رحمه الله قتیبه رحمه الله ته اوفرمائل چه ماتاته هدیه راوړے بیائے ورته دا حدیث بیان کړو ۔ نو هغه به په خپله ډله کښې په سورلی سور شو بازارته به راغی او دا دعاء یئے اویله او بیا به واپس شو ( رواه الحاکم ص ۵۳۸ ج ۰۱ ) سلفو به په حدیث د عمل کولو دومره اهتمام کولو مونږ

له مم پکاردی چه ددے قیمتی عمل نه ځان محروم نکړو ۔ مخکښ په خطبه کښ ایات ذکرشو چه مؤمنان د بیع او تجارت په وجه د ذکر نه غفلت نکوی ۔

## دویم د مؤمنانو د پاره استغفار دے

عباده بن الصامت رضی الله عنه وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی چه ویل ئے ، مَنِ اسْتَغْفَرَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ كَتَبَ اللهُ لَهُ بِكُلِّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ حَسَنَةً ( مسند الشامیین ص۲۳۴ ج ۳ الطبرانی کما فی المجمع ص ۲۱۰ ج ۲ وصحیح الجامع رقم ص ٦٠٢٦ وسنده حسن)۔

چا چه بښنه اوغوښتله د مؤمنانو نارینو او مؤمنانو زنانوو دپاره نو الله تعالیٰ به ورله د هر مؤمن نارینه او زنانه په عوض کښ یوه نیکی اولیکی ۔ مثلًا یو سړی اووای ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَات ، دا مختصره دعاء ده لکن په ملیاردونو نیکی ئے میلاویږی۔

## دریم د اودس دعاء ده :۔

عمر بن خطاب رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ ویلی چه یو سړی پوره اودس وکړی او بیا دا دعاء اووای ، اَشْهَدُ اَنْ لَّااِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ ، په بل روایت کښ داسی راځی لَا اله الا اللهُ وحده لاشریک لهُ واشهدُ انَّ محمدًا عبدُهُ ورسوله ۔ د جنت اته واړه دروازی به ورته کولاؤ شی ( رواه مسلم وابن الاثیر فی جامع الاصول مشکوٰة کتاب الطہارة الفصل الا ول وقال الالبانی صحیح ) یوه دروازه هم کافی ده لکن اته واړه دروازی به ورته تعظیما کولاویږی - بیا ظاهره داده چه الله تعالیٰ به ورته د مغه دروازی نه د داخلیدو توفیق ورکوی چه د کومِ دروازی د خاوندانو عمل په ده غالب وی ځکه د جنت دروازی د خاص خاص عملونو دپاره تیاری شوی ( مرعاة شرح مشکوٰة ) ۔

## خلورم سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ سل ځله صبا او بیگا

ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائل چا چه صبا او بیگا سل ځله سبحان الله وبحمده اولوستو نو د قیامت په ورځ به هیڅوک دده ددے عمل په شان غوره عمل رانه وړی مگر مغه څوک چه دده په شان ئے دا کلمات اویل او یائے دده نه زیات اویل ( بخاری مسلم )

په بل روایت کښې راځی رسول الله ﷺ وائی چه څوک سبحان الله وبحمده سل کرتے اووای نو دده نه به گناهونه اورژیږی اگر که د دریاب د زگ نه زیات وی ( رواه الترمیذی وقال هٰذا حدیث حسن صحیح رقم ۳۴٦۸ والبخاری ومسلم مشکوٰة ص ۲۳۱۸ ) ۔

پینځم سبحان الله ، الحمد لِلّٰه ، لااله الا الله ، الله اکبر، سل ځله صبا بیگا ۔ رسول الله ﷺ وائی چاچه صبا بیگا سل ځله سبحان الله اوویله نو دا داسے ده لکه چه څوک سل حجونه وکړی ۔

او چا چه سل ځله صبا بیگا الحمد لِلّٰه اوویله نو دا داسے ده چه څوک د الله په لاره کښې چاله سل اسونه ورکړی او یا ئے داسے اوفرمائل چه سل غزاگانی وکړی ۔

او چا چه سل ځله صبا بیگا لااله الا الله اوویله نو دا داسے ده لکه چه څوک د اسماعیل علیه السلام د اولاد نه سل غلامان آزاد کړی

او چا چه سل ځله صبا بیگا الله اکبر اوویلو نو هیڅوک به دده نه زیات عمل ونکړی مگر هغه څوک چه دده په شان ئے اووای او یا دده نه ئے ډیر اووای ( رواه الترمیذی ص ۳۱۸ ج ۲ وقال حسن غریب د محققین په نیز دا حدیث د ضحاک بن حمزہؒ د وجے نه ضعیف دے مگر د امام ترمیذی اسحاق بن راهویه ابن شاهین په نیز حسن دے )

## ددے څلور کلمو دویم فضیلت

ام هانئ بنت ابی طالب رضی الله عنها وائی چه رسول الله ﷺ په ما تیر شو نو ما عرض وکړو چه ای رسول الله ﷺ ځه بوډی شوی او کمزوری شوی یم ماته یو داسے عمل اوښایه چه ځه ئے په ناسته کوم وے فرمائل سل ځله سُبحان الله وایه ځکه دا ستا دپاره د هغه سل غلامانو د آزادولو سره برابر دے کوم چه د اسماعیل علیه السلام د اولاد نه وی او سل ځله الحمد لِلّٰه وایه دا ستا دپاره د هغه سل اسونو سره برابر ثواب لری چه په هغه زین او واگے دواړه وی او په هغے باندے ته څوک د الله په لاره کښې سور کړے او سل ځل الله اکبر وایه دا ستا دپاره دَ هغه سل اوښانو سره برابر دی چه هغے ته قُلاده وارچولی شی او قبول کړے شوی وی ۔

او سل ځله لااله الا الله وایه ابن خلف رحمه الله وائی ځما خیال دے چه داسے ئے اوفرمائل چه دا ستا دپاره د زمکے او آسمان ترمینځه علاقه ډکوی او په دغه ورځ به هیڅوک ددے عمل نه اوچت

عمل ونکړی مگر چه څوک ستا ددے عمل پشان عمل وکړی (رواه احمد ص ۳۴۴ ج ٦ الصحیحه۳۰۳ ج ۳ ) ۔

فائده ددے دواړو روایاتونو فرق دادے چه اول کښ صبا بیګا شته او په دویم کښ نشته صرف سل سل ځله ویل دی دویم دا چه په اول روایت کښ الله اکبر روستو ذکر شوی په دویم کښ لااله الا الله روستو ذکر شوی دریم دا چه په اول کښ د سبحان الله ثواب سل حجونه دی په دویم کښ د سبحان الله ثواب سل غلامان آزادول دی او د الحمد للّٰه ثواب په دواړو کښ تقریبًا یو دے چه سل اسونه دی ۔

او د لااله الا الله ثواب په اول کښ سل غلامان آزادول دی او په دویم کښ د زمکے او آسمان په مینځ کښ علاقه ډکول دی او د الله اکبر ثواب په اول کښ دادے چه ددینه زیات عمل نشته او په دویم کښ ددے ثواب د سل اوښانو سره برابر دے د الله تعالٰی فضل مهربانی ډیره فراخه ده دا ټول ثوابونه ورکوی ۔

## ددے څلور کلماتو دریم فضیلت

رسول الله ﷺ وائی خَيْرُ الْكَلَامِ اَرْبَعٌ ، غوره د خبرونه څلور دی لَاتُبَالِيْ بِاَيَّتِهِنَّ بَدَأْتَ ، پرواه نه کوی چه د کوم یوے نه شروع وکړی ۔ سبحان الله والحمد للّٰه و لااله الا الله و الله اکبر ۔

په بل روایت کښ راځی چه محبوب د خبرونه الله تعالٰی ته څلور دی تاته ضررنه رسوی چه د کومِ یوے نه شروع وکړی سبحان الله والحمد للّٰه ولااله الا الله والله اکبر ( السنن الکبرٰی للبیهقی ص ۳۱۰ ج ۹ ) ۔

## څلورم فضیلت

پدے هره یو کلمه په جنت کښ یوه ونه نالولی شی (ـه۲ مستدرک حاکم رقم ۱۸۸٤ وقال صحیح الاسناد وله شاهد عن جابر)

**شپږم په سبحان الله الحمد لِلّٰه الله اکبر کښ دوه نیم زره نیکښ دی** ـ د ابوداؤد په صحیح حدیث کښ راځی چاچه د هر فرض مانځه نه روستو لس ځله سبحان الله اوویله لس ځله الحمد لِلّٰه لس ځله الله اکبر ـ دارنګی د اوده کیدو په وخت کښ درے دیرش ځله سبحان الله درے دیرش ځله الحمد لِلّٰه څلور دیرش ځله الله اکبر اوویلو نو دده دپاره به دوه نیم زره نیکښ اولیکلی شی ( مشکوٰة ۲۱۱ ج ۱ )ـ

## اوم الحمد لِلّٰه سبحان الله

نبی صل الله علیه واله وسلم ابو امامه رضی الله عنه ته وائی الحمد لِلّٰه او سبحان الله وایه دا ستا د ورځے او د شپے د ذکر نه زیات بهتر دے په بل روایت کښ راځی چه په ورځ او شپه کښ ځان ستړی کړی نو دیته نشی رسیدلی دا په خپله ذده کړه او خپلو بچوته ئے اوښایه ( حاصل حدیث الطبرانی فی الکبیر ص ۳۳۸ ج ۸ ابن حبان ص ۱۱۲ ج ۳) ـ

## اتم په سل ځله سبحان الله کښ زر نیکی دی

رسول الله ﷺ وای څوک چه سل ځله سبحان الله اووای نو زر نیکی ورله لیکل کیږی او یا ترے زرګناهونه رژیږی د مسلم شریف او مسند احمد په بعض روایتونو کښ داسے لفظ راځی چه زر ئے نیکی کیږی او زر ئے ګناهونه رژیږی ـ د الله تعالیٰ فضل ډیر فراخه دے دواړه کارونه کیږی ( دا روایت په واو سره هم راځی اوپه او سره هم راځی انظر المرعاة بالتفصیل ص ۴۵٦ ج۷ )نو الحمد لِلّٰه دا د الله تعالیٰ ډیره مهربانی ده چه په لګ وخت کښ دومره ډیری نیکی ګټلی کیږی پینځه منټه او زر نیکی ـ

## نهم په الٓمٓ کښ دیرش نیکی دی

نبی کریم ﷺ وائی چا چه د الله تعالیٰ د کتاب نه یو حرف ولوستو نو دده دپاره به یوه نیکی ولیکلی شی څه نه وایم چه الٓمٓ یو حرف دے بلکه الف ځانله حرف دے لام ځانله حرف دے میم ځانله حرف دے او یوه نیکی په لس چنده ده ( رواه اهل السنن ونحوه فی الجامع رقم ص ۱۱٦۴ ) ـ نو څوک چه سورة اٰل عمران ولولی نو دده دپاره یو لاکهـ پینځه څلویښت زره او دوه سوه نیکی لیکل کیږی ځکه د سورة اٰل عمران ټول حروف څوارلس زره پینځه سوه شل دی ـ

## لسم لااله الا الله وحده لاشریک الخ

ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائل چه چا لااله الاالله وحده لاشریک له له الملک وله الحمد وهو علی کل شئ قدیر ۔ د ورځے سل ځله اوویلو نو دته به د لسو غلامانو د آزادولو هومره ثواب میلاویږی او سل نیکی به ورله ولیکلی شی او سل گناهونه یئے معاف شی ۔ او په دغه ورځ به ترماښامه پورے د شیطان نه محفوظ وی او هیڅوک به دده ددے غوره عمل په شان عمل ونکړی مگر هغه څوک چه دده نه زیات دغه کلمات ولولی ( بخاری و مسلم )۔

**یوولسم** د ځاښت مونځ د درے سوه شپیته نیکو سره برابر دے (مسلم مشکوٰة ص ۱٦۱ ج ۱)

## دولسم د جنازی ثواب

ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمایل څوک چه د یو مسلمان په جنازے پسے د ایمان او ثواب گنړلو په نیت روان شی تردے چه په هغه جنازه اوکړے شی او د هغه دفن نه فارغ شی نو دده دپاره به دوه قیراطه ثواب اولیکلے شی او چاچه صرف مونځ وکړو او بیا واپس شو نو دده دپاره به یو قیراط اولیکلے شی او قیراط د اُحد د غره هومره دے ( بخاری ) ۔ دا یو عظیم اجر دے په معمولی عمل باندے د دے وجه نه کله چه ابن عمر رضی الله عنه دا حدیث واوریده نو وے فرمایل مونږ خو ډیر قیراطونه ضائع کړی دی یا مونږ خو په ډیرو قیراطونو کښ کوتاهی کړی ده ۔ معلومه شوه چه صحابه کرامو به د نیکو سره ډیره مینه لرله ۔

## دیارلسم د کجوری هومره صدقه

په یو حدیث کښ راځی (حاصل ئے دادے ) رسول الله ﷺ وائی چاچه د پاکیزه مال نه د کجوری هومره صدقه ورکړه نو الله تعالیٰ یئے د غره نه غټه کړی ( بخاری و مسلم ) بعض سلفو به مره ورځ یو شے خامخا صدقه کولو اگرکه یو ککوړی به وو ۔

## د دووه جوړو ثواب

نبی ﷺ وائی مَنْ اَنْفَقَ زَوْجیْنِ فِی سبیل الله دعاهُ خزنةُ الجنةِ کُلُّ خزنةِ بابٍ اَیْ فل هَلُمَّ چاچه دوه جوړی د الله تعالیٰ په لاره کښ خرچ کړی (هغه مرشی چه وی ) د جنت د مرے دروازے خزانچیان بئے رابلی چه ای فلانیه په دے دروازه راځه (بخاری رقم ۲۸۴۱ ، ۳۲۱٦ ، ۳۲۵٦ ) فائده دوه جوړی که دوه روپی وی او که دوه اشرفی وی که دوه اسلحے وی وغیره ذالک (عمدة القاری ) او په یو مرفوع حدیث کښ تفسیر شوی چه ، بَعیْرَیْنِ شَاتَیْنِ حِمَارَیْنِ دِرْهَمَیْنِ ( تحفة الاحوذی مناقب ابی بکرؓ) دوه اوښان وی او که دوه گڈان وی او که دوه خره وی او که دوه روپی وی ۔

وصل الله علی خیر خلقه محمد وآله واصحابه اجمعین

# د مسکینانو او عاجزانو سره مینه محبت ساتل

الحمد لِلّٰهِ رب الناس والمساکین والصلوة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین وعلی آله الطیبین الطاهرین ومن اهتدٰی بهدیه الی یوم الدین ۔ اما بعد

فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم ۔ وَاصْبِرْ نَفْسَکَ مَعَ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِاالغَدَاةِ وَالْعَشِیِّ یُرِیْدُوْنَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَیْنَاکَ عَنْهُمْ تُرِیْدُزِیْنَةَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَنْ ذِکْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَکَانَ اَمْرُهُ فُرُطًا ۔

وَقَالَ تعالٰی وَلَاتَطْرُدِ الَّذِیْنَ یدعون رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِیّ یُرِیْدُوْنَ وَجْهَهُ مَاعَلَیْکَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِنْ شَیْئٍ وَمَا مَنْ حِسَابِکَ عَلَیْهِمْ مِنْ شَیْئٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَکُوْنَ مِنَ الظَّالِمِیْنِ۔

وَقال صلی الله علیه وسلم اللهم احینی مسکینًاوتوفنی مسکینا واحشُرْنی فی زُمْرةِالمساکین۔

په مخکښې موضوع کښې دا بیان وو چه د کامیابی دارو مدار په ایمان او په نیک عمل دے ۔ هر څوک چه مغه ایمانداره او نیک عمله وی نو مغه کامیاب دے ۔ که مغه بادشاه وه که ګداوی که مالک وی او که مملوک که مشر وی او که کشر وی که نارینه وی او که زنانه وی که تاجر وی او که زمیدار وی۔

**ایمانداره او نیک عمله اکثر مسکینان وی** :۔ لکن ایمان او نیک عمل اکثر په مسکینانو او عاجزانو کښې وی او اکثر مالداره د ایمان او نیک عمل نه محرومه وی ۔ د انبیاء علیهم السلام ملګرتیا اکثرًا فقراء او مسکینانو کړی او د انبیاء دشمنی اکثرًا غټانو او مالدارانو کړی لکه په حدیث د مرقل کښې راځی چه مرقل د ابوسفیان رضی الله عنه نه تپوس وکړو چه آیا ددے پیغمبرؑ ملګرتیا کمزوری خلق کوی او که غټان ابوسفیانؓ اویل چه کمزوری نو مرقل اویل چه دغه رنګی د انبیاء ملګرتیا کمزوری خلق کوی ۔ رسول الله ﷺ وائی چه جنت ته ښکاره شوم ، <u>فَرَأیتُ اکثر اَهلهَا الفقراء</u>، اکثر پکښې غریبان خلق وو۔

د رسول الله ﷺ ژوند هم د فقروو عائشه رضی الله عنها وائی چه د محمد ﷺ آل د وربشو په ډوډی دوه ورځې پے درپے نه دے موړ شوی ۔ او رسول الله ﷺ به دعاء کوله چه الله څما ژوند د مسکینانو کړه او مړ کړی ماله مسکین او راپورته کړی ماله په ډله د مسکینانو کښې۔

**د مسکینانو مقام** :۔ او پیغمبرؑ ته حکم شوی چه د مسکینانو او عاجزانو سره مینه محبت ساته ، وَاصْبِرْ نَفْسَکَ مَعَ الَّذِیْنَ ید عون ربهم بالغداة والعشی ۔ یعنی د غریبانو په ملګرتیا کښې ځان کلک کړه ۔ او الله تعالیٰ وائی وَلَا تَطْرُدِ الَّذِینَ یدعُونَ ربَّهم بِالغداةِ والعشیِّ ، یعنی غریبان د خپل مجلس نه مه شړه ۔

او رسول الله ﷺ وائی فَإِنَّمَا ترزقُون وتُنصرُون بِضُعفائکُمْ یقینًا تاسوته رزق درکولی شی او امداد مو کولی شی د کمزورو په وجه ۔۱ ابوداؤد رقم ۱۵۹۴ نسائی ۳۱۷۹ ترمیذی ۱۷۰۲ وقال الترمیذی حسن صحیح ۔)

او په بعض آثارو کښې راځی الله تعالیٰ وائی اَنَا مَعَ المنکسِرَةِ قُلوبُهُمْ لِیْ (بحواله المسک والعنبر لشیخ عائض القرنی ص ۱۲۱) څه سره د مغه کسانو نه یم چه د مغوی زړونه څما د رضا دپاره مات وی یعنی د الله تعالیٰ په بنده ګی کښې او په عاجزی کښې وخت تیروی خواهش پرست دینا پرست منصب پرست نه وی ۔

## د مسکینانو لحاظ په الله تعالیٰ باندے

ډیر کرته به یو سړی ظاهرًا ډیره عاجزه او مسکین وی په معاشره کښې ئے څه حیثیت نه وی خلق ئے قدر او احترام نه کوی څه لحاظ ئے نه وی ۔ ببر سر او ګرد آلوده به وی شلیدلی جامی ئے وی ۔نری او وچ کلک بدن ئے وی ۔ لکن مغه به د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ په نیز ډیره عظیمه مستی وی ۔ الله تعالیٰ ته به ډیر قدرمند وی ۔ الله تعالیٰ به ئے ډیر لحاظ کوی دعاګانی ئے قبلوی ۔ په قسم کښې به ئے بری کوی ځکه د الله تعالیٰ په مینه به مست وی ۔ د الله تعالیٰ په عشق کښې به مستغرق وی ۔ د داسے خلقو خدمت پکار دے د دوی د تکلیف کولونه ځان ساتل پکار دی ځکه د داسے خلقو د آه او د ژړا او فریاد نه قومونه علاقې او ملکونه چپه کیږی ۔

ځکه دا خلق په الله تعالیٰ ډیر خاطرمند وی دوی په الله تعالیٰ ډیر لحاظ لری ۔ رسول الله ﷺ وائی رُبَّ اشعثَ مدفُوعٍ بِاالابوابِ لو اقسم علی الله لَاَبَرَّهُ ( رواه مسلم مشکوة ج ۲ ص ۴۴٦ باب فضل الفقراء وماکان می عیش النبی ﷺ ) ډیر کرته ببر سروالا چه دیکه کولی شی په دروازو کچری قسم وکړی په الله تعالیٰ نو الله تعالیٰ یۓ بری کوی ۔ د براء بن مالک رضی الله عنه د واقعۓ په باره کښ هم راځی ، اِنَّ من عبادِ الله من لو اقسم علی الله لابرَّهُ ( روه احمد و ابوداؤد و ابن ماجه ) د الله تعالیٰ په بندګانو کښ داسۓ کسان شته کچری په الله تعالیٰ قسم وکړی نو الله تعالیٰ یۓ بری کوی ۔ دا ډیره لویه مرتبه ده چه یو عاجزه او کمزوری انسان د زړوجامو والا او شلیدلی پیزاروالا په الله تعالیٰ قسم کوی او الله تعالیٰ ۓ بری کوی دومره په الله ګران وی ۔

## واقعه

سهل بن سعد رضی الله عنه وائی په رسول الله ﷺ یو سړی تیر شو ۔ د رسول الله ﷺ خواته یو کس ناست دۓ هغه ته وائی مَارَأیُک فِی هٰذا ستا د دۓ په باره کښ څه رای ده هغه ویل رَجُلٌ من اشرافِ الناسِ دا یو سړی دۓ د عزتمندو خلقو نه قسم په الله دا د دۓ لائق دۓ چه د چا د نکاح تپوس وکړی چه په نکاح ورکړی شی او که سفارش وکړی نو چه سفارش ۓ قبول شی ۔ رسول الله ﷺ چپ شو بیا بل یو سړی تیر شو رسول الله ﷺ ویل د دۓ په باره کښ ستا څه رای ده هغه ویل یا رسول الله دا یو غریب سړی دۓ ۔ دا ددۓ لائق دۓ که د چا د نکاح تپوس وکړی چه په نکاح ورنکړی شی او که سفارش وکړی نو چه سفارش ۓ قبول نشی او که خبره کوی چه خبره ۓ وانه وریدلی شی ۔ رسول الله ﷺ ورته اویل هٰذا خَیْرٌ من ملأِ الارضِ مِثْلَ هٰذا (متفق علیه مشکوٰة ج ۲ ص ۴۴٦) دا ډیر غوره دۓ د ډکوالی د زمکی نه په شان ددۓ۔ یعنی که ددۓ مالداره په شان خلقونه دا ټوله زمکه ډکه شی نو دا یو غریب ترینه ډیر غوره دۓ ۔ ددۓ حدیث نه معلومه شوه چه ډیر کرته به یو سړی د خلقو په نظر کښ ډیر عزتمند او محترم وی لکن د الله تعالیٰ په نیز یۓ هیڅ حیثیت نه وی د الله تعالیٰ په نیز به د سپی او خنزیر نه هم ذلیله وی ۔ او یو سړی به د خلقو په نظر کښ بے کاره او کمزوری وی عاجزه او مسکین به وی لکن د الله تعالیٰ په نیز به ډیر د لوی مرتبی خاوند وی ۔

## د مسکښنانو خاطر په رسول الله باندے

رسول الله ﷺ به د مسکینانو او عاجزانو سره ډیر مینه محبت کولو په هغوی یئے رحم او شفقت کولو د هغوی خبرګیری یئے کوله د هغوی تپوس ته به ورتللو۔ کله به د یو بوډی ملاقات ته ورتللو دا ملاقات د زر بیانونو او د زر کتابونو نه ډیر غوره وو- نن صبا ډیر متکبره او سخت زړو خلقوته پدی ځان بدی ښکاری د هغوی خیال دا وی کچری څه د یو عاجزه او مسکین سره کینم یا ورسره تعلق جوړ کړم یائے ملاقات ته ورشم نو ځما حیثیت خرابیږی ځما رعب او دبدبه ختمیږی ۔ ددے په وجه ترینه د خلقو نفرت پیداشی خلق ورسره مینه نه کوی په زړونو کښ د هغه محبت او قدر نه وی قبولیت او محبوبیت ئے نه وی ژ ے ورته دعا ګانی نه کوی زړه ورسره مینه نه کوی ۔ پکار دا ده چه مونږ او تاسو د مسکینانو او عاجزانو سره مینه او محبت وکړو د هغوی په مجلسونو کښ کینو د هغوی ملګرتیا غوره کړو د هغوی په ناسته په زړونو کښ سکون او اطمنان پیدا کړو ۔

اقول ما تسمعون واستغفر الله العظیم لی ولکم ولجمیع المسلمین فاستغفروه انه هوالغفور الرحیم ۔

## د راز اهمیت او حفا ظت

الحمد لِلّه  والصلوة والسلام علی رسول الله واشهد ان لااله الله وحده لاشریک له واشهد ان محمدا عبده ورسوله

اما بعد فاعوذ با الله من الشیطان الرجیم والذین هم لاما نا تهم و عهدهم راعون

وقال تعالی ولا یُشعِرنَ بکم احدا» وقال تعالی یا بنیَ لا تقصص رؤیاک علی اخوتک  فیکیدوا لک کیدا

وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم احفظ سری تکن مؤمناً

**تمهید**

داسلام په حکمونو کښ یو حکم  د مجلس د ادابو خیال ساتل   اوراز پټ ساتل دی ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی  المجالسُ با الامانة  د مجلسو نو دارو مدار په امانت   دی او د مجلس د فیصلو راز خورول په امانت کښ خیا نت دی نن صبا دنورو مرضونو نه علاوه یو مرض راز خورَول دی  - عوام خو لا پریږده  مجا هدین او علماء هم دراز خیال نه ساتی حالانکه دراز دحفاظت نه په غیر نه مقابله کیدیشی او نه په مقابله کښ کامیابی راتلی شی  رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی إستعینو علی نجاح الحوا یج با الکتمان امداد حاصل کړی په پوره کولو دحاجتونو کښ په پټولو دراز سره  پدی وجه مونږه دراز په اهمیت او حفاظت یو څو خبری کوو

**اوله خبره  دراز معنی**  راز په لغت کښ هغه  خبری ته وایي چه پټولی شی  [لسان العرب ۳۵۶

دادښکاره کیدو خلاف راځی  ځنی خبری دښکاره کیدو وی او  ځنی د پټولو وی کو مه خبره چه  انسان پټول غواړی هغی ته راز وایي

**دویمه خبره دراز په اهمیت او حفاظت دلائل**   اول دقران ایتونه   په خطبه کښ چي مونږ کوم دری ایتونه ولوستل دهغی نه دراز  ډیر اهمیت معلومیږی

دویم حدیثونه انس رضی الله تعالی عنهُ وایی اَول ما اوصانی به رسول الله صلی الله علیه وسلم اَن قال یا بُنیَ اُکتم سرِي تکن مؤمناً فکانت اُمی وازواج النبی صلی الله علیه وسلم یسئلننی عن سر رسول الله صلی الله علیه وسلم فلا اخبرهم به وما انا بمخبر سر رسول الله صلی الله علیه وسلم احداً ابداً

انس رضی الله عنه وایئ چه اولنی هغه خبره جی ما تا پری رسو ل الله صلی الله علیه وسلم وصیت کړی وو هغه دا چه وی فرمایل ای بچیه څما رازپټ سا ته نو ته به کامل مومن جوړشی نو څما مور او د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیبیانو به چه کله دهغوی درازتپوس کولو نو ما به ورته نه ښودلو او څه درسول الله صلی الله علیه وسلم راز هیڅچا ته نه بیانوم (مسند ابو یعلی ص۳۰۶ج۶

فائده ددی حدیث نه معلو مه شوه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به ماشوما نو ته هم دراز ساتلو تعلیم ورکولو

بل حدیث کښ راځی پیغمبر علیه السلام فرمایئ المجا لس باالامانة مجلسو نه په امانت سره دی (ابو داؤد کتاب الادب ۲/۳۲۰

اوپه بل حدیث کښ راځی قلَما یرید غزوة یغزوها اِلا وری بغیرها نبی صلی الله علیه وسلم به چه کله غزاکوله نو توریه به ئے کوله علّامه ماوردی رحمه الله فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دغتِ مرتبې او لوړ مقام نه په ځان داواجب کړیوه چه خپل ځان ئے دراز د محفوظ ساتلو عادی جوړ کړیو چه څوک پری خبر نشی [نصیحة الملوک ۶۱۷۷] عمررضی الله عنهُ وای چه من کتم سِرَهُ کانت الخیرة فی یده چا چه رازوساتلو نو اختیار به دهغه په لاس کښ وی [ منا قب عمرلابن جوزی ۶۲۲۹ ] عبا س رضی الله عنهُ یوه ورځ خپل ځوی ابن عباس ته اوئیل چه عمر رضی الله عنهُ ستا نه تپوسو نه کوی او په مشرانو صحابه کرامو تا مخکښی کوی نو څه تا ته دڅلورو خبرو وصیت کوم یو دا چه لا تفشینّ لهُ سِرّا ته دهغوی راز مه خوروه [عیون الاخبار ۲۴ ]

معاویة رضی الله عنهُ وائی چه څه په علی رضی الله عنهُ په څو خبرو کا میاب شوی وُم یو دا چه هغه به رازنه ساتلو او ما به رازساتلو [اداب الملوک ۱۰ فصل فی کتمان السر]

عا ئشے رضی الله عنها به درسو ل الله صلی الله علیه وسلم دو مره راز ساتلو چه خپل والد محترم ته بئ هم نه بیا نو لو دفتح مکے په واقعه کښې رائی چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم تیاری شروع کړو نو عا ئشے رضی الله عنها ته ئے حکم اوکړو چه دسفر ساما ن راله تیارکړه او دسفر اراده پټه وساته . عائشی رضی الله عنها غنم صفا کول او ابوبکر صدیق رضی الله عنهُ کورته راداخل شو تپوس ئے اوکړو چه ای بچی دا څه لره صفا کوی نو هغه چپ شوه بیا ئی تپوس اوکړو چه ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم دجهاد اراده لری نو هغه چپ شوه بیا ئی تپوس اوکړو چه ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم د رومیا نو اراده لری هغه چپ شوه بیا ئی تپوس اوکړو چه شاید دنجد اراده لری هغه بیا هم چپ شوه بیا ئی تپوس اوکړو چه شاید دقریشو اراده لری هغه بیا هم چپ شوه بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم را داخل شو ابوبکر صدیق رضی الله عنه اوئیل چه یا رسول الله چرته د تلو اراده لری هغوی ایل اؤ ابوبکر رضی الله عنه اویل چه درومیانو اراده لری هغوی ویل نه بیائے اویل چه دنجد والا اراده لری هغوی اویل نه ابو بکر رضی الله عنه اویل چه شاید دقریشو اراده لری هغوی اویل او.[البداية والنهاية ۲۸۲ج۴

بعض بلغآء وائی چه کله رعیت دبادشاهانو درازونو نه خبر شی نو ددای بادشاه عظمت او رعب ختمیږی [تسهيل النظر ۹۷ص

**درازحفاظت په انسان کښې لوی کمال دے** - علامه طرطوشی رحمهُ الله لیکی اعلم انّ کتمان الاسرار یدُلّ علی جواهر الرجال وکما انه لا خیر فی انیة لا تمسک ما فیها فلا خیر فی انسان لا یُمسک سرّه . پوهه شه چه راز پټول دلالت کوی په کمالاتو د نا رینو څرنګی چه په هغه لو ښی کښې خیر نشته چه هغه نشی ایسارولی هغه شی چه پکښې وی نو دغه رنګی په هغه انسان کښې څه خیر نشته چه هغه دراز حفاظت نه کوی [سراج الملوک ص۴۱۵*۲ج نصيحة الملوک *۱۷۸

ما وردی لیکی قلو ب العقلاء حصون الاسرار وصدور الاحرار قبور الاسرار دعا قلانو زړونه درازونو قلعه ګانی وی او دشریفو خلقو سینی درازونو قبرونه وی [سراج الملوک *۴۲۱ج۲

احیاءالعلوم ص۱۹۴ ج ۲ *ادب الدين والدنيا ۴۸۶]

## دراز دخورولو سزا او واقعه

دکوفي والي مغیره ابن شعبه رضی الله عنه دځان سره مال راوړو او عثمان رضی الله ته ئے حواله کړو ملګرو تری تپوس وکړو چه عثمان رضی الله عنه دِ څرنګه اومندلو مطمئن او خوشحاله وو اوکنه نو مغیرهؓاوئیل چه کیدیشی چه ما دوباره کوفي ته ونه لیګی نو مغیره رض دعثمانؓدربانچی ته اوئیل چه که عثمانؓځما په ځائ بل حاکم مقررکړی او ته ما ته خبر راکړی نو څه به تا لره عوض او مزدوری درکړم کله چه عثمان رضی الله عنهؓسعد بن ابی وقاصؓ مقرر کړو نو حمران مغیرهؓ ته خبر ورکړو نو مغیرهؓدعثمانؓ خواته راغلی او ویویل چی حضرت ایا تا ته ځما په باره کښ چا شکایت کړی یا ځما نه کوم نا مناسب کار شوی چه تا څه معزوله کړم او سعدؓ مقررکړو نو عثمانؓورته اوئیل چه ته چاخبرکړی هغه اویل که څه دا خبره ښکاره کوم نو دا ډیره ناکاره خبره ده عثمانؓ سعدؓراوغښتلو چه آیا دا خبر تا ښکاره کړی هغه انکار وکړو نو عثمانؓمغیرهؓته اوئیل لتخبرنّ من اخبرک او لاسیلنّ دمک یا به راته خبره کوی او یا دِ وینه تویه وم نو هغه ورته خبره وکړه عثمان رضی الله عنه حمران راوغښتلو شپیته کوړی اوهلو سر ئے ورله وخرولو او حکم ئی اوکړو چه په بازار کښ وګرځوئ [تاریخ المدینة المنورص۱۴۰ ج ۵۲

## دویمه واقعه

عثمانؓ چه کله بیمار شو نو خپل کاتب حمران ئی راوغښتلو او ورته و ئیل چه ځمانه روستو د خلافت زمداری دعبدالرحمنؓ دپاره ولیکه نو هغه دعبدالرحمنؓخواته لاړئ اوویویل چه ستا دپا ره خوشخبری ده عبدالرحمنؓ ورته اویل دڅه خبری نو حمران ورته بیان وکړو عبدالرحمنؓ دعثمانؓ خواته راغلی او خبره ئی ورته وکړه نو عثمانؓ اویل چه أُعاهد الله ان لا یُساکننی حمران ابدا ځما دِ په الله قسم وی چه دنن وروستو به حمران ځما سره نه اوسیږی بیا ئی بصری ته وشړلو دعثمانؓ دشهادت پوری هلته اوسیدلو [سراج الملوک ۴۱۳ ص ۲

## دراز حفاظت ډیر ګران کار دے

دبعض بادشاهانو قول دی چه دوه خبری انسان ته ډیری ګرانی دی ان یعرف نفسه ویکتم سرّه یو دا چه خپل ځان وپیژنی دویم دا چه راز پټ کړی [سراج الملوک :ص۴۱۷ ج۲

ذیاد رحمه الله وای چه په خلقو کښ دوه خبری نوی پیدا شوی اذاعة السر وترک النصیحة یو راز خورول دویم خیر خواهی پریښودل - ماوردی او طرطوشی رحمهما الله وائي چه دراز حفا ظت دمال دحفاظت نه زیات مشکل دی دغه رنګی وائي چه دما ل حفاظت کونکی ډیر دی او د راز حفاظت کونکی کم دی دغه رنګی دراز خورول دجهالت نښه ده دغه رنګی امام راغب رحمه الله وائی چه دراز خورول د کمزو رو سړو او دزنا نو او دماشو مانو صفت دی [الذريعة الى مكارم الشريعة ص ۱۵۱

**دراز خورول ددری وجو نه کیږی** ۱ دصبر دکمی او دسینی دتنګی ۲ غفلت ۳ دهوکه کیدل

**دراز طلب ګار ته به راز نه ښودلی شی** او ددے وجه ماوردی رحمه الله دا بیان کړیده چه فانّ طالب الوديعة خا ئن حا صل ئی دادی چه دا طلب دامانت کوی او طلب کونکی دامانت خیا نت ګر وی

## ډیرو کسانو ته راز ښودل نه دی پکا ر

دسلیمان علیه السلام ارشاد دی ليکن اصدقائک کثيرا وصاحب سرک واحدا من الف دوستان زیات پکار دی او راز دار په زرو کښی یو کس پکار دی

## خلاصه

دا د راز په باره کښ ضروری هدایات وو چه دراز اهمیت دقران او حدیث اود اکا برینو داقوالو او عمل نه معلو میږی او دراز حفاظت دعقلمندو خلقو فریضه ده نو پکار ده چه مونږ دراز حفاظت وکړو او خپل منزل مقصود ته ورسیږو او په اسانی سره دبا طل قو تو نو مقا بله وکړو اوددشمن دضرر نه بچ شو وما ذالک علی الله بعزيز

ددے بیان انتخاب مونږ دمو لانا عبد البا قی دکتاب(اسلام میں اسرار کښ اهمیت و حفاظت) نه وکړو

## داسلامی مشرانو صفات او اخلاق

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على من تمّم مكارم الاخلاق وامربها الى الحكام و المحكومين وعلى اله واصحابه الذين هم قدوةالامةفى السياسة والحكم الى يوم الدين

اما بعد فاعوذ با لله من الشيطن الرجيم الذين ان مكّنا هم فى الارض اقاموا الصلوة واتوا الزكوة و امرو ا بالمعروف ونهوا عن المنكر ولله عاقبةُالامور

### تمهيد

هرعمل په شرعی طریقه کول عبادت دی په اسلامی ملک کښ سیاست په شرعی طریقه کول دا هم یو عبادت دی او زمونږ دجهاد په مقصدونو کښ یو مقصد اسلامی نظام شرعی سیاست او اواسلامی حکومت قائمول دی د سیاست شرعی طریقه هغه ده چه په کومه طریقه سیاست او حکومت نبی ﷺ او دهغه نه وروستو په خیر القرون کښ شوی وو د رسول الله ﷺ او دخیر القرون په سیاست او خلافت کښ دوه خبری وی یو ددین حفاظت دویم ددین په رنړا کښ ددنیا سیاست : نو زمونږ دسیاست به هم هغه طریقه وی کومه چه په خیرالفرون کښ وه

ځکه دامام مالکؒ قول دی چه ددی امت دروستنو خلقو اصلاح به په هغه شریعت کیږی چه په کومه طریقه او شریعت دمخکنو خلقو اصلاح شوی وه . داسلامی سیاست دپاره داسی افراد پکار دی چه هغه دکفری سیاست په مقابله کښ اسلامی سیاست کولی شی او اسلامی حکومت چلولی شی او دغه افراد به هله تیاریږی چه کله زمونږه په مشرانو کښ هغه صفات او اخلاق راشی چه هغه داسلامی حکمرانانو امیرانو او مشرانو دپاره ضروری دی بیا دغه صفات او اخلاق ډیرزیات دی مونږ ترینه یو څو بیانوو

## اول صفت اخلاص دے

اخلاص ډیر ضروری دے ځکه چه اخلاص نه وی نو په امت کښ مالی خیانتونه او سیاسی او عسکری او اد ارتی خیانتونه ښکاره کیږی ټول کارونه معطل پاتی کیږی خلقو ته حقوق نه رسیږی دکارونو صحیح نتیجه نه راوځی [الکفائة الاداریة ص ۴۱

د اخلاص په موضوع مونږه یوه رساله لیکلی ده تفصیل هلته کتلی شی

## دویم صفت تقوی او دشریعت مکمل پابندی ده

تقوی هم ډیره ضروری ده ځکه دتقوی ډیری فائدی دی یوه فائده ئے دا ده چه په کوم امیرکښ تقوی وی نو دهغه نه به رعیت او مامورین یریږی ، دیمن یو بادشاه خپل یو جانشین ته خط لیکلی وو اتّق مَن فوقک یتّقیک مَن تحتک یره کوه دهغه ذات نه چه ستا نه دپاسه دے یریږی به ستا نه هغه څوک چه ستا نه لاندی دی [المنهج المسلوک ۱۸۰ص

ابو درداءؓ خالد بن مسلمهؓ ته خط لیکلی وو فان العبد اذا عمل بطاعة الله احبّهُ الله فاذا احبه الله حببهُ الی خلقه کله چه بنده دالله تا بعداری کوی نو الله به ورسره مینه کوی او کله چه ورسره الله مینه وکړی نو مخلوق ته ئے محبوب وګرځوی او کله چه دالله نا فرمانی کوی نو الله ورسره بغض کوی او چه الله ورسره بغض وکړی نو خلقو ته ئے مبغوض وګرځوی[ کنزالعمال ص ۲۲۵ ج۸

ثعلبیؒ وائی الملک خلیفة الله فی ارضه ولن یستقیم امر خلا فته مع مخالفته امیر دالله خلیفة دے دالله په زمکه کښ او خلافت دمخالفت سره نه چلیږی

اداب الملوک ۵۱ص دتقوی تفصیلی بیان زمونږ په بل کتاب کښ موجود دی

## دریم صفت امیر به دخپل رعیت او ما مورینو دپاره بهترینه نمونه وی

ځکه درعیت اصلاح دامیرانودااصلاح سره دکافی حد پوری مربوطه ده او خلق عموما دخپلو مشرانو په دین وی په بخاری شریف کښ دقیس بن حازمؒ په روایت راځی چه د احمس قبیلی یو زنانه دابوبکرؓ نه تپوس وکړو چه ما بقائنا علی هذا الامر الصالح الذی جاء الله به بعد الجاهلیة دجاهلیت نه ورستو به زمونږ پاتی کیدل پدے عادلانه نظام تر څو پوری وی [بخاری ۱\ ص ۵۴۱

ابن حجرؒوائی چه دنیک کارنه مراد دین اسلام او هغه شی دی چه دین اسلام پري مشتمل وی چه هغه عدل دے اتفاق او دمظلوم امداد دے او هر شی په خپل محل ایښودل دی [فتح الباری ج۷ ص۱۱۸

نو ابو بکرؓورته اویل چه ما استقامت بکم ائمتکم ترڅو چه استقامت کوی پدی دین باندی مشران ستاسو ابن حجرؒوائي لان الناس علی دین ملوکهم ځکه خلق په دین دخپلو مشرانو وی چه امیر بی لاری شی نو خلق هم بی لاری کیږی

## دحاکم مثال دبازار دے

حاکم پشان دبازار دے بازارته هغه شی راوړی شی چه دهغه مارکیټ وی او دهغه قیمت وی

عبد الله بن زبیرؓ وهب بن کیسانؒ ته لیکلی وو انما الامام کا السوق ما نفق فیها حُمل الیها ان نفق الحق عنده حُمِل الیه وجاءهُ اهل الحق امیر پشان دبازار دے بازارته هغه شی راوړی شی چه کوم پکښ خرڅیږی که حق پکښ خرڅیږی نو حق ورته راوړلی شی او حق پرست خلق ورته راځی وان نفق الباطل عنده جاءه اهل الباطل ونفق عنده او که باطل پکښ خرڅیږی نو باطل پرست ورته راځی او ددی سره باطل میلاویږی [حلیة الاولیاء ص ۳۰۵

یوځل دعمرؓپه دور کښ بیت المال ته ډیر مال راغلی وو نو عمرؓاوئیل چه کوم قوم دا امانت ادا کړو نو هغه امانت دار دی نو چا ورته اویل انّک ادّیت الامانة الی الله تعالی فادّوا الیک الامانة تا الله ته خپل امانت ادا کړو نو دوی تا ته امانت ادا کړو ولو رتعت لرتعوا کچری تا خیانت کړی وی نو دوی به هم خیانت کړی وے

## دامام مو صلیٰ وینا

دحجاج په زمانه کښ به چه کله سحر شو نو خلقو به دیو بل نه تپوس کولو چه من قُتل البارحة ومن صُلب بیګا څوک وژلی شوی او څوک په سولی شوی دی ومن جُلد ومن قُطعَ څوک په کوړو وهلی شوی او دچاه نه لاس خپی کټ کړی شوی دی دغه رنګی به دنورو ظلمونو او سزاګانو تپوسونه کیدل

د ولیدؒ په زمانه کښې به خلقو د ابادی او محلونوکارخانو دنهرونو کنستلو او دباغونو دلګولو تپوس کولو ځکه دولید مینه او محبت دابادو زمکو اوباغونو سره وه ،او دسلیمان بن عبدالملک دنکاحونو اوخواراکونوسره مینه وه نو دده په زمانه کښې به دخوراکونو نکاحونو او وینځو بحثونه وو ، او دعمر بن عبد العزیز په زمانه کښې به خلقو دا تپوسو نه کول چه تا څومره قران یاد کړی اوته څومره تلاوت کوی او فلانی څومره قران یاد کړی او څو مره روژی نیسی اوهم دغه رنګی به ئے دنورودینی خبرو تپوسونه کول {حسن السلوک الناس تبع لملوکهم ۶۸

## {څلورم صفت په مینه محبت او اهتمام سره کار کول}

ځکه په اسلامی اداره کښې داسلام او دمسلمانانو خدمت کول عبادت دی رسول الله فرمائی ومن لم یهتم للمسلمین فلیس منهم څوک چه دمسلمانانو دکارونو اهتمام نه کوی نو دا ددوی نه نه دی [مستدرک ۳۵۶ ج۴ کنز العمال ج۱۰ ص۴۳۳

عبد الرحمن بن غنم رضی الله عنه وائی شهدتُ عمر ینظر فی امورالناس حتّی تعال النهاروافترق عنه الناس وقام الی منزله ما عمر په داسی حال کښې ولیدو چه دخلقو په کا رونو کښې مصروف وو تر دی چه ورځ اوچته شوه خلق خورشو اوعمر کورته روان شو [مناقب عمر ۱۲۱

امام ابو یوسف دعمر بن عبد العزیز په باره کښې وائی چه ده دخلقو دخدمتونو دپاره ځان فارغه کړیو دخلقو دضرورتونو دپاره به ناست وو که دورځې به دخلقو ضرورتونه پوره نه شول نو دشپې به ئې پوره کول اکثرورځې به داسی تیریدی چه ده به د خلقو ضرورتونه پوره کړیو [کتاب الخراج ۵۳

## پنځم صفت دنرمی په موقعه نرمی کول

ځکه دنرمی سره دخلقو مینه محبت بیدا کیږی او خلق بی خوفه خپل حاجت پیش کولی شی

### دمعاویة رضی الله عنه وینا

معاویةؓ وائی چه په کوم ځائ کښې په کوړه کار کیږی هلته څه توره نه استعمالوم اوچه په کوم ځای کښې په ژبه(خبره) کار کیږی نو هلته څه کوړه نه استعمالوم او کچری څما او دخلقو په مینځ کښې

ویښته وی نو هغه به هم نه کټ کیږی ځکه چه که هغوی ویښته راکاګی نو ځه ئی پریږدم او که هغوی ئی پریږدی نوځه ئي راکاګم (عیون الاخبار۹ص ج۱ ) معاويةؓ زیاد بن ابیه ته خط لیکلی وو چه دا مناسب نه دی چه ځه او ته په یو شان سیاست دخلقو اصلاح کوو که ټول سختی کوو نو خلق به هلاک کړو او که ټول نرمی کوو نو خلق مست کیږی لکن کله ته نرمی کوه ځه به سختی کوم اوکله ته سختی کوه ځه به نرمی کوم (انساب الاشراف ۹۲ص۵ج الدولة الاموية ۲۷۹ص ۱

## دعلامه شیزریؒ تحقیق

علامه شیزریؒ وای چه دیو بادشاه (امیر)دپاره دا مناسب نه دی چه په هر ځاي کښ نرمی وکړی بلکه رعیت د دری حصّی کړی او دهغوی سره دِ دری قسمه سیاست کوی یوه طبقه دخواصو اونیکانو او د هغوی سره دِد نرمی سیاست کوی دویمه طبقه دخاص اشرارو دهغوی سره د سختی کوی دریمه طبقه د عوام الناس ده نو دهغو سره دکله سختی کوی او کله نرمی (المنهج المسلوك ۲۸۸ ص

## د بې ځایه تشدد نقصانات

بې ځایه تشدد اللهﷻ نه خوښوی اواللهﷻ ئي بد ګڼړی

دا درسول اللهﷺ دقول او فعل مخالفت دی ځکه رسول اللهﷺ باربار نرمی ته ترغیب ورکړی دی (۳) دا دلیل دی دعقل دکمزوری (۴) دا دلیل دجهل او دکموالی دفهم دی (۵) دخلقو ترینه جدائی او نفرت پیدا کیږی ددی نه علاوه نور نقصانات ئی هم شته (نضرة النعيم ۴۲۰۹ص۹

## شپږم صفت ځانله امتیازی حیثیت نه ثابتول بلکه دخلقو سره برابرژوند تیرول

د رسول اللهﷺ او دخلفاء راشدینو دا طریقه وه چه دخلقو سره بې یو شان ژوند تیرولو او ځانله بې امتیازی حیثیت نه ثابتولو حدیث کښ راځی یو ځل رسول اللهﷺ دصحابه کرامو سره روان وو هغوی پری دځادر سوری وکړو کله چه نبیﷺ وکتل چه صرف په ما سوری دی نو صحابه کرام ئی منع کړل او ځادر ئی یو طرف ته کیښودلو او ویویل چه <u>انّما انا بشرٌ مثلکم لا اتّمیز عنکم</u> ځه ستا سو پشان یو انسان یم او ځه ستاسو نه ځه امتیازی حثیت نه خوښوم (حیاةالصحابه ۵۹۶ص ۲ ج

دابوبکرؓ په بیان کښ راځی چه ای خلقو ځه ستاسو حاکم جوړ شوم <u>ولستُ بخیرکم</u> ستاسو نه غوره نه یم <u>فان احسنت فاعینونی</u> که ما ښه کارونه کول نو ځما امداد وکړی <u>وان اساتُ فقوّمونی</u>

او که څه بد کارونه اوکړم نو ما برابر کړی (کنز العمال ۶۰۱ص ۵ج البدایة والنهایة ۳ص۵ج )

زید بن ثابتؓ وائی چه یو ورځ عمرؓزمونږ کورته راغلی اجازت ئی وغښتو ما اویل امیرالمؤ منین تا به جواب رالیږلی وی څه به درغلی وی نو عمرؓ اویل انما الحاجة لی ضرورت څما وو (مناقب امیر الؤمنین ۲۲۶ص) معلومه شوه چه ستا دچا سره کاروی او هغه ته راغواړی دا دتواضع خلاف ده

یو ځل په ګرمی کښی عمرؓبهر راوتلی وو دنمر دوجی نه ئی په سر څادر ایښی وو عمرؓچه وکتل نو دده یو غلام په خرسور وو او روان وو نو عمرؓورته اوویل چه احملنی معک ما دځان سره سور کړه غلام دخرنه کوز شو او ویویل ته پری سور شه عمرؓ اوئیل چه ته سور شه اوځه به ستانه ورستو سور شم ایا ته دا غواړی چه ما په نرم ځای کینی او په خپله په سخت ځای کینی نو غلام سور شو او عمرؓپسی روستو سور شو مدینی ته په داسی حال کښی داخل شو چه خلقو ورته کتل (کنز العمال ۶۵۴ص ۱۲ج )

علی رضی الله عنه دخپل خلافت په زمانه کښی یوائې بازارته تللو اوخپل کاربئ پخپله کولو یو راوی وائی چه ما علی رضی الله عنه ولیدو چه دیوی روپی کجوری واغستلی څادرتۍ وغورزولی او په شا ئی کړی اوکورته روان شو چاورته اویل چه امیر المؤمنین مونږ بۍ درسره واخلو هغه اویل ابو العیال احق بحمله دبچو پلار ډیر لائق د ی چه خپل بوج پخپله پورته کړی[ کنزالعمال ۱۸۰ص ۱۳ج

## اوم صفت دخلقو مرتبی پیژاندل

امیر او مشر لره دا پکار دی چه هغه هوښیاروی او دخلقو مقام اومرتبی پیژنی او دهر چا نه دهغه مناسب خدمت اخلی څکه دهر چا مرتبه یو شان نه وی الله فرمائی ولا تبخسوا الناس أشیاءهم مفتی محمد شفیع رحمه الله وائی چه د بخس فی الاشیاء یو صورت دادی چه دچا ددرجی اومرتبی موافق دهغه احترام نه کوی دغه رنګی اللهﷻ فرمائی ناست اومجاهد نه دی برابر دغه رنګی عالم اوجاهل نه دی برابر او نبی صلی الله علیه وسلم وائی انزلوالناس منازلهم دخلقو سره دهغوی دمرتبو موافق معامله کوی[ ابو داود کتاب الادب ] ابوبکر ابوعبیدهؓ ته خط لیکلی وو دخط الفاظ داوو چه ما په شام کښی درومیانو خلاف دجنګ امیر خالدؓ مقرر کړو ته دده مخالفت مه کوه ددخبری ته غوږ ږده دده دحکم تا بعداری کوه ما دا په تا باندی امیر جوړکړو حالانکه ما ته معلومه ده چه ته دده نه غوره ئی لیکن څما خیال دا وو چه خالد دومره جنګی مهارت لری چه هغه په تا کښی نشته او

عمرؓابو موسیؓ ته لیکلی وو چه په عام طور په خلقو کښې عزتمند خلق موجود وی هغه خلق به تا ته خپل حا جتونه مخکښې کوی نو ته ددغه خلقو عزت کوه [مناقب امیر المؤمنین ۱۵۱ص نصیحةالملوک ۲۶۷ص

## اتم صفت دزمداریانو تقسیم او تعین کول

حا کم لره دا پکاردی چه زمداریانی او مسؤلیتونه تقسیم کړی اوهر حقدار ته دهغه مناسب مسؤلیت ورکړی ځکه قائد او امیر یو عام انسان وی دهغه قوت او استعداد محدود وی ټول کا رونه یواځی نشی کولی او دا درسول اللهﷺ او د خلفأ راشدینو طریقه وه علامه قادری وائی چه دوظائفو او مسؤلیتونو تقسیم تکوینی او شرعی سنت دی <u>والذی لا یقسم الوظائف علی العاملین یخالف سنتین</u> هغه کس چه مسؤلیتونه نه تقسیموی هغه ددی دواړو قسمه سنتو مخالفت کوی [الکفا ئة الاداریة ۱۱۸ ص ] دکارونو دتقسیمولو یوه فائده دا ده چه هر سړی خپل فرض منصبی اوپیژنی او هر سړی خپل فر ض او ذمه واری اوپیژنی او چه کله په کارونو کښې تقسیم نه وی نوددی ډیر نقصانات وی یو دا چه دهر سړی نه سستی کیږی پدی خیال چه بل کس بۀ اوکړی - دؤیم دا چه په کارونو کښې اختلاف او بی ترتیبی راځی - دریم دا چه دیو بل په کارونو کښې مداخلت کیږی او دا دنزاع سبب جوړیږی - څلورم دا چه جسمانی ستو مانی بیدا کیږی ځکه یو کس ډیر کا رونه نشی کولی دغه رنګی پریشانی او اداری کمزوری پیداکیږی

## نهم صفت هر کار پخپل مقرر وخت کول

دفارس والو پدی اتفاق دی چه سیاست د دری وجو نه خرابیږی یو دا چه دنن کار صبا ته پریږدی دویم دا چه کارونه نا اهلو خلقو ته وسپارل شی - دریم دا چه دعقل په ځاي دخواهشاتو تابعداری کوی[ اثارالاول فی ترتیب الدول ۱۲۴ص

## لسم صفت مستقل مزاج جوړیدل

یعنی امیرلره پکاردی چه دسوچ فکرنه ورستو دصحیح فیصلی ملکه (قدرت) پکښ وی په خپلو فیصلو کښ متردد نه وی او دخپل امر او نهی نه او وعدی او دهمکی نه تږوقه نه جوړه وی او په جرأت سره فیصله کوی او دحو صله شکن خلقو خبره نه اوری - نبی ﷺ دامت دپاره نمونه ده هغوی ته الله تعالی فرمائی فاذا عزمت فتوکل علی الله کله چه دیو کار اراده وکړی نوپه الله توکل کوه

## یو لسم صفت درعیت دحالاتو نه ځان خبرول

لکه الله تعالی فرمائی وَ تفقّد الطیرُ فقال ما لی لا اری الہدھد ام کان من الغائبین حاضری واغسته (سلیمانؑ) دمرغانو نو ویویل څه دی ما لره چه نه وینم ملاچرګک او که دی دا غائبینو نه نو ملاچرګک وړه مرغی ده او سلیمان علیه السلام بیا هم دهغه نه ځان خبره وی [کذا فی التفسیرالمراغی]

او مولانا ظفر احمد عثمانی ددی ایت په تشریح کښ لیکلی دی چه ددی ایت نه یوه سیاسی مسئله معلومیږی او هغه دا چه امیر او بادشاه لره پکاردی چه دخپل رعیت او ملګرو دحالاتو نه ځان خبره وی که بیماروی چه تپوس ئی اوکړی او که امداد ته ضرورت لری چه امدادئ اوکړی لکه سلیمان علیه السلام دکمزوری مرغی تپوس کوی عمر رضی الله عنه به دشپې درعیت دحالاتو نه ځان خبرولو [احکام القران ۳۵ص ۳ج ] شاه ولی الله رحمه الله وائی چه په امیر دا واجب دی چه دهری ورځی دخبرو په باره کښ تپوس وکړی او ددغه ورځی داصلاح او دفساد په باره کښ ځان خبر کړی [حجةالله البالغه ۴۶ص ۱ ج باب سیرة الملوک] علامه شیزری رحمه الله وائی امیرلره دا پکاردی چه دفتنو اسباب او نتائج معلوم کړی او دا چه دڅه دوجی نه اختلاف او دامیر نافرمانی شروع ده ددی دپاره چه دفتنو اسباب ختم کړی - علی رضی الله عنه دمصر والی اشتر نخغی رحمه الله ته دا وصیت کړی وو چه دخپل رعیت امور داسی تالاش کوه څنګه چه مور اوپلار دخپل اولاد تالا ش کوی[ نهج البلاغة ۴۲۷ص

## دولسم صفت درعیت او مامورینو مسائل معلومول او هغه حل کول

رسول الله صلی الله علیه وسلم وائی چه الله تعالی څه خلق دعامو خلقو دضرورتونو دپوره کولو دپاره پیداکړی چه خلق هغوی ته دضرورتونو دپوره کولو دپاره رجوع کوی دا کسان به دقیامت په ورځ دالله دعذاب نه په امن کښ وی [کنز العمال ] په بل روایت کښ راځی اذا ارادالله بعبد خیراً صیّر حوا ئج الناس الیه کله چه الله په یو بنده دخیر اراده وکړی نو دخلقو ضرورتونه دهغه په ذریعه پوره کوی [کنزالعمال ۷ص۶ج ] په بل روایت کښ راځی چا چه دخپل مسلمان رور یو دنیوی ضرورت پوره کړو نو الله به دهغه دوه اویا ۷۲حاجتونه پوره کړی چه اسان حاجت پکښ مغفرت دګناهونو دی – دعمررضي الله عنه معمول دا وو چه هغه به دهر فقیر سره تعاون کولو دهر قرضداری قرض بئ اداء کولو دهر کمزوری او مظلوم مدد بئ کولو هر ظالم بئ دظلم نه منع کولو هر بربنډ ته بئ کپړې ورکولې [احکام شریعیه میں حالات وزمانه کښ رعیت۲۰۸ص]

عمررضی الله عنه به ویل کچری الله څه روغ وساتلم نو څه به دعراقیانو کونډې په داسی حال کښ پریګدم چه ځما نه روستو به هیچا ته همیشه دپاره محتاج نه وی ددینه ځلور ورځې روستو زخمی شو [مناقب عمر لابن الجوزی ۱۳۹ص]

عثمان رضی الله عنه به په منبر ناست وو او دخلقو نه بئ دحالاتو او نرخونو تپوسونه کول[ فضائل الصحابة للامام احمد ۴۹۸ ص ] حسن رضي الله عنه وائی چه دمسلمان رور حاجت پوره کول ما ته ددوه میاشتو داعتکاف نه ډیر غوره دی

## دیا رلسم صفت مشوره کول

یعنی د یو اهم کار داجرا نه مخکښ داهل خلقو سره مشوره کول د مشوری متعلق څه بیان مخکښ په شرعی دوره نوم کتاب اول جلد کښ تیر شوی او څه بحث دلته کوو دمشوری اهل ځوک دی په هر کار کښ دهغه کار دماهرینو نه مشوره اغستل پکار دی او داهل الرأي صفاتو ته کتل پکا ردی داهل الرأی صفات علماء کرامو بیان کړی دی مونږه دهغوی داقوالو مجموعه او خلاصه ذکر کوو (۱) اول ذکاوت دی یعنی دچا نه چه مشوره اخلی نو پکار ده چه هغه سمجهدار او زیرکه وی او عقلمند وی ددی دپاره چه په کارونو کښ پی ګډوډې نه راځی (۲) دویم اما نت دی یعنی خائن او دهوکه باز به نه وی (۳) صداقت دی ددی دپاره چه دهغه په خبره او مشوره اعتماد وی (۴) ځلورم محبت او الفت دشوری والا دی یعنی چه کوم کسان دمشوری وی پکارده چه دهغوی په مینځ کښ

بغض او کینه نه وی ځکه چه کله د هغوی په مینځ کښ بغض او کینه وی نو صحیح مشوره نشی ورکولی

(۵)پنځم محبت او الفت دشوری والا او دخلقو دی یعنی پکارده چه دیو بل سره محبت کوی او دبل خیرخواه وی ځکه که دشوری والا او دخلقو په مینځ کښ اختلاف وی نو بیا هم صحیح مشوری نشی ورکولی (۶) شپږم دا چه دشوری ولا خواهش پرست نه وی ځکه خواهش پرستی انسان حق ته او سمی لاری ته نه پریګدی (۷) اوؤم دا چه دشوری ارکان مشران وی ځکه دمشرانو بصیرت او تجربه زیاته وی او ددنیا حالات او حادثات پری ډیر تیر شوی وی نو دهغوی رائی او عقل قوی وی (المنهج المسلوک ۴۸۶ص ) علی رضی الله عنه وائی رأي الشيخ خير من مشهد الغلام دمعمر سړی رای ډیره غوره ده دځوان دموجودګی نه ( سنن کبری للبهیقی ۱۱۳ص ۱۰ج تهذیب الریا سة۱۸۸ص)

(۸)اتم دا چه خوف الهی پکښ وی عمر رضی الله عنه وائی استشر فی امرک الذین یخشون الله دهغه کسانو سره مشوره کوه چه دالله نه یریږی (الزهد لابن ابی شیبة ۱۴۷ص)

دهغه چا سره مشوری نه دی کول پکار چه دهغه اطمنان نه وی ځکه مشوره یو امانت دی او چه څوک مطمئن نه وی نو هغه صحیح مشوره نشی ورکولی احنف بن قیس رحمه الله وائی دوړی سره به مشوره نه کیږی ترڅو چه هغه موړ شوی نه وی او نه دتګی سره ترڅو چه خړوب شوی نه وی او نه دقیدی سره ترڅو چه ازاد شوی نه وی او نه دهغه چا سره چه لارتری ورکه شوی وی ترڅو چه لاربیا نه موځی او نه دویری والا نه ترڅو چه ویره ئی ختمه شوی نه وی (الجواهر النفیس ۱۶۶ص)

ذیاد رحمه الله د یو هوښیار سړی نه مشوره اغستله چه څه ستا سره مشوره کوم هغه اویل اوری یم او داوری سړی څه رای نه وی نو ذیاد اویل ډوډی ورله راوړی ډوډی اوخوړه ذیاد رحمه الله ورته اوئیل مشوره کوو هغه اویل چه تشی متیازی راغلی دی او چا لره چه متیازی ورغلی وی نو دهغه څه رای نه وی نو ذیاد اویل چه بیت الخلاء تئ ننبا سی کله چه دبیت الخلاء نه واپس شو او مطمئن شو نو ذیاد ترینه مشوره اغستل شروع کړل نو ذیاد به چه کومه خبره کوله نو هغه به ډیر ښائسته جواب ورکولو

**دشوری مناسب وخت** علامه قلعی المتوفی ۶۳۰ هـ وائی چه دشپې مشوری کوی ځکه د شپې فکر راجمع وی او خبره په یاد کښې راځی (تهذیب الریا سة ۱۸۸ص)

## مشوری کله ورکول پکا ردی

مشوری هله ورکول پکاردی چه څوک درنه مطالبه اوکړی او که ضرورت وی نو دمطالبی نه په غیر هم مشوره ورکولی شي امام بخاری به ادب المفرد کښې باب ذکرکړیدی باب من اشارعلی اخیه وان لم یستشره باب دی په بیان ددی خبره کښې چه څوک خپل رورلره مشوری ورکوی اګرکه هغه ترینه نه وی غوښتلی او بیا ئی دعمریو اثر ذکرکړیدی چه عمریو شپونکی او ګډی بزی په داسی ځائ کښې ولیدی چه لګی اوبه پکښې وی او بل یو ځائ دهغه نه ډیر غوره وو عمر اویل ویحک یا راعی حولها فانی سمعت رسول الله یقول کل راعٍ مسؤل عن رعیته خوار شی ای شپونکیه خپلی ګډې بزی فلانی ځای ته نقل کړه ځکه ما درسول الله نه اوریدلی چه دهر ذمدارنه به دهغه د رعیت په باره کښې تپوس کیږی [ ادب المفرد ۴۲۸

## څوارلسم صفت د مجاهدینو دکورونو خیال ساتل

د عمر فا روق په دور کښې به خلقو ته خرچه ورکولې شوی یو ځل ئی یو سړی ولیدو چه په مخ ئی زخم وو تپوس ئی ترینه اوکړو هغه اویل داپه یو غزا کښې زخمی شوی وو نو عمررضی الله عنه څلور کرته د زر زر روپو ور کولو حکم اوکړو هغه زخمی دحیأ دوجی نه بهر اوتلو عمر تپوس اوکړو خلقو اویل چه هغه ته دزیات ورکولو په وجه حیأ ورغله نو بهرته اوتلو – عمررضی الله عنه اویل چه څما دِ په الله قسم وی کچرې دا نه وی وتلی نو ما به دهغی پوری ورکولې چه تر څو یوه روپې پاتی وی (ځکه دده مخ دالله په لار کښې زخمی شوی( مناقب امیر المؤ منین لابن الجوزی ۸۳ص)

دعمر فاروق مخی ته په بازار کښې یو زنانه راغله او ویویل چه امیر المؤمنین څما خاوند وفات شوی او واړه بچه ئی پریښی دی او زمونږ دژوند د تیرولو څه ذریعه نشته پدی وجه څه یریږم چه ضائع نشی او څه دخفاف بن ایماء غفاری لور یم چه هغه درسول الله سره په شوری کښې شریک شوی وو عمر اویل مرحباً بِنسبٍ قریب هر کلی دِ وی په نسب نزدی کورته راغلی چه کوم دتولو نه قوی اوښ

وو په هغه ئی دوه بوری غله او په مینځ کښ مزید نفقه او کپړی کیښودی او دهغه زنانه په لاس کښ د اوښی رسی ورکړه او ویویل دا بوځه او دا غله به لا ختمه شوی نه وی چه الله به نوره درکړی

## پنځلسم صفت سیاست او رعب دی

ځکه د امیر او سر براه یو کار امن قائمول دی او امن هله قائمیږی چه کله دهغه سیاست او رعب وی امام غزالی رحمه الله وائی چه خصوصاً پدی زمانه کښ ځکه ددی زمانی خلق د مخکښ پشان نه دی ځکه چه دا د بے حیأ بے وقو فو او سخت زړو او کینه گرو زمانه ده نو چه کله حاکم وقت کمزوری بے رعبه او بے سیاسته وی نو بیشکه دا ده وطن دبربادی او د دین او دنیا د نقصان سبب جوړیږی [التبر المسبوک ۶۷ص)

یو ځل عمر رضی الله عنه اویل چه فلانی سړی به دقضأ نه معزوله کوم او دهغه په ځای به داسی سړی مقرر وم چه کله ئی یو فاسق سړی وینی نو ریږیږی به ترینه [کنزالعمال ۸۱۲ص

علی رضي الله عنه یو ځل یو حاکم ته اویل <u>ایاک ان یرو منک ضعفا</u> خان وساته ددینه چه رعیت په [تا کښ کمزوری محسوس کړی [کتاب الخراج لابی یوسف ۵۲

منصور ثعالبی (متوفی ۴۲۹ص )وائی چه بادشاه (امیر) لره پکار دی چه دهغه دروازه بیتک او د کور نه چاپیره د دا سی خوکیدارانو نه خالی نه وی چه هغه ښه مسلح وی شپه او وورځ نمبر په نمبر دده پهره کوی [اداب الملوک ۲۰۵ص

## شپاړسم صفت خپل اخلاق او عادات نه بدلول

ابو بکر رضی الله عنه په خپل بیان کښ ویلیو چه څه دا امید ساتم چه د خلافت په وجه ځما سابقه اخلاق بدل نشی [کنز العمال ۶۱۰ص۵ج]

دغه رنگی عمر رضی الله عنه ویلی وو چه خلافت به هیڅکله ځما اخلاق بدل نه کړی[ تاریخ [طبری۲۱۵ص۴ج]

معاوية رضی الله عنه ذياد رضی لله عنه ته ليکلی وو چه دهندوستان د سرحد دپاره موزون کمانډر اوګوره ذياد ورته وليکل چه احنف  بن قيس مناسب دی ځکه چه دده شرافت حلم سرداری داسی اندازی ته رسيدلی چه مسؤليت ورته څه فائده نه رسوی او معزوله کيدل ورته څه ضرر نه رسوی

[عيون الاخبار لابن قتيبه۶۳ص]

## داخلاقو دخرابيدو بيان

په انسان کښ بد اخلاق دځو وجونه پيداکيږی (۱) مسؤليت (۲) معزوله کيدل  ځکه په مسؤليت پسی خفه وی (۳) مالداری (۴) غريبی (۵) غمونه (۶)بيماری  ځکه مرض  چه څرنګه بدن متأثره کوی نو دغه رنګی اخلاق هم متأثره کوی (۷) بوډا والی ځکه دبو ډاولی نه هم څرنګی چه بدن متأثره کيږی نو دغه شان اخلاق هم

## اولسم صفت د هر چاه نه اول خپل اهل وعيال د اوامرو او نواهيو پابند کول

ځکه الله فرمائی وانذرعشيرتک الاقربين عمررضی الله عنه به چه کله خلق دکوم کارنه منع کول نو اول بۀ خپل اهل وعيال راجمع کړل هغوی ته بۀ اويل چه ما خلق دفلانی فلانی کارنه منع کړل او نور خلق تاسو ته داسی ګوری لکه بازچه غوښی ته ګوری که تاسو دا کارکوی نو نور خلق ئی هم کوی او که تاسو ويره کوی نو نور خلق ئی هم کوی او ځما د په الله قسم وی که تاسو دا کاراوکړو نو ځه به تاسو لره دوچند عذاب درکوم ځما د رشتی په وجه

## اتلسم صفت چه هوښياروی او په چا نه دهوکه کيږی

لکه نبی صلی الله عليه وسلم وائی چه مومن به ديوی سوړی نه دوه ځل نه چيچلی کيږی او نبی صلی الله عليه وسلم وائی چه دمومن د فراست نه اويريږی ځکه هغه دالله په نور سره ګوری  عمررضی الله عنه وائی لستُ بالخب څه دهوکه بازنه يم والخب لا يخدعنی او دهوکه بازما نشی دهوکه کولی (سراج الملوک ۲۸۴ ص ۱ ج)

دغه رنګی عمررضی الله عنه وائی چه دچا روژو او مونځونو ته مه ګوری لیکن دیته ګوری چه کله خبری کوی نو رشتیا وائی او چه کله ورسره امانت کیښودی شی نو امانت ادا کوی او چه کله ئي په ګناه لاس بر شی نو دګناه نه منع کیږی (عین الادب والسیاسة ۱۸۶ اخبارعمر۲۶۷

علی رضی الله عنه خپل یو حاکم ته دنصیحت په طور لیکلی وو  چه ددغه علاقې خلق دهوکه باز دی نو بیدار اوسیږه  چه دهوکه دِ نه کړی او ددوی په زمه چه کوم حق دی نو هغه تری پوره پوره وصول کړه (کنز العمال ۷۷۳ ج۵ حیاة الصحابة للکاند هلوی ۲۹۴ ج۲

## دهوښیار توب او فراست اسباب

دنظر حفاظت (۲) خواهش پرستی نه کول (۳) خپل باطن همیشه دپاره په مراقبه ابادول(۴) ظاهری صورت دسنتو مطابق جوړول (۵) حلال خوړل چه په چا کښ  دا صفات وی نو دهغه فراست نه خطاکیږی      [ اداب الملوک للارموی ۶۷۴ ]

## نولسم صفت دخپل مسؤلیت او ذمداری احساس -

ځکه الله وائی افحسبتم انّما خلقنکم عبثا وّانّکم الینا لا تُرجعون ایا ګمان کوی تاسو چه بیشکه ما پیدا کړی یوی تاسو بی فائدی  او تاسو به ما ته نه وا پس کیږی

بل ځای الله فرمائی ایحسب الانسان ان یُّترک سدی ایا ګمان کوی انسان چه دا به پریښودلی شي عبث

یو ځل عمررضی الله عنه  دیوی غریبی زنانه دبچو  دپاره خوراک ځکاک جامی او سامان راوغستلو او خپل غلام اسلم رحمه الله تۀ اویل چه احمل علیّ دا ما ته راچوت کړه هغه اوئیل چه امیر المؤمنین ځه بۀ یوسم نو عمر اوئیل ځه ئی پخپله وړم ځکه چه دقیامت په ورځ به الله ددوی په باره کښ ځما نه تپوس کوی هغه سامان ئی پخپله چوت کړو او دهغه غریبی زنانه کورته ئی یوړو (کنز العمال ۶۴۹ج۱۲

کله به چه په مسلمانانو څه تکلیف راغلی نو عمررضی الله عنه به دومره غمزده وو چه مرګ ته به نزدی شو (طبقات شعرانی ۳۰

اسلم رحمه  وائی کچری الله قحط نه وی پورته کړی لظنّنا انّ عمر یموت هما بامر المسلمین   نو زمونږ گمان دا وو چه عمر به دغم دوجی نه مړشی -کنزالعمال ۶۱۱ج۱۲

## دزمداری او مسؤلیت داحساس فائدی

(۱)په عمل کښ اخلاص پیدا کیږی (۲) په عمل کښ دوام پیدا کیږی (۳) د امانت ادا کول دی (۴) پدی سره اعتماد او عزت حاصلیږی (۵) پدی سره د حکومت  او نظم بنیاد مضبوطیږی (۶) دمصیبت اوجنګونو په وخت حکومت داختلاف او انتشار نه بچ کیږی (۷) دغه انسان په معاشره کښ قیمتی جوړیږی [نضرة النعیم ۱۴۱۷ج۸ ]

## شلم صفت سادگی او تکلف نه کول

امیرلره دا پکار دی چه په هر کار کښ دتکلف نه ځان وساتی ځکه درسول الله او خلفاء راشدینو ذندګی دتکلف نه خالی وه

سهل بن سعد رضی الله عنه وائی چه رسول الله دبعثت نه  تر وفات پوری دچنړ شو وړو روټی نه وه خوړلی او رسول الله دبعثت نه تر وفات پوری غلبیل نه وو لیدلی (بخاری ۸۱۴ج۲ کتاب الاطعمة)

دعمر په دور کښ یو صاحب ددسترخوان دغوړیدو په وخت کښ به وو لیکن دعمر په خوراک کښ بئ شرکت نه کولو عمر ترینه تپوس اوکړو نوهغه اوئیل چه ان طعامک خشن غلیظ ستا خوراک سخت دی ( او دا  دنرم خورک عادی وو )[ کنز العمال ۶۲۲ج۱۲ طبقات الکبری للشعرانی ۲۹

عمر به چه داسی څوک اولیدو چه دوه ورځی پی درپي بئ غوښه اغستله نو په دوره بئ وهلو  او ویل بئ چه دګاونډی او رشته دارو خیال ساتل پکاردی (طبقات الکبری ۳۰

یو ځل دجمعی په ورځ نا وخته راغلی ویل جامی مِ وینځلی او بله جوړه می نه وه (طبقات شعرانی ۳۰ مناقب عمر ۵۷ ) یو ځل ئي پداسی حال کښ خطبه لوستله چه په جامو کښ دولس ټکړی لګیدلی وی بعض ټکړی پکښ دڅرمنی وی علی رضی الله عنه وائی چه ما عمر ولیدو چه دکعبی نه ئ طواف کولو او په جامو کښ یویشت ۲۱ ټکړی لګیدلی وی (تا ریخ الخلفاء للسیوطی ۴۹ج۳ ) کله چه عمر شام ته تللو نو په جامو کښ ئی دولس ټکړی لګیدلی وی ( حالانکه دا دده دیر اهم سفر وو)
نو ابو عبیده بن الجراح دقلعی والا ته اوازوکړو چه امیر المؤمنین  راغلی دی دهغه ځائ لوي پادری

سر پورته کړو چه عمررضی الله عنه ئی ولیدو نو یخ اسویلی ئي وکړو او ووئیل چه زمونږه په کتا بونو کښ چه دبیت المقدس د فا تح کومه حلیه ذکر شوی نو هغه د ددی خلیفه ده وس دبیت المقدس دروازه کولاؤ کړی (ثمرات الاوراق على المستطرف ۱۸ ج ۲ ایام خلافت راشده۸۲

کله چه دقیصر او کسری ملکونه فتح شو او مشرق او مغرب او عرب او عجم ئی منقاد شو او دده جامو ته بیا هم پیوندونه لګیدلی وو نو په دغه وخت کښ صحا به کرامو عثمان ، علی ،طلحه ، زبیر وغیره رضی الله عنهم ته اوئیل چه تاسو دعمررضی الله عنه سره خبره اوکړی دوی ویل دا خبره مونږ نشو کولی البته علی رضی الله عنه ئی شی کولی نو علی رضی الله عنه اویل دا خبره څه نشم کولی البته د رسول الله بیبیا نی امهات المؤمنین دا جرأت شی کولی نو دوی د عائشه او حفصه رضی الله عنهما نه مطالبه اوکړه دوی دواړو عمر رضی الله عنه ته اویل چه الله ستاسو په لاسونو دکسری او قیصر خزانی او ملکونه فتح کړل او ددوی مالونه ئی تا ته درکړل او دعربو او عجمو وفدونه ستا خوا ته راځی او تا دا چوغه اغوستی چه دولس پیوند ونه ورته لګیدلی نو ته نرمی او ښائسته کپړی اغونده او ښه خوراک کوه عمر رضی الله عنه چه دا واوریدل نو ویژړل چه تاسو امهات المومنین ئيوي تاسو ته درسول الله صلی الله علیه وسلم دخوراک او سا دګی حال ښه معلوم دی بیا هم تاسو عمر ته ددنیا د لذتونو ترغیب ورکوی ددی سره امهات المؤمنین هم په ژړاشوی (احیاء العلوم ۲۲۶ج۴ کنزالعمال ۶۳۹ج۱۲ اشهر مشاهیر الاسلام ۲۲۷ج۱

## یویشتم صفت دصحت حفاظت

مسؤل او زمدارلره پکاردی چه دخپل صحت خیال ساتی ځرنګه به چه دده نه الله د رعیت په باره کښ تپوس کوی دغه رنګی به دصحت په باره کښ هم تپوس کیږی ځکه رعیت هم دده سره یو امانت دی او دغه رنګی جسم او اندامونه هم ددسره امانت دی او ځرنګی چه د رعیت حقوق دی نو دغه رنګی دجسم او اندامونو هم حقوق دی ځکه رسو ل الله صلی الله علیه وسلم فرمائي لنفسک علیک حق ستا دنفس هم په تا حق دی (مسلم کتاب القدر) کچری دا په ځان کار ډیر کړی او صحت ئی خراب شی نو دا ګنهکار دی رسول الله صلی الله علیه وسلم وائي المؤمن القویٌ خیر و احب الی الله من المؤمن الضعیف قوي مومن دکمزوری مومن نه ډیر غوره او محبوب دی الله ته (ابن ماجه کتاب الزهد

مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله وائی چه د مستحب عمل په مقابله کښې دصحت خیال ساتل مخکښې دی مثلاً دسحر په وخت کښې دهوا خوړلو دپاره (یعنی ورزش کول ) دځنګل طرف ته تلل په جماعت کښې داشراق د مانځه دپاره دنمر راختلو پورې کینا ستلونه ډیر زیات غوره دی ( دوائے دل ۱۲۷

ددی وجې نه علامه شیزری وائي امیر لره پکار دی چه کله پری غم راشی چه خپل نفس او جسم ته ارام ورسوی او په شریعت کښې دمباح څیزونو نه په دومره اندازه لذت او سرور حاصل کړی چه په هغه کښې مصلحت وی او ده ته پکښې صحت میلاؤشی (المنهج المسلوک ۴۵۹ ) مثلاً دښایسته او نیک عمله زنانه سره نکاح اوکړی چه پریشانی ورسره ختمه شی او زړه ته ئې خوشحالی او سکون راشی

ځکه دزنانو په باره کښې الله فرمائی لتسکنو الیها (روم ۲۰ ) امام غزالی رحمه الله وائی کچری ښایسته زنانه نه پیداکیږی نو د دینداره زنانه سره د نکاح وکړی ځکه ددینداره زنانه سره برکتونه او مال ډیر راځي (التبر المسبوک ۱۲۵ ذکرالنساء

## دویشتم صفت دخیر خواه خلقو خیر خواهی قبلول

ډیر کرتی مشری او اقتدار دانسان دخرابیدو سبب ګرځی که څوک پی تنفیذ وکړی یا ورته نصیحت وکړی نو سزا ورکوی او دخیر خواه خلقو ژبی بندوی دقانونی مشورو لاری بندی کړی دعام مسلمانانو او مجاهدینو نه جدا شی او د یو څو نا اهلو مشیرینو په مشوره چلیږی او بعض داسی هم وی چه دیو څو بد معاشانو یو ګروپ د ځان نه چا پیره ساتی نو داسی خود سره امیر او کمانډر د ځانه ندی جوړول پکار او د خیر خواه نصیحت قبلول پکاردی لکه ابو بکر رضی الله عنه ویلی وو و ان اساتُ فقوِّمونی که ځما نه غلطی کیده نو ما برابر وی حذیفة رضی الله عنه وائی یو ځل عمر رضی الله عنه ډیر غمژن ناست وو ما ترینه تپوس اوکړو نو هغه اویل انّی اخافُ ان اقع فی منکر فلا ینهانی احد منکم تعظیما لی ځما ویره ده چه ځما نه به ناروا وشی او ځما د احترام د وجی نه به څوک ما نه منع کوی حذیفة رضی الله عنه ورته اویل که ته د حق نه اوتلی نو مونږ به دِ منع کړو نو عمررضی الله عنه اویل چه هغه ذات لره صفتو نه دی چه ما لره ئی داسی ملګری مقرر کړی کچری ځما نه غلطی وشی نو ما برابروی [کتاب الزهد لابن شیبة۱۵۴ج۸ مختصر منهاج القا صدین ۱۳۴

بهر حال امیرانو لره پکار دی چه مخکښ کوم صفات او اخلاق بیان شو چه دغه په ځان کښ په عملی طور راولی او خپل منزل مقصود ته ځان ورسوی او ددغه صفاتو نه علاوه نور هم ډیر صفات شته چه دهغی تفصیل د السیا سة الشریعة په کتا بو نو کښ مو جود دی او ددی بیان نقل تر دی ځاي پوری مونږ د مولانا عبد البا قی د کتاب اسلامی حکمرانو کښ اوصاف و اخلاق نه اوکړو-

## د دشمن سره صلح او مذاکرات کول

الحمد لله وحده والصلوة و السلام علی من لا نبی بعده - اما بعد فاعوذ باالله من الشیطان الّرجیم . و ان جنحوا للسلم فاجنح لها و توکل علی الله .

دا یاد ساتل پکار دی چه جنګونه همیشه نه وی او د جنګونو د پاره تیاری کول همیشه وی د رسول الله صلی الله علیه و سلم جنګونه د شمار دی لکن تیاری ئے همیشه کړی.

او دا د الله تعالی حکم هم د ے چه و اعدوا لهم مااستطعتم من قوة و من رباط الخیل . او د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ټولو خلفاء راشدینو دا طریقه وه چه هغوی به د جنګونو د پاره تیاری کولو اسونه او اسلحے بهٔ ساتلی (تحریرالاحکام ۱۲که مسلمانان د دشمن سره معاهده وکړی نو پکار ده چه د معاهدے نه استفاده وکړی دعوت و چلوی او تربیتونه وکړی او سامانونه برابر کړی.

او د دشمن سره صلحه او معاهده د جنګ کولو نه ډیره غوره ده. الله تعالی د کفارو په باره کښ وای چه دوی بے لوظه او بے اعتماده دی. او دوی د خپلولی او دوستی او وعدی هیڅ خیال نه ساتی.

لکه کیف یکون للمشرکین عهد -او - لا یرقبون فی مؤمن الا و لاذمة . لکن د دی باوجود بیا هم الله تعالی وای چه و ان جنحوا للسلم فاجنح لها. کچری دوی صلحی ته مائله شی نو ته هم ورته مائله شه-- او په تهذیب الریاسة و ترتیب السیاسة کښ وای باب فی ایثار السلم و الموادعة علی الحرب والمنازعة . باب دے په بیان د غوره کولو د صلح او معاهده کښ په جنګ او جګړه باندی او بیا ئے تفصیل کړی( تحریر الا حکام ص ۱۲۸ ).

کله چه بلقیس ته د سلیمان علیه السلام خط ورسید او قوم مشوره ورکړه چه جنګ کوو نو بلقیس جنګ خوښ نه کړو او وویل چه ان الملوک اذا دخلوا قریة افسدوها و جعلوا اعزة اهلها اذلة

بادشاهان چه کله یو ښارته ننوځی نو هغه ښاروران کړی او عزتمند خلق ذلیله کړی د بلقیس دا مشوره د الله تعالی خوښه شوی نو الله تعالی ئے په قرآن کښ را نقل کوی. او تائید ئے کوی چه وکذالک یفعلون هم دغه رنګی کاربادشاهان کوی . دا وکذالک یفعلون د الله تعالی کلام دے او د بلقیس تائید کوی - او رسول الله صلی الله علیه و سلم وای لا تتمنوا لقاءالعدو و سئلوا الله العافية فاذا لقیتم فاصبروا (متفق علیه مشکوة باب الکتاب الی الکفار).

د د شمن د مقابلی خواهش مه کوی (ځکه دا د امتحان غوښتل دی ) بلکه د الله تعالی نه د امن سوال کوی البته کله چه د دشمن سره مقابله شروع شی نو بیا صبر کوی. ( ښه په بهادری سره جنګ کوی).

**علي رضي الله عنه دصلح ډیرتائیدکړی** کله چه اشترالنخعی دمصروالی شونوعلی رضی الله عنه ورته یواوګدخط لیکلی ووپه هغه کښ ورته ډیرنصیحتونه اووصیتونه کړی یونصیحت پکښ دادے ولاتدفعن صلحادعاک الیه عدوک ولله فیه رضافان فی الصلح دعة لجنودک وراحة من همومک وامنالبلادک یعنی چه کله دشمن دصلح دعوت درکړی اودالله رضاپکښ وی نوانکارترینه مه کوه ځکه په صلح سره لښکرته ارام راځی اودغمونونه راحت راځی اوښارونه په امن کیږی (الوصایاالخالده ص۸۳)

## سلفو صالحینو به د عمرو بن معدی دا شعرونه ډیر خوښول

الحرب اول ما تکون فتية تسعی لزینتها بکل جهول

حتی اذا اشتدت و شب ضرامها و لت عجوزا غیر ذات جلیل

شمطاء جزت رأسها و تنکرت مکروهة للشم و التقبیل

د جنګ مثال په اول کښ د پیغلی جینی وی چه د ښائست په وجه ورته هر جاهل منډی وهی . تر دی چه جنګ سخت شی او لمبی وکړی نو د بوډی په شان ے ډوله شی چه ببر سر وی او ناشنا شی او بوی کول او ښکولول ئے خلق بد ګڼړی.

یعنی جنگ په شان د زنانه دے چه په اول کښ ځوانه وی هر څوک ئی خوښه وی لکن چه کله بوډی شی نو خلق ترینه نفرت کوی. دغه رنګی جنګ هم په اول کښ جذباتیان خوښه وی. لکن روستو ئے د جنګ نه نفرت پیدا شی.

دغه رنګی زهیر هم وای

و من یعص اطراف الرماح فانه　　　　یطیع العوالی رکبت لکل لهذم

حاصل ئی دا د ے چه څوک د جنګ نه مخکښ د صلح او مذاکراتو نه انکار کوی نو بیا به ورته غاړه ګدی لکن روستو د هغه نه چه جنګونو به خراب کړی وی.

دغه رنګی زهیر وای

و ما الحرب الا ما علمتم و ذقتم　　　　وما هو عنها باالحدیث المرجم

بعض علماء وای چه د ویری په وخت کښ تیښته د انبیاء سنت دی لکه موسی علیه السلام وای ففررت منکم لما خفتکم څه اوتښتیدم ستاسو نه هر کله چه اویریدم ستاسو نه .

محمد بن بندار رحمه الله وای اذا لم تستطع ان تقطع ید عدوک فقبلها. کله چه د دشمن لاس نه شی کټ کولې نو لاس ورله ښکول کړه.

یو شاعر وای

و سالمت لما طالت الحرب بیننا　　　　اذا لم تظفرک الحروب فسالم

کله چه جنګ اوګدد شو نو صلح مِ وکړه. کله چه په جنګونو کښ کامیاب نه شی نو صلح وکړه.

ثعالبی رحمه الله وای السّلم سُلَّمُ السلامة صلحه د روغوالی اندرپایه ده، بعض علماء وای من اتم النصح الاشارة باالصلح -پوره خیر خواهی د صلح مشوره ورکول دی.

بعض علماء وای من استصلح عدوه زاد فی عدده چا چه د دشمن سره صلح وکړه نو خپل شمار یعنی ملګری ئی ډیر کړل.

داؤد علیه السلام وای لا تشتر عداوة واحد بصداقة الف د یو کس دشمنی د زرو کسانو په دوستی مه اخله یعنی چه یو طرف ته دِ زر دوستان پیدا کیږی او بل طرف ته یو دشمن پیدا کیږی نو دا ښه کار نه د ے ځان له دشمن مه ډیره وه او دشمن مه پیدا کوه.

او په زبور کښ وای چه من کثر عدوه فلیتوقع الصرعة د چا چه دشمن ډیر شی نو هغه دی د پرزولو امید ساتی. یعنی غورزیږی به

یو شاعر وای

و لیس کثیر الف خل و صاحب وان عدوا واحدا لکثیر

زر دوستان او ملګری ډیر نه دی او یو دشمن ډیر د ے

بعض علماء وای کل شئٍ ینفق علیه من المال الا الحرب فان النفقة علیها من النفوس په هر شی کښ مال خرچه کیږی او په جنګ کښ نفسونه خرچه کیږی. یعنی جنګ مه خوښوی ځکه چه په جنګ کښ د سرو خرچ کیږی یعنی مړی پکښ کیږی.

یو شاعر وای

کم بین قومٍ انما نفقاتهم مال و قوم ینفقون نفوسا

د هغه قوم په ما بین کښ ډیر فرق د ے چه هغه مالونه خرچ کوی . او په ما بین د هغه قوم کښ چه هغه نفسونه خرچ کوی.

بهر حال تر څو چه امکان وی نو د جنګ نه ډډه پکار ده ځکه جنګ آخری علاج د دشمن د ے . لکه اوښیاران وای الکی آخر العلاج . داغ آخری علاج د ے.

ابو الطیب شاعر هم وای - و انما الحرب غایة المکاید . یقیناً جنګ آخری تدبیر د دشمن د ے

البته چه کله بله لاره نه وی نو بیا په الله تعالیٰ توکل او اعتماد وکړی او ښه په اخلاص او په صحیح نیت جنګ وکړی. لکه نبی صلی الله علیه و سلم وای لا تتمنوا لقاء العدو. د د شمن د مقابلی خواهش

مه کوی. و اذا لقیتموهم فاصبروا او کله چه د دشمن سره مخامخ شی نو بیا کلک شی . یعنی ښه په صبر او استقامت سره جنګ وکړی

یو شاعر وای

اذا لم یکن الا الاسنة مرکبا فلا اری للمضطر الا رکوبها

کله چه د نیزو نه علاوه بله سورلی نه وی. (یعنی بله لار نه وی) نو څه نه وینم محتاج لره مګر سوریدل په نیزو. یعنی د مجبورتیا په وخت کښ د نیزو او جنګ نه علاوه بله لار نشته.

او چه کله د جنګ ضرورت پیدا شی او فیصله د جنګ اوشی نو بیا ښه په سوچ فکر تدبیر او احتیاط سره جنګ پکارے. ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم وای الحرب خدعة . جنګ چل ول د ے. شیخ الحدیث باچا صاحب به د شاه انور شاه کشمیری رحمه الله په حواله ویل چه د خدعة معنی ده التدبیر الخفی. پټ تدبیر کول .

بل عمل ته نبی صلی الله علیه و سلم چل نه د ے ویلی او جنګ ته چل وای. ځکه جنګ ډیر په سوچ او تدبیر پکار د ے.

او د جنګ په انجام سوچ پکار د ے. علماء وای من نظر فی العواقب سلم من المعاطب چا چه انجام ته سوچ اوکړو نو د هلاکت نه به بچ شی. و من اخّر تدبیره تقدم تدمیره چا چه تدبیر روستو کړو. نو خپل هلاکت ئی مخکښ کړو.

او په چا به اعتماد هم نه کوی. په یو روایت کښ راځی الحزم سوء الظّن . هوښیارتوب بد ګمانی ده.

معاویة رضی الله تعالی عنه ته چا اویل ما بلغ من حزمک ته څه شی دومره هوښیارتوب ته ورسولی. نومعاویة رضی الله تعالی عنه ورته اویل چه لم اثق باحد ما په چا اعتماد نه د ے کړی . بد ګمانی ښه کار نه د ے لکن پوره اعتماد به هم په چا نه کوی. علماء وای چه هوښیارتوب دا هم د ے چه دشمن به معمولی او وړوکی نه ګڼړی. او بعض وای چه هوښیارتوب دا هم د ے چه د ډیر احتیاط د وجه نه خلقو ته بزدله ښکاری.

دغه رنګی د قائد مثال د هوښیار تاجروی. چه کله ګټه وی تجارت کوی او چه کله ګټه نوی نو خپل رأس المال محفوظ ساتی. نو د مجاهدینو امیرلره هم پکار دی. چه کله په جنګ کښ فائده وی دشمن ته نقصان رسولی شی نو د جنګ د وکړی. او چه دشمن ته نقصان نه شی رسولی. نو بیا د مجاهدین محفوظ ساتی. معاویة رضی الله تعالی عنه ته چا اویل چه کله ته په جنګ کښ دومره مخکښ شی چه زما دا ګمان وی چه او به وژلی شی. او کله دومره روستو شی چه څما دا ګمان وی چه تیښته کوی. معاویة رضی الله تعالی عنه اویل چه څما د په الله تعالی قسم وی. چه څه د دی پاره نه مخکښ کیږم چه او وژلی شم . او د دی د پاره نه روستو کیږم چه تیښته وکړم بلکه څه هله مخکښ کیږم چه کله په مخکښ کیدلو کښ فائده وی. او هله روستو کیږم چه کله روستو کیدل هوښیارتوب وی.

حارث بن هشام د جنګ نه تښتیدلی وو. نو خپل عذر پیش کوی.

الله یعلم ما ترکت قتالهم حتی　　　علوا فرسی باشقر مزبد

الله تعالی پوهیږی چه ما د دوی جنګ نه وو پریښی تر دی چه څما په اس سره وینه زګونه کونکښ روانه شوه.

و علمت انی ان اقاتل واحدا　　　اقتل و لا یبکی عدوی مشهدی

او څه پوهه شوم که یواځې جنګ کوم نو وژلی کیږم او څما حاضریدل دشمن نه شی ژړولی.

سعدی صاحب هم وای

نه هرجای مرکب تو ان تاختن　　　که جا ها سِپَرْباید انداختن

په هرځای کښ اسونه زغلول نه دی پکارپه ډیرو ځایونوکښ خپل ډال ګذارل او ښپی ویستل پکار دی.

بعض علماء وای چه د خطری په وخت کښ تیښته کول د انبیاء علیهم السلام سنت دی. لکه موسی علیه السلام وای ففررت منکم لما خفتکم څه اوتښتیدم ستاسو نه هرکله چه اویریدم ستاسو نه .-

(دا تفصیل ټول د تهذیب الریاسة وترتیب السیاسة نه نقل شو. د ص ۱۳۴ باب فی ایثار السلم و الموادعة علی الحرب و المنازعة)

ابو بکر رضی الله تعالی عنه خالد بن ولید رضی الله تعالی عنه ته یو خط لیکلی وو او په هغه خط کښې د خالد رضی الله تعالی عنه په دوه خبرو صفت کړیو یو دا چه ستا په مقابله کښې دشمن نه شی ټینګیدلی دویم دا چه ته مسلمانان د دشمن د پنجی نه په ښائسته طریقه خلاصوی.

په غزو موته کښې چه د دشمن قوت ډیر زیات وو نو خالد رضی الله تعالی عنه ډیر په ښائسته طریقه واپسی وکړه. او مسلمانان ئې د دشمن نه بچ کړل.

بهر حال جنګ په تدبیر او احتیاط پکار دے چه دشمن ته نقصان ورسیږی. او که د دشمن تاوان نه وی نو چه ملګری بچ کړی شی. او چه جنګ ته ډیر ضرورت نه وو. نو د جنګ په ځائی صلح او مذاکرات غوره کول پکار دی.او ترڅو چه د معاهدی امکان وی نو بیا په معاهده کښې خیر او فائده ډیره ده

## د معاهدی قسمونه

د کفارو سره په دری طریقو معاهده جائز ده یو دا چه په غیر د مال نه وی. دویم دا چه د کفارو نه ورسره مال هم واخلی. دریم دا چه مجاهدین کفارو ته مالونه ورکړی چه کله د مجاهدینو د معاهدی ته ضرورت ډیر وی. لکه په جنګ احزاب کښې نبی صلی الله علیه و سلم عیینه بن حصن ته ویلی وو چه ته خپل کسان د جنګ نه واپس کړه او مونږ به تاسو ته د مدینی طیبی دریمه حصه آمدنی درکوو .بعض مجاهدین وای چه معاهده ځکه نه کوو چه په دشمن اعتماد نشته. ددی جواب الله تعالی کوی. و ان یریدوا ان یخدعوک فان حسبک الله . که دوی ستا سره دوکه کول غواړی نو تا لره الله تعالی کافی دے. دغه رنګی یو طرف ته الله تعالی وای کیف یکون للمشرکین عهد. د مشرکښنو وعدی لره اعتبار نشته. او الله تعالی وای لا یرقبون فی مؤمن الا و لا ذمة . دوی د مؤمن د خپلولی او وعدی څه لحاظ نه کوی. لکن بل طرف ته الله تعالی دا هم وای. چه و ان جنحوا للسلم فاجنح لها . که دوی صلحی ته مائله شی نو ته هم ورته مائله شه. بعض مجاهدین وای چه دا مرتد کافر دی معاهده ورسره حرام ده. حالانکه مرتد کافر چه کله د قوت او طاقت خاوند وی. نو هغه په حکم د کافر

اصلی کښې وی. معاهده ورسره جائز ده. دغه رنګې چه کله د مرتد په معاهده کښې مصلحت وی. نو صلح ورسره جائز ده. علاءالدین سمرقندی المتوفی ۵۲۹ - په تحفة الفقهاء ص ۲۹۷ ج ۳ کښې وای وکذالک الموادعة فی حق المرتدین و اهل البغی جائزة اذا کان فیه مصلحة . د مرتدینو او باغیانو سره صلح جائز ده. چه کله پکښې مصلحت وی. دغه رنګې فقهاء وای چه کله د مرتدینو په یو ښار غلبه راشی او دغه ښار دار الحرب اوګرځی نو بیا د مرتدینو سره صلح جائز ده. لکن مال به ترینه نه اخلی. البته که مال ترینه واخستلی شی نو بیا به ورته نه واپس کیږی.[ددے تفصیل په درمختارص۱۳۴ ج ۴ کتاب الجهادکښې اوګوری دغه رنګې بحرالرائق ج ۱۳ ص۳۲۱ کتاب السیر]

بعض مجاهدین وای چه دا حربی کافر دے معاهده ورسره حرام ده. حالانکه په اسلام کښې معاهده د حربی کافر سره کیږی. لکه نبی صلی الله علیه و سلم صلح حدیبیه د حربی کافرانو سره کړی وه.

د معاهد یا ذمی یا مستأمن کافر سره معاهدے ته ضرررت نه وی ځکه د هغه سره خو هسی هم معاهده وی.

## کافر په څلور قسمه دے.

حربی، ذمی، معاهد، مستأمن . حربی کافر دیته وای چه هغه ذمی نه وی. او معاهده ورسره هم نوی شوی. او امن هم نوی ورکړی شوی.

ذمی کافر دیته وای چه په دار اسلام کښې وسیږی او جزیه ورکوی. معاهد کافر دیته وای چه په دار حرب کښې اوسیږی او د مسلمانانو سره ئی صلح او لوظ وی په جنګ نه کولو.

مستأمن کافر دیته وای چه په دار حرب کښې اوسیږی. او یو مسلمان دوی لره امن ورکړی. او دڅه وخت د پاره دار اسلام ته راشی.

بعض جذباتی مجاهدین د معاهدی د ناکام کولو کوشش کوی. چه کله یو ګروپ والا معاهده وکړی. نو بعض کسان په هغه علاقه کښې بم یا کمین یا تعارض کوی. ددی د پاره چه معاهده ناکام شی او اعتماد ختم شی. او دا قسم جذباتیان د بعض کفارو او مشرکینو سره مشابهت کوی. او د هغوی خوی او عادت کوی. لکه څه رنګې چه کله به صلح حدیبیه کښې مذاکرات او د صلح خبری شروع شوی نو د قریشو په کفارو کښې بعض جذباتی ځوانانو دا منصوبه جوړه کړه. چه دا مذاکرات ناکام

شی. نو د شپې اويا يا اتيا کسانو د جبل تنعيم د طرف نه د مسلمانانو په معسکر حمله وکړه. لکن د صحابه کرامو د پهره دارانو مشر محمد بن مسلمه رضی الله تعالی عنه دغه ټول کسان گرفتار کړل. لکن نبی صلی الله علیه و سلم دغه ټول کسان آزاد کړل. د دی پاره چه مذاکرات ناکام نه شی. بلکه کامیاب شی. ( کما فی الرحیق ا لمختوم)

ځکه د مذاکراتو نه مخکښ د اعتماد فضاء جوړول غواړی. او د يو بل سره نرمی اختيارول

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قتل د پاره منصوبې او سازشونه

الحمدالله الذی ارسل رسوله باالهدی و دین الحق لیظهره علی الدین کله ولوکره المشرکون

والصلوة والسلام علی عبده ورسوله محمد و جمیع اخوانه الانبیاء وعلی آله الاصفیاء وصحابته الاوفیاء

اما بعد! فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم وکذالک جعلنالکل نبی عدوامن المجرمین (سورةفرقان ۳۱ ) وقال تعالی وکذالک جعلنا لکل نبی عدوا شیاطین الانس والجن یوحی بعضهم الی بعض زخرف القول غرورا انعام ۱۱۲

## تمهيد

هرڅوک چه دالله تعالی په دين کلک ودريږی او حق پرستی شروع کړی نو د هغه به خامخادشمنی کيږی اوهغه به خامخاکفاروته مطلوب کيږی اودهغه خلاف به غټ غټ منصوبې جوړيږی لکه دمخکیدوه آياتونو نه معلومه شوه چه ده هر پيغمبردشمنی شوی او په بخاری شريف کښ په حديث د ورقه بن نوفل کښ راځی ورقه نبی صلی الله علیه وسلم ته وای لم يأت رجل قط بمثل ما جئت به الا عودی ستا په شان دين چه هرچاپيش کړی دهغه دشمنی شوی

او الله تعالی وای چه د حق پرستو خلاف کفارو غټ غټ منصوبې جوړی کړی ومکروا مکرا کبارا او دوی غټ غټ تدبيرونه وکړل وان کان مکرهم لتزول منه الجبال اواگرکه ددوی تدبيرونو غرونه ړقول او د سورة آل عمران ديويشتم آيات نه معلوميږی چه ډير پيغمبران او حق پرست وژلی شوی دی

هم دغه رنګی زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دشمنی شوی او دهغه خلاف ډیر تدبیرونه شوی

لکه هر کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په څلورم کال ښکاره دعوت شروع کړو اول ئے خپل بنو هاشم راجمع کړل ابو لهب ئے مخالفت وکړو

بیائی دصفاپه غرقریش راجمع کړل بیائی هم ابولهب مخالفت وکړوبیا څه وخت روستودقریشو وفدابوطالب ته راغلی هغه په نرمی سره خبری وکړی او په نرمه طریقه ئےدغه وفد واپس کړو

بیا قریشو مشوره وکړه چه د حج په موسم کښ کوم حاجیان حج ته راځی نو هغوی منع کړی چه ددی پیغمبر دعوت ته غوګ نه ګدی

او ددی خبری مشری ابولهب کوله نبی صلی الله علیه وسلم به د حج په موسم کښ د خلقو ځایونو ته او عکاظ او مجنه اوذوالمجاز بازارونو ته ورتلو او خلق ئے الله تعالی ته رابلل ابو لهب به پسی روستو روان وو او خلقو ته بۀ ویل لا تطیعوه فانه صابئی کذاب دده خبره مه منی دا صابی او دروغجن دے

بیا ئے د هغه ددعوت د ناکام کولو د پاره نوری طریقی شروع کړی لکه مسخری کول اواعتراضونه او شبهات پیدا کول دغه رنګی نضربن حارث به خلقوته دنبی صلی الله وسلم ددعوت په مقابله کښ دفارس دبادشاهانودروستم اواسفندیارقصی کولی

## د ظلم لار اختیارول

هر کله چه په دغه طریقو کښ ناکام شو نو بیائے دظلمونو لار غوره کړه دوی د پینځیش مشرانو کمیټی جوړه کړه او ددغه کمیټی مشری ابولهب کوله او فیصله ئے دا وکړه چه په دوی هر قسم ظلمونه شروع کړی ابو طالب ته ئے وفد راولیږو او هغه ته ئے هم دمکی ورکړه بیا ئے دا فیصله وکړه چه د بنو هاشم او بنو مطلب نه به بائیکاټ وی تر څو ئے چه رسول الله صلی الله علیه و سلم مونږ ته د مرګ د پاره سپارلی نه وی - او دری کاله دوی په شعب ابی طالب کښ محاصره وو

هر کله چه دا ټولی منصوبے ناکام شوی نو آخری فیصله ئے د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وجلو وکړه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وجلو د پاره وخت په وخت ډیری منصوبې شوی

## اولنی منصوبه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وجلو د پاره اولنی منصوبه دا وه چه قریش په خپل پارلیمان دارالندوه کښې راجمع شو او دا په تاریخ کښې ډیره خطرناکه اجتماع وه او دیته د قریشو د ټولو قبائلو نمائنده ګان راغلی وو پدیکښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم متعلق دری قسمه مشوری وشوی چا ویل د ملک نه ئے شړو چا ویل تړو ئے چا ویل وجنوئے او دیته قرآن په سورة الانفال دیرشم نمبر آیات کښې اشاره کړی

د ټولو اتفاق پدی راغلی چه وجنوئے پدی مشوره پسی فوراً دوی تیاری شروع کړه چه شپه شوه نو یوولس مشرانو د نبی صلی الله علیه وسلم کور محاصره کړو پدی اراده چه کله نبی صلی الله علیه وسلم اوده شی او شپه د نیمی نه واوړی نو مونږ به په ده په یو ځل د تورو ګزارونه وکړو او دده وینه به په ټولو قبائلو کښې تقسیم شی او بنو عبد مناف به د ټول قوم سره جنګ نه شی کولی نو په دیت به راضی شی او دیت به ورکړو او دده نه به هم دمه شو لکن هغه څه کیږی چه الله تعالی ته منظور وی جبرائیل علیه السلام راغلی نبی صلی الله علیه وسلم ئے ددے مشوری نه خبر کړو او ورته ئے وویل چه دا شپه په خپله بستره مه تیره وه او هجرت وکړه

## دویمه منصوبه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وجلو دپاره دویمه منصوبه داوه چه هر کله رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه هجرت شروع کړو او الله تعالی د کفارو نه نجات ورکړو نو د کفار غم او غصه ډیره زیاته شوه او هغوی فورا هنګامی اجلاس وکړو او دا فیصله ئے وکړه چه ددی دواړو د ګرفتارولو دپاره د څومره وسائلو د استعمال ګنجائش وی هغه استعمال کړی او دا اعلان ئے هم وکړو چه هر چا په دی دواړو کښې مونږ ته هریو مړ یا ژوندے حاضر کړو نو سل اوښان به په انعام کښې ورکوو نو ددغه انعام د لالچ په خاطر پدوی پسی سراقه بن مالک ورپسی شو او دوی ته دومره نزدی شو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم قرأت ئے اوریدلو ابو بکر رضی الله

تعالی عنه به باربارشاته کتل او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وای چه دشمن راورسیدلو او په ژړا هم شو الله تعالی ئے د اس ښپې په زمکه کښ ترګیږی پوری ننه ایستلی

## دریمه منصوبه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وجلو د پاره دریمه منصوبه داوه چه په دریم کال د هجرت د محرم په میاشت کښ د نجد غزا شویوه چه دیته غزوه ذی امرهم وای پدی غزا کښ رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو ونی د لاندی آرام کولو مشرکینو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو د پاره یو بهادر سړی راولیږلو تیره توره ئے استلی وه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وای یا محمد من یمنعک منی الیوم ای محمد تا به نن ځما نه څوک بچ کړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اویل چه الله تعالی به ما بچ کوی جبرائیل علیه السلام دا سړی په سینه کښ اووهلو توره ترینه پریوته رسول الله صلی الله علیه وسلم توره راواخستله اوورته وای چه من یمنعک منی تا به ځما نه څوک بچ کړی هغه ویل هیڅوک نشته کلمه ئے اویله او ایمان ئے راووړ

بیهقی رحمه الله وای چه دغه رنګی واقعه په غزوه ذات الرقاع کښ هم راغلی وه خو کیدیشی چه دغه بیله واقعه وی

## څلورمه منصوبه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلودپاره څلورمه منصوبه داوه چه دجنګ احدنه روستوابوسفیان یو کس ډیر په پټه طریقه تیارکړو دغه کس مدینه طیبه ته راغلی رسول الله صلی الله علیه وسلم د بنوعبدالاشهل په جماعت کښ د بعض صحابه کرامو سره ناست دے کله چه دغه سړی راننوتلو نبی صلی الله علیه وسلم خپلو ملګرو ته وای ان هذاالرجل یرید غدرا والله حائل بینه وبین ما یریده دا سړی دوکه کول غواړی او الله تعالی به دده او دده د ارادے په مینځ کښ پرده کیږی چه کله دغه سړی راغلی تپوس ئے وکړو ویل ایکم ابن عبدالمطلب په تاسو کښ د عبدالمطلب ځوی کوم یو دے رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اویل چه انا ابن عبدالمطلب

چه څه د عبدالمطلب ځوی یم دغه سړی په رسول الله صلی الله علیه وسلم داسی راښکته شو ګویا کښ چه پټه خبره ورسره کوی اسید بن حضیر رضی الله تعالی عنه راښکلو او ورته وای چه د رسول

الله صلی الله علیه وسلم نه طرف ته شه  په بېړه کښې ورسره چاړه وه  صحابه کرامو گرفتار کړو او تپوس ئے ترینه وکړو هغه ویل که ما ته امن وی نو حقیقت به بیان کړم نبی صلی الله علیه وسلم امن ورکړو او د ابو سفیان واقعه  ئے بیان کړه سحر له ورته الله تعالی ایمان نصیب کړو څه ورځې د نبی صلی الله علیه وسلم سره پاتې شو بیا  ئے اجازت وغښتلو او لاړ - واقدی رحمه الله وای و لم یسمع له بذکر بیا ددے سړی څه یاداشت نه دی اوریدل شوی

## پنځمه منصوبه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو د پاره پنځمه منصوبه دا وه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د بنو نضیر خوا ته ورغلی وو د هغوی سره د هغه دوه مړو د دیت په باره کښې خبره کوله کوم چه د بنو عامر کسان وو او عمرو بن امیه وژلی وو او دا دیت ورکول په دوی د مخکنی معاهدے مطابق ضروری وو

هغوی ویل صحیح ده ستا کارکوو رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی یو دیوال ته کیناست او ملگری ورسره دی په دی ملگروکښې ابوبکر عمر علی رضی الله تعالی عنهم هم وو یهودو په خپل مینځ کښې مشوره وکړه چه ډیره ښه موقعه ده وژل غواړی چه مونږ ترینه دمه شو او ویویل چه کوم یو دیته تیار دے چه دا د جرندی پل واخلی اود دیوال نه  ئے د ده په سر را اوغورزوی او چقنړی کړی په دوی کښې یو بد بدبخته عمرو بن جحاش اویل چه دا کار به څه وکړم جبرائیل علیه السلام راغلی او رسول الله صلی الله علیه و سلم  ئے د دوی د ارادے نه خبر کړو رسول الله صلی الله علیه وسلم فوری پورته شو او مدینه ته روان شو صحابه کرام پسی هم روستو لاړ او ورته ویویل چه یا رسول الله ته پورته شوی او مونږ پوهه نشو رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی د یهودو دمنصوبے نه خبر کړل

## شپږمه منصوبه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو د پاره شپږمه منصوبه دا وه چه په غزوه ذات الرقاع کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو ونې لاندې آرام کولو او توره ئې ونې ته زوړنده کړه یو مشرک راغلی د رسول الله صلی الله علیه و سلم توره ئې ویستله او ورته وای فمن یمنعک منی تا به څما نه څوک بچ کړی رسول الله صلی الله علیه وسلم اویل چه الله تعالی د هغه د لاس نه توره پریوته رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه سړی معاف کړو او خپل قوم ته واپس شو

او ظاهره داده چه دا واقعه او د نجد د غزا واقعه بیلا بیل دی هغه سړی ایمان راوړی وو او دے ایمان نه دے راوړی

## اوومه منصوبه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو د پاره اوومه منصوبه داوه چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم خیبر فتح کړو نو د یهودو یو زنانه (زینب بنت الحارث چه دا د سلام ابن مشکم ښځه وه ) رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په هدیه کښې یو وریته شوی ګډه راولیږله چه په هغې کښې زهر ارچلی وو او په اوګه کښې ورته زهر ډیر ارچلی وو ځکه دیته معلومات شوی وو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ولی غوښه ډیره خوښه وی رسول الله صلی الله علیه وسلم الله تعالی خبر کړو هغه غوښه ئې و نه خوړه

## اتمه منصوبه

اتمه منصوبه دا وه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د عقل د متأثره کولو د پاره یو یهودی لبید بن اعصم او د هغه نونړوپه رسول الله صلی الله علیه وسلم جادوکړیو او دغه واقعه علماء په تفسیر د سورة فلق او سورة الناس کښې تفصیلا ذکر کړی

## نهمه منصوبه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو د پاره نهمه منصوبه داوه چه دوه کسانو چه یو عامر وو دویم اربد وو دوی مشوره وکړه

عامر اربد ته اویل چه څه به محمد (صلی الله علیه وسلم ) په خبرو مشغوله کړم او ته پې د توری گزار وکړه عامر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اویل چه یا محمد قم معی اکلمک ای محمد څما سره پورته شه خبری درسره کوم رسول الله صلی الله علیه وسلم دده سره پورته شو خبری ورسره کولی اربد د توری د ویستلو کوشش کولو لکن لاس ئے د توری د موټی سره وچ شو توره ئے نه شوه ایستلی

## لسمه منصوبه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو د پاره لسمه منصوبه داوه چه ام قِرفه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو دپاره د خپلی کورنی دیرش کسان تیارکړیو ددے اراده وه چه دا کسان به د شپې چه کله خلق اوده وی مدینې ته داخل شی او په رسول الله صلی الله علیه وسلم به حمله وکړی

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر شو پدے پسی ددے علاقې ته دننه تشکیل وکړو او دا تشکیل د ابو بکر صدیق یا زید بن حارثه رضی الله عنهما په مشری کښ په وادی القری کښ بنو فزاره ته وشو

او دا ام قِرفه ډیره بوډی وه او دا قیس بن محسَّر رضی الله تعالی عنه ډیره ناکاره مرگ مړه کړه په ښپو کښ ورته رسی وار چله او بیا ئے د دوه اوښانو په مینځ کښ وتړله

## یو لسمه منصوبه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو د پاره یولسمه منصوبه داوه چه مسیلمةُ الکذّاب ثمامه ابن أُثال د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو د پاره تشکیل کړیو او ثمامه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو د پاره ځان ناشنا کړیو د محمد بن مسلمه رضی الله تعالی عنه په مشری کښ چه کوم د دیرش کسانو تشکیل نجد طرف ته شویو هغوی دا گرفتار کړو مدینې طیبې ته ئے راوستلو بیا ورته الله تعالی ایمان نصیب کړو او کله چه صحابه کرامو گرفتار کړو نو هغوی نه پیجاندلو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اویل چه دا ثُمامه دے

## دولسمه منصوبه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو د پاره دولسمه منصوبه دا وه چه د فتح مکے په کال رسول الله صلی الله علیه وسلم د بیت الله شریف نه طواف کولو فضاله بن عمیر د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو په اراده راغلی او دا ډیر بهادروو چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نزدی شو تپوس ئے ترینه وکړو چه ماذا کنت تحدث به نفسک ستا په زړه کښ څه سوچ گرځی هغه ویل لا شئ کنت اذکر الله هیڅ نشته ذکر کوم رسول الله صلی الله علیه وسلم وخاندل بیا ئے ورته اویل چه د الله تعالی نه بښنه اوغواړه بیا ئے ورله په سینه لاس کیښود زړه ئے په آرام شو فضاله رضی الله تعالی عنه وای چه قسم په الله تعالی کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم لاس پورته کړو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته د هر شی نه ډیر زیات محبوب شو

## دیارلسمه منصوبه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وژلو د پاره دیارلسمه منصوبه دا وه - شیبه وائی چه په جنگ حنین کښ یوائې پاتی شو نو ماته خپل پلار او تره را یاد شو ما اویل چه نن به څه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه خپل بدل واخلم څه هغه ته د ښی طرف نه راغلم ښی طرف ته ترینه عباس رضی الله عنه وو ما اویل چه دا ئی تره دے او دا د ده امداد نه پریدی بیا ورله د چپ طرف نه راغلم چپ طرف ته ترینه ابو سفیان ابن الحارث وو ما اویل چه دا خو ئی د تره ځوئی دے دا خوئے هم امداد نه پریدی نو بیا ورله د شا نه راغلم ما پرے د تورے گزار کولو ناڅاپه راته د اور لمبه پورته شوه رسول الله صلی الله علیه وسلم وکتل او ما ته ئی اویل چه شیبه رانزدے شه او دعاء ئی وکړه چه اللهم اذهب عنه الشیطن الله د دنه شیطن لرے کړے ما ورته نظر پورته کړو رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته د خپل غوږونو او سترگو نه محبوب وگرزیدو او ویل یا شیبه قاتل الکفار ای شیبه د کفارو سره وه جنگیکه

په بل روایت کښ راځی شیبه وائی چه څه حنین ته تلم نو څما په زړه کښ دا خبره وه که چرے څه محمد صلی الله علیه وسلم په نا خبرے کښ قتل کړم نو څه به د ټولو قریشو انتقام واخلم او ما

اویل که چرے تول عرب او عجم د محمد صلی الله علیه وسلم تابعدار شی نو څه به ئی تابعداری و نه کړم کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یواځی شو او ما ورته خپله توره پورته کړه نو د بریښنا په شان د اور لمبی څما مختی راغلی نو ما پخپل مخ باندے لاس کیښود او بیرته واپس شوم رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته اویل چه شیبه را نزدے شه نو څما په سینه ئے لاس راښکو او دعاء ئے ماته وکړه الله تعالی ماته محبوب وگرزولو او څما د زړه خیرے ورته ختم شو دا روایت په خصائص کبری د سیوطی کښ تفصیلاً موجود دے

## خلاصه د بحث

د دے بیان نه دا خبره معلومه شوه چه هر څوک چه هغه د کفر دشمنی کوی او د شریعت پابند وی او د اعلاء د کلمة الله فکر مند وی او د امت مظلومه غمخواروی نو د هغه سره به خا مخا دشمنی کیږی هغه به کفارو ته مطلوب کیږی د هغه خلاف به سازشونه تیاریږی او د هغه خلاف به منصوبے جوړیږی

اوس مونږ لره سوچ پکار دے چه صحیح مسلمانان په غرونو او ځنګلو کښ وخت تیروی او یا په جیلونو او تکلیفونو کښ او مونږ په هر ځائی کښ ښه په آرام او راحت گرځو د مؤمن شان خو دا دے چه دا به کفارو ته مطلوب وی او د ته به هم کفار مطلوب وی دده نه به کفر په خطره او تشویش کښ وی او دا به هم د کفر نه په خطره او تشویش کښ وی الله تعالی دی مونږ د کفر د پاره درد سر وګرځوی او الله تعالی د مونږ د امت د حالت غمخواران وګرځوی او الله تعالی د مونږ ته په خپل صحیح دین صبر او استقامت نصیب کړی - و صلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد و آله و اصحابه اجمعین ددے بیان زیات نقل د دوه کتابونو نه وشو - یو الرحیق المختوم دویم مناورات الاشقیاء لقتل خاتم الانبیاء

# ادب کول

الحمدلله وحده والصلوة و السلام على من لا نبی بعده اما بعد فاعوذ باالله من الشيطان الّرجيم . يا ايها الذين آمنوا لا ترفعوا اصواتكم فوق صوت النبى و لا تجهرو له باالقول كجهر بعضكم لبعض ان تحبط اعمالكم و انتم لا تشعرون.

## د دے بیان موضوع ده ادب کول

هر هغه څوک چه هغه د مشرانو ادب کوی الله تعالی د هغه په عمر،علم،عمل،کاروبار او مال اولاد کښ برکتونه غورزوی او هغه ته الله تعالی نیک نامی او حیاء او عزت او شهرت او مقبولیت ورکوی او هغه ته الله تعالی د دینی کارونو توفیق ورکوی.

## د ادب اهمیت

د علم نه ادب ډیر ضروری دی عبدالله بن مبارک رحمه الله وای نحن الی قلیل من الادب احوج منا الی کثیر من العلم مونږ لګ ادب ته ډیر محتاج یو د ډیر علم نه. او عبدالله بن مبارک رحمه الله وای چه ما دیرش کاله طلب د ادب وکړو اوبیا مِ شل کاله طلب د علم وکړو. او علماء به اول طلب د ادب کولو او بیا بۀ طلب د علم کولو.

سهل بن عبدالله تستری رحمه الله وای من قهر نفسه باالادب فهو یعبدالله باالاخلاص چا چه مغلوبه کړو خپل ځان په ادب سره نو دا د الله تعالی بندګی په اخلاص سره کوی. یعنی چه په چا کښ ادب وی نو په هغه کښ اخلاص وی.

سفیان ثوری رحمه الله وای کان الرجل اذا اراد ان یکتب الحدیث تأدَّب و تعبَّد قبل ذالک بعشرین سنة - کومو محدثینو به چه د احادیثو د لیکلو اراده وکړه نو د هغه نه مخکښ بۀ شل کاله په ادب او عبادت کښ تیر کړل.

عبد الله بن مبارک رحمه الله وای من تهاون باالادب عوقب بحرمان السنن و من تهاون باالسنن عوقب بحرمان الفرائض و من تهاون باالفرائض عوقب بحرمان المعرفة چا چه په ادب کښې سستی وکړه نو الله تعالی د سنتو توفیق نه ورکوی او چا چه په سنتو کښې سستی وکړه نو الله تعالی د فرضو توفیق نه ورکوی او چا چه په فرضو کښې سستی وکړه نو الله تعالی ورته خپل معرفت نه نصیب کوی

مولانا رومی رحمه الله وای

آز خدا خواهیم توفیق ادب — بے ادب محروم ماند آز فضل رب

بے ادب تنها نه خود را داشت بد — بلکه آتش درهمه آفاق ذد

د الله تعالی نه د ادب توفیق غواړم . بے ادبه سړی دالله تعالی د مهربانی نه محرومه وی بے ادبه سړی یواځی خپل ځان ته نقصان نه رسوی بلکه د هغه د وجهے نه په ټول عالم کښې اور بلیږی.

## د ادب په باره کښې آیاتونه

په قرآن کریم کښې ځای په ځای آداب بیانیږی. په سورة الحجرات کښې هم ډیر آداب بیان شوی. په دی وجه ورته سورة الاداب او سورةالاخلاق هم وای. اول ادب دا دے چه لا تقدموا بین یدی الله و رسوله - د الله تعالی او د رسول نه مه مخکښې کیږی. یعنی د الله تعالی او رسول احترام او ادب کوی.

دویم ادب دا دے چه لا ترفعوا اصواتکم فوق صوت النبی و لا تجهرو له باالقول یعنی په پیغمبر خپل آواز مه اوچتوی او د هغه په مخکښې په زوره خبره مه کوی او بیا وای چه په زوره خبری کول (یعنی د پیغمبر بے ادبی کول) سبب دے د برباد کیدو د عملونو

او بیا وای چه د پیغمبر په مخکښې آواز ښکته کول (یعنی د پیغمبر ادب کول) سبب د تقوی او د مغفرت او د اجر عظیم دے بیا وای که دوی انتظار کړی وی تر دے چه ته رااوځی نو دا به ډیر غوره وی. یعنی د مشرانو ادب کول سبب د خیر او مغفرت او رحمت دے

## د ادب قسمونه

د ادب ډیر قسمونه دی یو ادب دے د الله تعالی سره د ټولونه زیات ادب د الله تعالی په انبیاء علیهم السلام کښ دے کله چه په قرآن کښ د انبیاء علیهم السلام دعاګانی او خبری ګوری نو د هغوی په دعاګانو او خبرو کښ د الله تعالی ډیر ادب دے . په شریعت کښ د الله تعالی د ادب او احترام ډیر مثالونه دی یو مثال دادے چه مونځ کونکے به په مانځه کښ د اسمان طرفته نه ګوری دویم مثال ښی لاس په چپ لاس ایښودل او لاس په نامه الله تعالی ته اودریدل بیا الله تعالی ته سر ښکته کول او سر په زمکه ایښودل او په قعده کښناستل او په سکون سره مونځ کول. بل مثال په اودس ماتی کښ بیت الله شریف ته مخ یا شا نه ګرځول.

## دویم ادب د نبی صلی الله علیه و سلم دے.

الله تعالی وای لا ترفعوا اصواتکم د پیغمبر په مخکښ په زوره خبری مکوی ځکه پدیکښ د پیغمبر ادب او تعظیم دے.- (روح المعانی ص ۲۹۵ ج ۱۳  فتح القدیر ص ۸ ج ۷ ص ۹ ج ۷

بریده بن حصین رضی الله عنه وای کنا اذا قعدنا عندالرسول صلی الله علیه وسلم لم نرفع رؤوسنا الیه اعظاماً له. [رواه البیهقی بحواله موسوعة الخطب و الدروس للشیخ علی بن نایف] کله به چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه و سلم خوا ته کښناستو نو مونږ به هغه ته خپل سرونه نه پورته کول د هغه د احترام د وجه نه. براء رضی الله عنه وای خرجنا مع الرسول صلی الله  علیه و سلم و جلسنا حوله کأن علی رؤوسنا الطیر. مونږ د رسول الله صلی  الله علیه و سلم سره اووتلو او مونږ د هغه نه چاپیره کیناستو ګویه کښ زمونږ په سرونو مارغان وو.

انس رضی الله عنه وای ان ابواب النبی صلی الله علیه و سلم کانت تقرع باالاظافیر. د رسول الله صلی الله علیه و سلم دروازی به په نوکونو ټکولی شوی.

یعنی د ادب او احترام د وجه نه به د رسول الله علیه و سلم دروازی په زوره نه ټکولی شوی بلکه په قلاره به په نوکونو ټکولی شوی.

امام مالک رحمه الله به په مدینه کښې په سورلی نه ګرځیده او ویل یې چه انا استحی من الله تعالی ان اطأ تربة فیها رسول الله صلی الله علیه و سلم بحافر دابة (اکمال فی اسماء الرجال لصاحب المشکوة ۶۲۴ ) ما ته د الله تعالی نه حیاء راځی چه څه هغه خاوره د خپلی سورلی په ښپو پیمال کړم چه په هغې کښې رسول الله صلی الله علیه و سلم دفن دے.

## دریم ادب د علماء کرامو دے.

الله تعالی وای لاترفعوا اصواتکم . د دی آیت په تفسیرکښې ابو حیان رحمه الله وای چه د علماء په مخکښې په زوره خبری کول مکروه دی. (روح المعانی ص ۲۹۰ ج ۱۳)

په حدیث د ابو امامه باهلی رضی الله عنه کښې راځی من علَّم عبدًا آیة من کتاب الله فهو مولاه( آداب العلماء والمتعلمین ص۱۵) چا چه یو بنده ته د قرآن کریم یو آیت اوښودلو نو دا د ده مالک شو. د دینه معلومه شوه چه د استاذ مثال د آقا وی او دا ترینه هم معلومه شوه چه دا ویل نه دی پکار چه دا خو څما د یو څو ورځو استاذ دے. ځکه که یو آیت درته ازده کړی نو هم ستا مولا (مالک او آقا) شو.

او رسول الله صلی الله علیه و سلم وای اللهم لایدرکنی زمان لایتبع فیه العلیم و لا یستحیا فیه من الحلیم - (رواه احمد بحواله اهمیت الادب ص ۴) ا ی الله ما د هغه زمانی نه او ساتی چه په هغه کښې د عالم تابعداری نه کیږی. (یعنی د عالم خبره پکښې نه منلی شی) او د صبرناک سړی نه پکښې شرم نه کیږی.

عبدالله بن عباس رضی الله عنه وای چه څه به د یو عالم خوا ته ورغلم ما ته به اوویلی شو چه هغه اوده دے نو ما به هلته ډیره اووهله تردے چه هغه به د ماسپښیم مانځه ته راووتلو ما ته به هغه اویل چه ای د رسول الله د تره ځویه د کوم وخت نه ناست ئے ما به اویل چه د ډیر وخت نه. هغه به اویل چه تا بد کارکړی. څه د ولی نه خبرَولم ما به اویل چه څما مقصد دا وه چه ته خپل حاجت پوره کړی او بیا روستو ما ته را اوځی(آداب العلماء والمتعلمین ص ۲۵)

د بعض محدیثونو نه دا نقل دی چه هغوی به علماء ته دروازه نه ټکوله. د هغه د دروازے خوا ته به کښناست . چه کله به هغه په خپله را اووتلو نو تپوسونه یې ترینه کول( روح المعانی ص ۲۹۴ ج ۱۳)

د امام احمد بن حنبل رحمه الله په مخکښې چا د یو عالم ذکرکولو امام احمد د بیمارتیا د وجې نه ډېره لګولی وه هغه کښناست او ویویل چه لا ینبغی ان یذکر الصالحون فنتکئ (لحوم العلماء مسمومة ص ۲۰ ) دا مناسب نه دی چه د نیکانو ذکرکیږی او ما ډېره وهلی وی.

علی رضی الله تعالی عنه د عالم څه حقونه ذکرکړی بعض پکښې دا دی.

وای چه د عالم حق دا دے  چه خلقوته عمومی سلام وکړی او عالم ته خصوصی سلام وکړی. او د هغه مخې ته کینی او د هغه په خوا کښې په لاس یا سترګو اشاری نه کوی او دا ورته مه ویوه چه فلانی ستا د خبری خلاف خبره کړی او د هغه په مخکښې د هیچا غیبت مکوه او د هغه خطا ګانی مه لټوه او که خطائی ترینه وشی نو د هغه عذرقبلوه او د الله تعالی د پاره د هغه احترام کوه او د هرچا نه مخکښې د هغه خدمت کوه. او د هغه په مجلس کښې پټی پټی خبری مکوه او هغه د جامی نه مه نیسه او د هغه د صحبت نه مه مړیږه (اخرجه الخطیب فی الجامع بحواله آداب العلماء والمتعلمین۱۶)

او د عالم حق او احترام دا هم دے چه کله هغه د یو خبری حکم ذکرکوی او یا یو ناشنا فائده ذکر کوی یا یو واقعه ذکرکوی او تا ته د مخکښې نه معلومه وی نو داسی په توجه ورته غوګ کده چه ګویا دا تا مخکښې نه وی اوریدلی. عطاء رحمه الله وای چه کله یو ځوان یو حدیث بیانوی نو څه ورته داسی غوګ کیدم چه ګویه دا ما مخکښې نه دی اوریدلی حالانکه ما دغه حدیث د هغه د پیدائش نه مخکښې اوریدلی وی. (آداب العلماء و المتعلمین ص ۱۷)

## څلورم ادب د مشرانو دے

بعض علماء وای چه ادب دیته وای چه هو تعظیم من فوقک و الرفق بمن دونک ( اهمیة الادب ص ۳ ) یعنی د مشرانو احترام کول او په کشرانو شفقت کول او په حدیث د عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه کښې راځی رسول الله صلی الله علیه وسلم وای البرکة مع اکابرکم ( مکارم الاخلاق للخرائطی ص ۲ ) برکت د مشرانو سره وی.

ابو هریره رضی الله تعالی عنه یو سړی ولید چه د بل سړی نه روستو روان وو ابو هریره رضی الله تعالی عنه ترینه تپوس وکړو چه دا څوک دی هغه اویل چه څما پلاردی. ابو هریره رضی الله تعالی

عنه ورته اویل چه لا تَدْعُهُ باسمه و لا تجلس قبله و لا تمش امامه( الآداب الشرعیة لشمس الدین ابو عبدالله المقدسی ص ۶۴ ) دا پلارِ دِ په نوم مه را بله او د ده نه مخکښ مه کینه او د ده مخی ته مه ځه.

مالک بن معول رحمه الله وای چه ځه د طلحه بن مصرف رحمه الله سره روان ووم مونګ یو تنګی کوڅی ته اورسیدو ځه روستو شوم او طلحه رحمه الله مخکښ شو ما ته ئے اوکتل او ویویل چه لو اعلم انک اکبر منی بیوم او لیلة ما تقدمتک (الآداب الشرعیة ص ۶۴. ) که ما ته معلومه وی چه ته ځما نه یوه ورځ او یا یوه شپه مشر ئے نو ځه به ستا نه نه وی مخکښ شوی.

فائده د دینه معلومه شوه چه د سلفو صالحینو په زړنو کښ د مشرانو ډیر احترام وو.

یوسف علیه السلام د خپل رونړو ډیر ادب او احترام کړی ځکه هغه وای چه و قد احسن بی اذ اخرجنی من السجن ( سورة یوسف آیت ۱۰۰ ) پدیکښ د جیل ذکر کړی او د کوهی ذکر ئے نه دی کړی چه رونړه شرمنده نشی. او بیا وای من بعد ان نزغ الشیطان بینی و بین اخوتی. شیطان ځما او ځما د رونړو په مینځ کښ وسوسه اوغورزوله او داسی نه وای چه رونړو ځما سره زیاتی کړی یا تاسو ځما سره زیاتی او ظلم کړی.

## پینځم ادب د مور او پلار دی

الله تعالی وای د مور او پلار سره احسان کوی مور او پلار ته اُف مه ویوی او مه ئے رټی ښه خبره ورته کوی دعاء ورله غواړی چه ربِّ ارحمهما کما ربَّیانی صغیرا.

امام ابو حنیفه رحمه الله وای ما خپل عمل دری حصی کړی یوه حصه د ځان د پاره دویمه حصه د مور پلار د خدمت د پاره دریمه حصه د خپل استاذ حماد رحمه الله د پاره( اخبار ابی حنیفه و اصحابه ص ۶۳ )

**فائده** د دینه معلومه شوه چه د مور او پلار د خدمت د پاره مستقل وخت ورکول پکار دی.

محمد بن منکدر رحمه الله وای چه یوه شپه ما د خپلی مور ښپي چاپي کولی او ځما تره مونځونه کول خو د هغه شپه ما ته د خپلی ښپي نه غوره نه ښکاره کیده( الآداب الشرعية لشمس الدين المقدسی ص ۶۴ )

**فائده** د دینه معلومه شوه چه کله کله د مور او پلار د خدمت د پاره نور عبادتونه پریښودل پکار دی بعض کسان داسی وی چه بعض دینی کارونه ډیر په اخلاص کوی لکن د مور پلار سره بد اخلاقی کوی - **شپږم ادب د نومونو دی**. پکار دا ده چه د الله تعالی نوم په احترام سره یاد کړی لکه د الله تعالی د نوم سره تعالی یا سبحانه و تعالی یا عزوجل یاد کړی شی. د نبی صلی الله علیه و سلم د نوم سره درود او سلام ذکر شی.

د ټولو سلفو صالحینو دا عادت وو چه د نبی صلی الله علیه و سلم د نوم سره بۓ صلی الله علیه و سلم لیکلو ځکه الله تعالی وای <u>صلوا علیه و سلموا تسلیما</u> -او د صحابی نوم سره رضی الله تعالی عنه ذکر کړی شی او د علماؤ د نوم سره رحمه الله ذکر کړی شی (آداب العلماء و المتعلمین ص ۲۲ )

## اووم ادب د کتابونو دے

د کتابونو ډیر احترام پکار دے ځکه دا هم د شعائر الله نه دی الله تعالی وای <u>و من یعظم شعائر الله فانها من تقوی القلوب</u>. یعنی د شعائرالله احترام کول د زړونو تقوی او اخلاص دے.

کتابونه په زمکه کیښودل یا خواره واره کیښودل نه دی پکار دغه رنګی چه مختلف کتابونه وی نو د کتابونو په کیښودلو کښ د ترتیب خیال ساتل پکار دی .

د ټولو نه اوچت د قرآن کیښودل دی بیا د حدیثو کتابونه بیا تفسیرونه د قرآن بیا شروح د حدیثو بیا د عقیدی کتابونه بیا اصول فقه بیا نحو او صرف بیا د شعرونو کتابونه بیا د عروضو کتابونه. که د یو فن کتابونه وی نو هغه اوچت کیښودل پکار دی چه په هغه کښ آیاتونه او حدیث ډیر وی. که آیاتونه او حدیث پکښ یو شان وی نو بیا هغه چه د هغه مصنف د لوی مرتبی والا وی لکه په صحاح ستو کښ اول بخاری بیا مسلم که د مصنفینو مرتبه ۓ یو شان وه نو بیا هغه کتاب اوچت کیښودل پکار دی چه هغه مخکښ لیکل شوېوی او د علماء په لاس کښ ډیر وی( حواله مذکوره) دا

خبری د ادب او احترام سره تعلق لری چا چه د دی خبرو خیال ساتلو د هغه په عمر علم او عمل او هر کار کښ به برکت وی.

مجاهدینو لره د دے آدابو ډیر خیال ساتل ضروری دی. خصوصاً د مشرانو مجاهدینو .

عمر فاروق رضی الله تعالی عنه به د مشرانو مجاهدینو ډیر احترام کولو جنګونو لره يې نه لیګل او ورته ویل يې چه تاسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښ کو م جنګونه کړی هغه پوره دی. مشران مجاهدین يې د ځان سره نزدی ساتل او مشوری يې ترینه اخستلی

وصلی الله علی نبینامحمدوسلم

.

# خطبه عیدالاضحی

الحمدالله الذی شرع التقرب لعباده بذبح القربان وقرن النحر باالصلوة فی محکم القران واشهدُ انّ لااله الله وحده لاشریک له ذوالفضل والامتنان واشهدُ ان محمداً عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ المصطفی علی کل انسان صلی الله علیه وعلی اله واصحابه ومن تبعهم باحسان وسلم تسلیما -

امابعد فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم - واذابتلی ابراهیم ربه بکلمات فاتمهن قال انی جاعلک للناس امامًا قال ومن ذریتی قال لاینال عهدی الظالمین - وقال الله تعالی - قل ان صلاتی ونسکی ومحیای ومماتی لله رب العالمین - وقال الله - لن ینال الله لحومها ولا دماءها ولکن ینال التقوی منکم وقال الله تعالی فصل لربک والنحر

وقال النبی صلی الله علیه وسلم انّ لکل قوم عیدا وهذا عیدنا

محترمو نن د لوی اختر او د ذوالحجی لسمه ورځ ده - ذوالحجه د اسلامی کال اخری میاشت ده او دولسمه میاشت ده چه مونږ ورته د لوی اختر میاشت وایو او په اشهر الحرام کښ دویمه میاشت ده په

کال کښې دولس میاشتې دی لکه الله تعالی وای ان عدة الشهور عندالله اثناعشر شهرا فی کتاب الله یوم خلق السموت والارض منها اربعة حرم - سورة توبه ۳۶ ایت

یقینا شماره د میاشتو په نزد الله تعالی دولس میاشتې دی په کتاب د الله تعالی کښې څنې د هغونه څلور میاشتې عزتمندی دی – یعنی په کال کښې دولس (۱۲)میاشتې دی او څلور پکښې اشهر الحرم دی ذوالقعده - ذوالحجه - محرم - رجب- په جاهلیت کښې هم د دی میاشتو احترام کیدو پدی کښې به ئےجنګونه فسادونه غلاګانی ډاکی لوټ مار او قتلونه نه کول نو ذوالحجه دویمه میاشت ده په اشهرالحرم کښې

**اهم واقعات د دی میاشت** - په اسلامی تاریخ کښې پدی میاشت کښې ډیراهم اهم واقعات شوی لکه پدی میاشت کښې په پنځم کال د هجرت چه هغه ته سنت الزلزال وایی (د زلزال کال ) هم ویلی شی غزوه د بنو قریضو شوی وه او غزوه د بنو قریضو په هغه ورځ شروع شوی وه په کومه ورځ چه غزوه د جنګ احزاب ختمه شوه،او د جمعی او عرفی په ورځ په نهم د ذوالحجی په لسم کال د هجرت چه هغه ته سنة الوداع (د رسول الله صلی علیه وسلم درخصتی کال ) هم ویلی شی رسول الله صلی علیه وسلم د عرفات په میدان هغه تاریخی او جامعه خطبه لوستلی وه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چاپیره یو لاکه څلیریشت زره یا یولاک څلور څلویښت زره صحابه کرام راجمع شوی وو رسول الله صلی علیه وسلم ډیره جامعه خطبه ولوسته چه د هغی مختصر حاصل دادی یایهاالناس اسمعواقولی فانی لاادا ری لعلی لاالقاکم بعدعام هذبهذالموقف ابدا ای خلکوځماخبره واوری یقیناځه نه پوهیږم شاید چه ځه ستا سو سره ملاونشم رستو ددی کال نه پدی میدان دهمیشه دپاره

اوبیاےاویل چه ستاسووینی اومالونه په یوبل حرام دی دجاهلیت خبری ټولی ختمی دی دزنانوپه با ره کښې دالله تعالی نه ویریږی دالله په کتا ب منګولی ولګوی هیچری به ګمراه نشی دالله بدنګی وکړی پینځه وخته مونځ کوی روژی نیسی زکات ورکوی حج کوی دامیرانو تا بعدا ری کوی نوجنت ته به داخل شی بیا ے ورته اویل وانتم تسئلون عنی فما انتم قائلون ستاسو نه به ځما په باره کښې تپوس کیږی تاسو به څه و یوی هغوی او یل چه نشهد انک قد بلغت وادیت ونصحت مونږ ګواهی کوو چه تا تبلیغ وکړو او د تبلیغ حق د اداء کړو او خیر خواهی دی وکړه نبی صلی الله علیه وسلم په مسواکی ګوټه اشاره کوله اسمان ته

یی پورته کوله او خلقو ته به یی راښکته کوله او ویل به یی چه اللهم اشهد ای الله ته ګواه شه دری کرتی دا کاروکړو ( الرحیق المختوم ص ۳۲۷

او په شپږویشتم د ذوالحجی په درویشتم کال خلیفه ثانی عمرفاروق رضی الله عنه شهید شو یو او په (۱۸)اتلسم د ذوالحجی په (۳۵) پنځه دیرشم کال خلیفه ثالث عثمان رضی الله عنه شهید شو یو او په (۲۵)پنځیشتم د ذوالحجی په دغه کال د خلیفه رابع علی رضی الله عنه سره بیعت شو یو د دینه علاوه نور هم ډیرواقعات پدی میاشت کښ شوی چه هغه په اسلامی تاریخ کښ موجود دی .

**د ذوالحجی اول لس ورځی** - لکن اول لس ورځی خصوصی شان او فضائل لری رسول الله صلی الله علیه وسلم وای مامن ایام العمل الصالح فهن احب الی الله منه فی هذه الایام العشر قالوا یا رسول الله ولا الجهاد فی سبیل الله قال ولا الجهاد فی سبیل الله الارجل خرج بنفسه وماله ولم یرجع من ذالک بشئ - نشته هیڅ ورځی چه نیک عمل په هغو کښ غوره وی الله تعالی ته د دی لسو ورځو نه صحابه کرامو اوویل چه یا رسو ل الله جهادهم ددی ورځودعمل سره نه برابریږی نبی صلی علیه وسلم اویل چه او جهاد هم د دی ورځو د عمل سره نه برابریږی مګرهغه سړی چه هغه اوځی پخپل نفس او مال سره او هیڅ شی واپس نه کړی ،

فائده - یعنی پدی لسو ورځو کښ نیک عمل کول الله تعالی ته ډیر غوره دی د نورو ورځو د نیک عمل نه تر دی چه د نورو ورځو د جهاد نه هم د دی ورځو نیک عمال غوره دی البته دیو قسم جهاد نه نشی غوره کیدلی چه هغه جهاد د هغه چا دی چه په خپل مال او نفس سره اوځی او هیڅ واپس نه کړی نو خاص دغه قسم جهاد د دی ورځو د عمل نه غوره دی او هرچه باقی قسمونه د جهاد دی نو د دی ورځو عمل ددغه قسمونو د جهاد نه ډیرغوره او محبو ب دی الله تعالی ته (رواه البخاری و الترمیذی و ابو داود وصحیح ابن خزیمه)

## د دی لسو ورځو د فضیلت (غوره والی) وجه

د دی ورځو د غوره والی یوه وجه داده چه الله تعالی پدی ورځو قسم کړی او الله تعالی په هغه شی قسم کوی چه هغه غټ وی او غوره وی لکه الله تعالی وایی ولیال عشر او شپی لس یو قول دادی چه د دینه مراد (۱۰)لس شپی او ورځی د ذوالحجی دی دویم قول دادی چه د دینه اخری (۱۰)لس شپی د

رمضان دی بیا په دی کښی اختلاف دی چه اولنی عشره د ذوالحجی غوره ده او که اخری عشره د رمضان غوره ده – ابن تیمیه رحمه الله وایی چه ورځی د اولنی عشری د ذوالحجی غوره دی د ورځو د اخری عشری د رمضان نه ځکه پدی کښی د عرفی ورځ ده (او د اختروړځ او یوم الترویه پکښی هم ده ) او شپی د اخری عشری د رمضان غوره دی د شپو د اولنی عشری د ذوالحجی نه ځکه پدی کښی لیلة القدر ده (اودارای دابن قیم رح او ابن کثیر هم ده بحواله کتب الشیخ محمد صالح المنجد ص۳ ج ۱ )او د دی ورځو د غوره والی دویمه وجه داده چه پدی کښی د عرفی او د اخترورځ ده دریمه وجه داده پدی کښی اضحیه کیږی او پدی کښی حج او عمره اداء کیږی څلورم داچه پدی کښی نور نیک اعمال هم کولی شی لکه روسته به ذکرشی ،

**د دی ورځو نیک عملونه** : الله تعالی بعض خلقو لره یا بعض ځایونو (مکانونو) یا بعض زمانو او وختونو لره خصوصی فضیلتونه او غوره والی ورکړی او داد الله تعالی مهربانی ده چه بعض وختونه الله تعالی د عبادت موسم او سیزن ګرځولی وی چه په هغه کښی عبادت ډیرزیات ثوابونه لری او الله تعالی ته د نزدیکت ذریعه ګرځی د هغه وختونونه یو اولنی لس ورځی د ذوالحجی دی پکارداده چه پدی کښی د یو څو اعمالو اهتمام وکړی شی ، اول–داچه پدی ورځو کښی په نیکو کارونو کښی ډیرکوشش وکړی شی - د سعید بن جبیر رحمه الله په باره کښی راځی چه کله به د ذوالحجی لس ورځی راغلی نو اجتهد اجتهاداً حتی مایکاد یقدرعلیه دومره کوشش به یی په عبادت کښی شروع کړو چه وس به یی نه راتلو او سعید بن جبیررحمه الله به ویل چه لاتطفئوا سرجکم لیالی العشر - پدی لسو شپو کښی ډیوی مه وژنی یعنی پدی شپوکښی مونځونه کوی او قران کریم لولی ،دویم داچه پدی ورځو کښی د مونځونو د وختونو او د جمعو پابندی پکارده ،دریم پدی ورځو کښی د روژو خیال ساتل پکاردی سلفو صالحینو به په دی ورځو کښی روژی نیولی او نووی رحمه الله وایی ان صیامها مستحب استحباباً شدیداً ویتأکدصوم عرفة د دی روژی ډیری سختی مستحب دی او د عرفی د روژی تاکید ډیردی ، څلورم داچه پدی ورځو کښی ذکر د الله اکبر او لااله الا الله او الحمدالله ډیرپکاردی ځکه نبی صلی علیه وسلم وای اکثروا فیهن من التهلیل والتکبیر والتحمید پدی کښی لااله الاالله او الله اکبر او الحمدالله ډیرویوی – او عبدالله بن عمر او ابوهریره رضی الله عنهما به پدی (۱۰)لسو ورځو کښی بازارونو ته وتل یکبران ویکبر الناس بتکبیرهما ( رواه البخاری ) دوی به تکبیرویلو او خلقو به د دوی په تکبیر تکبیرویلو –

پنځم داچه د عرفي روژه نيول ځکه رسول الله صلی علیه وسلم وای چه د عرفي روژه د تیر شوی کال او د راتلو نکښ کال ګناهونه رژوی (یعنی معاف کوی ) یکفر السنة الماضیة والباقیة او په بل روایت کښ راځی چه یکفر السنة التی قبله والسنة التی بعده ( رواه مسلم ) یعنی د دوه کالو ګناهونه معاف کوی

شپږم داچه ویښته او نوکونه نه کټ کول ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای اذا رایتم هلال ذی الحجة واراد احدکم ان یضحی فالیمسک عن شعره واظفاره ( رواه مسلم والترمذی واحمد وابن ماجه والدارقطنی) کله چه وینی تاسو میاشت د ذی الحجی اواراده لری یو ستاسو چه قربانی وکړی نو بند دِ شی د ویښتو اونوکونو نه د حنفی مذهب مطابق غوره داده چه سرِی نوکونه او ویښته کټ نه کړی چه د حاجیانو سره مشابهت پیداشی ،

اووم تکبیرات ویل یعنی د ذوالحجی د نهم تاریخ د صبا نه د دیارلسمی ورځی د ماځیګر پوری د هر مانځه نه روسته یو ځل تکبیرات ویل واجب دی د سړو دپاره په اوچت اواز او د ښځو لپاره په رو اواز سره الله اکبر الله اکبر لااله الله والله اکبر الله اکبر ولله الحمد

اتم د اختر په ورځ مونځ کول او قربانی کول .

---

**یو م العید اووجه د تسمی** د ذوالحجی لسمی ورځی ته یوم العید او یوم النحروای ابن الاعرابی رحمه الله وایی چه عید ورته ځکه وایی چه لانه یعودکل سنةبفرح مجددِ ( قاموس ص ۳۸۶ اللسان ص ۴۶۱ ج ۹ تاج العروس ص۴۳۸ ج ۸) دا هرکال د نوی خوشحالی سره راګرځی بعضی وایی چه عید ورته تفاولا یعنی د نیک فالی دپاره ویلی شی چه الله تعالی دِ دوباره را اوګرځی (شرح ثلاثیات مسنداحمد ص ۵۷۹) - یا عیدورته ځکه وایی چه خلق ورته راګرځی - یا عید ورته ځکه وای چه خلق د دی عادت وی (جمهرةاللغة ص ۳۵۸ )

**دمسلمانانو دپاره دوه د خوشحالی ورځی دی** د هرقوم دپاره د خوشحالی ورځ وی چه په هغه کښ خوشحالی جشن تهوار اختر مناوی او دا د دوی شعاروی د عیسایانو، یهودیانو، هندوانو، سکانو، مجوسیانو،شیعګانو وغیر دپاره بیا د کفارو اخترونه او خوشحالی مناؤکول کله د دینوی

کارونو د وجی نه وی لکه کال شروع کیږی یاد کروندی موسم شروع کیږی یا هوا او فضا معتدل له وی یا یو حکومت قائم شویوی یا یو حاکم او بادشاه مقرر شویوی .

او کله د دینی کارونو د وجی نه وی لکه د یهودو او نصاراو وو اکثر اخترونه = د نصاراوو د پاره په مختلف نومونو اخترونو دی لکه کریسمس یا لکه عید الشکر ، عیدالعطا ، عید الفصح ، عید السباسب ، عید الباغوت وغیره .

د لغت په کتابونو کښ د دینه علاوه نور نومونه هم شته او په ټولو قومونو کښ د نصاراوو اختری ډیری معلومیږی .

د باطنیه وو ( شیعه ګانو ) د پاره عید الغدیر دی او دا په اتلسم (۱۸) د ذوالحجی کوی دوی دعوه کوی چه په دی ورځ نبی صلی الله علیه وسلم دعلی رضی الله عنه سره په خلافت بیعت کړی وو.

یا لکه د مجوسو د پاره مهرجان او نوروز یا نیروز دی - نوروز معنی نوی ورځ دا د شمسی ایرانی کال اولنی ورځ ده چه دا د یوویشتم مارچ سره برابروی او دا د فارس والا د پاره ډیرلوی قومی اختردی .

او د مسلمانانو د پاره دوه د خوشحالی ورځی دی او دوه اخترونه دی چه هغه ته عید الفطر وړوکی اختر او عید الا ضحی یا لوی اختر ویل شی او دا دوه اخترونه د دوه عبادتونو په تتمه او انعام کښ کولی شی وړوکی اختر د روژو په په اخیر کښ کولی شی او لوی اختر د حج د اداء کولو په اخیر کښ اود یادګار ابراهیمی په وجه کول شی پدی وجه په دی کښ د غیرو دینو په شان ټنګ ټکور ګډاډمچوری اوجواری اسراف بی پرده ګی نه شته-

## په اسلام کښ نور اخترونه جشنونه عرسونه میلی وغیره نشته .

په اسلام کښ د دی دوه ورځونه علاوه نور اخترونه یا خوشحالی او جشن مناؤکول نشته که هغه د چوده اګست په نوم دی او که د جشن ازادی په نوم وی او که د نورز په نوم وی او که د عید میلادالنبی په نوم وی یا لکه د معراج شپه یا پنځلسم د شعبان یا په بل نوم وی او دغه جشنونو کښ شرکت کول حرام دی ځکه دا مشابهت دی د کافرانو سره او موالات دی دکافرانو سره خکه الله تعالی د مومنانو په صفت کښ وای والذین لایشهدون الزور (فرقان ص ۷۲)

او مومنان هغه کسان دی چه نه حاضریږی اخترونو د مشرکانو ته

**فائده** د زورپه تفسیرکښ د ابن عباس مجاهد ضحاک د ربیع بن انس قول دا دی چه د دینه مراد اخترونه د مشرکانو دی –او بعض وای چه د کفارو مشرکانو بدعتیانو اخترونه عرسونو میلی وغیره دی (وګوری معارف ص ۵۰۷ ج ۶ ابن کثیر ص ۳۲۹ ج۳ اقتضاء صراط مستقیم ص۱۸۱ احسن الکلام ص ۳۰۸ ج۳ بحواله فتح الرحمان لمولانا عبدالجبار ص ۵۹۷ ) او الله تعالی وایی ثم جعلناک علی شریعة من الامر فاتبعها ولا تتبع اهواء الذین لایعلمون (جاثیه ص ۱۸) بیا ګرځولی دی مونږ تاله په واضحه لاره د دین نو تابعداری کوه د هغی او تابعداری مکوه د خواهشاتو د هغه کسانو چه نه پوهیږی –

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وایی لیس منا من عمل بسنة غیرنا (اخرجه الطبرانی وغیره وحسنه الالبانی بحواله کتب الشیخ محمد منجد ص۶۹ ) نه دی زمونږ نه هغه څوک چه عمل کوی په طریقو د غیر دینو او رسول الله صلی الله علیه وسلم وایی ان لکل قوم عیدا و هذا عیدنا (رواه مسلم ) یقینا د هرقوم دپاره اختروی او دا زمونږ اختر دی - شیخ محمد صالح المنجد په خپل کتابونو کښ لیکلی چه دا حدیث دلیل دی د مسلمانانو دپاره صرف دا دوه اخترونه دی نور اخترونه ور له نشته او مسلمانان له حلال نه دی چه د کفارو او مشرکینو سره په اخترونو کښ مشابهت وکړی څکه په حدیث کښ راځی انس رضی الله عنه وایی چه کله نبی صلی الله علیه وسلم مدینی طیبی ته راغلی نو د مدینی والا د پاره دوه ورځی وی چه په هغه کښ یی لوبی کولی نبی صلی الله علیه وسلم ورته وویل ما هذان الیومان دا څه ورځی دی . هغوی اوویل کنا نلعب فیهما فی الجاهلیة . مونږ به په دی ورځو کښ په جاهلیت کښ لوبی کولی. یعنی د جاهلیت په زمانه کښ د اسلام د راتلو نه مخکښ.رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اوویل ان الله قد ابدلکم بهما خیرا منهما یوم الاضحی و یوم الفطر. (سنن ابی داؤد ص ۱۱۳۴ و راوه احمد والنسائی و الحاکم)

یقینا الله تعالی تاسو لره په بدل کښ ددینه غوره ورځی درکړی چه هغه د وړکښ اختر او لوئی اختر ورځی دی.

**فائده :-** په دی حدیث کښ رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه تاسو لره الله تعالی په بدل کښ غوره ورځی درکړی.او بدل ورکول د یو شی نه تقاضی کوی د پریښودلو د مبدل منه ځکه د بدل او مبدل منه په مینځ کښ جمع نه کیږی. په دی وجه مسلمانانو له دا جائز نه دی چه هغه د کفارو او مسلمانانو د اخترونو په مینځ کښ جمع و<u>لے</u> اوکړی یعنی چه دواړه کوی - او په مرعاة کښ د مرقاة نه نقل کړی چه باء داخلیږی په متروک. نو د <u>بهما</u> مقصد دا دے چه دا دواړه به پریږدی. او د دی حدیث پوره وضاحت مرعاة نقل کړی وو. کوم مسلمان چه د کفارو طریقه هم کوی د دی مثال د رنړی ښځی دے چه د خپل خاوند سره هم تعلق ساتی او د بل چا سره هم تعلق ساتی.

صحابه کرامو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پیدائش خوشحالی او اختر نه دے مناؤ کړی. او دغه رنګی د بدر،یرموک او قادسیه په فتح کښ اختر نه دے مناؤ کړی.د ابوبکر عمر عثمان علی رضی الله عنهم په خلابت ئی اختر نه دے کړی. <u>ولو کان خیرا لسبقونا الیه</u> دغه رنګی په اسلام کښ د خفګان او ماتم ورځی هم نشته. ځکه لوی لوی صحابه کرام شهیدان شوی خو چا په ماتم نه دے کړی.

او په بل حدیث کښ راځی رسول الله صلی الله علیه وسلم وای <u>لیس منا من تشبه بغیرنا</u> (السلسلة الصحیحه۲۱۹۴ و رواه الترمذی) نه دی زمونږ نه هغه څوک چه مشابهت کوی د غیر دینو سره. عمر رضی الله تعالی عنه یو ځل په ممبر بیان کولو او ویویل چه <u>عیدنا اهل الاسلام عیدان</u> ( رواه احمد فی مسنده و البخاری فی الکنی والحاکم فی مستدرکه و قال الحاکم صحیح الاسناد و فی روایت اخری لمالک فی المؤطأ والشافعی فی مسنده) زمونږ د مسلمانانو دوه اخترونه دی. البته د مسلمانانو د پاره یو بل هفته وار اختر هم شته چه هغه د جمعی ورځ ده.ځکه په حدیث کښ د جمعی ورځی ته هم د اختر ورځ ویلی شوی. او په بل حدیث کښ د عرفے ورځی ته او د ایام التشریق ورځو ته هم د اختر ورځ ویلی شوی.(راواه ابو داؤد والترمذی و قال صحیح)

## د نوروز او مهرجان بنیاد

بهر حال دا بیان وشو چه د هر قوم او مذهب د پاره د اخترونو او د خوشحالی ورځی وی او دا بیان وشو چه په مدینه طیبه کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راتلو نه مخکښې دوه جشنونه اخترونه او د خوشحالی ورځی وی یو مهرجان او دویم نوروز.

د نوروز اول بنیاد جمشید بادشاه ایښی وو. چه د هغه په زمانه کښې هود علیه السلام رالیږلی شوی وو. په دغه زمانه کښې دین بدل شوی وو. چه کله جمشید بادشاه شو نو هغه دین تازه کړو او انصاف ئی ښکاره کړو په دی وجه چه په کومه ورځ دا په تخت د بادشاهی کیناست نو دغی ورځی له ئی نیروز ( یا نوروز) نوم کیښود. یعنی نوی ورځ.

او د مهرجان بنیاد افریدون بادشاه ایښی وو کله چه دا په ضحاک علوانی بادشاه غالبه شو. ضحاک ډیر ظالم او چلولی او دوکه بازوو نو په کومه ورځ چه افریدون بادشاه په ضحاک بادشاه غالبه شو نو دغه ورځی لره مهرجان نوم کیښوده. مهر وفاداری ته وای او جان بادشاه ته وای. یعنی سلطان الوفاء بادشاه د وفاداری.

(الایضاح والتبیین لما وقع فیه الاکثرون من مشابهة المشرکین.ص ۵۵)

په فارسی کښې مضاف الیه په مضاف مخکښې کیږی. ( عبدالواسع دا ډیر بهترین کتاب دے د فارسی ښائسته قاعدی ئے بیان کړی.) لکه مهر مضاف الیه دے دا مخکښې شو او جان مضاف دے دا وورستو شو. دغه رنګی په فارسی کښې صفت په موصوف مخکښې کیږی. لکه نو نوی ته وای.او روز ورځی ته وای. نو معنی ئی ده <u>الیوم الجدید</u>. نوی ورز. نو نو صفت دے دا مخکښې شو او روز موصوف دے ورستو شو. بحر حال اسلام دغه ورځی ختمی کړی دی. په دی وجه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راتلو نه روستو دغه ورځی نه دی مناؤ شوی. او د دغه ورځو په ځائې وړوکی اختر او لوئی اختر مقرر شه. لکه نن د لوئی اختر ورځ ده.

## د لوئی اختر ورځ او په دی ورځ دوه عملونه

د لوئی اختر ورځ په اسلام کښې ډیر فضیلت او اهمیت لری. لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای اعظم الایام عند الله یوم النحر ثم یوم القرّ.( صحیح ابن خزیمه قال الاعظمی اسناده صحیح) د الله تعالی په نیز په ټولو ورځو کښې لویه ورځ د لوی اختر ده بیا دویمه ورځ د لوی اختر ده. او په دی ورځ دوه عملونه دی. یو مونځ دویم قربانی. لکه الله تعالی وای فصلّ لربک وانحر.

اول مونړ د قربانی بیان کوو - دقربانی د پاره قرآن کریم دوه لفظونه ذکر کړی. یو نسک لکه په دی آیت کښې چه انّ صلوتی و نسکی و محیای و مماتی لله رب العالمین. ( انعام ص ۱۶۲ )

اوو‌ایه یقینا مونځ ځما او قربانی ځما او ژوند ځما او مرګ ځما الله تعالی لره دی چه پالونکی د مخلوقاتو دے د آیت مطلب دا دے چه ځما ټول افعال او احوال صرف د یو الله تعالی د پاره دی. نه د غیرالله د پاره. څه رنګی چه تاسو د الله تعالی سره شریک کوی. (زاد المسیر)

دویم لفظ نحر دے لکه الله تعالی وای. فصل لربک وانحر په فصل کښې یو تفسیر دا دے قتاده رحمه الله تعالی وای.چه د مانځه نه مراد د لوی اختر مونځ دے. او وانحر کښې د جمهور تفسیر دا دےچه د دی نه مراد د لوی اختر په ورځ ذبح (قربانی) ده.(ذاد المسیر)

او په حدیثو کښې د اضحیه اواضاحی لفظ راغلی دی. او قرآن کریم د ا بیان کړی چه قربانی په اخلاص سره کوی. لکه په مخکښې آیت کښې لله لفظ ذکر شوی چه خا لص د الله تعالی د پاره او بل ځائی وای چه لن ینال لله لحومها و لا دماءها ولکن یناله التقوی منکم (سورة حج ۳۷)

هیچری نه رسیږی الله تعالی ته غوښې د دی او وینی ددی لکن رسیږی الله تعالی ته پرهیزګاری (اخلاص ستاسو نه ) او دا د ابراهیم علیه السلام د قربانی یاد تازه کول دی . او دی امت ته د قربانی حکم په دویم کال د هجرت د ذوالحجې په میاشت کش شوی وو.او بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه طیبه کښې لس کاله پاتی شوی وو. او هر کال یئ قربانی کوله. لکه عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه وای قام رسول الله صلی الله علیه وسلم باالمدینة عشر سنین یضحی .

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای من وجد سعة فلم یضح فلا یقربنّ مصلانا. د چا چه وس کیږی او قربانی ونکړی نو ځمونږ عید گاه ته دی نه نذدی کیږی.

## د قربانی مقصد

قربانی صرف څاروی ذبح کول نه دی بلکه ځان قربانی ته وړاندی کول دی او خپل محبوب (خوږ) څیزد الله تعالی په نوم قربانی کول که دا خوږ څیز نفسانی خواهشات وی او که مال یا اولاد وی او که څاروی یا رسم رواج وی او که د خپلوانو دوستانو راضی کول وی.دا ټول قربانی کول یعنی هر شی چه د الله تعالی د حکم سره ټکراو وی هغه قربانی کول. لکه د ابراهیم علیه السلام قربانیانی چه هغه خپل ژوند په قسما قسم قربانو کښ ختم کړیو.لکه(۱) د بادشاه مقابله په ټوله دنیا څلورو کسانو حکومت کړیو. دوه مؤمنان وو ذوالقرنین او سلیمان علیه السلام او دوه کافران وو نمرود او بخت نصر.نمرود ۴۰۰ کاله حکومت کړیوو (البدایه و النهایه ص ۱۷۱ ج ۱ ) (۲) د پلار مقابله (۳) د قوم مقابله(۴) اور ته دانګل(۵) هجرت کول (۶)بال بچ په خوشی میدان کښ پریښودل (۷) خپل ځوی د الله تعالی د پاره قربانی کول –

## د ابراهیم علیه الصلوة و السلام مختصر واقعه

د بعض مورخینو د دوینا مطابق ابراهیم علیه الصلاة والسلام په اُر علاقه د عراق کښ پیداشویو ابن کثیر رحمة الله وایی والصحیح انه ولد ببابل صحیح داده چه داپه بابل ښار کښ پیداشو یو (البدایه والنهایه ص ۱۶۱ ج ۱ ) کله چه د نمرود د اورنه راووتلو نو حری (حران )ته لاړ هلته دده تره هاران رئیس وو هغه ورله خپله لور ساره رضی الله عنهما ورکړه چه ابراهیم علیه الصلوة والسلام د اسلام نه واپس شی نو ساره مسلمانه شوه پدی شرط چه ابراهیم علیه السلام به د دی خبره منی نو هاران دوی د خپل کورنه بی عزته بهر کړل د دغه ځای نه مصرته راغلل هلته بدفعله بادشاه وو چه هغه به د حسینو زناوو خاوندان وژل - نو ابراهیم علیه السلام الصلوة والسلام توریه وکړه چه دا ځما خور ده (یعنی دینی خور می ده) نو هغه ظالم ساره بی بی بوتله او ابراهیم علیه الصلوة والسلام په مانځه ودریده سوال یی کولو چه الله د دی ظالم د شر نه مونږ بچ وساتی او د ابراهیم علیه الصلوة والسلام د ساری رضی الله عنها سره ډیره مینه وه ځکه دینداره وه او د تره لور یی وه ډیر

حسینه وه هغه ظالم به چه دیته لاس نږدی کولو نو څه غوټه به پې راتله خلقو ته یې اویل وی باسی تاسو خو ماته پیری راوستی او هاجره بی بی یې د خدمت لپاره ورکړه او رخصت یې کړه -

ابراهیم علیه الصلوة والسلام ډیر خوشحاله شو په مصر کښ ابراهیم علیه السلام څه دعوت ندی چلولی دمصرنه ابراهیم علیه الصلوة والسلام شام ته روان شو هلته یې دعوت شروع کړو او هلته یې دعوت اثروکړو او مال هم جمع شو څاروی مریان مالونه جمع شو ساره بی بی شنډه وه اولاد یې نه کیده نو ابراهیم علیه الصلوة والسلام ته یې هاجره بی بی اوښله هغه ورسره کوروالی وکړو نو اسماعیل علیه السلام ترینه پیدا شو د ابراهیم علیه الصلوة والسلام عمر په دغه وخت کښ شپږ اتیا کاله وو او بعض یو کم سل کاله وای اسماعیل علیه السلام د اسحاق علیه السلام نه دیارلس کاله مخکښ وو . سارا بی بی له غیرت ورغلی ویویل چه دهاجری بی بی مخ زما نه پنا کړه او دا دواړه په خوشی میدان کښ پریکده . نو د الله تعالی په حکم یې دواړه راوستل او د بیت الله خوا ته یې پریښودل بیت الله صرف میدان وو آبادی نه وه ابراهیم علیه الصلوة والسلام دویته څه کجوری او اوبه پریښودی او بیا ترینه روان شو د اسیماعیل علیه السلام مور پسی روانه شوه او ورته وایی <u>یا ابراهیم این تذهب و ترکنا فی هذا الوادی الذی لیس فیه انیس ولاشئ</u> ای ابراهیمه ته چرته ځی او مونږ پدی میدان کښ پریږدی چه نه پکښ څوک مینه کوونکښ (انسان ) شته او نه پکښ څه بل شی - بار بار یې داخبره کوله ابراهیم علیه الصلوة والسلام ورته مخ نه راړولو بیا ورته وایی ایا الله تعالی درته د دی خبری امر کړی ابراهیم علیه السلام اویل او نو هغی اویل <u>اذا لایضیعنا</u> ( بخاری ص ۴۷۴ ج ۱ ابن کثیر ص۱۷۶ ج۱ البدایه والنهایه ص )چه الله تعالی امر کړی نو مونږ به نه بربادوی داسی عجیبه یقین یې وو اوپه بعضی روایاتو کښ راځی چه جبریل علیه السلام ورته اویل چه ته څوک یې ویل زه هاجره ام ولده د ابراهیم علیه السلام یم - جبریل ویل <u>فالی من وکلکما</u> چاته یې سپارلی وی هغی ویل <u>الی الله</u> الله تعالی ته نو جبریل اویل چه <u>وکلکما الی کافٍ</u> (صلاح الامه مضمون علو المهه فی التوکل) داسی ذات ته یې سپارلی وی چه هغه پوره دی چه کله یې اوبه او کجوری ختمی شو نو د دی په سینو کښ شوده وچ شو نو دا د اوبو په تالاش کښ لاړه صفا ته او مروه ته به ختله او په مینځ کښ به یې منډه وهله چه بچه زروینی دغه منډه اوس د حاجیانو عبادت دی په اووم ځل یې په مروه څه اوازواوریده نو د زمزم اوبه ښکاره شوی داراغله په لپو یې ترینه مشک ډکولو او حوض یې ورته جوړ کړو او اوبو جوش وهلو (نبی صلی الله علیه وسلم) وایی چه الله تعالی دی د اسماعیل علیه

السلام په مور رحم وکړی که چری دی دا اوبه پرېښی وی نو دابه جاری چینه وی -

د جرهم قبیله راغله دلته د اوبو د وجی نه اباده شوه د هاجری بی بی نه یی اجازه اوغوښتو هغی ویل صحیح ده خو په اوبو کښې به ستاسو حق نه وی. اسماعل علیه السلام چه لوی شو نو د دوی نه ئے عربی یاده کړه او دد غه قبیلی د یوی جینی سره ئی نکاح وکړه. ډیره موده روستوابراهیم علیه السلام راغې د بی بی او د بچی حالت ئی معلومول . پدی کښې ډیره موده تیره شوی وه ځکه چه اسماعیل علیه السلام ئی په وړوکوالی کښې پرېښی وو چه تے ئی رودولو او چه دوباره ابراهیم علیه السلام ئی خواه ته راغلے نو واده ئی کړے وو. د اسماعیل علیه السلام والده وفات شوی وه.( لکه موسی علیه السلام چه مدین ته کله واپس شو او بی بی ئی وفات شوی وه.) او اسماعیل علیه السلام د کور نه وتلے وو. د هغه د بی بی نه ئی د حال تپوس وکړو نو هغی د خپل حال تکلیف بیان کړو چه سخت ژوند دے . ابراهیم علیه السلام ورته اویل (انبیاء داسی کلک خلق وی چه ایسارنه شو) که خاوند دی راغلے نو زما سلام ورته وایه او دا ورته اووایه چه د خپل کور درشل دی بدل کړه. اسماعیل علیه السلام چه کور ته راغلے څه آثار ئے اولیدل ( ځکه نیکان خلق آثار او برکتونه لری) ویل څوک خو نه وو راغلی. بی بی ئی ورته قصه وکړه. نو اسماعیل علیه السلام اویل چه دغه زما پلاروو او ستا د جدائی امر ئی راته کړی دے۔ نو خپل کور ته لاړه شه. ( یعنی طلاقه ئی کړه) اسما عیل علیه السلام د دویمی جینی سره نکاح وکړه. بیا په دویم ځل څه موده روستو ابراهیم علیه السلام راغلے اسماعیل علیه السلام بیا هم کور نه وو د بی بی نه ئی د حال تپوس وکړو. هغی د خپل حالت صفت وکړو چه الحمد لله ډیرښه حال دے. ابراهیم علیه السلام ویل څه خوری.ویل غوښه . ویل څه څکی ویل اوبه . ابراهیم علیه السلام ورته د برکت دعا وکړه چه اللهم بارک لهم فی اللحم والماء الله په غوښه او اوبو کښې ورله برکت اوغورزوی. رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه په دغه وخت کښې دانی نه وی. که دانی وے نو په هغی کښې به ئے ورله هم دبرکت دعا کړیوی.

ابراهیم علیه السلام اویل چه خاوند ته دِ زما سلام وایه او ورته او وایه چه د کور درشل دِ ښه ده.اسماعیل علیه السلام چه راغلی تپوس ئی وکړو هغی ورته قصه وکړه.

په دریم ځل چه ابراهیم علیه السلام راغلی نو اسماعیل علیه السلام لا نه وو وتلے د زمزم خوا ته ناست وو غشی ئی جوړول چه په ابراهیم علیه السلام سترګې ئے ولګیدی ورته راپورته شو د مینی محبت سترې مشی ئی وکړل. په دغه وخت کښې په شام کښې د ساره بی بی ځوی اسحق علیه السلام

شوی وو. هغی ابراهیم علیه السلام ته پاتی کیدو اذن کړی وو نو د اسماعیل علیه السلام سره ئی مشوره وکړه. اه د الله تعالی په حکم ئی د بیت الله تعمیر شروع کړو.

فائده. د ذبحی واقعه هم په دی دوران کښ شوی وه . او ابراهیم علیه السلام به په براق سحر مکی معظمی ته راته بطور معجزه. بیا به واپس کیده شام ته. (رواه ابو جحیم بروایة حسنة فتح الباری ) او ابن کثیر په البدایه والنهایه کښ دویم قول هم ذکرکړی. چه زمکه به ورته رانغښتلی شوه.

دا واقعه مونږ د شاه پور شیخ د نثر المرجان نه نقل کړه. ص ۲۸۰ او ځائی په ځائی پکښ مونږ د ابن کثیر د البدایه و النهایه نه زیادت وکړو.

## اصل قربانی

مخکښ دا بیان وشو چه قربانی صرف ځاروی ذبح کول نه دی بلکښ خپل ځان قربانی ته وړاندی کول دی لکه اسماعیل علیه السلام په یوم النحر د لوی اختر ورځ ځان قربانی ته وړاندی کړو او ابراهیم علیه السلام د هغه قربانی کولو ته تیار شو دغه رنګی ساحرانو د اختر په ورځ قربانی ته ځان وړاندی کړیو لکه الله تعالی وای قال موعدکم یوم الزینة اویل موسی علیه السلام وخت د وعدی ستاسو ورځ د ښائست یعنی(ورځ د اختر) ده په دغه ورځ به فرعونیانو اختر کولو او د یونان مخکنو خلقو به هم په دغه ورځ اختر کولو (کتب الشیخ محمد منجد ص ۶۸ )

نو اصل قربانی داده چه د اختر په ورځ سړی ځان پدایی حملی ته تیارکړی یا شهادت ته یا دږرون او

جتې بمبارته - دویمه طریقه داصلی قربانی داده چه د اختر په ورځ د الله تعالی دشمنان ذبح کړی

خلق سیرلی ،ګډان او غویان قربانی کوی او ته دالله تعالی دشمنان ذبح کړی

## دخالد القسری قربانی.

لکه څرنګه چه خالد بن عبدالله القسری رحمه الله د اختر په ورځ جعد بن درهم ذبح کړیو

---

جعد بن درهم به دالله تعالی داسماء اوصفاتو نه انکارکولو او جعد دا بدعی عقیده د بیان بن سمعان نه اخستی وه او بیان د طالوت نه اخستی وه او طالوت د لبیدبن اعصم نه اخستی وه هغه

یهودی چه په نبی صلی علیه وسلم یی جادو کړیو او لبید بن اعصم دا عقیده په یمن کښ د یو یهودی نه اخستی وه -
او بیا د جعدبن درهم نه جهم بن صفوان دا عقیده اخستی وه (جهم بن صفوان د جعد بن درهم شاګرد وو) جهم بن صفوان د اصفهان یا د مروے د والی په لاس قتل شو یو د هغه نوم وو سلم بن احوز رحمه الله و جزاه عن المسلمین خیرا او د جهم بن صفوان نه دا عقیده بشرمریسی ازده کړیوه اود بشر مریسی نه احمد بن ابی داود –
جعد بن درهم په دمشق کښ اوسیدلو او دا خبره یی کوله چه قران مخلوق دے نو بنو امیه ووته مطلوب شو نو د هغوی نه وتښتیده او په کوفه کښ به اوسیدلو بیا خالد القسری په کوفه کښ د لوی اختر په ورځ ذبح کړو کړو-
په بیان کښ خلقوته اوویل <u>ایهاالناس ضحوا یقبل الله ضحایاکم فانی مضح با الجعد بن درهم</u> ای خلقو قربانی وکړی الله تعالی د ستاسو قربانی قبوله کړی ځه په جعد بن درهم قربانی کوم بیا راکوز شو او د منبرو یخ ته یی ذبح کړوکړو - (البدایه والنهایه لابن کثیرص ۳۸۲ ج ۹ فی ترجمة جعدبن درهم ).
خالد بن عبدالله د هشام بن عبدالملک بادشاه د طرف نه د عراق حاکم (والی ) وو او جعد بن درهم به ویل چه الله تعالی د موسی علیه السلام سره خبری ندی کړی اوابراهیم علیه السلام یی دوست ندی نیولی او دابه یی ویل چه ځما زړه داغواړی چه د قران کریم یو ایات دی چه هغه ځه په خپلو وینو وران کړم او هغه دا ایات دی چه <u>وکلم الله موسی تکلیما</u> کله چه خالد القسری رحمه الله ذبح کولو نو قبلی ته یی ورله مخ کړو او په سینه یی دوه کسان کښناستل خالد القسری رحمه الله پسی چاړه راوخستله او بسم الله یی پی وکړه او ذبح یی کړو او دده ذبح کولو سره دغه بدعی عقیده او فتنه قلارشوه لکن روستو بیا دمامون عباسی په دوره کښ بیا را پیداشوه ،
ابن قیم رحمه الله د خالد القسری په مدح کښ وای

ولاجل ذا ضحی بجعدخالد القسری یوم ذبائح القربان

ددی وجی نه قربانی کړیوه په جعد خالد القسری رح په ورځ د ذبح کولو د قربانو

اذ قال ابراهیم لیس خلیله کلا ولا موسی الکلیم الدانی

چه جعد او یل ابراهیم علیه السلام د الله تعالی دوست نه دی او د موسی علیه السلام سره الله تعالی خبری نه دی کړی او نه یی نزدی کړی

شکر الضحیة کل صاحب سنة لله درک من اخی قربان

تمام اهل سنت د دی قربانی شکریه اداء کړه خاص د الله تعالی دپاره دِ خیرستاوی ای خاونده د دی قربانی (دروس الشیخ عائض القرني ص ۲۰ ج ۳ ص ۱۹ ج ۰۶

---

او د دی واقعی نه داهم معلومه شوه چه دده وشمن ذبح کول صحیح دی ځکه چه ټول اهل السنت د خالد القسری شکریه اداء کړی کچری دا ذبح صحیح نه وی نو هغوی به یی شکریه نه اداء کولی

## د عضد الدولة قربانی :

عضد الدوله بادشاه د لوی اخترپه ورځ د کفارو دری بادشاهان ذبح کړی وو(ضحایاالحب ص ۲۱ للشیخ عائض القرني

نو اصلی قربانی داده چه د ګډانو او څاروو په ځای د الله تعالی دشمنان ذبح کړی شی – نو دوه خبری شوی ځان قربانی کول او د الله تعالی دشمن ذبح کول لکه الله تعالی وای چه يقتلون ويقتلون

**زمونږه کمی** - نن صبا د دنیا دپاره بهادری او قربانی شته لکن د دین دپاره نشته په پوله پټی په ګاړی او ابادی ننګ او غیرت کولی شی کله وای چه ټول خاندان به می ختم شی لکن یوه لویشت ځمکه به رانه وانخلی او دالله تعالی په دین غیرت نشته حالانکه د الله تعالی دین انتهایی مظلوم دی د مسلمانانو رعب او عزت نشته مال او جان یی محفوظ نه دی د دنیا په ګوټ ګوټ کښ په مسلمانانو ظلمونه کیږی د مسلمانانو غزتونه لوټ کیږی زنانه او ماشومان شهیدان کیږی د مسلمانانو قتل عام کیږی د الله تعالی په دین ننګ او غیرت پکار دی خرنګی چه زمونږ د اسلام مشرانو د الله تعالی په دین ننګ او غیرت کړیو.

**واقعه:** خالد رضی الله عنه یو قبیلی ته ورغلی چه د هغوی مشر مالک بن نویره وو او ډیر بهادر وو خالد رضی الله عنه ویل زکوة ورکړه ،هغه او ویل ایا هغه زکوة چه ستاسو ملګری یی غواړی یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم خالد رضی الله عنه اوویل سبحان الله ایا هغه ستاسو ملګری نه دی ای د الله تعالی دشمنه او ویویل چه والله لاذبحنک ځما دی په الله تعالی قسم وی چه ذبح کوم به دی بیا یی مالک بن نویره مړکړو پدی وجه یی مړکړچه د هغه نه یی یوه داسی خبره واوریده چه برداشت یی نشوکولی

**دویمه واقعه :** یو خلیفه وو د هغه وزیرو و د قاسم بن عبیدالله په نوم یو ځل هغه وزیر اوویل چه انسان رو رو ترقی کوی او مرتبو ته رسیږی لکه رسول الله صلی علیه وسلم اول شپونکی وو بیا د خدیجی رضی الله عنها سره تاجر وو بیا یی ترقی وکړه تردی چه پیغمبر شو بادشاه پسی راپاڅید قبلی ته یی ورله مخ کړو او ذبح یی کړو دغه رنګی د طارق بن ذیاد او صلاح الدین وغیره قربانی وګوره (دروس الشیخ عائض القرنی ص ۲۰ ج ۳ )

## د لوی اختر درسونه او حکمتونه :

پدی ورځ کښ د عمر په ختمیدو سوچ پکاردی چه په تیرشوی کال ډیر خلق وو وس نشته نو دغه رنګی درا روان کال به څه ژوندی یم او یا مر–دا میاشت د اسلامی کال اخری میاشت ده نو یوکال رخصتیږی او مخی ته بل نوی کال را روان دی ابن قیم رحمه الله وای چه د کال مثال د ونی دی او میاشتی د دی څانګی دی او ورځی ددی پاڼږی دی او ساګانی ددی میوی دی دچا ساګانی(سیکنډونه ) چه د الله تعالی په تابعداری کښ تیریږی نودده میوه ښه ده (بدا ئع الفوائد بحواله دروس الشیخ سلمان العوده ص ۱۰ ج ۱۲۷ ) نو پکار داده چه مونږ خپل عمر د الله تعالی په تابعداری کښ ختم کړو ځکه دا اخترونه موسمونه وغیره به څه مده وی مونږبه نه یو لکه حافظ الپوری رحمه الله وای

په مکتب (مدرسه ) کښ به د علم بحث کیږی
طالبان به نکته دان وی مونږ به یـــو
عالمان به نصیحت بیان د دین کـــــــا
مستفید به حاضران وی مونږ به نه یو
بیت الله ته به حاجیان په همت دروميــ
د رحمت به یی باران وی مونږ به نه یو
په طواف کښ تلبیه مسح به کیږی
په موقف به دعا خوان وی مونږ به نه یو
مرنی به په غـــــــــزا ځی مـــلاترلی
لوی همت لوی بی توان وی مونږ به نه یو
پیل دمان شیرژیان به یی لړزیږی
پهلوان هاتی تکړه زمری
هسی جنګ به د غازیان وی مونږ به نه یو
ګناهونه به سیزی د روژه دارو
ښه به میاشت د رمضان وی مونږ به نه یو
دست بوسی مبارکی به عالم کاندی
په اخترو به شادان وی مونږ به نه یو
په لوستن به یی زنګ زړونه صیقل کیږی
خوانندہ به د قران وی مونږ به نه یو

**دويم درس او حکمت :** د دی ددی عيدګاه د پيشی او راتوليدو نه د قيامت هغه لويه پيشی او راتوليدل رایاد کړی

يومئذ تعرضون لا تخفى منكم خافيه په دغه ورځ پيش به کړی شی تاسو نه به پټيږی ستاسو نه هيڅ پټيدونکی –پدی وجه ورته يوم الجمع او يوم مجموع او يوم التلاق او يوم مشهود وغيره وای

**دريم درس او حکمت**: دی يوځای ته په راټوليدو کښ د وحدت او اتفاق مظاهره ده

## د قرباني درسونو فائدی او حکمتونه :

(۱) قرباني د ابراهيم عليه السلام سنت او يادګار دی
(۲)د اسماعيل عليه السلام په بچ کيدو خوشحالی ده
(۳)او دا درس دی پکښ چه د نيکانو نوم نشان او تاريخ الله تعالی ژوندی ساتی
(۴)د الله تعالی د نعمتونو شکريه ده
(۵) د الله تعالی بنده ګی ده او الله تعالی ته نذديکت دی
(۶) د ګناهونو کفاره ده
(۷)په خپل کور او غريبانو فراخی راوستل دی
(۸)د اتفاق او خيرات تربيت دی

## په اخترکښ غلطی او ګناهونه:

(۱)د اختر په شپه اورونه بلول ځکه دا د مجوسو طريقه ده چه هغه په خپل اخترونو کښ او په نورووختونو کښ اورونه بلوی
(۲)اسراف کول په جامو وغيره کښ ،بعضی ډزی کوی
(۳)ډمچوری او ګډاګانی کول
(۴)د جينکو چکری وهل ګرځيدل نارينه او زنانه ګډوډکيدل
(۵)د مبارکی په نوم د غير محرمو خواته ورتلل او د هغوی سره مصافحه کول او هلته کښناستل
(۶) د مانځه او د الله تعالی د ذکرنه غفلت کول
(۷)د چا که چه نوی مړی شوی د هغه کورته راجمع کيدل هلته ژړل او يا غم تازه کول

(۸)قبرونه ته تلل خوصوصاً د زنانو تلل

## د مانځه طریقه :

د اختر مونځ د عامو مونځونو پشان مونځ دی صرف شپږ تکبیرونه پکښ زیات دی دری په اول رکعت کښ او دری په دویم رکعت کښ په اول رکعت کښ اول دی یعنی د قرآت نه مخکښ او د سبحانک اللهم نه روستو الله اکبر به وایی او لاسونه به غوګونو ته اوچت کړی بیا بی زوړند ونیسی او دغسی دویم بیا دریم بیا به لاسونه د نوم د لاندی کیدی قرات به وشی او په روستو رکعت کښ روستو دی یعنی د قرات نه روستو د دریم تکبیر نه روستو به په څلورم تکبیر رکوع وکړی ،

## خطبه عيد الفطر :

ان الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ باالله من شرورانفسنا ومن سيئات اعمالنا من یہده الله فلامضل له ومن یضلل فلاهادی له واشهد ان لااله الاالله شهادة تکون اللنجاة وسیلةً ولرفع الدرجات کفیلةً و اشهد ان محمدا عبده ورسوله الذی بعثه وطرق الایمان قد عفت اثارها و خبت انوارها ووهنت ارکانها و جهل مکانها صلی الله علیه وعلی اله واصحابه اجمعین

امابعد : فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم قد افلح من تزکی وذکراسم ربه فصلی وقال النبی صلی الله علیه وسلم ان لکل قوم عیدا وهذا عیدنا –

بعض سلف داسی معنی کوی چه په تحقیق سره کامیاب دی هغه څوک چه سرسایه ورکړی او الله اکبر اوواېي (یا داچه په لاره تکبیرونه اوواېي ) او د اخترمونځ وکړی او نبی صلی الله علیه وسلم واېي چه د هرقوم دپاره اختروی او دا زمونږ اختر دی

عزتمندو نن د وړکی اخترورځ ده رمضان برکتی میاشت ختمه شوه او د شوال میاشت شروع شوه او دا میاشت په اشهرحج کښ اوله میاشت ده چه حاجیان پکښ د حج تیاری کوی او د حاجیانو قافلی پکښ د بیت الله شریف په طواف روانیږی – او دا میاشت په اسلامی میاشتو کښ (۱۰)لسمه میاشت ده

### د شوال د میاشتی تاریخی جنګونه او واقعات :

په دی میاشت کښ د بنو قینقاع غزا شوی وه په پنځلسم د شوال (۲)هجری د خیالی ورځ او پدی میاشت کښ د احد غزا شوی وه (۳)هجری او پدی میاشت کښ جنګ احزاب شویواو د اکثر علماء راېي داده چه دا غزا په (۵)ه کښ شوی وه بعضی څلورم کال واېي لکه امام بخاری هم دا قول غوره کړی د طائف محاصره او جنګ حنین هم پدی میاشت کښ شویو په (۸) ه کښ عمر فاروق رضی الله عنه په دور خلافت کښ د ایران خلاف مشهور جنګ جنګ قادسیه په شوال کښ شویو او پدی جنګ کښ د حضرت مغیره رضی الله عنه مشهوره مکالمه د رستم سره شوی وه د دی تفصیل زمونږ په اسلامی تاریخ دویمه حصه کښ اوګوره ابن اکثر رحمه الله په البدایه والنهایه کښ واېي چه داجنګ په (۱۴)ه کښ شویو په دی میاشت کښ بیت المقدس چه نن د یهودو په قبضه کښ دی د عمر

فاروق رضی الله عنه په زمانه خلافت کښ ازاد شویو ابن اکثیررحمه الله په البدایه والنهایه کښ وایی چه دا په (۱۵)ھ کښ ازاد شویو .

## یوم العید اووجه د تسمیي :

ننی ورځی ته یوم العید او عیدالفطرویلی شی دا بیان مخکښ په خطبه د عید الاضحی کښ تیرشویو چه دیته یوم العید ولی وای او دا بیان هم تیر شویو چه د مسلمانانو دپاره دوه د خوشحالی ورځی دی یعنی دوه اخترونه دی بلکښ دری یو وړکی اختربل لوی اختر بل د جمعی ورځ او په بل حدیث کښ د عرفی او د ایام التشریق ورځوته هم د اخترورځی ویلی شوی نو اخترونه پینځه شو دا بیان په خطبه د عید الاضحی کښ اوګوره –

اولنی اختر چه مسمانانو کړیو نو هغه د شوال په میاشت کښ په دویم کال د هجرت کښ دجنګ بدرنه روسته شویو - داد خوشحالی ورځ ده دا یوبل ته دمعافی ورځ ده داده چشم پوشی اودرګزر ورځ ده دا د مینی او محبت ورځ ده دا د رحمت او شفقت ورځ ده دا ده یو بل سره د مشوری ورځ ده او داده یو بل سره د ملاقاتونو ورځ ده دا ده خوراک څکاک او د الله تعالی د ذکر او شُکرورځ ده - او دیته یوم الجوائزوای یعنی د انعامونو ورځ او د اخترشپي ته لیلة الجائزه د انعام شپه ویلی شی – رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه کله د اخترسحر شی نو ملائک د کوڅو او لارو په سرونو کښ ودریږی او اوازونه کوی چه ای د محمد صلی الله علیه وسلم امته د هغه کریم رب طرف ته روان شی چه یعطی الجزیل ویعفوا عن العظیم چه ډیرزیات ورکونکی دی او لوی نه لوی قصور معاف کونکی دی بیا چه کله خلق د عیدګاه طرف ته اوځی نو الله تعالی د ملائکو نه تپوس کوی چه د هغه مزدور څه بدله ده چه خپل کار یی پوره کړی وی هغوی عرض وکړی چه زمونږ معبوده زمونږ مالکه د هغه بدله هم دغه ده چه هغه ته مذدوری پوره پوره ورکړی شی نو الله تعالی وایی چه ای ملائکو څه تاسو ګواه کوم چه مادویته د رمضان د روژو او تراویحو په بدله کښ خپله رضا او مغفرت ورکړو الله تعالی وای چه ای څما بنده ګانو زمانه اوغواړی څما دی په خپل عزت او جلال قسم وی نن ورځ پدی اجتماع کښ څما نه کوم سوال کوی درکوم به یی (فضا ئل اعمال لمولا نا زکریا فضائل رمضان ص ۷۵ )

او په بل حدیث کښ راځی چه کله د وړوکی اخترورځ شی نو الله تعالی په ملائکو د بنده ګانو په عبادت فخرکوی (ځکه هغوی په انسانانو اعتراض کړیو چه ایا داسی مخلوق پیداکوی چه هغو ی به

فسادکوی او وینی به تویه وی ) او د هغوی نه تپوس کوی چه د هغه مزدورځه بدله ده چه خپل خدمت پوره پوره وکړی هغوی عرض وکړ چه ای ربه د هغه بدله داده چه هغه ته مزدوری پوره ورکړی شی نو ارشاد وشی چه ای ملائکو څما غلامانو او وینځو څما فریضه پوره اداء کړه بیاپه چغو چغو دعاسره (د عیدګا طرفته) اووتل څما د قسم وی چه څه به د دوی دعا ضرور قبلوم بیا خلقو ته وایی ارجعوا قد غفرت لکم و بدلت سیئاتکم حسنات واپس شی ستاسو ګناهونه مِ معاف کړل او ستاسو بدی مِ په نیکو بدلی کړی پس دا خلق د عیدګاه نه په داسی حال کښ واپس کیږی چه د هغوی ګناهونه معاف شوی وی (رواه البیهقی فی شعب الایمان کذا فی مشکوة فضا ئل رمضان لمولانا زکریا ص ۵۴ )

## دواړه اختر دورځی درسونه او حکمتونه :

پدی ورځ د عمر په ختمیدو سوچ پکار دے چه په تیر شوی کال ډیر خلق وس نشته د هغوی ښځی کونډی شوی بچی یتیمان شو مال یی میراث شو نو دغه رنګی را روان کال له څما هم پته نه لګی چه څه به مړیم او که ژوندی او کیدی شی چه په ما دا اختر دوباره رانشی ،لکه د حافظه الپوری رح شعرونه په خطبه د عیدالاضحی کښ وکوره –

**دویم** درس عبرت او حکمت په کښ دادی چه ددی عیدګاه د راټولیدلونه ځان ته دقیا مت راټولیدل رایاد کړی لکه الله تعالی وای یوم یجمعکم لیوم الجمع او الله تعالی وایی یوم یقوم الناس لرب العلمین او ذالک یوم مجموع له الناس وذالک یوم مشهود –او - یومئذ تعرضون لاتخفی منکم خافیه او کما بدانا اول خلق نعیده –او یوم یفراالمرأمن اخیه

بیا به هلته حساب کتاب وی اعمال به تللی شی عملنامی به تقسمیږی د جهنم د پاسه به پل صراط لګولی شی .

**دریم** درس او حکمت پکښ دادی چه دی یوځای ته په راټولیدو کښ د وحدت او اتفاق مظاهره ده مونږ یو امت یو- په یووخت مونږ روژه ونیوله- په یووخت مونږاختروکړو یو ځای مانځه ته راجمع شو مالداره او غریب قوی او کمزوری .

## د رمضان نه روستو د مسلمانانو دوه حالات وی

یو دا چه د مسلمان سره ویره وی چه څما عمل به نه وی قبول شوی. په دی وجه هغه د قبولیت سوال کوی. لکه الله تعالی د مؤمنانو په صفت کښ وای. والذین یؤتون ما آتو ا و قلوبهم وجلة انهم الی ربهم راجعون. یعنی مومن د نیک عمل سره وریږی هم چه څما عمل به نه وی قبول شوی. ځکه الله تعالی د هر چا عمل نه قبلوی. الله تعالی صرف د متقیانو عمل قبلوی. لکه الله تعالی وای . انما یتقبل الله من المتقین. د دی وجهی علی رضی الله تعالی عنه وای. کونوا لقبول العمل اشد اهتماما منکم باالعمل (اخرجه ابو نعیم فی الحلیة ) د عمل کولو نه د عمل د قبلیدو ډیر زیات خیال ساتی.

یو ځل عمر بن عبدالعزیز رحمه الله تعالی د واړه اختر په ورځ بیان کولو. او ویویل چه ایها الناس انکم صمتم لله ثلاثین یوماو قمتم ثلا ثین لیلة.وخرجتم الیوم تطلبون من الله ان یتقبل منکم ( لطائف المعارف )

اے خلقو تاسو دیرش روژی ونیولی او دیرش شپې مو تراویح وکړی. او نن راوتلی وی د الله تعالی نه سوال کوی چه الله تعالی ئی درنه قبولی کړی.

دمسلمانانو دویم حالت دا وی چه د هغه د رمضان نه وروستو هم په خپل عمل او عبادت همیشوالی کوی. او خپل عبادت جاری ساتی. ځکه الله تعالی وای واعبد ربک حتی یأتیک الیقین. بندگی کوه د رب ستا تر دی چه راشی تا ته مرگ. حسن بصری رحمه الله تعالی وای. لا یکون لعمل المؤمن اجل دون الموت . ( اخرجه ابن المبارک فی الزهد)د مؤمن د عمل د پاره نیټه نشته سوا د مرگ نه .

رسول الله صلی الله علیه وسلم عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله تعالی عنه ته وای. چه یا عبدالله لا تکن مثل فلان کان یقوم اللیل فترک قیام اللیل (اخرجه البخاری و مسلم و النسائی) ای عبدالله د فلانی په شان مه کیږه چه یوه شپه مونځونه وکړی او بله شپه یی نه کوی – او عائشه رضی الله عنها وایی کان احب العمل الی رسول الله صلی علیه وسلم الذی یدوم علیه صاحبه(بخاری مسلم ابوداود)– غوره عمل رسول الله صلی علیه وسلم ته هغه وو چه همیشوالی کوی په هغه خاوند د هغه . مونږ او تاسو په دی میاشت کښ د جمع جمات پابندی وکړه د قرآن تلاوت د شپې مونځونه د غریبانو او گاونډیانو سره مرسته او صدقه مو وکړه نو پکار ده چه د رمضان نه روستو هم

مونږ د دی اعمالو پابندی وکړو. په دی میاشت کښ مونږ روژی ونیولی نو پکار ده چه د رمضان نه روستو هم د روژو خیال وساتو لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای من صام رمضان ثم اتبعه ستا من شوال کان کصیام الدهر (مسلم ) څوک چه د رمضان روژی ونیسی او بیا د شوال شپږ روژی ونیسی نو لکه دی چه ټول زمانه روژی نیولی وی ، دغه رنګی په هره میاشت کښ دری روژی د عاشوری روژه او د هغی سره یوه روژه مخکښ یا وروستو د ګل او پانجشنبی روژه د ذوالحجی په لسو کښ روژی نیول .

## د امت مسلمه حالات او مشکلات :

محترمو نن یو طرف ته د اختر او د خوشحالی ورځ ده بل طرف ته د مؤمن زړه درمند خفه او پریشانه وی ځکه امت مظلومه د ډیرو مشکلاتو سره مخامخ دی د مشرق نه تر مغرب پوری او د شمال نه تر جنوب پوری په ټوله دنیا کښ اسلامی حکومت او اسلامی نظام نشته ټول کفر د مسلمانانو خلاف یو شوی او د مسلمانانو په مینځ کښ وحدت او اتفاق نشته خپل رب او دین یی هیر کړی د کفارو یهودو او نصاری وو سره تعلق ساتی د خپل ملکونو نه یی د یهودو او نصاری وو ستیټ جوړ کړی اقتصاد معاش فوج او ټولی اداری د یهودو او نصاری وو د پالیسی تابع ګرځولی د خلقو عقلونه یی مسح کړی اخلاق یی ورله تباه کړل عقاید یی برباد کړل شرم او حیاء یی ختمه کړه جیلونه یی د هغه نارینو او زنانونه ډک کړی چه هغوی وایی چه زمونږ رب الله تعالی دی او داخبره کوی چه حاکمیت صرف د الله تعالی حق دی د مسلمانانو قتل عام یی کړو څوک یی معذوره او زخمیان کړل څوک یی قیدیان کړل چه په سزاګانو او ریمانډونو کښ وخت تیروی علماء یی د غلو او ډاکوانو په شان په بی ترسی شهیدان کړل جماتونه مدرسی او دینی مراکز یی ورنګول څوک یی په هجرتونو مجبوره کړل د مسلمانانو عزم حوصله او همت ختم شوی

زمسجد بشنود الله اکبر　　　　برین آواز ما افرنګ خندد

محترمو د دی ټولو مشکلاتو حل د الله تعالی د دین دپاره قربانی ورکول دی او داسی خلقو ته ضرورت دی چه د الله تعالی د دین دپاره قربانی ورکوی جهاد کوی د ذلت او د بی غیرتی ژوند نه خوښوی ،

اماما وعظها بسیارکردی　　　　اګر پرسی زمن این وقت تیغ است

او داسی خلقو ته ضرورت دی چه هغه د صبر برداشت او استقامت خاوندان وی او دیو بل سره مینه محبت کوی د غټ سوچ فکر والا وی غټ عزم او همت لری

د عمربن خطاب رضی الله عنه په نقش قدم روان وی دغه رنګی د خالد بن ولید (رض) او اسامه بن زید (رض) او د موسی بن نضیر رح او د طارق بن زیاد رح عزم لری.

طارق چو برکناره اندلس سفینه سوخت گفتند کارتو به نگاه خرد خطاست

دوریم از سواد وطن باز چون رسیم ترک سبب زروی شریعت کجا رواست

خندید دست برسر شمشیر بردگفت هر ملک ملک ماست که ملک خدا ہی ماست

دغه رنګی د محمدبن قاسم رح او د صلاح الدین ایوبی رح په شان قربانی ته ضروت دی

## وصیتونه :

محترمو د دی مشکلاتو حل دا دی چه مونږ قربانی ورکړو او د الله تعالی په دین کلکښ منګولی ولګوود الله تعالی د دین سره ټول مشکلات ختمیږی په ژوند کښ سکون او اطمنان راځی – د دی دپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم او اصحابه کرامو ژوند نمونه ده چه الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم په داسی قوم کښ راولیږلو چه هغه خالص امیان وو په علم او معاشره کښ ډیر روستو وو ډیر ذلیله بدبخته و وږی تږی وو بربنډ وو –هرکله چه دوی د الله تعالی په دین منګولی ولګولی نو الله تعالی د خلقو د ښتونو مالکان وګرځول او الله تعالی دوی په علم معاشره او اخلاقو کښ د خلقو مقتدا ګان وګرځول او الله تعالی دوی له حیاء او عزت نیک نامی او شهرت ورکړو او مونږ له پکار دی چه د الله تعالی د اوامرو او نواهیو خیال وساتو په ایمان او توحید کلک شو د کفر شرک او ارتدد نه ځان وساتو د رسول الله صلی الله علیه وسلم او خلفاء راشدینو په نقش قدم روان شو اود بدعاتو نه ځان وساتو په ځان کښ اخلاص پیداکړو د ریا کاری او منافقت نه ځان وساتو د مور او پلار خدمت وکړو د هغوی د نافرمانی نه ځان وساتو د خپلوانو سره صله رحمی وکړو د هغوی د قطع رحمی نه ځان وساتو عدل او انصاف وکړو یعنی هر حقدارته د هغه حق ورکړو د ظلم او زیاتی نه ځان وساتو د رښتیا ویلو او امانت او خیر خواهی خیال وساتو د دروغو خیانت او دوکی نه ځان وساتو – هرچاته دخیری کینی ،بغض ،حسد نه زړونه پاک کړو او مونږ له پکار دی چه د مینی ،محبت دوستی او الفت د اتفاق او وحدت مظاهره وکړو جنګ جګړی لانجی او اختلافات ختم کړو ،

## په اختر کښ غلطیانی او گناهونه :

او مونږ له پکار دی چه اختر د شریعت او سنت مطابق تیر کړو په اختر کښ د پیغمبر (ص) طریقه ابن قیم رحمه الله په ذادالمعاد کښ بیان کړی چه مونږ د هغه طریقو خیال وساتو په اختر کښ په عمومی طور څه غلطیانی او گناهونه کیږی چه د هغی نه مونږ ځان وساتو او د دغه غلطیانو بیان په خطبه د عید الاضحی کښ تیرشو یو هغه اوگوری .

## زنانوو ته وعظ او نصیحت :

د بیان په اخر کښ زنانووته یو څو نصحتونه کوم ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه داوه چه د اختر په مانځه کښ بی د نارینو نه روستو زنانووته نصحت کولو نو ای خویندو او میندو د الله تعالی نه ویریری تقوی او پرهیزګاری اختیار کړی د پردی ډیر خیال وساتی د خاوندانو حقونه اداء کړی د خپل اولاد صحیح تربیت وکړی د غیبتونو او بهتان نه ځان وساتی د ښیرو ازار او د خاوند د ناشکری نه ځان وساتی خیراتونه او صدق کوی ایمانونه مضبوط کړی رشتیا وینا کوی په ځان کښ صبر برداشت عاجزی او خاکساری پیداکړی د روژو او د الله تعالی د ذکر ډیره پابندی کوی د الله تعالی کتاب له وخت ورکړی نیکو ته رابلل کوی د ناروا نه منع کول کوی –

الله تعالی زمونږ د ایمان او اعمالو حفاظت وکړی او مونږ له د صحیح توبی او نیک اعمالو توفیق راکړی او الله تعالی زمونږ خاتمه په ایمان او په نیک عمل او په عقیده د توحید وګرځوی امین

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد واله واصحابه اجمعین

## د مانځه طریقه :

د مانځه طریقه په خطبه د عیدالاضحی کښ تیره شوی هلته یی اوګوری

## د جُمعی فضیلتونه او خصوصیتونه :-

الحمد لله ولی الصالحین ولاعدوان الاعلی الظالمین والصلوة والسلام علی امام المتقین وقدوة الناس اجمعین وعلی اله وصحبه والتابعین اما بعد فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم

یایهاالذین امنو اذا نودی للصلوة من یوم الجمعة فاسعوا الی ذکر الله و ذروا البیع ذالکم خیرلکم ان کنتم تعلمون

محترمو دا بیان د جمعی د مبارکښ ورځی په باره کښ دی د دی ورځی په باره کښ مونږ یو څو خبری کوو – **اوله خبره** وجه د تسمیي- جمعه د جمع نه ده په معنی د اجتماع جمعے ته جمعه ځکه وای چه پدیکښ خلق مانځه او خطبی ته راجمع کیږی بعضی وای جمعه ورته ځکه وای چه پدیکښ د ادم علیه السلام پیدائش راجمع شویو لکه حدیث کښ راځی رسول الله صلی الله علیه وسلم وای انما سمیت الجمعة لان ادم جمع فبه خلقه (تاریخ بغداد ص ۳۹۷ ج ۲ او په دی کښ روایت د ابن عباس رضی الله تعالی عنه او سلمان رضی الله تعالی عنه هم شته انظر التفصیل فی فضائل الجمعة للشیخ محمد ظاهر ص ۲۷) جمعی ته جمعه ځکه وای چه پدیکښ د ادم علیه السلام پیدایش راجمع شویو

بعض وای جمعه ورته ځکه وای چه درسول الله صلی الله علیه وسلم دراتلونه مخکښ مدینے طیبے ته انصارداسعد بن زراره رضی الله عنه سره راجمعه شویو

او د دے واقعه داوه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راتلو نه مخکښ او د جمعے د نزول نه مخکښ انصارراجمع شو او مشوره یی وکړه چه د یهودو او انصارو دپاره په هفته کښ د راجمع کیدو یوه ورځ شته نومونږ له هم پکاردی چه یوه ورځ مقرر کړو چه په هغی کښ راجمع کیږو الله تعالی یادوو مونځ کوو شکر اداء کوو او ویویل چه د خیالی ورځ د یهودو ده او د اتوارورځ د نصارو ده مونږ به یوم العروبه مقرر کړو دوی به د جمعی ورځی ته یوم العروبه ویله دوی دغه ورځی ته راجمع شو اسعدبن زراره رضی الله عنه ورله ګډ حلال کړو د دغه ګډ نه یی د غرمی او د ماښام ډوډی وکړه ځکه په دغه وخت کښ صحابه کرام کم وو روستو د دےپه باره کښ الله تعالی دا ایات راولیږو چه واذا نودی للصلوة الایة(المصنف لعبدالرزاق ص ۱۵۹ ج ۳ ص ۱۶۰)

**څلورم قول** :- دا دی چه جمعه ورته ځکه وای چه پدیکښ خیرراجمع کړی شوی (التعلیق الصبیح علی مشکوة المصابیح لمحمد ادریس الکاندهلوی ص ۱۲۹ ج ۲)

یوم المزید ورته هم وای ځکه پدیکښ د نیکی کارونه ډیریږی او ثوابونه پکښ زیاتیږی –

## دویمه خبره د جمعی د مانځه شرعی حیثیت :-

ټول امت پدی متفق دی چه د جمعی د مانځه تاکید او فرضیت ډیر زیات دی او دا لویه اجتماع د مسلمانانو ده او د کوم وخت نه چه الله تعالی دا مونځ مقرر کړی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات پوری پدی همیشوالی کړی او په امت کښ دا په تواتر سره نقل شوی دی اودا د اسلام ډیره لویه علامه او نښه ده او د دی فرضیت د قران کریم حدیث او اجماع د امت نه ثابت دی لکه الله تعالی وای
<u>یایهاالذین امنو اذا نودی للصلوة من یوم الجمعة فاسعو الی ذکر الله</u>

## دریمه خبره د جمعی د مانځه د فرضیت حکمت :-

د الله تعالی په هر حکم او هر کار ډیری فائدی او حکمتونه وی ځکه الله تعالی حکیم ذات دی د هغه یوکار او حکم د حکمت نه خالی نه دی نو د جمعی په مانځه کښ هم د الله تعالی حکمتونه دی پدی کښ یو حکمت دادی چه پدی کښ د وحدت اخوت اتفاق او اتحاد مظاهره ده ځکه پدی کښ د یو کلی یا د یو ښار خلق مانځه او د خطبی اوریدو ته یو ځای ته را جمع کیږی. ځکه زمونږ مقدس دین - دین اسلام خپلو پیروکارو او تابعدارو ته د وحدت اخوت او د اتفاق اتحاد او د مینی محبت او د دوستی او شناخت دعوت ورکوی او د دی دپاره یی مختلف اجتماعات مقرر کړی د مثال په طور د یو محلی خلق پنځه وخته یو جماعت ته راجمع کیږی دغه رنګی د یو ښاریا د یو غټ کلی خلق هفته وار د جمعی مانځه او د خطبی اوریدو ته راجمع کیږی – دغه رنګی مختلف خلق سالانه د واړه اختر یا د لوی اختر د مانخه دپاره عیدګاه ته راجمع کیږی - دغه رنګی د ټولی دنیا د مختلف ملکونو او طرفونو خلق د الله تعالی کور ته د حج د اداء کولو دپاره راجمع کیږی نو داپنځه اجتماع ګانی روزانه دی او یوه اجتماع هفته وار ده او دوه سالانه دی – او دایوه اجتماع د ټولی دنیا په سطحه سالانه ده او پدی ټولو کښ وحدت او د اتفاق مظاهره ده –

دویم حکمت دادی چه د دی ورځی ډیر فضیلتونه او خصوصیتونه دی او دا ډیره لویه ورځ ده نو د دی شکریه اداءکول پکاردی په ذکر او عبادت سره – نو دویم حکمت پکښ دالله شکراداءکول دی-
دریم حکمت پکښ وعظ نصیحت او بیان دی خلقو ته ،څلورم حکمت دا دی چه په دی ورځ انسان

یعنی آدم علیه السلام پیدا شوی او د انسان پیدائش د عبادت د پاره شوی نو ښه دا ده چه انسان په دی ورځ په عبادت مشغوله شی

پینځم حکمت دا دے چه دا لوی شعیره او علامه د دین اسلام خلقو ته ښکاره شی –

د دی حکمتونو د وجی نه غوره داده چه په یو ښارکښ د جمعی مونځ په یو ځای کښ وکړی شی اگرچه د ضرورت د وجی نه په بیلا بیل ځایونو کښ کول هم جائز دی

## څلورمه خبره د جمعی د ورځی فضیلتونه او خصوصیتونه :-

د جمعی د ورځی فضیلتونه او خصوصیتونه ډیر زیات دی مونږ د هغی نه یو څو ذکرکوو – اول داچه د جمعی ورځ د ټولو ورځو نه غوره ده لکه په میاشتو کښ رمضان غوره دی په شپو کښ لیلة القدر غوره ده په زمکو کښ مکه غور ده په خلقو کښ محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم غوره دی (لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای لا تطلع الشمس ولا تغرب علی یوم افضل من یوم الجمعة (مسند احمد بن حنبل ص ۲۷۲ ج۲) نه راخیژی نمر او نه پریوځی په یوه ورځ چه هغه غوره وی د ورځی د جمعی نه –

دویم داچه پدی ورځ کښ ډیر غټ غټ کارونه راجمع شوی پدی ورځ ادم علیه السلام پیداشوی پدی ورځ جنت ته داخل شوی پدی ورځ د جنت نه وتلے (مسلم شریف ص ۳۳۱ ). پدے ورځ ئے توبه قبوله شوی پدے ورځ وفات شوی او پدی ورځ به قیامت قائمیږی پدی ورځ د انسان او پیریانو نه علاوه ټول زنده د قیامت نه یریږی د صبا د ختلو نه د نمر د ختلو پوری او پدی ورځ کښ یو وخت دی چه په هغه کښ یو مسلمان بنده د الله تعالی نه سوال وکړی نو الله تعالی یی قبلوی (مسند احمد ص ۴۸۶ ج۲)

دریم داچه د جمعی ورځ د دی امت دپاره اختر دی لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای ان هذا یوم عید جعله الله للمسلمین (ابن ماجه )

یقیناً دا د اختر ورځ ده چه الله تعالی د مسلمانانو دپاره مقرر کړی په بل روایت کښ راځی رسول الله صلی الله علیه وسلم وای د جمعی ورځ د ټولو ورځو سرداره ده او د الله تعالی په نیز د ټولو نه غټه ورځ

ده او د الله تعالی په نیز د لوی اختر او د واړه اختر د ورځې نه غټه ده (ابن ماجه و ذاد المعاد و نور اللمعه فی خصائص الجمعة للسیوطی)

څلورم داچه د جمعې ورځ د دې امت خصوصیت دی لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای اضل الله عن الجمعة من کان قبلنا فکان للیهود السبت وکان للنصاری یوم الاحد فجاء الله بنا فهدانا لیوم الجمعة (مسلم زاد المعاد او نور اللمعه) مخکنی امتونه الله تعالی د جمعې نه ګمراه کړیو د یهودو دپاره د خیالی ورځ وه او نصاری وو د پاره د اتوارورځ وه نو الله تعالی مونږ راوستلو مونږ ته یې د جمعې د ورځې هدایت وکړو

پنځم دا چه د الله تعالی دیدار او ملاقات به په جنت کښ د جمعې په ورځ کیږی چه څوک امام ته ډیر نزدی وی نو هغه به الله تعالی ته هم نزدی وی او چه څوک د جمعې مانځه ته مخکښ ځی نو هغه به د الله تعالی ملاقات ته هم مخکښ کیږی (انظر ذاد المعاد ص ۲۳۱ ج ۱)

شپږم دا چه څوک د جمعې په ورځ یا د جمعې په شپه وفات شی نو په قبر کښ به ترینه تپوس نه کیږی. لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای ما من مسلم یموت لیلة الجمعة و یو م الجمعة الا وقاه الله فتنة القبر (رواه ترمذی و حسنه ص ۲۶۸ ج۲ و البیهقی و ابن ابی الدنیا ) نشته یو مسلمان چه هغه مړ شی په شپه د جمعې یا په ورځ د جمعې مګر الله تعالی یئے بچ ساتی د عذاب قبر نه

اووم دا چه هره ورځ جهنم ګرمولی شی ما سوا د ورځې د جمعې نه لکه حدیث کښ راځی انه کره الصلوة نصف النهار الا یوم الجمعة و قال ان جهنم تسجر فیه الا یوم الجمعة (ابو داؤد ص ۲۸۴ ج ۱) د ورځې په نیمه کښ مونځ مکروهه دے په ورځ د جمعې. او رسول الله صلی الله علیه وسلم اوویل چه د ورځې په نیمه کښ جهنم ګرمولی شی مګر په ورځ د جمعې. ابن قیم رحمة الله وای چه د دی وجه دا ده چه دا غوره ورځ ده. او په دی کښ عبادتونه دعا ګانی او عاجزی الله تعالی ته کیږی. په دی وجه جهنم نه ګرمیږی او په دی وجه د مؤمنانو ګناهونه په دی ورځ کم وی د نورو ورځو نه . (ذاد المعاد ص ۲۱۴ ج ۱ اللمعه فی خصائص الجمعه ص ۱۹۵ ج۱ )

اتم دا چه د جمعې په ورځ صدقه زیات ثواب لری په نسبت د نورو ورځو کښ. لکه په حدیث د ابو هریرة او کعب رضی الله تعالی عنهما کښ راځی و الصدقة فیه اعظم من الصدقة فی سائر الایام (صحیح

ابن خزیمه ص ۱۲۰ ج ۳ ذاد المعاد ص ۲۲۸ ج ۱)صدقه پدیکښ ډیره غټه ده دصدقی نه په نوروورځوکښ

ابن قیم رحمة الله وای چه ما شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله لیدلی وو چه د جمعی مانځه ته به تلو نو په کور کښ به چه ډوډی یا څه شی وو هغه به یی واخستل په لاره به یی په پټه صدقه کول

نهم داچه څوک د جمعی مانځه ته روان وی نو په هرقدم ورله الله تعالی د یوکال د روژو او د مونځونو ثواب ورکوی ،رسول الله صلی الله علیه وسلم وای من غسل واغتسل یوم الجمعه و بکر وابتکر ودنا من الامام فانصت کان له بکل خطوة یخطوها صیام سنة وقیامها وذالک علی الله یسیر (ابو داؤد ص ۹۵ ج ۱) چاچه جماع وکړه او غسل یی وکړه په ورځ د جمعی او وختی لاړ او امام ته نزدی کیناست او چپ شو نو په هرقدم ورته د یوکال د روژو او د مونځونو ثواب میلاویږی او دا کار الله تعالی ته اسان دی امام احمد او وکیع رحمهما الله وای چه غسل مشدد دی یعنی جماع یی وکړه د خپل کور والا سره ،

لسم داچه د جمعی مونځ د حج سره برابر دی لکه صحیح حدیث کښ راځی رسول الله صلی الله علیه وسلم وای الجمعة حج المساکین (اخرجه الحارث بن ابی اسامه فی مسنده نور اللمعه ص ۱۹۱ ج۱) د جمعی مونځ د مسکینانو حج دی ،

یولسم داچه د جمعی په شپه او او د جمعی په ورځ په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی ډیر ډیر درود شریف ویل مستحب دی لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای اکثرو ا من الصلوة علی یوم الجمعه ولیلة الجمعة (ابو داؤد) د جمعی په ورځ او د جمعی په شپه په ما دورد شریف ډیروی ،ابن قیم رحمة الله وای رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلقو سردار دی او د جمعی ورځ د ورځو سرداره ده نو په رسول الله صلی الله علیه وسلم پدی ورځ درود شریف ویل ډیر مناسب دی –

او یو بل حکمت پکښ هم شته او هغه داچه امت ته چه هرخیررسیدلی نو داد رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس رسیدلی –او بیا امت ته لوی خیر د جمعی په ورځ رسیدلی ځکه د جمعی په ورځ به دوی د جنت کورونو او مانړو ته را پورته کیږی او د جمعی په ورځ به د الله تعالی سره ملاقات کیږی او په دنیا کښ هم د جمعی ورځ د دوی د اخترورځ ده او د دعا ګانو او عبادت ورځ ده نو د پیغمبر د احساناتو څه نه څه حق پدی اداء کیږی چه د جمعی په ورځ او د جمعی په شپه مونږ په رسول الله

صلی الله علیه وسلم درود شریف ډیر ډیر او وایو (ذاد المعاد ص ۲۰۷ ج ۲، نور اللمعه ص ۲۱۳)

دولسم داچه د جمعی په شپه یا د جمعی په ورځ د سورة کهف لوستل ډیر فضیلت لری رسول الله صلی الله علیه وسلم وای من قراء سورة الکهف لیلة الجمة اضاءت له من النور فیما بینه و بین البیت العتیق (رواه الترمذی ذاد المعاد ص ۲۰۸ ج ۱ نور اللمعه ص۱۹۹ ج۱ ابن قیم رحمه الله تعالی دے روایت له ترجیح ورکړی) چاچه سورة کهف د جمعی په شپه ولوست روښانه به شی دی ته د نور نه هغه څه چه مینځ د ده کښ دی او په مینځ د بیت العتیق کښ دی-

په بل روایت کښ راځی چا چه سورة کهف د جمعی په ورځ ولوست ښکاره به شی دی لره نور د لاندی د قدم دده نه داوچتوالی د اسمان پوری رڼرا به کوی دی ته په ورځ د قیامت او معاف به شی دی ته هغه ګناهونه چه په مینځ د دواړو جمعو کښ دی

---

## پنځمه خبره د جمعی سنتونه :

د جمعی په ورځ د یو څو سنتونو اهتمام پکاردی ، یو غسل کول رسول الله صلی الله علیه وسلم وای اذا اراد احدکم ان یاتی الجمعة فلیغتسل (بخاری و مسلم و ابن خزیمه) کله چه اراده وکړی یو ستاسو نه چه راشی د جمعی مانځه ته نو غسل دی وکړی.

دویم سنت تیل او خوشبوی لګول دریم سنت غوره او پاکی جامی اغوستل لکه په حدیث شریف د ابو سعید خدری رضی الله عنه کښ راځی رسول الله صلی الله علیه وسلم وای علی کل مسلم یوم الجمعة و یلبس من صالح ثیابه وان کان له طیب مس منه (رواه احمد والشیخان) په هر مسلمان غسل کول دی په ورځ د جمعی او اغوندی به غوره جامی او که خوشبوی یی وی نو او دی لګوی په بل روایت کښ راځی وید هن من دهنه او یمس من طیب بیته تیل دی ولګوی یا دی خوشبوی ولګوی ،

په بل روایت کښ راځی ماعلی احد کم لو اشتری ثوبین لیوم الجمعة سوی ثو بی مهنته(رواه ابو داؤد و ابن ماجه) نشته څه باک په یو ستاسو که چری واخلی دوه جامی دپاره د ورځ د جمعی سوا د هغه جامو د خدمت نه – یعنی د جمعی د ورځی دپاره خاص پاکی جامی ساتل پکار دی ،

---

څلورم سنت مسواک وهل رسول الله صلی الله علیه وسلم وای حق علی کل مسلم الغسل والطیب والسواک یوم الجمعة (مسند احمد ص ۶۵ ج ۳ فتح الباری ص ۳۷۴ ج۲ نیل الاوطار ص ۲۶۶ ج۳) په هرمسلمان دا حق دی چه د جمعی په ورځ غسل وکړی او خوشبوی او مسواک استعمال کړی .

پنځم سنت پیاده تلل یعنی چه تکلیف نه وی نو پیاده تلل غوره دی په حدیث د اوس بن اوس الثقفی کښ راځی رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه څوک جماع وکړی او غسل وکړی په ورځ د جمعی او وختی لاړ شی ومشی ولم یرکب پیاده لاړ شی او سور نشی او امام ته نزدی کینی او غوږ کیدی او بی فائدی خبری او کار ونکړی – کان له بکل خطوة عمل سنة اجرها صیامها وقیامها دی لره به په هر قدم د یوکال د روژو او مونځونو ثواب میلاویږی (ابو داؤد ص ۹۵ ج ۱ نسائی ص ۹۵ ج۳) پدی حدیث کښ نور اداب هم بیان شوی ،

شپږم سنت وختی تلل لکه په مخکښ حدیثونو کښ بیان وشو

اوم سنت خپل شکل ښائسته کول لکه بریت لنډول نوکونه کټ کول د تخرګونو او زیرناپ ویښته لری کول چه دا د فطرت خبری دی دغه رنګی مخکښ بیان وشو چه مسواک وهل خوشبوی لګول پاکی جامی اغوستل

اتم سنت د جمعی په ورځ د سحر په مانځه کښ سورة سجده او سورة دهر لوستل لکه په مسلم شریف کښ په روایت د ابن عباس رضی الله عنه کښ راځی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د جمعی په ورځ د سحر په مانځه کښ الم تنزیل السجده او هل اتی علی الانسان حین من الدهر لوستلو او د جمعی په مانځه کښ به یی سورة الجمعه اوسورة المنافقین لوستو

---

## شپږمه خبره د جمعی د مانځه په پریښودلو زورنه او وعیدونه :

رسول الله صلی الله علیه وسلم وای لقد هممت ان امر رجلا یصلی باالناس ثم احرق علی رجال یتخلفون عن الجمعة بیوتهم (رواه مسلم عن ابی هریره رضی الله تعالی عنه و احمد عن ابن مسعود رضی الله تعالی) یقیناً څه قصد کوم چه امروکړم یو سړی ته چه مونځ وکړی د خلقو دپاره بیا کورونه وسیزم د هغه کسانو چه پاتی کیږی د مانځه د جمعی نه او رسول الله صلی الله علیه وسلم وای لینتهین اقوام عن ودعهم الجمعات اولیختمن الله علی قلوبهم ثم لیکو نن من الغافلین (رواه

مسلم عن ابن عمرو ابی هریره و النسائی عن ابن عمرعن ابن عباس) خامخا منع دِ شی قومونه د پریښودلو د مونځونو د جمعونه او یابه الله تعالی مهر اووهی په زړونو د دوی بیا به خامخا شی د غافلانونه ،

## اوومه خبره هغه عذرونه چه د هغی د وجی نه د جمعی د مانځه نه پاتی کیدل جائزوی

اول ډیر باران – دویم ډیری خټی یا چقړی – دریم ویره د ظالم یا قرضداری نه یا د وهلو نه یا په مال وغیره یریږی –

څلورم داچه یو سړی مزل نشی کولی لکه شل وی یا بوډا وی - پنځم داچه یو سړی د یو مریض خدمت کوی یا د زنکدن والا ته حاضر شوی وی –

الله تعالی دی مونږ ته د خپلی بندګی او په خپل حکمونو د عمل کولو توفیق راکړی

وصلی الله علی خیر خلقه محمد واله واصحابه اجمعین

محترمو د دی بیان انتخاب د فضائل الجمعه نه وشو چه دا د مولانا محمدظاهر اسدالله افغانی کتاب دی د هغه نه مونږ خلاصه او اختصار وکړونورکتابونه راسره نه ووځکه دسفرحالت ووکابل ته تلیوودمولوی فقیردقیدپه موضوع کښ ،

## د نشه کونکو څیزونو ضررونه :

الحمد الله والصلوة والسلام علی رسول الله واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له و ا شهد ان محمدا عبده ورسوله -- امابعد فاعوذبالله من الشیطان الرجیم -- یایهاالذین امنوا انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشیطان فاجتنبوه لعلکم تفلحون –

وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم کل مسکرخمروکل مسکرحرام --

پدی ایت کښ الله تعالی د څلورو څیزونو حرمت په څلورو طریقو بیان کړی په روستو ایت کښ بیا دری نوری طریقی هم بیان شوی حاصل داچه په اوه طریقو د شرابو حرمت بیان شوی پدی څلورو څیزونوکښ اول نمبر شراب دی – شراب کل ماخامر العقل ته وای هرهغه شی چه عقل په نشه سره پټوی – یعنی هر د نشی والا څیز ته شراب وای او هر د نشی والا څیز حرام دے ،

محترمو نن صبا یو لوی جرم او لوی مشکل لوی مصیبت او لوی مرض هغه استعمال د مواد مخدره وو او د شرابو شکل دی پدی وجه مونږ د مواد مخدره وو او د شرابو متعلق یو څو خبری کوو یعنی نشه کونکو څیزونو متعلق –

**اوله خبره د نشه کونکو څیزونو شرعی نقصانونه** - د شرابو نقصانونه ډیر زیات دی عربو به شرابو او د نشی والا څیز ته ام الخبائث ویلو دغه رنګی سفیهه – مؤذیه – قبیحه - او مکروه - به یی ورته ویلو –په عربو کښ چه کوم پوهه او هوشیار خلق وو

---

هغوی به شراب نه څښل او ډیرو په ځان شراب حرام کړیو لکه حاتم طایی - زیدبن عمرو بن نفیل هرم بن سنان

پینځه نقصانونه د سورة مائده په دوه آیاتونو کښ ذکر شوی - یو دا چه دا پلیتی ده. دویم دا د شیطان کار دے - دریم دا چه ددی د وجهی نه دشمنی او تربګنی پیدا کیږی. څلورم دا چه د الله تعالی د ذکر نه بندول کوی. پینځم د مانځه نه بندول کوی. یعنی د نشه کوونکی ذکر او مونځ کم وی.

شپږم داچه نشه انسان په ګناهونو جراءت مندکوی لکه حدیث شریف کښ راځی رسول الله صلی الله علیه وسلم وای ان ملکا من بنی اسرائیل اخذ رجلا فخیره بین ان یشرب الخمر او یقتل صبیا او یا کل

لحم خنزیر او یقتلوه ان ابی فاختار ان یشرب الخمر وانه لما شرب لم یمتنع من شی ارادوه منه (قال الهیثمی فی المجمع ص ۷۰ ج ۵ رواه الطبرانی فی الاوسط و رجاله رجال الصحیح خلا صالح بن داؤد التمار و هو ثقة) د بنی اسرائیل یو بادشاه یو سړی ونیولو هغه لره یی اختیار ورکړو چه یا شراب وسکه یا ماشوم مړکړه یا د خنزیر غوښه اوخوره او که داسی نه کوی نو وژنم دِ هغه شراب غوره کړه هرکله یی چه شراب وڅښل نو هغوی چه ورته څه ویل هغه ټول یی وکړل

اووم ئی عقلی نقصان دے یعنی نشه د انسان عقل خرابوی حالانکه عقل لوی نعمت دے څکه د عقل په وجه انسان د خیر او هدایت لار معلومه وی. د عقل په وجه انسان پیشوا او خلیفه جوړ شوی. ټول موجودات ئی مسخر شوی. په قرآن کریم کښ ځائی په ځائی د عقلمندو صفت شوی. لکه ان فی ذالک لآیات لقوم یعقلون و ما یذکر الا اولو الالباب . د انسان تمیز د خر او د غوی او د نورو حیواناتو نه په عقل سره دے. اسلام او ټول ادیان سماوی د پینځه څیزونو د حفاظت تاکید کوی. دین عقل عزت او ناموس جان او مال. کله چه یو انسان نشه کوی. شراب څکی چرس څکی افیون خوری نو دا خپل عقل خرابوی. خپل ځان ذلیله کوی. خپل ځان بے خیره کوی. خپل سړی توب خرابوی. د لگ وخت د خوند او مزی د پاره خپل قیمتی عقل خرابوی.

اتم ئی اقتصادی نقصان دے . د چرس نسوارو سگریټو هیروینو وغیره نشه کول مال بربادول دی. یعنی اقتصاد خرابوی. حالانکه مال د ژوند د تیرولو وسیله ده. لکه الله تعالی وای، ولا تؤتوا السفها ء اموالکم التی جعل الله لکم قیاما. مه ورکوی بیوقوفانو ته مالونه ستاسو هغه چه گرځولی الله تعالی ستاسو د پاره سبب د ژوند تیرولو.

د مال بربادول الله تعالی حرام کړی. لکه و لاتسرفوا اسراف مه کوی. او ان المبذرین کانوا اخوان الشیاطین . یقینا بذر کوونکی رونړه د شیطانانو دی. او حدیث کښ راځی چه الله تعالی په تاسو مال بربادول حرام کړی.

نهم ئی عسکری نقصان دے یعنی نشه کول عسکری قوت خرابوی. د نشی والا په جنگونو کښ استقامت نشی کولے . حوصله ئی ماتیږی. د شکست سره مخامخ کیږی. د جاهلیت والا به افیونو ته عطر منشم ویل. چه کله فوج او لښکر په میدان کښ دا بوئی کړی نو تیښته کوی. او شکست خوری. د تاریخ والا وای.چه په شپاړسم میلادی قرن کښ د چینیانو او جاپانیانو جنگ وو. نو چینیانو

شکست اوخوړ. روستو هغوی د شکست اسباب معلومول نو لوی سبب د هغوی د شکست افیون وو. چه د چینی فوج په صفونو کښې د افیونو استعمال ډیر زیات وو. پدی وجه دوی جنګ پریښودو او د شکست سره مخامخ شو.

او څه وایم چه څمونګ د سترګو چشم دید واقعه ده. چه هر کله د تحریک طالبان مجاهدینو په تیراه میدان حمله وکړه. نو د میدان خلقو ډیر په وار خطائی سره تیښته وکړه. سره د دی نه چه د هغوی تعداد ډیر زیات وو. وسائل ئی ډیر زیات وو. د یو څو مجاهدینو په مقابله کښې شکست اوخوړ. د مجاهدینو د فتح او د میدان د خلقو د شکست اسباب ډیر وو خو یو لوی سبب دا هم وو. چه د میدان خلق ټول په ټول د نشی عادیان وو.

د دی وجهې نه د اسرائیلو په منصوبو کښې یو منصوبه دا هم ده چه د مسلمانو د نوجوانانو د بربادولو د پاره په اسلامی ملکونو کښې د نشې والا څیزونه عام کړي.

لسم دا چه نشی کول د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نافرمانی ده . او د رب العالمین ښکاره دشمنی ده. څکه الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم په صریحی نصوصو سره دا څیزونه حرام کړي. لکه روستو به راشی

یوولسم ئی جسمانی نقصان دے. یعنی د نشی والا څیزونه صحت خرابوی. طبیبان وای چه د سلو ۱۰۰ نه زیات خطرناک مرضونه پیدا کوی. خصوصا ایډز او سرطان پیدا کوی. نورهم ډیر مرضونه پیداکوی لکه بدهضمی بی خوابی پریشانی روحی عصبی نفسی مرضونه –

د هیرونیانو حالت وګوره چه څومره په بدحال کښې دی د زیات تفصیل دپاره خطبه های جمعه د دکتور عبدالباری او ددکتور عبدالقدوس وګوره ،

دولسم د امت مسلمه نو جوانان بربادوی د هغوی مستقبل خرابوی د دین او دنیا د روزګار نه یی اوباسی جیلونه ترینه ډک وی - بل نقصان یی دادی چه په علاقه کښې ډیر نحوست پیدا کوی لکه زمونږ د سترګو چشم دید حالات دی چه د خلقو رنګونه وران وی د غنمو او سبزیانو کمی وی د څاروو د بوسو او وښو کمی وی –

 څوارلسم نقصان ی دا دی ملاعلی قاری رحمه الله تعالی وای چه په افیونو کښ اویا ضرورنه دی د ټولو نه معمولی ضرر دادی چه د انسان نه د مرګ په وخت کښ کلمه د شهادت هیریږی (مرقاة ص ۳ ج ۲ باب السواک) ،

**دویمه خبره شرعی حکم د شرابو**. د شرابو شرعی حکم واضحه دی چه هغه حرمت دی په قران کریم کښ شراب تدریجاً حرام شوی - اول یی په سورة بقره کښ بدی بیان شوه - دویم یی په سورة نساء کښ اویل چه د مانځه په وخت کښ شراب مه څکی - دریم ځل یی په سورة مائده کښ اویل چه منع شی – او په حدیث د بخاری او مسلم کښ راځی چه په شرابو سکلو سره ایمان ختمیږی ولایشرب الخمر حین یشر بها وهو مومن (مسلم ص ۵۴ بخاری ۴۶۷) په بل حدیث کښ راځی چه په دری کسانو جنت حرام دی یو هغه دی چه همیشه شراب سکی (نسائی۶۱۱۳) په بل حدیث کښ په شرابی لعنت ویل شوی (ابو داؤد ۳۶۷۴)

---

## دریمه خبره د مواد مخدره وو شرعی حکم :

روستو د دی حکم بیانیږی چه دا څیزونه حرام دی اګر چه نن صبایی عام خلق کاروبار کوی څوک یی کری څوک یی اخلی څوک یی نقل کوی څوک یی کمیشن اخلی څکه پدی کښ روپی ډیری دی او داد الله تعالی امتحان دی لکه په بنی اسرائیلو الله تعالی د خالی په ورځ د ماهیانو ښکار حرام کړی وو نو د خالی په ورځ به ماهیان ډیر وو او دا په هغوی امتحان وو ،

## د مواد مخدره وو قسمونه دی

د مواد مخدره وو ډیر قسمونه دی افین ،چرس- سګریت ،نسوار- هیروئین ،مورفین- کوکائین- قات. د دی تفصیل او ضررونه د دینی نصیحتونو په نوم کتاب کښ موجود دی

دغه رنګی ستنی او ګولی هم شته نن صبا د شرابو او نشه کونکو څیزونو نومونه او قسمونه هم ډیر زیات دی لکه بیره- جعه- الکحل- العرق- الفودکا ،الشمبانیا-

او حدیث کښ راغلي رسول الله صلی الله علیه وسلم وای لیشرِبن ناس من امتی الخمر یسمونها بغیر اسمها (رواه احمد و ابو داؤد بحواله تحذیرالکرام تالیف ابراهیم بن فتحی) ځما د امت نه بعض خلق به شراب څکی په بدل نوم نن صبا ورته مشروبات روحیه وای دوی چه ورته هرڅه نوم ګدی خو رسول الله صلی الله علیه وسلم وای چه د هرد نشی والا شراب دی او هر د نشی والا حرام دی ،

**د مواد مخدره وو شرعی حکم:-** د مواد مخدره ووپه باره کښ د امامانو د مذاهب اربعو نه او د علماء نه د شپږم قرن هجری پوری کومه فتوه نه ده نقل شوی ځکه د هغوی په زمانه کښ مواد مخدره موجود نه وو. روستو چه کله دا مواد موجود شو. او علماؤ ویږندل نو د هغوی نه د دی په باره کښ مفصل فتوی نقل دی. (خطبه های جمعه ص ۴۳۳ ) د زیات علماؤ رائې دا ده چه مواد مخدره مسکر او نشه کوونکی دی. (دینی نصیحتونه ص ۷۵ )

## اول مونږ ددی څیزونو په حرمت کښ آیاتونه ذکر کوو

۱ الله تعالی وای ولا تسرفوا ان الله لا یحب المسرفین . حاصل دا دے چه په دی څیزونو کښ اسراف بذر او اضاعة المال دے ځکه ددی څیزونو په کرلو او نقل کوولو جوړولو ډیر مصارف راځي.

دویم دلیل . الله تعالی وای. و یحرم علیهم الخبائث او دا څیزونه ټول خبائث دی. خصوصا نسوار خو د چرګو د ګندګی سره ډیر مشابهت لری . خله هم ګنده کوی او په حدیث کښ راغلي چه خولې پاکې ساتی. ځکه دا ده قرآن لاری دی. او شریعت مسواک هم ددی د پاره مقرر کړی چه خوله پاکوی. ځکه په دی خوله تلاوت ذکر اذکار د الله تعالی نوم یادیږی.

دریم دلیل دا دے چه الله تعالی وای والذین یؤذون المؤمنین والمؤمنات بغیرمااکتسبوا فقد احتملوا بهتانا و اثماً مبینا. حاصل دا دے چه د دے د بدبوی او لوګی نه مسلمانانو ته ضرر رسیږی. خصوصا چه په ګاډی کښ ناست وی نود سر درد پیدا کوی.

او په حدیث کښ راغلي چه من آذی مسلما فقد آذانی و من آذانی فقد آذی الله یوشک ان یأخذه (مشکوة ترمذی) ځوک چه مسلمان ته ضرر رسوی نو دا ماته ضرر رسوی .اوځوک چه ماته ضرر رسوی نودالله ته ضرررسوی نزدے ده چه الله تعالی دے راونیسی.

دغه رنګی د دینه ملائکوته هم ضرر رسیږی ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وای ان الملائکة تتأذی مما تتأذی منه الناس . ملائکوته تکلیف رسیږی . دهغه څه نه چه د هغه نه انسانانو ته تکلیف رسیږی.

څلورم دلیل دادے الله تعالی وای ولا تلقوا بایدیکم الی التهلکة. او دا ښکاره خبره ده. چه ددے څیزونو په استعمال سره بدن ته ضرر او تاوان رسیږی.

**دویم مونږ ددے په حرمت کښ حدیثونه ذکرکوو.** اول حدیث دا دے ابن عمررضی الله تعالی وای چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی کل مسکرخمروکل مسکر حرام (رواه مسلم مشکوة ص ۳۱۷ ج ۲) هرنشه راوستونکے شے شراب دی . او هرنشه راوستونکے شے حرام دے. دویم حدیث دا دے ام سلمه رضی الله تعالی عنها وای نہی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن کل مسکر و مفتر(رواه ابو داؤد و احمد و فی اسناده شهربن حوشب و هو متکلم فیه )

رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړی د هرنشه پیدا کوونکی او سستی پیدا کوونکی شی نه.

دریم حدیث دا دے ابن عمررضی الله تعالی وای رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی چه ما اسکر کثیره فقلیله حرام ( مسند اسحاق)

د کوم شی ډیره حصه استعمالول چه نشه راولی نوهغه کمه حصه استعمالول هم حرام دی.

## د علماء کرامو اقوال

۱ په درمختارکښ وای و یحرم اکل البنج والحشیش والافیون لانه مفسد للعقل و یصد عن ذکر الله و عن الصلوة (شامی ص ۳۲۵ ج ۵) د بنګو چرسو افیونو خوراک حرام دے ځکه دا عقل خرابوی او انسان د الله تعالی د ذکر او مانځه نه منع کوی.

۲. شاه عبد العزیزرحمه الله تعالی وای حاصل ئے دا دے چه افیون او چرس حرام دی. ځکه دا بدن ته ښکاره نقصان رسوی او دا په بدن کښ سستی راولی.( فتاوی عزیزی ص ۱۲۰ ج ۲)

۳. مفتی کفایت الله رحمه الله تعالی وای افیون چرس بهنگ ټول حرام دی. ځکه پدی سره انسان نشه کیږی. او دا په دی حدیث د رسول الله صلی الله علیه وسلم کښې داخل دی چه نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن کل مسکر و مفتر. (کفاية المفتی ص ۱۱۴ ج ....)

۴. شاه عبدالقادر الرافعی رحمه الله تعالی وای چه افیون د امام محمد رحمه الله تعالی په نیز حرام دی ډیروی او که لګ. او بیا روستو وای چه په افیونو کښې دا نقصان دے چه بدن ته ضرر رسوی بد اخلاقی پیدا کوی. عقل کمزوری کوی. ( حاشية الشامی ص ۴۱ ج ۲)

(۵) په فتاوی دیو بند کښې وای چه د شرابو او بنګو یو شان حکم دے. (فتاوی دیو بند ص ۲۱۵ ج ۱۲)

(۶)ابن تیمیه رحمه الله تعالی وای چه چرس حرام دی. او څوک چه چرس وسکی. هغه ته به هم داسی حد ورکول شی څنګه چه شرابی ته ورکولی شی. بلکښې دا د شرابو نه زیات خبیث دی. ځکه دا عقل او مزاج دواړه خرابوی او په سړی کښې خنثی مشکل کیدل او دیوث والے پیدا کوی. ( السياسة الشرعية) . د ارنګی ابن تیمیه رحمه الله تعالی وای چه چرس ملعون دی او د دے سکونکی هم ملعون دے او څوک چه دیته حلال وای هغه هم ملعون دے. (مجموع الفتاوی ص ۲۲۲ ج ۳۴)

۷. ابن قیم رحمه الله تعالی هم وای ان الخمر یدخل فیه کل مسکر مائعاً کان او جامدًا عصیرًا او مطبوخًا ( ذاد المعاد)

د شرابو په حکم کښې هر نشه آور خیز داخل دے برابره خبره ده که هغه نرم وی او که کلک وی. کچه وی او که پوخ وی

۸. ذهبی رحمه الله تعالی وای چه چرس د شرابو په شان حرام دی یحد شاربها کما یحد شارب الخمر و هی اخبث من الخمر ( الکبائر ص ۸۶ ) دد ے څکونکی ته به داسی حد ورکولی شی لکه شرابی ته چه حد ورکولی شی او دا شرابو نه زیات پلیت دی.

## د افیونو او نورو نشه کونکو څیزونو کاروبار او تجارت حرام دے.

اول دلیل دا دے چه الله تعالی وای و لا تعاونوا علی الاثم والعدوان د گناه او زیاتی په کارکښ د یو بل سره تعاون مکوی. دویم دلیل دا دے رسول الله صلی الله علیه وسلم وای ان الله اذا حرم علی قوم اکل شئ حرم علیهم ثمنه ( مسند احمد ابو داؤد ) یقینًا کله چه الله تعالی په یو قوم د یو شی خوراک حرام کړی نو په هغوی د هغه شی پیسے هم حراموی. مفتی عزیز الرحمن د یو سوال په جواب کښ لیکی چه په گاډی کښ افیون وړل او په هغے مذدوری اخستل جائز نه دی. ( عزیز الفتاوی ص ۶۶۷ ج ۱)

## د نشی والا څیزونه په دوائی کښ استعمالول هم حرام دی.

ځکه په حدیث کښ راځی و لا تدووا بحرام (رواه ابو داؤد مشکوة) په بل حدیث کښ نبی صلی الله علیه وسلم وای ان الله لم یجعل الشفاء فیما حرم علیکم ( بیهقی و صححه ابن حبان ) الله تعالی په حرامو څیزونو کښ شفا نه ده اچولے-

بهرحال دنشی په څیزونوکښ ددنیااواخرت نقصانونه دی پکارداده چه ددے ډیرپه سختی مخالفت اومخ نیوی وکړی شی—وصلی الله تعالی علی خیرخلقه محمدواله واصحابه اجمعین.

مولوی گل محمدباجوړی—حالاافغانستان-- ولایت کنړ-- دره چوگام

-۱۴۳۷هجری-- ۱۲ صفره

**اعلان**--- زمونږدکتابونودچهاپ کولوهرچاته اجازت دے